



Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کتاب پېژندنه

||||||||||||||||||||||||||||||||

دکتاب نوم: ولسي پانگه

ځيړونکی : مولوي عبدلشکور " یاسيني"

خپرندويه ټولنه : خښي کولتوري ټولنه

خپرنی لړ: اوم) 7 (

د چاپ شمير: یوزر ټوکه

د چاپ نيټه : 1382،تله ، لسم

کمپوزر : ميرزاخان "طوطاخېل"

د کمپوز ځای: ميرزاخان او کمپوزنگ سنټر ارباب روډ

گل حاجي پلازه دوهم منزل دفتر نمبر 208 تيلفون نمبر 853549

بيعه : سل افغانۍ) 100(

چاپ خونه: د ساپي دپښتو ځيړنو او دپراختيا مرکز.

يادونه : دا ټولگه دعبدالکريم مصعب جان په مالي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د خیړونکي لنډه پیژندنه

نوم: مولوي عبدالشکور "یاسیني"

دپلار نوم: اروا ښاد ملا عبدالکریم " یاسیني "

زوکړه : 1317 هـ.ش چنګاښ، اتمه ،ننګرهار، کامه ،ده طاهر

دندې: دګران افغانستان په مختلفو ولایاتو او ولسوالیو کې دپښتو ژبې او دیني علومو دښونکي په توګه پاتې شوی.

او تر روسي یر غل وروسته د مجاهدینو مشراو دکمونستي حکومت له ړنګیدو وروسته د کامې ولسوال او دختیځو ولایتو د جهادي شورا غړی پاتې شوی دی .

اثار:

(1) جهادي پنځونې ( جهادي لنډۍ)

(2)شعري ټولګه

(3)جهادي خاطرې ( سیاسي یاداشتونه )

چې پورتني درېواړه کتابونه دچاپ لاندې دي

(4)او همدا ټولګه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ددې ارزښتمن اثر او دليکوال په باب يې څو لنډې خبرې

هره ژبه اوادب خپلې خپلې ځانګړنې لري او بيا دهرې ژبې اوادب توکي خپل خپل اهميت لري. په پښتو ژبه او ادب کې متلونه او لنډۍ دې ژبې او ادب ته ځانګړې غناوربخښلې ده. رښتيا خبره خو داده چې که پښتو ژبې ته څو مګره کارشوی دی نو زياتره يې دوروستۍ نيمې پيړۍ دژبپوهانو او ادب پوهانو دکار او زيار نتيجه ګڼلای شو.

په پښتو ژبه کې دمتلونو او اصطلاحاتو راټولول پر خپل ځای يو ارزښتمن کاردی که څه هم چې په دې برخه کې خو يو څه لومړني ګامونه هم اخستل شوي دي او دمتلونو او اصطلاحاتو په را ټولولو کې يو څه کار هم شوی دی،خو حقيقت دادی چې دغه کار ددرناوي سره سره چې ورته يې لرو، دا ادعا نه شو کولای چې په دې برخه کې شوی کار کافي دی او نورکار ته اړتيا نشته.

ښاغلي مولوی صيب عبدالشکور "يا سيني" چې دپښتو متلونو او اصطلاحاتو په راټولولو کې څومره کارکړی دی، دا پر خپل ځای دډېر درناوي وړدی او بې له شکه به دپښتو ژبې مينه وال ترينه ډېره ګټه اخلي او دابه ددې ژبې او پښتو ليکوالانو دليکنو په بډاينه کې پوره لاس وکړای شي.

که څه هم چې دښاغلي مولوی صيب "ياسيني" له خوا را ټول کړای شوي متلونه او اصطلاحات ما په يوه ځغلنده نظر وکتل او دومګره وخت او مجال نه وچې په کاملاً انتقادي نظر يې وګورم، خو ترکومه پورې چې زه مولوي صاحب پيژنم او څومګره يې له ژبني او ادبي ذوق سره اشنا يم او يا دژبې او ادب دمطالعې او تدريس په باب دده له سابقې سره څومره بلد يم زه داډه کامل باورسره ويلای شم چې مولوی صيب به په دې برخه کې پاخه ګامونه اخستي وي او خپل کار به يې هغومره پوخ کړی وي لکه څومګره چې يې تمه کيږي.

که مولوي صيب له يوې خوا دسرو روسانو په وراندې زمونږ د سپيڅلي جهاد په اوږدوکې په سپينه ږيره غره په غره او ناو په ناو ګرځيدلی او په وسله وال جهاد کې يې خپله ونډه ډېره ښه سرته رسولې ده، قرباني يې ورکړې ده. له بلې خوا يې ديوه ديني عالم په توګه په علمي جهاد کې هم پوره برخه اخستې ده مولوي صيب دافغانستان دتير سپيڅلي جهاد تر پيليدو دمخه دښونکي په توګه دمقدسې دندې دسرته رسولو پر وخت ډېر ځله دپښتو ژبې او ادب د تدريس دنده هم درلوده، چې په دې توګه سړی ويلای شي چې نوموړی ددې لارې کوم نا بلده لاروی نه دی.

مولوي صاحب دپښتوژبې تکړه ليکوال هم دی او خو ږ ژبی شاعر هم هيله ده چې مولوي صاحب دخپلو اشعارو دټولګې چاپ ته هم ځانګړې پاملرنه وکړي ياکومه داسې مؤسسه او اداره چې پښتو ادب ته دخدمت وياړ لري دمولوي صاحب داشعارو دچاپ وياړ هم ترلاسه کړي. زه په پای کې مولوي صاحب عبدالشکور "ياسيني" ته چې زما دجهاد او مبارزې داوږدې لارې ملګری بلکې استاذپاتې شوی دی ،ددې ستر ژبني خدمت مبارکي وايم اوله

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



خدایه ورته تو فیق غواړم چې په دې لاره کې نوردیادونې اوستاینې وړگامونه هم واخلي عمرېې اوږد اوپه قلم یې برکت شه .

درنښت

فدامحمد فایض

پیښور،کوز تهکال

1382/6/29

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## لويه شتمني او زموږ بېغوري

ځينې وخت په سړي باندې هغه د چا خبره د شينواري ماما ټوکه وشي او ځينو کارونو ته لاس تر زنې پاتې شي او د انديښنو او سوچونو په سيند لاهو شي. زه چې اوس د کومې ستونزې او سودا سره لاس او ګرېوان يم هغه کومه معما نه ده بلکې زما سره د هغو توريو، جملو، القابو او خبرو کمی دی چې زه يې د دې کتاب ( ) د ښاغلي را ټولوونکي او څېړونکي په شان او ستاينه کې وکاروم .

او لامل يې دا دی چې د دغه ښاغلي د ژوند کيسې او څېړنې د ډېرو نورو هغو سره ښکاره توپيرونه لري. که د ټولې نړۍ په ځای يوازې خپل ګران هېواد د بېلګې په توګه ياد کړم نو ويلای شم چې ډېر وګړي مو د خپل ژوند په دا لړ وخت کې وليدل چې زموږ نه مخکې دې نړۍ ته راغلي وو او ولاړل يعنې پټې سترګې راغلل او ولاړل نه يې ځان ته کومه ګټه ورسوله او نه يې خپل دين او اولس ته خير ښېګڼه. او هم دا اوس هم ډېر خلك وينو چې د ژوند په اصلي او پراخه مفهوم نه پوهيږي. يوازې خوړل، څښل او راټولول (ماديات) ورته د ژوند موخې او غايېګ ښکاري او په دې ځانونه نه پوهوي چې د انسانيت او سړيتوب معيارونه او پړاوونه څه دي .

ارواښاد خان خوشال خان بابا وايي :

چې دستار تړي هزار دي

د دستار سړي په شمار دي

که څه هم دغوايي کرغېړن اوښتون زموږ د سلهاو زرو شازلميانو سرونه لو کړل. خو الحمدلله چې دغو بشر دوستانو (!؟) بې وګړيو نه کړای شولو. خو بې سړيو (قحط رجال) او بې سره يې کړو .

هرګوره پورتنۍ کرښه د سل په سلو کې خبره نه ده په دې معنا ده چې يو ډېر شمېر سياست پوهان، عالمان او روڼ اندي مو سرو کودتاچيانو له خپلو ګونډي موخو او غوښتنو ځار کړل او يو شمېر نور ښاغلي چې د خپل مظلوم اولس د مشرۍ دعوی يې کولې د دغه بې وزلي اولس سره په خپلو کړيو ژمنو کې پاتې راغلل او نفسي جنون داسې کندو ته ټېل وهل چې اوس يې څوك په خوله پياز هم نه خوري .

خو په دا دويمه ډله کې داسې ښاغلي او منلي شخصيتونه هم وو چې د بهرنيو يرغلګرو او کورنيو انډيوالانو په وړاندې ښه په نره ودرېدل د سپېڅلي جهاد غړ يې وکړ او خپل سر يې خاص د اعلاء کلمۍ الله او د خپل اولس د پت، ناموس او ازادۍ د ګټلو له پاره په لاس کې ونيوه. دښتو، مېرو او تورو غرو ته پورته شول. د ډېرو کړاوو، سختيو، لوږو، تندو، لنډو او تنګو له ګاللو وروسته څښتن تعالی د همداسې سپېڅليو او رښتينو مجاهدينو د وينو او سرښندنو له برکته کورني او بهرني يرغلګر او دښمنان مات او ګونډه کړل. د دغو تش لاسو او بې وزلو مجاهدينو د بري او فتحې غږ دومره دروند او غښتلی و چې نه يوازې افغانان بلکې د ټولې نړۍ اسيران او د کمونيزم په کړيو کې ښکيل

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوي او لسونه يې راویښ کړل، جرمنيانو د برلين او ياکلن دېوال ړنگ کړ ختيځ او لوېديځ جرمني يو اولس شو، تزاريان، مغل، ازبك، تاجك، ترکمن، سربان، چچنيا، پولنډ، هنگري، وکراين او ... ټول اولسونه را پاڅېدل او ځای په ځای يې د لېنين مجسمې په کاڼو او لوټو وويشتې او بالاخره يې راړنگې کړې او ان خبره تر دې را ورسيده چې پخپله له مسکو نه هم د لېنين تابوت پورته کړل شو او په دې ډول د شلمې پېړۍ د يوه ډېر ستر او نړيوال ځواك د باج او تاج کيسه د ډېرو بې وزلو او تش لاسو افغانانو په ذريعه د الهي نصرت په برکت ختمه کړی شوه. او زمونږ په تاريخ کې د وياړونو، اتلوليو او سرښندنو نوي بابونه پرانيستل شول .

که د سرو لښکرو تر يرغل يو څو لسيزې مخ کې د وياړلي افغانستان تاريخ ته و گورونو

د پرنگيانو شرمېدلې ماتې به مو تر سترگو شي چې د رواني پېړۍ په لومړيو کې يې د همدې اولس له خوا خوړلې وې. زمونږ تاريخ به هېڅ کله د هغو غازيانو او شهيدانو نومونه هېر نه کړي چې د پرنگيانو په

وړاندې يې د خپل اولس د مجاهدينو مشري په مختلفو سنگرونو کې کوله لکه مجاهد غازي چکنور ملا صاحب لوی مجاهد او عالم دهډې ملا صاحب، سترمجاهد ملا مشك عالم، اتل سپه سالار غلام حيدر خان څرخي، لوی غازي او تکړه مجاهد غازي محمد جان خان وردگ د ميوند فاتح ايوب خان د توري او پوهې خاوند غازي عثمان خان ساپی، زړور او سرتېری غازی مير مسجدي خان، د پوهې او تدبير خاوند وتلی مجاهد د ترنگزو ملا صاحب ،غازي مولوي تاج محمد خان (1) او په لسگونو داسې نور اتلان چې د تورې او مېړانې له برکته يې تقريباً نيمې نړۍ خپلواکي تر لاسه کړه .

همدارنگه که زمونږ ننی تاريخ ليکل کيږي او سبانی کول (نسل) يې لولي نو په دې کې هېڅ شك نشته چې د شهيد ادم خان، رسول خان، شهيد مولوی محمد صديق خدای دوست) 2 ((او په لسگونو او سلگونو د هغو اتلانو، مېړونو او غازيانو د کار نامو ترڅنگ د ښاغلي مولوي عبدالشکور "ياسيني" کارنامې هم ولولي چې د سرو لښکرو سره يې د مخامخ غزا په وخت کړي دي .

د کودتا سره سم کمونستانو ښاغلی يا سيني صاحب بندي کړ قسمت ورسره ياري وکړه د يو څه وخت بنده وروسته ايله شو، مولوي صاحب د هجرت لار ونيوه او د يرغلگرو په وړاندې يې عملي جهاد پيل کړ اولس هم د مولوي صاحب مشري ومنله او تر شايې ودرېدل، د مولوي صاحب د جهاد او مبارزې سنگر يوازې کامه پاتې نه شوه بلکې د لوی ننگرهار د مختلفو سيمو مجاهدينو يې هم مشري ومنله. د مولوي صاحب د مجاهدينو او په ختيځو ولاياتو کې د سرو لښکرو د قطعاتو او ټولگيو تر منځ فقط يو سيند (کامه ثمر خېل) و او ډېر ځلې مجاهدينو پر روسيانو او همدارنگه ځينې وخت روسيانو په مجاهدينو بريدونه کول. دا چې مجاهدينو به په هر بريد کې روسيانو ته څومره د سر او مال زيان ور اړاوه او يا روسيان څومره د مجاهدينو د لاسه نارامه وو دا نو زمونږ د تاريخ يو ډېر لوی بحث دی چې په دې ليکنه کې يې ځايول گران دي .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغې ښاغلي که په یوه لاس کې د حق د ساتلو او د ازادۍ د اخیستلو په خاطر ټوپك راخیستی دی ورسره جوخت یې په بل لاس کې قلم راخیستی او د خپلې ژبې اولس او کولتور د بډاینې او غنا په خاطر یې خولې تویې کړي او یو ډېر ستر کار ته یې ملا تړلې ده. چې په لنډه توګه یې داسې ښودلای شوو.

لومړی: تقریباً څه کم دوه زره جهادي لنډۍ دي چې د پښتو ژبې تر ټولو لویه پانګه او شتمني ده چې د چاپ لاندې ده او که خدای کول ډېر ژر به مو تر ګوتو شي. که څه هم زمونږ ډېر پوهان په دې ګروهه دي چې د لنډۍ خاص ویونکي جوت نه دي. خو دغه پورتنۍ لنډۍ ټولې ښاغلي یاسیني د جهاد په مختلفو سنګرونو او غزا ګانو کې ویلي دي. چې البته ګران لوستونکي به یې د ځینو لنډیو شرحې د کتاب په لمنو کې پخپله ولولي .

دوهم: جهادي خاطرې دي چې ټولې خوږې کیسې دي چې زمونږ د ویاړلي تاریخ یوه برخه ګڼل کېدای شي .

دریم: شعرونه دي چې په سپینه وینا او غوځه ژبه یې د ځینو دوستانو او دښمنانو ناخواې او نادودې انځور کړي دي .

څلورم: همدا ټولګه ده چې د پښتو ژبې او ادب تر ټولو نایابه او ارزښتناکې ګرنې، مقولې، متلونه او ورسره یوځای ځیني فلکلوري "اولسي" او رښتینې کیسې او خبرې رانغاړل شوي دي. چې د ټولګې ښکلا او ارزښت یې لا پسې ښکلی او درونډ کړی دی او هغه ځکه چې پښتو ژبه یوازې ژبه او د پوهاوي را پوهاوي وسیله نه بلکې پښتو یو قانون او د ژوند ضابطه هم ده. د یو ټبر په ژبه کې د ټولنې ټول کړه وړه دودونه، خویونه، نفسیات او ان تردې چې د مختلفو دورو دیني او مذهبي دودونه هم ځای شوي وي. نو ځکه ویلای شو چې پښتو ژبه د خپلو ځانګړتیاو له مخې د نړۍ د ډېرو ژبو په څېر یوازې تشه ژبه نه بلکې یو ډېر لوی قانون هم دی. ګورو چې تر اسلامي سپېڅلي شریعت را وروسته هر خپل ځانته د خپلو ستونزو او شخړو د له منځه وړلو او روغې جوړې

له پاره لکه ځینې اروپایي هېوادونه چې تر ډېره وخته یې لیکلی (وضعې) قانون نه درلود او د خلکو تر منځ ټولې ستونزې او کړکېچونه په معقولو منل شویو متلونو حل او فصل کېدلې او مناسب متل به داسې حکم درلود لکه د کاڼي کرښه له ښه شامته د پښتو ژبه او ټبر له دې پلوه ډېره شتمنه او مړه ده په عقیدتي لحاظ هم پښتون هغه بختور ټبر دی چې د ژبې دا ټوله شتمني یې د اسلامي سپېڅلي شریعت مطابق ده. ځینې پوهان وایي چې د پښتانه رومان ټول په پښتو ټپه کې دی همدارنګه که وویل شي چې د پښتون کولتور او ژوند دود هنداره متلونه او ګرنې نو بې مناسبه به نه وي. زه دغه پورتني توکي د خپلې خوږې او شتمنې ژبې روح او ترټولو لویه او ارزښتمنه پانګه بولم او همدارنګه په دغه لار کې کار کول، راټولول، څېړل او خوندي کول یې تر ټولو لومړنی او اړین کار بولم .

قدر منو او درنو لوستونکیو! نور تاسې درانه نه ستړي کوم راځم خپلې وروستۍ خبرې ته او هغه د همدې درنې ټولګې په اړه یو څه څرګندونې دي :

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



لومړی: په کار خو داسې وه چې د ژبې دغه مختلف توکي متل، محاوره او ...) د الف ب او ... په ځای جلاجلا څېړل شوي او وېل شوي وای .

په کار خو همداسې وه مګر مونږ سره ستونزې او اندېښنې؛ د وخت لړوالی، د تش لاس دښمني او همدارنګه په ژوند (عمر) بې باوري دا ټولې هغه خبرې وې چې زمونږ د نن کار یې سبا ته تم نه کړ، نغده سودا (کړنه) او دم ساعت مو غنیمت وګاڼه. که ژوند یاري وکړه او په ګانده کې پخپله د دې ټولګې ښاغلی څېړونکي او یا د پښتو ژبې او ادب نورښاغلي په دې کړنه لاس بري شول. خپلې مورنۍ ژبې ته به یې ستر چوپړ کړی وي .

دوهم: دا چې ژبه د اولس او خلکو شتمني (مال) ده. نو د دې ګډې شتمنۍ د امانتدارۍ په خاطر د ځینو متلونو، ګړنو او ... پورې اړونده داسې کیسې، ټوکې او خبرې په دې ټولګه کې را نغاړل شوي. چې ښایي ځینو لوستونکیو او په تېره بیا ځینو ښاغلیو نقادانو ته یې څېړل او رانغاړل په دې ټولګه کې خوند، ور نه کړي. خو لکه څنګه چې پورته وویل شول دا هر څه د پښتون قوم سره د امانتدارۍ او خلوص له مخې شوي. دلته د یوې بلې خبرې یادونه اړینه ده او هغه دا چې د ملي ورورګلوۍ په خاطر د ځینو سیمو او خلکو پورې د ځانګړیو متلونو، ګړنو، ټوکو او ټکالو د راوړلو نه ډډه شوې. لازمه وه چې د ملي شتمنۍ او امانتدارۍ له مخې ځانګړي توکي هم دلته څېړل شوي او رانغاړل شوي وای. مګر د ننني ګران افغانستان باریکه او حساس حالت ته په پام لرنې سره تر راوړنې او څېړنې یې نه راوړنه او څېړنه غوره وګڼل شوه .

په هر ترتیب که د پښتو ژبې په دغو توکیو څومره خبرې وشي بیا به هم لږې وي .

قدرمنو لوستونکیو ته یوه یادونه کوم چې دا ټولې خبرې، کیسې او متلونه ښاغلي مولوي صاحب د خپل ژوند په اوږدو کې د اولس نه اورېدلي او یا لوستي دي او بیا یې په خپله حافظه کې ساتلې وې یعنې په راټولولو پسې یې خپرونې او کتابونه نه دي لټولي، او دا دې له ښه مرغه د ستاسو تر لاسو او لوست یې دررسول .

زه ټولو پښتنو ته د دغه درنې ټولګې مبارکي وایم او ښاغلي مولوي صاحب ته د خدای پامانۍ نه وروسته وایم چې :

ستا د ښایست ګلونه ډېر دي

څولۍ مې تنګه زه په کوم کوم ټولومه

مع الاحترام

اجمل اتڼک "یوسفزی"

د ښخي کولتوري ټولنې مشر

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



( السلام عليكم)

شروع کوم په نامه د الله چې ډير زيات مهربان او رحم لرونکې دی خالق تعالی په خپل عظيم کلام کې دپخوانيو اقوامو او پرګنو د ښو او بدو او ځينو نورو موجوداتو حالات بيان کړي ددې له پاره چې خلکو ته نصيحت ، عبرت او پند شي او خلك نيکو او ښو کارونو ته راو بولي او دبدو مثالونو د عواقبو نه يې آګاه کړي نيك خلك به دبدونه عبرت واخلي خپل اعمال به اصلاح کړي او د توحيد په لار به روان شي. دپروردګار وينا چې دمثال په ډول يې منع فرمايلې وي د هغې نه منع شي او کوم چې په کولو يې امر کړي وي هغه اجرا شي متل يا مثال چې په يو خبره باندې تيريږي هغه ديو سند حجت او دليل په نامه باندې يادېږي او خبره وربانديې ښه مستحکمه او ټينګه شي. لکه يو ترګاڼ چې يو شي جوړ کړي او دپاسه وربانديې د اوسپنې ميخ ووهي د پښتو ژبې اکثره متلونه او پخې وييناوې د قرآني مبارکو آيتونو او نبوي احاديثو سره موافق دي دا متلونه داسې دي لکه په ډبره کې چې ليك وکړي دشودو غوندې سپين او دشاتو غوندې خوندور دي د چامخ او څټ هم نکوي. د دوه مخۍاو منافقت نه خلاص وي. پروردګار فرمايې (( تاسوسره متحد شئ او لاسونه سره ورکړئ او بې اتفاقي مه کوئ که بې اتفاقه شوئ قوت به مو کمزوری شي)) پښتانه لويان وايي ديو لاسه ټك نه خيږي، يو سوی نه بليږي، د ډيرو اسماء ديوه ګيډۍ او داسې نور په حديث شريف کې راځي تاسو د خلکو قدر د هغوي د منزلت په اندازه وکړئ. پښتانه لويان وايي وګوره سړی ورلاندې واچوه پو زی او داسې نور خدای پاك وايي (( چې يهود اونصاری ستاسې دوستان کيږي نه...)) زمونږ مشران وايي کاڼی به پوست نشي دښمن به دوست نشي. حديث مبارك دی دنيکانو سره ناسته داسې ده لکه د عطار په دوکان کې چې کښينې يا به ترې عطر واخلې او که وايې نخلۍ نو خوشبويي خو به يې درشي.

او دبدانو سره ناسته داسې ده لکه د ينګر په دوکان کې چې کښينې يا به دې جامې وسوځي او که نوي نو داوسپنې بد بويي خو به درشي.

او داسې په لسګونو نورې قراني او نبوي مبارکې وينا وې شته چې ډير پښتو متلونه ورته دي ما تراوسه په پښتو کې داسې وينا او متل نه دی او ريدلی چې هغه دې د اسلامي سپيڅلي شريعت سره په ټکر کې وي. زه پخپله د پښتو ژبې ښوونکې وْم او دپښتو خوږې ژبې سره مې ډيره مينه ده په دې کتاب کې په سلګونو متلونه ، اصطلاحات او... راوړل شوي او څيړل شوي دي . چې ډير يې ماته په يادو ياد دي او په موقع کې راياديږي. پښتو ژبې ته ډير کار د دين علماوْ کړی دی د احمد شابابا د زمانې نه مخکې او وروسته که دادب تاريخونه وګورۍ تاسوته به جوته شي چې په هرو خت کې د دين پوهانو پښتو ته څومره خدمت کړی دی. د هاغې بوډۍ په شانته چې حضرت يوسف ؑيې په پاغندو اخيسته او ځان يې د يوسف ؑ په تجارانو کې حسابا وه زه هم په دې لړ کار ځان دپښتو خدمتګار حسابوم. ما د پښتو ژبې سره دمينې او امانتدارۍ له مخې ځينې متلونه چې هغه ديو ځای ، يا ديو قوم پورې اړه لري کټ مټ راوړي او څيړلي هيله کوم چې زما دغه خلوص په چا بدونه لګيږي ځکه چې ما ځان ته د تصرف حق نه دی ورکړی. زه څه خپلې جهادي لنډۍ لرم چې په سنګرونو کې مې ويلي دي او څه اندازه شعرونه دي چې د

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځینو بې لارو ملګرو او هم سنګرو د خودسرۍ او د هغوی خواهشاتو په باره کې دي چې دوی ترې نه منع کیدل ویلي مې دي ځکه چې جهاد یو ډیر پاك او مقدس عبادت دی خو دځینو حریصو او په نفس نه باور لرونکو راته داغي او لکه دار کړ خدای دې دوی او ما په سمه لار برابر کړي.

ګرانو لوستونکو که پدې کتاب کې زما څخه کومه غلطي او خطايي شوې وي عفوه غواړم او تاسو ته یې د اصلاح کولو پوره واك درکوم ماسره په دې کتاب کې اجمل اتك یو سفرۍ په څیړنه او لیکنه کې ډیرۍ خولې تويې کړې اوخپل قیمتي وخت یې پکې مصرف کړی او همدارنګه

حاجي عبدالوکیل اتك را باندې ډیر باعث و. زه نشم کولای چې د دوی شکریه اداء کړم خو خدای ☐ دې ورته ډیراجر ورکړي.

په درناوي

مولوي عبدالشکور "یاسیني"

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## "الف"

- 1اختر پټ میره نه دی.

-1سرېتوب او میړانه نه پټیږي یعني لمر په دوه ګوتو نه پټیږي.

-2اخترچې تېر شي نکریزې په دیوال پورې کړه.

-2هرکار او کړنه پخپل وخت خوند کوي.

-3ارهنډه انګور نه نیسي.

-3بې کاره سړي نه دخیر تمه چټې ده.

-4ارهنډه خرما نه کوي.

-4چې سړي کې پخپله خیر نه وي بل ته یې خیر نه رسي.

-5اّس لره په لاس لره.

-5یوشی چې پخپله درسره نه وي دبل په تمه کیږه مه.

-6اّسونو نعلونه وهل چنګښوهم پښې جګې کړې.

-6نا لایقه خلك هم ځینې وخت غواړي چې دلایقو خلکو سره ځان برابر کړي.

-7اسمان لاندې یې کور دی په ماما یې پوردی.

-7ځینې خلك په پور روږدي وي اخلي یې او خلاصوي یې نه او بې کاره ناست وي.

-8اسمان چې څومره غوریږي هسې نه وریږي

-8څوك چې ډیرې پرړې کوي هومره څه یې دلاسه نه کیږي.

-9اّس چې شنیږي دموګړي په زور شنیږي.

-9څوك چې یو کار کوي دخپلو ملاتړو په ډاډ یې کوي.

-10اّسمان یې برېستن ده ځمکه یې توشك دی.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



-10يعنې هيڅ نه لري.

-11اشنا يي دشګو مزل دی.

-11يعنې دژوندتر وروستيوشيبو پورې نه تماميږي او ډېر زغم غواړي.

-12اغيړلي ته لږ باد هم کافي دی.

-12څوك چې په ډېر کړاووکې وي او لږ څه هوساينه او خوښي پرې راغله داهم غنيمت دی.

-13اغيړلی پخپله ....... تشيږي.

-13څوك چې يوکار پخپله خراب کړي تاوان او زيان يې هم همده ته دی.

-14اصيل ته اشارت کم اصل ته کوتك.

-14پوه او درانه خلك په نيمه پوهيږي.

-15اتحياتو چې په ولاړه وائي په ناسته به څه وائي.

-15يو وروستنی کار چې له وخته مخکې وشي نو په خپل وخت به څه کوي.

-16امرسې خوري پيسې نه ورکوي.

-16ګټه پورته کوي خو زيان نه مني.

-17املوك يې بار کړي.

-17له يو کس نه چې ډېر باد ځي او په ځان نه پوهيږي ورسره نږدې خلك په خپل منځ کې سره داوايي.

-18امانت ځمکه هم نه خيانتوي.

-18لويان دامانت په ساتلو کې دومره په ټينګه وايي چې ګوره ځمکه يې هم نه خيانتوي يعنې ايمانداري او صداقت ښه شي دی.

-19او به په ډانګ نه بيليږي.

-19پخې دوستۍ او وروروليۍ دچا په شرارت باندې څوك نه پريږدي.

-20اوبه دجام درويه ځکل کيږي.

-20څوك چې يو شې اخلي دهغه دښائست او دښه جنسيت له مخې يې اخلي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



21-او بو اخیستی هر بوټي ته لاس اچوي.

21-دارړ مخ هر چاته اوړي.

22-او بووړی زګته لاس اچوي.

22-په چاچې مشکل راشي ديو ډير بې خونده کس نه هم دحل کولو هيله کوي.

23-او به خړوي ماهيان نيسي.

23-دخپلې غوښتنې دترسره کولو په خاطر هرډول لوبې کوي.

24-اوبه پورته خيژوه که نه ښکته خويې لاره ده.

24-دکړنې له پاره ټينګ هوډ لره.

25-اوبه تر خيټې پورې رسيږي خو خيټې تر خيټې فرق دی.

25-توان تر توانه پورې فرق دی.

26-الطور من التاوان.

26-له کوم ملاصيب نه چا تبر په سوال وړی و او بيا هغه ترې ورك شو. سړی بيرته ملاصاحب ته راغی او ورته يې وويل چې څوك ديوه چا نه يو امانت واخلي او بيا دغه امانت ورك شي په امين يې تاوان شته او کنه؟ ملا ورته وويل چې نه، سړي ملاصاحب ته کړه چې صيب ستاتبرله ما ورك شو ملا صاحب سمدلاسه وويل ته لږ وارو کړه چې زه کتاب وګورم، دکتاب له کتلو وروسته بيرته راغې او سړي ته يې کړه چې دبل امانت تاوان نشته خو په کتاب کې يې ليکلي دي چې الطورمن التاوان. يعنې که تبر ورك شي تاوان لري.

27-اوبه چې يو ځای ډنډشي خو ساکيږي.

27-څوك چې يو ځای کې ډير پاتې شي قدريې کميږی ياپه ځينو شيانو چې وخت واوړي نو خرابيږي.

28-ادې که دزړه کوي او ګرې ته هم تبی کوي.

28-يو څوك که په راستۍ کارکوي او کوښښ وکړي له يوه بې کاره شي نه هم ښه شي جوړولای شي.

29-ادې مړه شوه تبه يې وشکيده.

29-هرڅه ولاړل.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



30-او به په کمزوري ورخ زر ورځي.

30-په بې وزلو او خوارو خلکو قانون زر پلي کيږي.

31-او به ګرمې کړه که کاروشو ښه که نه نووړه خو به پرې لامده کړو.

31-دژمي په سړو کې ديوه سړي دخپلې منکوحې سره نږديوالي ته زړه وشو او خپلې مانديني ته يې کړه چې ښځې په تناره کې اوبه کيده چې تودې شي ښځې يې ورته کړه چې څله مې په عذابوې کار به درنه ونه شي نو سړي ورته وويل که کارونه شي نو اوړه خو به پرې لامده کړې.

32-آموخته بلا بده بلاده.

32-له روږدی ځان خلاصول ډير ګران دي.

33-اوږه چې ونه خورې دخولې نه يې بوی نه ځي.

33-يوکار چې څوك ونه کړي بل ورپسې څه نه وايي.

34-اور اخلي.

34-ډيره بيړه کوي .

35-اوريې بل کړی دی.

35-شراو فساد يې جوړ کړی.

36-اورمړې ده.

36-بدبخته ده، هر کارته چې لاس واچوي ترې نه کيږي.

37-اور پرې ولګيده.

37-ډير قهر ورغی او په غصه شو.

38-اور ديو خسړي نه لګيږي.

38-دلږ څه نه غټه خبره جوړيږي.

39-اورته پکی وهي.

39-يعنې شراو فساد تازه کوي او زياتوي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



40-اور په خوله کې وړي.

40-ډيره بيړه يې ده او يا ښه تقدير کوي.

41-اور ته خپل او پردی يودی.

41-بدوته خپل او پردي ټول يو دي. خپلو او پرديو ته يې تاوان رسيږي.

42-اور دخپلې لمنې څخه لګيږي.

42-نقصان انسان ته کله دخپل ځان او يا له خپلې کورنۍ ورسيږي.

43-او رپوه شه زاخيل پوه شه.

43-دزاخيلو په کلي کې اورلګيدلی و دنورو کليو خلك دمرستې له پاره راغلل چې له زاخيلو سره اور مړ کړي زاخيلوالو به دغه کسان هريوه ځانته راکشول چې دده دکور اور مړ کړي په دې کې دکلي خلك سره په جنګ شول او په کاڼو يې سره ويشتل پيل کړل چې يو نيم کاڼی به په مرسندويه خلکو هم لګيده په دې وخت کې دمرستندويه خلکو دډلې نه يوه تن غږ وکړ راځې چېځو اور پوشه او زاخيل پوشه او يو بل نکل يې داسې دی: يو څوتنو زاخيلو اوربل کړی واو ځانونه يې پرې تودول چې په دې کې يو څه مسافر راغلل او اور ته وروګرځيدل چې دوي هم خپل ځانونه په دې اور تاوده کړي خو زاخيلو دا مسافر تودولو ته نه پريښودل، په دې کې خبره لړه سخته شوه او نږدې وه چې جنجال پيښ شي نو دې وخت کې يو مسافر وويل راځی چې ځو اور پوه شه او زاخيل پوه شه.

44-اوړپه لمن اخلي.

44-ډير تلوار يې دی.

45-اور په اوبو لګوي.

45-ناشونی کار غواړي چې وشي.

46-اور په خټه بلوي.

46-دناشوني شي کيدل غواړي.

47-اور پسې راغله دکور واکداره شوه.

47-ځينې سوالي او هوايي خلك ديوه ځای يا يوشي دعوګيرشي يا واك به کې کوي.

48-اوبه چې دسر نه واوړي څه يوه نيزه څه دوه نيزې.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



48-انړيښنې او غمونه لږ او ډير يو شی دي.

49-او ګره چې سړيږي بلا پرې لګيږي.

49-يو کار چې څومره ځنډيږي هومره خرابيږي.

50-اوس ددې څه پر توګ کوې.

50-څه چاره يې کولای شې.

51-اوږده غنم دي کله به لوشي.

51-دځينو کارونو اجراْکول ډير وخت غواړي. بې وخته دځينو ورته تلواروي.

52-اوښ ته رباب مه وهه.

52-ناپوهو ته دلايل مه وايه.

53-اوښ چې په پيسه شي او پيسه نوي نو څه به يې کړې.

53-که يوشي ډير ارزانه وي اوستاورته داخيستلو وسعه نه کيږي نو څه به يې کړې.

54-اکو کو کې فرق نشته.

54-اکوك تنکيوبادامو ته ويل کيږي چې تازه له ګله وتلي وي او ټول پرته له کوم توپيره يو شانته وي او خلك يې دمزې له پاره خوري او په رنګ او خوندکې سره يو شان وي.

55-اوښه کوم ځای دې سم دی چې پاتې دې غړانګه.

55-چې ديوه کس ټول کارونه نيمګړي او خراب وي.

56-اوښ ته چاوويل چې څوړ ښه دی که لوړ ويل يې درې واړه دې ورك شې.

56-ديوه چا چې ټول کارونه بې خونده او بې رنګه وي.

57-امبار سرې ميښه ده دکوناټو په ډول خرڅيږي.

57-امبار سر ميښې ډيرې تيارې او پيړې وي او سړي ته ښې ښکاري سړی ګمان کوي چې دابه ډيرې شيدې هم کوي، خو دشيدو مزه يې نه وي. يعنې د ځينو خلکو ډول او سينګار او جسامت ډير ښکلی وي مګر مانا په کې نه وي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



58-اوښ په بډه نه وهل کیږي.

58-ځینې خیانتونه دومره غټ وي چې هیڅ نه پټیږي او خامخا ښکاري.

59-اوښ په بډه وهي.

59-ښکاره خیانت کوي.

60-اوسپنه چې څومره ټکیږي هومره پلنیږي.

60-په انسان چې عمر تیریږي تجربه او پوهه یې ډیریږي.

61-اوسپنه په اوسپنه ماتیږي.

61-زور زور ماتوي.

62-ایرو دشګو پورې واړول باد راغی دواړه یې ویوړه.

62-یوڅوک دیوه چاپورې ځان تکیه کړي او زور ور راشي او دواړه له منځه یوسي.

63-اورپرې لګوي.

63-خرابوي یې، له منځه یې وړي.

64-اوس هم جاله دې غاړې ده.

64-اوس هم سرې وخت دی.

65-اول ځان بیا جهان.

65-چې ځان ونه پیژني جهان نه پیژني.یا لومړی یې پخپله خوره بیابې بل ته ورکوه .

66-اوښ په پکي نه درنیږي.

66-ډیر شتمن په لږڅه تاوان نه خبریږي.

67-اوښ په څله خبر نه دی.

67-بی عقله دی په خبره نه پوهیږی یاهوډمن خلك په تکالیفو کې جرت نه وهي.

68-اوښان چې ساتې دروازې به لوړې ږدې.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



-68لوی کارونه چې کوې نو عزم به دې ټینګ وي.

-69اره شه ترخز کیږه مه.

-69یعنې نوروته هم ګټه اړوه.

-70ایل غټ دی که دوه سری.

-70په باجوړکې دوه غرونه دي چې یوه ته یې ایل اوبل ته یې دوه سری وایي چې د یوه ترځنګ یوه قبیله پرته ده اودبل څنګ ته بله قبیله پرته ده، پخوائینې خلك ځیلیان، سادګان او لانجمن وو او په نه څه خبره به یې سره جنګ کاوه یوې قبیلې ویل چې ایلم غټ دی او بل به ویل چې دوه سری غټ دی او په همدې خبره ډیرې جګړې او مړې وشول، خواو دخپل غره دلوړوالي دعوا کولې، یوه ورځ یو استاد زده کوونکیو ته سبق وایه چې دایلم او دوه سري خبره را یاده شوه استاد چې دایلم دقبیلې اوسیدونکی وویې ویل چې ایلم لوړ دی یو شاګرد چې د دوه سري دقبیلې و استاد ته یې کړه چې استاذه دوه سری لوړ دی استاذ ته قهر ورغې غاښونه یې وچیچل او شاګرد ته یې وویل چې مور دې پرې کښینې هم لوړ به یې نه کړې.

-71آّخر ته یې ګوره.

-71پایله یې ګوره.

-72اوښ چې ځي پالان دې هم ځي.

-72چې ته نه وې په نورو څه کوم.

-73انګور تروه دي.

-73یوشې چې دبې وسی نه پاتې شي.

-74اختر په څه پیژنې وایي چې پلو پوخ شي.

-74په تیراکې خلك داختر په ورځ پلو(ګوریجې پخوې چې داکار پرته له اختره دتیرا خلك ډیر کم کوي. دیوه هلك مور چې له اختره مخکې یې وریجې پخ کړې وې هلك چې سهار له خوبه راپاڅیده او خپلې سترګې یې مښلې خوب یې وتښتاوه مخ ته یې څه اوبه ور واچولې او مورته یې کړه چې څه دې پاخه کړي دي موریې ورته وویل چې بچیه وریجې هلك سمدستې حجرې ته منډه کړه په حجره کې درانه درانه سپین ږیري ناست دي اودهریوه مخې ته پر میز چاینك یښی دی هلك ورغی او له ښې لورې یې دسپین ږیرو دلاسونو په ښکلولو او داختر په مبارکیو ورکولو شروع وکړه. یو سپین ږیري بابا ورته وویل چې بچیه اختر خو نه دی هلك غبر کړ بابا ولې نه دی ادې مې وریجې پخ کړي دي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



75-انسان بې وزرو مرغه دی.

75-يو سړی د خپل کور په چرګې دخپلو ماشومانو سره ناست و او سپك را پاڅيد او دچرګې بلې غاړې ته يې را ټوپوهل او کښيناست په بريتو يې ګوتې راکش کړې او غاړه يې تازه کړه او ښځې ته يې کړه: ښځې انسان بې وزره مرغه دی يوه شيبه مخکې دچرګې هغې غاړې ته وم او اوس دادی راپورې غاړې ته ناست يم ښځې يې ورته کړه ښه دی سړيه چې شکيدلې نه يې.

76-اوښ دلکۍ نه نه ټينګيږي.

76-دغټ قوت ماتول په لړ زورنه کيږي.

77-ابۍ خوتا مړه کړه چې کله دی ګرم ورکول او کله دی يخ.

77-دوه مالداره ورونه وو يوه رمه پووله او بل به دکور ماته ګوډه کوله، په کور کې يې مور ناروغه وه او زوی به يې سونډ او سپيرکۍ ورکوله خو بالاخره ابۍ مړه شوه او دکور ورور چې وهغه باندې ته شپانه ورور ته ورغی او هغه ورته وويل چې ابۍ څنګه وه ده کړه چې ابۍ مړه شوه نو بيا ورته هغه داوويل:

78-اول دځان اصلاح پکارده بيا دنورو.

78-لومړی بايد سړی ځان په لاره برابر کړي بيا نوروته نصيحت کوي.

79-اوښان په ټيټه ملانه غلاکيږي.

79-ديو غټ شي خيانتول په کوچنۍ پلمه نه کيږي.

80-امتحان شوي بيا يې مه امتحانه وه.

80-يوځل چې څوك تجربه شو دويم ځل ته اړتيا نشته.

81-آموخته بلا دخدای په روی نه منع کيږي.

81-له روږدي خلاصيدل په زارۍ نه کيږي.

82-اوښ په غړغړو روږدي دی.

82-ځيني قدرتمند په قهر او غصه عادت وي.

83-اړوت غړوت کوي.

83-کار ترې نه کيږي ځان اخوا او ديخواکوي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



84-اور پسې راغلی وې.

84-یوه ښځه چې دچاکورته ولاړه شي او بیرته په تلوار ځي نو بیا ورته ویل کیږي پخوا اورلګیدونه نه وو خلکو به دبکر نه اور لګاوه او بیاېې انګار ترډیره ساته نو دچا کره چې به اورنه و دبل دکوره به یې یا مروتېه اویا لمبه خپل کورته په بیړه وړه.

85-اموخته خور دی که میراث خور.

85-میراث خور ښه دی چې یوځل خپله برخه واخلي اوخلاصه شي او اموخته خور سړی تنګوي.

86-اس دخپل سپاره کوناتې پیژني.

86-هرکس خپل دوست او دښمن ښه پیژني ځوك چې دچانږدې وي او کور او کلی ورسره لري تر نورو یې ښه پیژني.

87-اتفاق غرونه سوري کوي.

87-په یو والي هرڅه کیږي.

88-اوړه په لپه او غوړي په ګوته.

88-هرشی ځانته کچ او میچ لري .یعنې سوالګرته څوك په پیمانه شی نه ورکوي.

89-ایساره پیشو دزمري نه تکړه وي.

89-اړ هر څه کوي.

90-اوه کوره تاراڼ دي نه یې ملکان دي.

90-کوچنی کلی چې خلك یې خپل منځ کې سره بې اتفاقه وي او کورونو دشمیر نه یې دمشرانو او ملکانو شمیر زیات وي.

91-انسانیت په بیعه نه اخیستل کیږي.

91-سړیتوب او عقل دخدای(ج) داد او ورکړه ده.

92-اوښ مې له کبره په باغ کې پاڼې نه خوري.

92-دومره خوار نه یم لکه ته چې راته ګورې.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



-93او به چې له پاسه خړې شوې تراخره خړې وي.

-93مشران چې خراب کشران پخپله خرابيږي.

-94امرخيلووطن نه مينده او چغريې څښتن نه مينده .

94- امرخيلودپښتنو يوښه توريالی ټبردی ، خوځمکې يې نه درلورې په پچيراو چيليار په منځ کې يوه بې اويو او کاږجنه او دسنګلاښ سيمه ده . چې هيڅوك ورته نه راتلل او نه په کې چه ځای جوړوه ، ځکه چې د اوسيدو ځای نه دی خوامرخيل ورته راغلل او په کې ميشت شول .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## "ب"

– 1باران په تيرا وشو خره يې دلړه موړې ويوړه.

- 1لړه موړه په لغمان کې ديوې قرې نوم دی چې يو وخت يې خلك دخوارۍ او مزدورۍ‌ياد تجارت له پاره دخپلو خرو سره دپيښور بارې ته تللي وو دبارې په خوړکې پستې شګې پرتې وې، ددوبي ګرمي وه تجارانو يا دغو مزدورانو په دې ځای کې واړول خره يې ټينګ د ميختبيلو پورې وتړل او پخپله بيده شول، له دې ځايه دتيرا سيمه ډيره لرې پرته ده، په تيرا باندې سخت باران شوی و چې ددوی دسترګورپناو، يوڅه وخت وروسته ليونی سيلاب راغی خلکوځانونه په منډه خلاص کړ او خره پاتې شول او سيلاب لاهو کړل او په سيندې ورګډکړل.

-2بار يې داوبو ويسته.

-2خپل مشکل يې حل کړ .

-3بادرنګ به دې بدرنګ کړي خټکې به دې دسلوکالو رنځ کړي.

-3دبادرنګ خوراك خيټه خوږوي او خټکی دزخم ځای ته ورځي او ګزك شي.

-4باورمې نشي چې داميری مير شي.

-4باور مې نه شي چې داکار به وشي.

-5باورمې نشي چې داوړی شړی شي.

-5ګمان نه کوم که داکار وشي.

-6باغ چې پوخ شي باغوان يې کوږشي.

-6کله چې باغ پوخ نه وي، نو دباغوان مينه دخلکو سره ډيره وي او ښه راشه درشه هم لري خو چې ميوه يې پخه شي بيا په خنګ شي. او همدا شان چې يوکس نوی منصب او قدرت ته ورسيږي نو بيا دچا کارنه کوي.

-7بانه مې رپيږي.

-7هيله مې شته چې داکار به وشي.

-8بانه مې نه رپيږي.

-8ناهيلی يم.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



9-پاڼه یې درانه شو.

9-خوابدی شو.

10-بدتر بور په بدځای کې په کاریږي.

10-تربور په تکلیف او سخته کې په کاریږي ځکه چې دبل بدیې په تربور نه لوریږي.

11-بد ورور په بده ورځ په کاردی.

11-که ورور ډیر خراب شي بیاهم دمصیبت او تاوان په وخت کې په کاریږي.

12-بې عقله یې په ځان کوي په بل یې نه کوي.

12-ناپوهه سړی چې بې سنجشه کارونه کوي ځان تاواني کوي.

13-برگ اتڼ جوړدی.

13-موضوع یې گرمه ده.

14-برگ اتڼ یې جوړ کړ.

14-کیسه یې بیا توده کړه.

....... -15کول او جومات اچول یو شی وی.

15-یوه کنچنۍ وه او په فحاشۍ یې ډیرې پیسې گټلې وې او په یوڅه پیسو یې جومات جوړکړ، دملا نه یې پوښتنه وکړه چې ماخو د بدکارۍ په پیسو جومات جوړکړ څه ثواب به مې وشي او که نه؟ ملا ورته وویل دغه ......... ورکول او جومات اچول دا دواړه یوشی دی اوځان شکول دې پرې اضافه شول.

16-بللي خورهولي دي.

16-څوك چې چارا وباله او رانه غی نو بیا یې گیله نه وي.

17-برمنډله اوبو نه ویریږي.

17-توریالیو او ننگیالیو سره دخپل سر ویره نه وي.

18-بل ته مثلې کوي په خپله پرې حملې کوي.

18-یعنې په خپلو ویناوو یې عمل نشته.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



-19بنده ترخپلي وسپ پورې پر دی.

-19دتوان په اندازه باید سړی کار وکړي.

-20بنده دخپل خیر او شره خبر نه دی.

-20انسان دخپلو ښو او بدونه نه وي خبر علم یې دخدای(ج) په قدرت کې دی ((ډیر ځل به یو کس یو شي دخپل ځان له پاره خیرګڼي مګر هغه به ورته شریې. او ډیر وار به یو سړی یو شي خیر ګڼي هغه به شرشي))

-21بنده راشه دخدای خپل شه لکه په ځان هسې په بل شه.

-21یعنې مسلمان هغه دي چې په ځان یې څه لوریږي هغه په بل هم ولوروي.

-22برخې ازلي دي.

-22دهر چا برخه په لوحې محفوظ کې شته، نوی زیادت په کې نه راځي.

-23بې ګودره مه ګړیږه.

-23بې سنجشه کار کول ښه نه وي.

-24بې ډوله ګډیږي.

-24هیڅ په هیڅه مست.

-25بې تیلو یې الوزوي.

-25دومره درواغ وایي چې په هوا ګرځي.

-26بې دروازې لوی شوی دی.

-26بې تر بیې او بې تعلیمه رالوی شوی دی.

-27بې لکۍ خر دی.

-27ډیر زیات بې عقله او ناپوهه دی.

-28بې پر توګه سړی دی.

-28بې حیا دی.

-29بې غیر ته دادا اوادې ته دې ایمان جوړ دی.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



-29پخپل کور کې مزری دی.

-30بې صبره وايي ماته يې په کودي کې واچوه .

30تلواري وخت ته نه ګوري او هرڅه دوخت نه مخکې غواړي.

-31بې صبره يې په لمن کې غواړي.

-31دی يې له هرچا ژر غواړي.

-32بې چرګه هم سبا کيږي.

-32ديوه چا دمرستې او کمك پرته به هم کار پوره شي.

-33بې لاسه لستونی دی .

-33بې واکه او بې اختياره شاغلی دی.

-34بې علمي تياره ده.

-34څوك چې پوهه او علم نه لري په هغه سپينه ورځ هم شپه وي.

-35بې علمي بلاده.

-35ناپوهي مصيبت دی.

-36بې علمه انسان ړوند دی.

-36خپل خير او شر نه پيژني.

-37بې کاره ښځه دميړه په کور کې ميلمنه وي .

-37هيڅ هم نه کوي او هرڅه خراب، تراب پراته وي.

-38بې باکه سړی دی .

-38لو بالي او بې پروا دی.

-39باران ونه شو مونږه يې په جمعه خان وشرمولو.

-39ددوبي په موسم کې دکليو خلك خپلو خپلو ديروته وځي اوپه ديرو کې يوه يوه کوټه هم وي چې کله باد او باران شي نو بيا خلك کالي او سامان دې کوټې ته ننباسي جمعه خان چې کور يې ديرې ته راويستلی و، او دکور وګړي يې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګڼ وو، دجمعه خان جماع ته زړه شوی و خو دخلکو د ویرې يې څه نه شو کولای خدای(ج) کول یوه شپه ګړز ګړوز او بریښنا شوه څه غټ غټ څاڅکي هم راولویدل خلك کوټوته شول جمعه خان اوښځه يې هم سره دکوچنیانو کوټې ته شول کوچنیان خو بولي وو او ویده شول دباران فقط یو څو څاڅکي وشول او نور ودرید ګرمې وه خلك بیرته له کوټو راووتل او جمعه خان وار دمخې ددې موقع نه پوره استفاده کړې وه ښځې له ځانه سره وویل چې باران ونه شو موږه يې په جمعه خان ......کړو.

40به به به به کيږي.

-40ځان مشره مشره کوي.

-41به به يې له ځانه جوړه کړې ده.

-41یوه غټه مشره ښځه يې له ځانه جوړه کړې ده.

-42بې تاجه بادچا دی.

-42خپل ځان په خلکو په زوره مني.

-43بختوري کامې چې ني اچوم دوه کيږي.

-43داسې وه چې پخوا زمانو کې وچکالي وه او دننګرهار زیاتره سیمو او به نه لرلې او په کامه خو دکونړ سیندرابهیږي نو ډیرپاوبه لري، شنه او سمسوره سیمه ده، او دډیرو لرې لرې ځایونونه خلك خوارۍ او غریبۍ له پاره کامې ته راتلل لکه اوس چې راځي، دیوې وچې سیمې سړی په سیند راپورې وتی دی او یوکب يې پیداکړ او د یوه شیرغشي بوټي ته يې ور واچوه او اور يې ورته کړ کله چې او ر مړ شو اوې دکب بیرته راخیسته نو په دی بوټي کې یوه چرمښکۍ هم ورسره پخه شوې وه مسافر ماما چې کله دوه ماهیان ولیدل ډیر خوشحاله شو او داخپل راتګ يې کامې ته په نیك فالۍ ونیوه او بیا يې داوویل.

-44بغیر زمانه به يې شل نه کړي.

-44له ما پرته يې نه شې پوره کولای.

-45بخت يې چې خوار شي په شنه جلګه کې هم منګی ماتيږي.

-45نصیب چې خوار شې نو بیا روغ کار ورانيږي.

-46بدخوی چې زور اور شي نوعقل مرور شي.

-46یوکس چې په بدو بدو خویونو عادت شي، زړه يې زنګین شي او عقل ترې ولاړ شي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



-47بې پيره سره بدمذهبه جوړيږي.

-47نكل يې داسې دی: يو سړی نوی ملا شو او دهندوستان نه راغی او دخپل كلي په جومات كې يې طالبانو ته تدريس كاوه په دې وخت كې دملا صاحب يو ګاونډی راغی او ملا صاحب ته يې په سپكو او سپورو بنأ وكړه، او پير، ايمان، دين او دا ټول يې ورته وكنځل ملا صاحب خو عالم دی هيڅ نه وايي او يو لاحوله ولا قوه وايي د سړي دكنځلو په جريان كې دملا داكازوی راورسيده او دې سړي ته يې ټول جوابونه په اښكنځلو ور وګرځول نو په دې وخت كې يوه طالب دا وينا وكړه.

-49بورې هم ژاړي او ترورې هم ژاړي.

-49يعنې دقاتل او دمقتول مېندې دواړه ژاړي يو په مرګ وركشواو بل په ژوند ورك شو.

-50باد او باران دی.

-50هسې غږ يږي او څه كار ترې نه كيږي.

-51بې مشورې كاركول وخت ضايع كول دي.

-51يوكار چې بې سلا او مشورې وشي څه نتيجه نه وركوي.

-52بې سته څوك جنت ته هم نه ځي.

-52دپښتنو داسې خويونه دي چې بې بلنې چيرته نه ځي.

-53بل ته ګوته نيسي.

-53نوروته تكړه او مزری دی.اوخپل عيب نه ګوري.

-54بنده حيران خدای مهربان.

-54څښتن تعالی داړو خلكو كارونه وربرابروي.

-55بې عقله ځان دسلو هوښيارانو ښه بولي.

-55ناپوهه په هيڅ معيار او اندازه نه پوهيږي نوځكه ورته ځان هوښيار ښكاري.

-56بريت ښه بريت دی خو په بيكاره شونډوولاړ دی.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



-56چې ديوه ښه او پوه سړي دناپوهو او نا اهلو خلکو سره مخه وي.

-57بريت غوړ دې پيشو وتښتول.

-57کيسه يې داسې ده: يو سړی په ډله کې ناست و او تل به يې غټې، غټې خبري کولې او ويل به يې چې دامې وخوړل او نن مې داوکړل او........ دغه سړي يو څه دپسه دلم وازده په کور کې ساتلې وه او هر وخت به يې پرې خپلې بريتې غوړولې او بيا به دکلي عام وستل ته راووت او دخلکو په منځ کې به کښيناست او ويل به يې چې ياره نن مې داسې قورمه، کباب، پلو او .... خوړلي دي په همدې لافو او شاپو کې دی او په عين وخت کې د خبرو سره سم دخپل زنګانه نه يو ټك هم او باسي په دې وخت کې يې زوی په ډيره ورخطايۍ راغی او پلار ته يې په اوږده اّواز باندې ورغږ کړ: چې وه پلاره تاچې دبريتو دغوړولو له پاره وازده په تاخچه کې ايښې وه هغه پيشو وتښتوله.

-58بې خپلو کافرو مې نه کړې.

-58يو ملا ته چا کنځلې کولې او ده ورته څه نه ويل او يو ناپوهه ورور يې راغی او سړی ته يې په اښکنځلو شروع وکړه ملاصاحب دخپل جاهل وررونه خوشاله شو او دايې وويل خدايه بې خپلو کافرومې مه کړې.

-59بل ته مزری دی.

-59خپلې ښځې ته څه نه شي ويلای او نورو ته تکړه دی.

-60بنجان په خنجکي راشکوي.

-60 ډير لندۍ دی يعنې يوه لويشت ونه يې ده.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## (پ)

– 1پاړوګر دمار دلاسه مري.

-1چې مهلك كارېې پېشه وي دخپلې پېښې ورپېښېږي.

-2پانې پليت مړى يې كافر.

-2چا په هندوستان كې دعيسوى مړى لمباوه او ناپاكه او به يې ورته راوړې دمړي لمبونكي ورته وويل چې دا اوبه خو پليتې دي داوبو راوړونكي ورته وويل پانې پليت او مړى كافر يعنې باك يې نشته.

-3پاى ناوكه ساهووي سرې ورخ وربانديې زورورديې.

-3دويش له ځايه چې څوك لرې وي نږدې كمزورى يې ترې مخكې اخلي.

-4پتې بلاوې دې خداى پتې لري.

-4خداى (ج) مې دې نور ددې دبدو كارونو نه نه خبروي.

-5پردى كټ دنيمو شپو وي.

-5دسوال شي به درنه دكار په وخت كې وړي او ستا به لاكار تمام شوى نه وي.

-6پردې په ډير ونارو خپليږي.

-6چې خپل دې نه وي نو ډير ښه به ورسره كوې بيا به دې خپليږي او ستا په درد به راځي.

-7پړ مې كړه مړ مې كړه.

-7ملامته مې كړه بيا چې هرڅه كوې حق دې دى.

-8پس له مرګه پښيماني ګته نه لګري.

-8چې دكار وخت تير شو افسوس او ارمان بيا ګټه نه كوي.

-9پښې سترې ښې دي نه زړه سترى.

-9ديوه چا راتلو ته چې په تمه وي او دهغه راتګ په شك كې وي نو پښې دې ورپسې ور واخله چې زړه دې راټول شي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



-10پردي غوايان خيرا توي.

-10دنو رود مال مصرفولو ته تکړه دی دبل په خيرات کې خپل ثواب ګوري.

-11پړی يې پرې ورواچاوه.

-11يعنې په بد شان يې رخصت کړيا انډيوالي يې ختمه کړه.

-12پرتوګ يې ورته په چنارواچاوه.

-12ښه يې سپك کړو.

-13پر دی جنګ په پيسو اخلي.

-13شريردی او شريې خوښيږي، خپل خوکوي او په پردي کې هم برخه اخلي.

-14په تنګ شي په جنګ شي.

-14چې خونپور شي او مجبور شي.

- 15پښه يې او بو ته کوې.

-15يو سړی و او دخرې سره يې بدکاري کوله چاورته وويل چې دابدکار دی بله ورځ همدې سړي پخپله هم دغه بدکاري کوله چې پروني سړی وليد او غږ يې پرې و کړ چې داولې کوي، سړي ورته سمد واره وويل مايې پښه او بوته کړې. يعني ځيني خلك يو بدكار ته په يوه پلمه باندې دحلالو روايت ورکوي.

-16پخوا کال په کلو وه اوس لاس په لستوڼي شو.

-16څوك چاته ديوه عمل پيغور ورکوي سبا په هغه کې هم پيداکيږي، پخوا به خلکو ځان ډير ساته چې بل ته مې ويلي دي نو پخپله به يې ځان ترې ساته مگر نن سبا خلك هرڅه کوي يا دا پخوا به چې چابل چا ته پيغور ورکړ څه موده وروسته به ده ته هم بل مثل يو پيغوذ جوړشو.

-17پرهيز دسلو درملونه ښه دی.

-17له درملونه پرهيز غوره دی.

-18ګ پکی پکی کيږي.

-18نيغ نيغ او مخې مخې ته کيږي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



-19پوستين يې چپه اغوستي.

-19په قهر اوغصه دی حالاتو کې يې بدلون راغلی.

-20پرتو غاښ يې ور وشکاوه.

-20کيسه او تمه يې ورغوڅه کړه او يا خړ يې کړ.

-21پوره وران دې کړه دوه کوره؟

-21دوه کوره پرې خرابيږي له چا چې اخيستل شوې دهغه متاع ولاړه او داخيستو نکي پرې لاس تنهاکې شوی نه دی بې ځانه يې لګوي چې بيا يې دخلاصولو توان نه لري.

-22پردي خواږه دنامرده په ګيډه کې پراته وي.

-22څوك چې دچا سره يو احسان وکړي دغه سړی بايد چې ددې احسان بدله په يوه ډول وروګرځوي.

-23پردی غم له واورو سوړ وي.

-23سړی په خپل تکليف ډير خپه کيږي او دبل په تکليف هومره نه وي اګر که په ورورېې هم وي.

-24پك مې ليدلی دی خو دمرکنډی پورې نه.

-24بې باکه، بې حيا او بې شرمه ، ظالم او سپين سترګي. يا هر څوك چې دحدنه تيری وکړي بيا ورته داويل کيږي.

-25پو راو مامور شو.

25هر څه يې ډير شول.

-26په دوه پښو ناست دی.

-26سترګې په لار دی يعنې منتظردی.

-27په مړه ګيډه يې لاس نه دې وهلی.

-27تل وږی او اړ دی.

-28په سر سوری نري په اسمان ستوری نه لري.

-28هيڅ نه لري.

-29په سپکو سپك، په درندو دروند.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



29-ددرنو په ناسته به درونډ شې او دسپکو په ناسته به سپك شې.

30-په مرګ يې ونيسه په درد راضي کيږي.

30-ډير څه ترې وغواړه لږ به په اسانه درکړي.

31-په اخښکلو وړو تيزونه ماچوه.

31-په شوي کار ځان مه اخته کوه.

32-په ډاګ دې شړی منده کړه کزپرې مه بړده.

32-يو شی چې په اسانه په لاس درغی ډير ښه او بد په کې مه لټوه.

33-په سترګو کې خلکو ته خاورې اچوي.

33-خلك تير باسي.

34-په ښو تلوار په بدو صبر کول.

34-ښه کار دې سړی ژرکوي او په بدو دې مشوره کوي.

35-په جنګ کې اّسونه نه تياريږي.

35-مهم کار په بيړه نه کيږي.

36-په تامې زور نه رسيږي مړ به دې پلار کړم.

36-په زور ور يې وسه نه کيږي په کمزوري ګواښيږي.

37-په بوساړه کښې ورته ناست دی.

37-يعنې چلونه ورته ښيي.

38-په يوه غشي دوه ښکاره نه کيږي.

38-په عين وخت کې څو، څوکارونه نه کيږي.

39په پردي وطن کې تيز واچوه ترې څه.

39-په نابلده ځای کې دبدکار پيغور نشته.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



40-په اخوند ښور واهم ډيره ده.

40-ديوه عاجز سړي سره لږ څه کول هم ډير دي.

41-په يوه کند کې دوه ملنګان ځايږي خو په يو ملك کې دوه پاچايان نه ځايږي.

41-ددوه زورورو ژوند په يو ځای کې نه کيږي.

42-په يوه سپيره سل مخونه خوړيږي.

42-ديو کس په تکليف او خبره ټول کلی، اولس او قبيله خوابدې کيږي.

43-په يو ګل نه پسرلی کيږي.

43-په يوه کس وطن نه آباديږي.

44-په شيدو سوی ماسته پوکوي.

44-ديو شي نه چې سړی تکليف ووينې، نو دبل سره بيا ډير احتياط کوي.

45-په ړندو کې چغر بادشاه دی.

45-په ناپوهانو کې په يو لږ څه پوه کس مشروي.

46-په ډيرو وهلی ښه دی په يو ملامته نه.

46-ډير تکليف او تاوان غوره دی نه چې نو کس ملامته ووايي.

47-په سپينو جامو توراداغ ژرمعلوميږي.

47-اصيلو، پوهو او پاکو خلکو که لږ څه بدکاروکړ داورته غردي.

48-په زړه کې ريبل او کرل کوي.

48-هيلې او غوښتنې لري.

49-په ګناه فخر کول بله ګناه ده.

49-له بدو توبه کول دخدای(ج) بخښنه ده.

50-په ګناه پښيماني دخدای رحمت دی.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



-50په بدو وياړل هم بد دي.

-51په ډېرو ليوني خوښ دي.

-51دخپلې اندازې او برخې نه څه زيات غوښتل ليونتوب دی.

-52په غاسل يې لمبول دي بخښل يې په خدای دي.

-52په کار کوونکي تر خپلې وسې سيعه کول دي.

-53په پردي قبر کې څملي.

-53دبل غم په خپل سررا اچوي.

-54په پردي کور سل ميلمانه څه دي.

-54دبل توان چاته هيڅ ښکاري.

-55په پردي شعر کې خپل نوم اچوي.

-55پردي ښه دځان پورې تړي.

-56په شرم دې هغه وشرميږي چې پرې پو هيږي.

-56چې په شرم نه پوهيږي هغه بيابيا شرم جوړوي ځکه چې بدورته نه ښکاري يا داچې په شرم دي هغه وسرميږي چې پرې نه پوهيږي .

-57په علم کې شرم نشته.

-57دپوهې په زده کړه کې شرم نشته که يې له غټ نه زده کوې او که له واړه نه.

-58پلوتې وايي بړستن پرې واچوئ.

-58په تيراکې وريجو ډير قدر درلوده هر وخت چانه پخولې يوه ورځ ديوې کونډې زوی ناروغه شوی و او دغه زوی په کونډې ډيرگران هم و زوی ته يې ويل چې بچيه څه خورې او څه ته دې زړه کيږي، زوی يې کړه مورې وريجې راته پخې کړه مور يې خپلېگ لور ته غږ کړ لورې بړستن پرې ورواچوه چې هلك سرسام شوی او پلوتې وايي يعنې پرتې وايي.

-59په ښکليو کې وفانوي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



-59ښايسته خپل ښايست ته غره وي او دبل چا پروا نه کوي.

-60په قصاب نه ورځي په حلوايي ورځي.

-60ديوسړي دپيري سره اشنايي وه او دسړي ميلمانه راغلي وو او پيري ته يې ويلي و چې دقصاب نه غوښه راوړه پيرى ولاړ او د حلوايي نه حلوا راوړه، سړي بيا واستوه او ورته يې وويل چې غوښه راوړه پيرى بيا ولاړ او دحلوايي نه يې حلوا راوړه، همداکار څو واري تکرار شو، سړي اخر پيري ته وويل چې داولې غوښه نه راوړې؟ پيري کړه دقصاب سره چاړه ده.

-61پخوادې پلار مړ و او که مور پورې غاړه کښينه چې دوا دروغروم.

-61په غره کې يو دوه شپانو رمې څرلې چې يو يې په يوه غره کې و او بل يې په بل غره کې و، ددې يو شپانه يوکال مخکې څوك مړ شوی و، دې بل شپانه ورته دډير لرينه په لوړ او جګ اواز پخپله لهجه غږ کړ چې هوو فلانيه پرو سږکال دې پلار مړو او که مور پورې په هغه کټ باندې کښينه چې دعا دروغروم يعنې فاتحه درته وکړم.

-62په مزدور مارهم مه وژنه.

-62په کارکې اخلاص نه کوي اوژوندی به يې پريږدي.

-63په مړه مار ګذارونه کوي.

-63ځان په توره او ميرانه کې شريکول غواړي.

-64په هر څه اورلګوي.

-64چالاکي او بيړه کوي او هرڅه هاغه دغه کړي يا هرڅه خرابوي.

-65په غوږ يې و واهه چې لته يې هيره شي.

-65غلطو کسانو ته داسې جزاورکول په کار وي چې غلطي کول ترې هير شي.

66په وچو لرګو اور ښه بليږي.

66اسانه کار ژر کيږي.

67په يو غوږيې اوري په بل يې اوباسي.

67نصيحت پرې اغيز نه کوي.

68په يوه پښه ورته ولاړ دی.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



68ډېر منونکی،ډېر اړ او محتاج دی.

69په ښایست کې د چین ښاپیرۍ ده.

69د ښکلا پرې ختمه ده.

-70په خپلو غوږیوکې یې وسیزه.

70ډېر تکلیف او زجریې ورکړ.

-71په شو ګیرو نویې سترګې سرې دي.

-71ډېر غمونه او اندیښنې کوي اوشپې رڼوي.

-72په مونږ یې تیاره ده ،په نورویې رڼاده.

-72مونږ ته یې خیر او ښیګڼه نه رارسي.

-73په خپل ژوند کې چا پوره نه کړه.

-73دنیا نیمګړې ده.

-74په پردي واده کې لستوڼی اوباسي.

-74د بل کار ته بې ځایه خوښي کوي.

-75په نغاره یې ګرد پروت دی.

-75خواشینی دی.

-76په ډډویې اخلي.

-76عمل پرې نه کوي او یا اغیزور باندې نه کوي.

-77په زغرو کې زغره مه لټوه.

-77په ښو کې ښه مه لټوه.

-78په ایرو کې ګوتې مه وهه چې اور به پکښې وي.

-78خطر نه ځان ساته.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



79-په درووکې دروې مه لټوه.

79-د مومندو په سیمه کې چې څوك د چانه مړی وکړي او بیاغواړي چې د خپل مړي بدل ترې واخلي او د اصلې قاتل پسې گرځي خو هغه په لاس نه ورځي اوپه دې کې ډیره موده تیره شي د مقتول ورثې ته بیا نورخلك وایې چې یو تن یې مړ کړه څله په درووکې دروې لټوي.گ دروې ټولې یوشان دي. دی.او یا د خیښۍ معامله وي او یا ورته کومه بله معامله وي نو بیا هم ویل کیږي.

80-په زغره کې یې سورې وکه.

80-روحیه او مورال یې ورمات کړ.

81-پر دی وینې یې دځان پورې منبلې:

81-دیو پاچا زوی دخپل پلار نه مرور شوی و او بلې پاچاهۍ ته تللی و. دښار په دروازه کې یې شپه راغله په دې ښار یو ښامار اموخته و چې څه موده بس به یې یوه انجلۍ ورودوله او خوړله به یې په دې شپه دپاچا دلور بوبت و، انجلۍ یې سینگار کړه او او ډولۍ یې دښار په دروازه کې ښامار ته یښې وه شپه پخه شوه او دښار ټولې دروازې وتړل شوې چې گوري ښامار راغی د شهزاده مسافر تر څنگ توره وه خپلې تورې ته یې لاس کړ او دښامار پسې را پاڅید او سر یې ترې پرې کړ شهزادگۍ، دغه مسافر ولید دخلکو ډیره سودا وه کله چې دښار دروازې پرانستل شوې دښار یو زلمي چې مړ ښامار ولیده سمدستي یې خپلې جامې دښامار په وینورنگ کړې. پاچا پخوا اعلان کړی و چې هر چا ښامر مړ کړ زه به خپله لور ورکړم دا زلمی په منډه ولاړ او پاچا ته یې ځان وروړساوه شهزادگۍ چې هلك ولید ویې ویل چې دې خپل کالي چټي په وینو رنگ کړي دي انجلۍ وویل چې تاسې ورشئ او هغه ملنگ چې په دروازه کې پروت دی هغه راولئ مسافر یې راوست او کله چې انجلۍ ولید غږ یې کړ چې ښامار همده وواژه پاچا ترې پوښتنه وکړه چې ته څوك یې مسافر ورته وویل چې زه فلانکی شهزاده یم پاچا سمدواره خپله لور ورنکاح کړه او په ټول ښار کې خوشحالي شوه.

82په وچو ولو به خدای اوبه راولي.

82-اړخلك به څښتن له اړتیا خلاص کړي.

– 83په یو لاس کې دوه هندوانې نه نیول کیږي .

83-په یوه وخت کې دوه کارونه نه کیږي یا دوه غټ مشکلات په یو شیبه کې نه حل کیږي.

84-په یوه موزه کې دوه پښې نه ځائیږي.

- 84داهغه وخت ویل کیږي چې په یوه څوکۍ او یا په یوه ځای دوه کسه مقرروي چې دیوه له پاره کفایت کوي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



-85په پاده کې خر نه لري.

-85داهغه وخت ويل کيږي چې يو څوك هيڅ نه لري او خبرې يې غټې وي.

– 86په تش ميدان پاتې شو.

-86چې يو څوك دڅه په تمه وي او هغه ونه شي او نا هيلی شي.

-87په تشويې ورته لاس اينبی دی.

ـ 87ورته حيران او هك پك پاتې دی او څه يې له لاسه نه کيږي.

-88په تش لاس هيڅ نه کيږي.

-88دچا لاس چې تش وي علميت، دولت او يا نور څه ونه لري نوترې کارنه کيږي.

-89په دوه جالو مه کښينه.

-89يو کار کول غواړې په دوه وسيلو په داسې حال کې چې داوسيلې په خپل منځ کې يو دبل ضد وي.

-90په خوله يو څه وايې په زړه يې بل څه دي.

-90دوه مخي او منافقت کوي.

-91په زور کلي نه کيږي.

-91په بد خوي څوك، څوك نه شي تابع کولای.

-92په ډيرو قصابانو کې غوامرداريږي.

-92چې ديوه کارواکدار او کارفرمايان ډير شي هغه کار سرته نه رسيږي او خرابيږي.

-93په چينه کې چې ځومره ګوتې وهې او به زياتيږي.

-93يعني په يوه کارکې چې سړی څومره تمرين کوي هومره ګټورکيږي.

-94په کور کې يوليونی ښه دی.

-94په کور کې بايد يو سړی مشري وکړي يا په کورکې يو سړی نازولی وي نه ټول.

-95په اوريدو او ليدو کې ډير فرق دی.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



-95يو څوك يو كار له نړدی ګوري نو رښتيا او درواغ يې ده ته ښه په ډاګه جوتيږي.

-96په بدبوټي سپی هم متيازې نه كوي.

-96يو څوك چې بد خوپه وي خلك نږدې نه ورځي نه ورسره څوك دوستي كوي اونه خپلوي.

-97په اومه تارشی مه تړه.

-97پوخ كار كوه.

-98په پلندۍ كې ونښت.

-98ستونزې ورته پيداشوې.

-99په بوخته كې ګير شو.

-99په مصيبت اخته شو، چې اوس به ترې په مشكل خالصيږي.

-100په كور كې شپږمه ګوته يم.

-100په كور كې كشريم له مامخكې قدرمن ډير دي.

-101په دوستۍ كې خلك وهی.

-101په دوستۍ كی ټګي او خيانت كوي او ريښتينی نه دی.

-102په يوه وښكي كې خاندي او په بل كې ژاړي.

-102په لږ څه خوښ او په لږ څه ناراضه.

-103په يوه سترګه كې خاندي او په بل كې ژاړي.

-103دوه رنګي. كوي.

-104په ټپو سانو مړ زان نيسي.

-104دا متل هغه وخت ويل كيږي چې څوك دمهم كار پسې يو كمزوری او ضعيفه سړی ورليږي چې له توانه يې نه وي پوره.

-105په خروار كې خورد ورسره نه خوري.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



-105داهغه وخت ويل كيږي چې دوه دوستان وي خو په نږدې كې سره لرى وي او يو دبل په درد دومره نه دواكيږي.

-106په اور يې او به واړولې.

-106غم يې كم كړ غم ورك ، لانجه اوشخړه يې خلاصه كړه. قهر او غصه يې مړه كړه.

-107په سر كې يې ورته گلان كينبودل.

-107ښه يې و شرمولو، سپك يې كړ او رسوايې كړ.

-108په غم كې چې داخل شي غم سوړشي.

-108څوك چې له خپل كاله نه لرى وي او په كور كې يې غم پيداشي او خبر شي په دى مسافر باندې داغم ډيردروند وي ځكه چې نږدې نه وي او دكور خلك يې په خپلو سترگو وينې دمسافر نه په دوى سپك وي.

-109په خوله خوږ په زړه تريخ.

-109دومخي اودوه رنگي.

-110په زړه به دې يوه وي درپيښه به بله شي.

-110ته به يو څه غواړى او تقدير به درته بل څه پيش كړي.

-111په درزنده تيره ښه نه ايږدي.

-111ډير محتاط دى.

-112په زړه كې مې گوتې وهي.

-112غمونه مې تازه كوي، تكليف راكوي.

-113په بادكوږ او په بادسم دى.

-113اندكرنجى دى يعنې په لږڅه خپه او په لږ څه خوشاله.

-114په پردي خيرات كې ملكي كوي.

-114يعنې څوك يې په سړيو كې نه شمېري او دى ځان پخپله مشر مشر كوي.

-115په ژبه يې زهر دوړولي دي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



115-ډیر بدخویه او بد زبانه دی.

116-په تشه خندامست دی.

116-سطحي مین دی، بې کاره عاشق دی.

117-پل یې جوړ کړ.

117-بې ننګې یې وکړه او په شاولاړ یعنې ورسپارل شوی کار یې ونه کړ.

118-په موټې یې ورلیږلي دي.

118-ډیر کم څه یې ورکړي دي.

119-په نارنج کې انار نوي.

119-هر سړی له خپل اصل سره ښه ښکاري، او پخپل ځای اغیزناك هم وي او د خپل سیال سره سیالي کولای شي.

120-په سپکو سپك په درندو درونډ.

120-څوك چې سپك وي هغه نوروته هم په سپکه ګوري او څوك چې درونډ وي هغه نورو ته هم په درنو ګوري.

121-په ټول غوائي کې یو هډوکی نه ورکوي.

121-په ټولنه او یا کورنۍ کې ورته په پوره برخه قایل نه دي.

122-پور مې دي په کارغه وي خو کارغه دې ژوندی وي.

122-پوره وړی دې ژوندی وي، یا هغه څوك چې احسان دی ورسره کړی وي هغه دې ژوندی وي که هغه ډیر بې کاره هم وي نو ستا بدل به دروګرځوي.

123-پوښتنه کول عیب ندی نه پوهیدل عیب دی.

123-په پوښتنه کولو باندې پوهه ډیریږي او نه پوښتل سړی په جهالت کې پریږدي.

124-پیرانو ته غزنی څه شی دی.

124-داهغه وخت کې ویل کیږي چې یو سړی ډیر ستونزمن کار په ډیر وخت او په لږو وسایلو سرته ورسوي.

125-پیشو که دوه وزرې لرلای دچینچڼو به یې بیخ ویستلوای.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



125-ځينې ظالمان چې هغوی ظلم کوي خو کمزوري وي دظلم وس او وسايل يې کمزوری وي که چيری پوره وسه پيداکړي نو هيڅوك به يې له ظلمه خلاص نه شي.

126-پيغله هلته پيغله شي چې ټيك يې په اوربل شي.

126-يعنې انسان هله انسان شي چې دعلم، هنر پوهې او اخلاقو خاوند شي.

127-پيغله چې دختو وي هم ښايسته وي.

127-په کوچنيوالی کې جنۍ پيواړې او بدرنګه ښکاري خو چې پيغله شی که بدرنګه وي هم ښايسته ښکاري، ځکه چې په ځان ګوتې وهي او ناز او اداهم پيداکړي، په ساختمان کې يې هم تغير راځي.

128-پيغلتوب بادشاهي ده.

128-ځکه چې په پيغلې تکليفونه نه وي، نه دبچيو او نه هم دکور دماتو ګوډو.

129-پيځواني يې که.

129-تابع يې کړ.

130-پيشو چې بله پيشو وخوري پيش پړانګ شي.

130-زوړ سړی چې ځوانه ښځه وکړي ورسره روحاً ځوانيږي يا ځوك چې دنورو په شتمنيو باندې خيټه واچوي نو دی پرې شتمن اوبډای شي، لکه داوس وخت، اميران،

131-پيشو شيخه شوه ماست نه خوری.

131-چې څه نه لري په هغه وخت کې شيخ وي متقې وي، مګګر که وسه يې ورسيده دشيخۍ ورته تيردی او تقوی په اوبو لاهو کړي.

132-پيشو تر هغه وخته پورې شيخه وي چې په مږك پيښه نه وي.

132-چې بې واکه وي ښه وي خو چې واك يې پيداکړ بيا په هيڅ اړ نه دی.

133-په خام تارېې تړلی دی.

133-کاريې بې بنياده، کاواکه او درزنده دی.

134-په خپل ژوند کې چاپوره او شل نه کړه.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



-134که هر څومره کوښښ سړی وکړی دنیاوي کارونه سر ته نه رسيږي.

-135پاڼه یې ژیړه ده.

-135عمر یې اخردی، مرګ ته نږدې دی یا نږدی دی چې له قدرته ولویږي.

-136په مینه مینه دې کاته مین دې کړمه.

-136محبت له محبته پيداکيږي او مينه له مينې نه.

-137پلار ګټلی زوی ته اسانه ده.

-137که یو پلار اولادته ډیر څه پریږدي خو چې علم او زده کړه وربانديې ونه کړي او بې باکه او لو ده لوي شي که هر څومره دولت ورته له پلاره نه پاتې وي هغه بې ځایه کاروي او خلاصوي یې.

-138په صبر او په پوکی.

-138یو چا کره میلمه راغلی و چې ډوډۍ یې خوړله میلمه ګرم کپ په خوله کې ننویست او خوله یې وسوه پورته یې تیرانو ته وکتل او کوربه ته یې وویل چې داتیران دې په څو اخیستي دي، کوروالا وربانديې پوه شو چې ګرم کپ یې کړی، نوورته یې وویل داپه صبر او په پوکي.

-139په بسم الله نه کیږي تله پوره کړه.

-139یو بخیل چاته څه تلل، شي یې کم په تله کې اچولي واو بسم الله یې پرې په تکراروېله او شي یې تلې ته نه ور اچولو، مشتری ورته وویل چې په بسم الله نه پوره کیږي تله ډکه کړه.

-140پدې او په هغې کې ډیر فرق دی.

-140یوه کرګر په پټي کې کار کاوه ښځې یې ورپسې سبا ناری راوړ سړی چې سبا ناری ته کښیناست باد ترې ولاړ او نری آواز یې وکړ ددې له پاره چې خپله ښځه تیرباسي نو کله کبل راکش کړي او کله ډیله راکش کړي او کله لوخه راکش کړي او دهر یو نه بیل، بیل آواز اوباسي خو یو آواز هم د تیز په شانتې نه وي. ښځې یې ورته وویل چې سړیه په دی او هغه آواز کې ډیر فرق شته ځان مه په عذابه وه.

-141په دې کور کې به یا جمعه وي یا به زه یم.

-141یو سړي اوریدلي و چې که دجمعې په ورځ سړی له خپلې ښځې سره کوروالی وکړي ډیر ثواب لري داخبره یې خپلې ښځې ته وکړه، میرمن یې ډیره شوقۍ وه او هره شپه به یې سړي ته ویل راځه چې دجمعی شپه ده سړی ځادر

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په اوږه واچواو روان شو میرمن یې غږ کړ ولې او چیرې ځې؟ سړي ورته وویل ښځې په دې کور کې به یا جمعه وي او یا به زه یم.

142-په تیرو یې پام نشي.

142-یوه سړي دوه ښځې درلو دې یوې ته یې قهرراغی او وهله یې سړي تبر راواخیست او ښځه یې دتبر په څټ وهله، او هغې بلې ښځې یې پرې ورغږ کړ ای خدایه خیر کړې په تیرو یې ورته پام نه کړې.

143-په بسم الله یې ساتي.

143-دیو چا زوی شوی و غټیده خو کار او زده کړه یې وربانديې نه وکړله او بسم الله به یې وربانديې ډیره ویله اخر ترې بدکاری جوړ شو او خلکو به ویل چې په بسم الله یې ساته.

144-په غوږ کې یې ورته مندری واچوله.

144-یعنې خپل تابع یې کړ او دخپل واك لاندې یې راوست.

145-په یوه خبره دکوټې سر ته خیږي.

145-بدخویه او بې باکه انسان چې یوه خبره وربانديې بده ولګیږي دبام سرته خیږي، او رسوایي کوي. پرده نه ساتي.

146-په چاغم په چا اختر په چا قلاره قلاري.

146-زمانه ده په چا به غم وي په چابه اختر وي او په چابه قراري وي خلك مختلف دي او دهر چا کارونه بیل ، بیل وي.

147-پیسې پیسې ولې ژاړې ځان به ورکړم تابه ورنه کړم.

147-یو څوك و چې پیسې وربانديې ډیرې ګرانې وې، او په هغه وخت کې دسکې پیسې وې او کاغذي لوټونه نه وو، سړي پیسې په لاس کې نیولې او بازارته دسودا له پاره ځي، پیسو یې په لاس کې خوله کړې وه موټی یې چې خلاص کړ ګوري چې پیسې لمدې دي سړي ویل کنې داژاړې، نو پیسو ته یې بیا داوویل.

148-پردی لاس ګریوان ته مه راوږه.

148-یعنې چاسره جنجال مه کوه چې ستا ګریوان ته لاس راوړی او تا په تکلیف کې کړې.

149-په پرهر مالګې مه دوروه.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



149-دتیردرد او غم یادول مه کوه.

150-په ګیره یې ورسره لاس راښکلی دی.

150-یعنې اتفاق یې ورسره وکړ یوه صلاح شول.

151-پښتون دپوښتنې وړی دی.

151-پښتون ته نور څه مه ورکوه فقط تشه پوښتنه یې کوه دومره احسان به پرې بار کړې لکه ټوله دنیا چې ورکړې.

152-په خوله یېکچه ګوته نه ځی.

152-ډیر خپه دی خوله یې له ډیره خپګانه پټه نیولې، دخپه سړي خوله نه خلاصیږي.

153-په تیکي تیکي کې وهي.

153-په تیکي کې خلك توره ایږدي دقهر په وخت ویل کیږي چې توره دې راته په تیکي تیکي کې مه وهه قرار شه.

154-په سیر کې یې پونۍ نه ده وریشلې.

154-څوك چې له ډیرکارنه ډیر لږ کار وکړي هلته ویل کیږي.

155-په نري ورځ او به ښې ماتیږي.

155-په کمزوري دهر چا زور رسیږي.

156-په تورو غرودخدای نظر وي.

156-په مسکینانو هم دښتن تعالی نظر وي په تکلیف پسې راحت هم وي، لکه څنګه چې دغره په سر واوره وي، نو په بیخ کې یې ګلونه هم وي.

157-په کومه ناخواله به دې ویر کوم.

157-یو څوك چې دچا دناکردو او بې باکیو نه ډیر تنګ شي نو بیا داوایي.

158-پیتې پیتې پوزې یو هزاره مړ دی خدایه بل هم پسې بوځې.

_158پخوا به خلکو دمړی دژړا له پاره په بیعه ښځې راوستې او په مړي به یې ژړل. یو هزاره مړ شوی و پښتنو ښځو په خپلو ستاینو کې د پور تنۍ وینا کوله او هزاره ګان په پښتو نه پوهیده.

159-په مخ مې راغلې غټې غټې خبر نه یم چې نرۍ پخۍ که غټې.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



_159یو سړی مړ و او ښځو په خپلو ستاینو کې دا پورتنۍ وینا کوله. یعنې چې دمړی کور به پلو پخوي او که شوله .

_160په پچه وخوت کشمیر یې ولید.

_160لږ څه یې پیدا کړل، ځان ورته له هرچا غټ ښکاري.

* * *

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## (ت)

– 1تاوان يې ډير دی ګټه يې کمه.

-1يو پاچا وموسقي يې اوريده دټنګ ټکور يې راوبلل، باچا ته دغه مجلس ډير خوند ورکړ او خزانه دارته يې وويل ددغو مجلسيانو دسرودالې له زرونه ډکې کړه د ډول والا ته يو څه اندازه سره زر ورسيدل او همدارنګه د باجې والا هم يو څه اندازه زر په خپله باجه کې ورځاې کړل مګر دسورناچي په سورني کې هم يو پاوو، نيم ځای شول، څه موده وروسته باچا بيا ټنګ ټګور ته زړه وشو او همدغه ډله يې راوبلله سازيې وکړ خو داځل دپاچا په غوږونو ښه ونه لګيده سمدسې يې امر صادر کړ چې دهريوه په کونه خپله خپله دسازاله ورننباسئ عسکروچې هر څه هڅه وکړه په ډول وال باندې ډول نه ننوتو او په باجه والا باندې باجه نه ننوتله خو کله چې دسورنچي نوبت راغی په سور ناچې کې سورنا غيب شو نو په دې وخت کې سورناچې وويل چې رنګ دی ورك شه سورنيه چې ګټه دې کمه ده او تاوان دې ډير دی.

-2تبۍ ويل زما کونه دسرو ده نغري ويل زه چيرې وم.

-2يعنې څوك چې چاته نږدې وي په ټول حال يې خبروي. کونډه کونډې پيژني.

-3تبی يې پکې وه که.

-3په يوه خبره کې که څوك خپل رايه شامله کړي نو بيا داوايی.

-4تر بور چې دې خر شو هم پرې مه سوريږه.

-4يعنې په تور بور او دښمن باندې باور په کار نه دی که هر څومره ځان خوږ کړي.

-5ترخه يې په تر خوو نه ګډيږي او خواږه يې په خوږو نه ګډيږي.

-5ځينې خلك داسې وي کله ډيره ښه وضعه کوي او کله ډير بد شي.

-6ترخزه خپل ځان ته توتبکي غورځوي.

-6ځينې خلك يواځې خپل ځانته ګټه کوي او د بل چا پروا نه کوي.

-7تره د تنداري دی.

-7هر څوك خپل غمخوري او خپل کار کوي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



8-ترکاڼي د بيزو کار نه دی.

8-کيسه دا سې ده چې يو ترکاڼ يا نجار په غره کې غټې ونې پرې کولې او بيا به يې ترې ډاګې او تيران جوړول نو يوه ورځ يوه غټه ونه ترکاڼ راچپه کړې وه او پانې يې په کې ورکړې وې،يو چاود په کې شوی و.په دې وخت کې په ترکاڼ ناوخته شو او کور ته ولاړ او پانې په لرګي کې همداسې ټو مبلې پاتې شوې.ما ښام يوه بيزو لرګي ته وراغی د لرګي د پا سه ناست دي او دغه پانې ښوروي. د پشکال مو سم و او ددغه بيزي هګۍ اوږدې شوې وې د لرګي چاود ته برابرې شوې. په دې وخت کې چې بيز پانه وړقوله پانه راووتله او د بيزه هګۍ په کې را ټينګې شوې، بيز تر سبا پورې په لرګي سور ناست دی تر څو چې ترکاڼ راورسيږي ترکاڼ چې کله راغي ګوري چې بيز بند پاتې دی ترکاڼ ته په ځاريو شو ترکاڼ راغی او بيايې لرګي ته پانه ورکړه چاود پراخه شو او بيز ورنه خلاص شو نو په دې وخت کې ترکاڼ دغه خبره وکړه.

9-تش لوښي ډير اواز کوي.

9-يو کس کې چې څه علميت وي هغه پټه خوله وي او ناديده چې لږڅه زده کړي وطن خبروي.

10-تشه لاسه ته مې دښمن يې.

10-له چا سره چې څه نه وي ټول دنياوي کارونه يې خرابوي.

11-تنور چې تود شي هر سړی پکې ډوډۍ پورې کوي.

11-يوه خبره چې پيدا شي هر سړی په کې خپله رايه ښکاره کوي که ښه وي او که بده.

12-تور مې وی خو ځواني وی.

12-يو سړی و او ډيرې ښځې يې درلو دې او دغه سړی ډير غني و، ددينا ژوند يې ښه و، خپلې ښځې يې په خيټه او په جامه ډيرې ښې ساتلې خو بدني قوت يې نه و او زوړشوی و يوه ښځه يې طلاقه کړله دې ښځې بيا يو تور ملي په نکاح کړ. او ملې هغه چا ته ويل کيږي چې چجونه او غلبيلونه جوړوي او دخلکو درمندونه بادوي او دخلکو دمږي او ژوندي سوال او ځواب په او لسونو کې کوي.

يوه ورځ دغه غني سړي چې خپله ښځه يې طلاقه کړې وه. په لاره روان دی ملي درمند پاکوي او دده طلاقه کړې ښځه چې اوس دملي ښځه ده جارو په لاس ده او درمندجارو کوي ملي چې راشپيل واچوي ښځه له غنمو نه خلي په جارو لرې کوي ښځه يوه، يوه شيبه وروسته دملي د اورميره نه يوه يوه مچه اخلي، پخوانی ميړه يې هك پك ورته پاتې دی نو خوشال خان بابا وايي: تور ملی وی خو ځوانی واې.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



-13توکړې لاړې بیرته خولې ته نه راځي.

-13یو کار چې تیر شو په هغې پسې باید چې سړی بیا ونه گرځي.

-14تور په تور ه شپه اخله که سور مومې شین مه اخله.

-14تور غویی دیخنۍ او دکار ډیر کلك وي، دویم درجه بیا سوردی دریم درجه بیا شین غوائی دی چې هغه دیخنۍ دټینگې نه دی او دکار مزه یې هم نه وي.

-15تور خر په صابون نه سپینږي.

-15چې دچازړه تور وي هغه په نصیحت نه ښه کیږي.

-16توري به لالاوهي مړی به عبدالله وهي.

-16په یوه کورکې دوه وروڼه وو مشرېې توریالی و دجنگ نه به یې غنیمتونه راوړل، په کور کې یې بل ورور و چې عبدالله نومیده، مزې او چړچې به پرې هغه کولې لکه په دې وخت کې چې دروسانو له لاسه شهیدان څوك شول کونډې یتیمان څوك شول، در په دره خواران څوك شول په دولتي شتمنیو او چورتالان بډیان څوك شول دروس په مقابله کې چا لیدلي هم نه و دخپلې میرمنې په څنگ کې به یې ډوډۍ خوړله ریښتینو مجاهدینو ولوږې او تندې تیرولې او دروس الوتکو او ټانگونو ته یې خپلې سینې سپر کړې وې او اوس یې چاپلوسان او بوټپاکان ورباندې مزې او چړچې کوي، یې گوډ خر نه درلور او دسوال په ډوډۍ به یې شپې سبا کولې او س یې دتعمیرونو څمکو ، مارکیټونو او نغدو پیسو حساب نشته، په پردی وژلی ښامار کې خپله توره رنگه وي او یتیمان څیرې گریوان لوغړن گرځي.

-17تور توتان یې، په غولو وریږي .

-17ځینې سخیان داسې دي چې مستحق مسکین نه پیژني او یا ځینې داسې خپلو ان هم شته چې په زهیر خپل باندې زهیر نه وي او بې ځانه خلکو باندې لورونه او پیرزوینه کوي.

-18تور توتان له تاقربان.

-18زما همداتوان دی چې له تا یې ځاره وم اگرچې دومره ارزښت نه لري.

-19توره تبۍشوه.

-19له کاره پریوته (اکثره دسپوږمۍ دکسوف په وخت کې ویل کیږي)

-20ته چې ما باندې کوې کبر زه تاوامه په لوی تبر.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



-20ستا چې زه نه خوښیږم زما ته نه خوښیږې. ستازه بدیسم زما ته بدیسې.

-21تورو شپو چې خوړلی وي مدعي یې معلوم نه وي.

-21یعنې په تورو شپو کې ګرځیدل په کار نه دي که تکلیف وروسیږي له چا به یې انګیري، مدعا علیه به یې معلوم نه وي.

-22ته په کې څه مرچ خرڅوې.

-22یوڅوك چاته له ډیرې غصې او قهره وایي چې ستا یې په دې کې څه.

-23ته په کې ځان ملك، ملك مه کوه.

-23داهم له ډیره قهره ویل کیږي چې ته په کې ځان مشر، مشر مه کوه.

-24ته زما بد پلارمه یادوه زه به ستا ښه پلارنه یادوم.

-24ته مامه سپکوه زه به تام نه سپکوم.

-25ته دبل کور ته کاڼی مه ګوزاره وه ستاکور به هم څوك په کاڼو نه ولي.

-25ته چا ته تکلیف مه رسوه نو تا ته به هم څوك تکلیف نه دررسوي .

-26توره چرګه ده کارغان پرې دخپلې ښځې ګمان کوي.

-26په دې خلك دخپل جنس ګمان کوي او هماغسې معامله ورسره کوي یعنې توره چرګه دکارغۍ په ټس کې ځي.

-27تنزری زماچتی ستا.

-27دوه سړي ښکار ته تللي وو چتی او تنزی یې ښکار کړي وو په دوی کې یو زورور وو اوکمزوري ته یې ویل چتی یې ستا او تنزی زما تنزری زما او چتی ستا په دواړو خبرو کې یې تنزری دخپل ځان له پاره خو ښاوه.

-28تیږه چې پرځای پرته وي درنده وي.

-28یو څوك چې خپل ځان قرار ونیسي اود یو او بل احتیاج ونه کړي درونډ ښکاري.

-29تیږه به ورنکړي چې سر پرې مات کړي.

-29دادهغه چا په هکله ویل کیږي چې یو څوك له چا سره ښه نه کوي خو بل داسې ګمان کوي چې دی به دهغه سره ښه کوي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



30-تيز رفتار چې كوې عمر به دې لنډ وي.

30-دښمنان يې ډير وي.

31-تيرې شوې څپې مه شماره.

31-يو څوك دسيند په غاړه ناست و او څپې يې شمار لې او په شمير كې غلط شوى و بل ورته وويل چې تيرې مه شماره، همداسې بايد سړى راتلونكي ژوند ته پام وكړي او له تيرو نه تير شي.

32-تير دفولادو ستن دټانټې.

32-كه ديوه سړى دعامې ټولنې سره سر او كاروي هغه بايد ډير پوخ عالم او مدبروي.

33-تيز تا واچاوه غم دې په ماواچاوه.

33-بديوكس وكړي او اړوي يې په بل.

34-تير په تيره هير په هيره.

34-يو تن په موجوده وخت كې زاړه غمونه او زاړه پرهرونه تازه كوي او يا زړې ګيلې يادوي چې په دې ډول زاړه غمونه بيا تازه كيږي.

35-تللى بازپه لاس نه راځي.

35-له چا چې وخت تير شي بيا هغه نه راځي.

36-تږي په شپيلو نه خړوبيږي.

36-په تشو خبرو څه نه كيږي چې كړنه ورسره نه وي.

37-ته چې موړ شوې ټول جهان موړدى.

37-اوږي او شوم كس ته ويل كيږي.

38-ته خو دجومات وې زه دې هم دجومات كړم.

38-يو كس نيستمن شي او بل هم له ځانه سره نيسمن كړي. يو كس بې كاره شي او بل هم بې كاره كړي.

39-تنكى...... په متيازو سوزي.

39-يعنې باريك او نازولي خلك په ډير لږڅه خپه اوخوابدي كيږي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



-40توره کرمی وکړه نوم دفتح خان وشو.

-40یو ترکاڼ و په لږ لیك اولوستو پوهیده، دیو شاعرشعر یې مات گوډ ووایه چې شاعر پرې ډېر خپه شو، شاعر دده دوکان ته ورغی او څه سامان یې چې جوړ کړی و هغه یې مات کړل ترکاڼ په شاعر عارض شو او دغه موضوع قاضي ته ورغله قاضي دشاعر نه پوښتنه وکړه چې دترکاڼ سامان دې په څه سبب مات کړی دی. شاعر وویل: ده زما شعر مات او گوډ ووایه او مادده سامان.

* * *

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## (ټ)

- 1ټټر يې ورته وواهه.

-1ډاډ يې ورکړ.

- 2ټوټې مې ورته ولاړه نده.

2ټوټې دلرګي کاسې ته وايې يعنې پروا يې نه راځي.

-3ټوپ وهلی نه وهلی.

-3چا جلاب کړي و دلښتې نه يې ټوپ وهلو چې يو بل تن وليد او ورته يې وويل جلاب چې څوك وکړي دلښتې نه ټوب نه وهي. جلابی بيرته راټوپ وهل او دايې وويل.

-4ټول ديوې ونې ښاخونه دي.

-4داشيان ټول يو ډول دي يعنې اصل يې يو دي.

-5ټول سالارزي دي.

-5داخلك ټول من من دي او ځانونه غټ حسابوي.

-6ټول داوښ په شاسواره دي.

-6ټول بې پروا دي او خبروته فکر نه کوي.

-7ټول پردي ډول ته ګډيږي.

-7خپل هنراو نوښت نه لري.

-8ټيپر دسيند نه نشي پورې ايستی.

-8لټ او بې کاره سړی دی.

-9ټول خلك ويده دي زه دې ځانته يادومه.

-9کوم جولاو دشپې يې يو څورکعته تهجدکول خدای تعالی ته يې ويل چې ټول ويده دې او زه دی ځانته يادوم په دې وخت کې بل پرې له تياره ځايه غږ وکړ چې زمونږ شيطاني ورته ولې کوې.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



10-ټاکو اوس زور ولګاوه.

10-کلي کې ټاکو ګډو دخلکو مالونه مړه کیدل اخوند غوښې خوړې، او چورت یې خراب نه و بله ورځ چې داخوند غوا هم مړه شوه نو غږ یې کړ چې دعا وکړې چې ټاکو خوله ولګوله.

11-ټولپښولې په یوه ورځ نه ټکول کیږي.

11-ټول کارونه په یوه ورځ نه کیږي او هرڅه په تدریج کیږي.

12-ټپسان یې له ...... الوزي.

12-ډیر مسکین او نیستمن دی.

13-ټټو مې ورته ولاړ نه دی.

13-کومه اړتیا ورته نه لرم.

14-ټټو دې وله چې خاشنه ونه کړي.

14-دادیوکس درټلو له پاره ویل کیږي.

15-ټټوان له اسونو سره برابروي.

15-بې کاره له توریالیو سره برابروي.

16-ټیل ماټیل یې جوړ کړی دی.

16-یعنې ګډوډې یې جوړه کړې ده.

17-ټیل وهل او پورې وهل دي.

17-تیرایستل او غلول دي.

18-ټیم خرابوي.

18-وخت ضایع کوي.

19-ټپسانو باچاهي ده.

19-دبې کاره خلکو واکمني ده.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



-20ټپسان چې وزيران شو.

-20يو پاچاو او ناروغه شوی و طبيب ورته دمرغانو دپاچا غوښه وښوده چې هغه وخوره نو جوړ به شې مرغان به دوبي کې يوې يخې سيمې ته تلل چې دتګ دغه وخت يې هم مقرر تاريخ درلود، دانسانانو پاچا هغې سيمې ته دهر مرغه خواړه ورولېږل او په هماغه سيمه کې يې ورته وشيندل او دمرغانو دپاچا دناستې په ځای کې يې دام کيښود، دمرغانو پاچا دا عادت درلود چې له تګ نه به يې مخکې خپل وزيران دسيمې دترصد او ليدنې له پاره لېږل بيرته به يې چې کله دخيريت احوال راوړ نو بيا به دمرغانو پاچا دخپلو لښکرو سره هغې سيمې ته ورتلو دمرغانو پاچا خپل وزيران لکه بازار او شاهين هغې سيمې ته واستول چې ګوري غير عادي کارونه ددوی دورتللو په مينه کې پيل شوي دي دټپو سانو له پاره مرداري غوښې تياري دي دبل هر مرغه مناسب خوراك شته دغه وضعه وزيرانو ته خطرناکه ښکاره شوه او کله چې بيرته پاچا ته راغلل نو ورته يې وويل چې جناب پاچا صاحب حالات ښه نه دي سږکال نه ځو پاچا په ګرمه سيمه کې دوبی تير کړ، خپه و چې بيا کال ته هغه وخت راغی دانسانانو پاچا بيا هماغسې خواړه دمرغانو له پاره تيار کړي دي دمرغانو پاچا بازاو شاهين ولېږل چې سيمه و ګوري، شاهين او باز بيا بيرته راغلل او خپل پاچاته يې دخطر ناکې وضعې خبر ورکړ داکال هم تير شو بل کال ته بيا همداسې وضعه وه ټپوسانو خپل پاچا ته وويل چې باز او شاهين خو داڅودوبې په تاسو په ګرمۍ کې تير کړل دمرغانو پاچا خپل وزيران معزول کړل او ټپوس، کچير او کاغه يې خپل وزيران وټاکل او سيمې ته يې واستول ټپوسانو چې غوښې وليدې دخوشالۍ نه په بڼکو کې نه ځاييدل پاچا ته بير ته راغلل او ويل يې صيبه وطن سمسور دی، ګل ګلزاردی ديو ډول خوړو څه کمی نشته ځي چې په خير سره بار کړو او ځو روان شول او سيمې ته ورسيدل ټپوسان په مردارو سر شول بوراګان او بلبلان په ګلانو نور مرغان په خپلو خپلو دانو راټول شول دمرغانو پاچا ته يې چې دناستې په ځاې کې دام ينبی و په کې ونښت او دانسانانو دپاچا د لښکرو په لاس کيوتو. او دانسانانو پاچا ته يې وزر تړلی وروست دانسانانو پاچا دمرغانو له بندي پاچا نه پوښتنه وکړه چې زما خو ستا غوښه په کار ده دا دوه کاله مې تاته انتظارو ويست ولې نه راتلې او زما په لاس نه ګيريدلې ويل يې صاحبه وزيران مې پوه او عالمان وو. سيمه به ورته خطر ناکه ښکاره شوه مناسب يې نه ګڼل چې زه دې ورته راشم. هغه مې معزول کړل او دمردارو ټپوسان مې وزيران کړل چې دامې حال شو.

-21ټيله او ټمبه ده.

-21بدحال دی.

-22ټمبل دی.

-22ناپوهه دی لټ دی.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



* * *

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



**(ث)**

- 1ثواب له پاره کلمه ووايه.

-1دخپلې خبرې دتائيد او باوري کولو له پاره.

* * *

**(ج)**

- 1جادو يې وربانديې کړى دى.

-1يعنې سترګې يې پرې ترلي دي او هره لوبه پرې کيداى شي او څه ورته ويلى نه شي.

-2جامې يې ترې ويستې.

- 2سپك يې کړ.

-3جامې ترې او باسي.

-3سپکوي يې.

-4جاله وان خپله لمده پورې باسي دبل وچه.

-4کامه دسيند پورې غاړې ته پرته ده او نور ټول ننګرهار دسيندنه راپدې خوا دي. دکامه والو به مړى ژوندى دسيند دپورې غاړې له خلکو سره وو نو خلك به ورتلل ځينې جاله وانانو به دکامې دخلکو مزدوري کوله پر ګودر به يې جاله پرته وه او خلك به يې پورې يستل او کله کله به پخپله دجاله وان کورنۍ هم پورې غاړې ته تلله څوك چې به پورې وتل هغو خلکو به دکال په هر فصل کې جاله وان ماما ته غله دانه ورکوله او ډير به يې نازه وه همدارنګه به جاله وان ماما هم دخپلو مسافرو ډير قدر کاوه په ځانګړې توګه دښځمنو يوه ورځ ديوه چاپسې کامې ته له پورې غاړې دمړې او يا دواړه احوال راغلى و کامه وال صاحب ښه قدرمن او دروند سړى و دکور واړه زړه يې ښه په پرده او سطر کې و په همدې ورځ دجالوان ماما سره هم خپله کورودانه مله وه او هغه هم دکوم عذر او فاتحې له پاره روانه وه. په جاله کې يو ځاى دميلمنو سره سپره شوه. جالوان ماما ميلمنې ښځې دجالې په منځ کې ددې له پاره کېښنولې چې کالې يې لامده نه شي او خپله ښځه يې دخيګ يا دشناز په يوه څنډه کښينوله چې پښې يې په اوبو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې لګيدې او ورته ويل يې ښځې ګوډيکه ټينګه ونيسه چې سيند ته ونه لوېږې، جاله وان پښی وهلو ته پر جاله پرېواته او لمبو وهي خو چې داوبو خپه راشي دجالوان ماما په ښځه لګيږي او لمديږي ك.صله چې په بهسود وکی د جالې نه کيوتل نو دجاله وان ماما ښځه ډيره لمده شوې وه. او دفاتحې ځای يې هم له جالې سره نږدې دپيرووړو په کلې کې دملامزدور مام اپه ځای کې ودجالوان ماما ښځه لمده خيشته ددعا ځای ته ورسيده، کوروالا سره يې دسترمشې نه ورورسته خبرې بيل کړې دکوروالاوو ورته وويل: څنګه لمده خيشته راغلې. نو دجاله وان ماما ښځې دنورو ښځو په ځواب کې دا وويل:

ـ 5جنت دانډوخر ځای ندی .

ـ 5هرسړی جنت ته نه شي ورتلای،يواځې پرهيزګار،مومنان اوښه خلك به ورځي. يوښه مجلس اوغونډې ته هرڅوك نه غوښتل کيږي.

ـ 6جنت دمور او پلار دپښو لاندې دی.

ـ 6له چاچې.موراوپلارخوښ اوراضي وي دمخې يې رڼاوي.

ـ 7جنت دې هم دننګه پور سره برابر کړ.

ـ 7ننګه پوردننګرهار دچپليار په ولسوالی کې ديوې ورې غونډۍ دپاسه ديوه کلي نوم دی. ددې کلی يوه انجلۍ په بل کلي کې واده شوې وه . هلته د ښځو په منځ کې دجنت څه بحث شروع شوی دی . ننګه پورۍ انجلۍ د خپل کلي ډير زيات صفت کاوه نورو ښځو ورته وويل داسې ولې نه وايې چې بيخې کټ مټ جنت دی ننګه پوری انجلۍ ورته سمدواره وويل چې جنت دې هم دننګه پور سره برابرکړ.

ـ 8جنګ په کلي کې ګنجی په غره کې.

ـ 8جنګ په کلي کې و او ګنجی خوار حاضرنه و خو خلکوپه جرم کې ککړ باله.

ـ 9جګو غرو نو ته ګورې دپښو لاندې ځای نه ګورې.

ـ 9يو څوك چې بې علمه او کبرجن وي،بې ځايه ځان لوړلوړ کوي او په ټيټو خلکو ځان جګ بولي.

ـ 10جنۍ هلته جنۍ شي چې دمنګي دپسرولو شي.

ـ 10يعنې جګنۍ چې منګی په سره کړي د ښځتوب هيله ترې کيږي نو بيايې ما شومه مه بوله.

ـ 11جزا دعمل حقه ده.

ـ 11هرڅه يې چې چاته رسولي وي دهغه بدله بهويني.

Download from: ketabton.com

_ 12جواري موټې دی.

_ 12يوكس داسې كارته ملاتړلې وي چي گكيدل يې باوري نه وي او تاوان په كې حتمي وي.

_ 13جوار گر مې دولت مند نه دی ليدلی.

_ 13جوارگر چې څومره پيسې پيداكړي بې ځايه يې لگوي.

_ 14جواب دگردنه وي.

_ 14يوڅوك چې چاته څه سوال او ځواب امانت وكړي چې داورسوه نو پرورمېږ يې بارشي او رسول يې پرې حتمي شي.

_ 15جوار گر كور نشي جوړه ولی.

_ 15پيسې نه شي سپمولی چې كور پرې جوړكړي.

_ 16جولا شوی نه دی بيا نچې پټې.

_ 16يوكس چې يوكاريې لاسرته رسولی نه وي او د كارپه منځ كې غدراوخيانت كوي.

_17جومات گرم مسافر خوشحاله.

_17يوه اړ ته چې د غوښتنې او هيلې سربيره نورڅه هم پيداشي نو بيا خوښ وي.

_18جغ په غاړه او جغ غواړه.

_18يو كر گر يا بزگر پټي ته خپل غوايان دقلبې له پاره روان كړي و. يوه يې په پټي كې وه او جغ يې پرغاړه واچوه كله چې پټي ته ورسيده ورپادشول چې جغ مې نه دی راوړی چې غوايان پرې په كلبه وترم په منډه كورته راغی ترې هير شوي و چې جغ يې پر غاړه كې و او په دروازه كې ونښت نو په دې وخت كې ښځې يې پرې داغږوكړ:

_ 19جولا يوه شپه عبادت وكړ دوحې په تمه وْ.

_19دلږ كار په مقابل كې دډېر څه غوښتل.

_ 20جره دكور به دحاله خبر نه دی او كور به دجره.

_ 20جره توب هم يو څه خوند لري سره دتكليفه او كوربتوب هم خوند لري سره دجنجالونو يو څوك چې په يوه كار كې وي دبل چا كارورته ښه ښكاري. ديو بل گټه او تاوان هغه وخت جوتيږي چې دواړه كارونه عملي كړي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



_21جاله هم تياره ده او ډوډۍ هم تياره ده.

_21دننګرهار په سيمه کې دبهسودو دولسوالی اړوند دګردي کڅ کلی دی زموږ دکامې او ددی کلي په منځ کې دکونړ او کابل سيند يو ځای بهيږي. ددواړو سيمو خلك چې يو بل کره ورځي په جاله کې سپريږي او بيا ورپورې وځي نو موږی کلی دسيند دکمر په سر پروت دی پخوايې دخلکو مزه چاندانې په ډوډۍ کې نه وه مګر او س ډير زيات تکره شوي دي او زمونږ دمجاهدينو به يې ډير قدر او عزت کاوه پخوا زمانو کې په همدغه کلي کې دکامې يو څوك ميلمه شوی و دکور به په زړه کې داسې وچې داميلمه خدای تعالی بو ځي، نو پدې وخت کې يې ميلمه ته وويل چې جاله هم تياره ده او ډوډۍ هم تياره ده.

_22جنګ تريخ دی خو کيسې يې خوږې دي.

22_ چاچې جنګ ليدلی وي هغې ته يې سختې معلوميږي خو کيسې يې مه چاته کوې ډيری خوږې وي خو که په مخاطب داکار راغی خدای خبر که زړه ټينګ کړي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## (ځ)

-1ځولۍ ځولۍ کيږي

-1سست سست کيږي

-2ځان کې ګوري جهان کې ګوري

- 2ډير -خلك نورو ته د خپل ځان په څير ګوري

- 3ځانته قاضي ته تللى دى

- 3يو کس چې خپل ځان ملامت او پړ نه بولي

- 4ځانه خپله ځانه

- 4هر چا باندې خپل ځان ګران دى ګ

- 5ځان د ټيکۍ سر مه کوه

- 5يوه معامله چې پيدا شي او ټوله په خپل ځان را اړوي ګ

- 6ځان يې ورپسې ملنګ کړى دى ګ

- 6يعنې کار يې ورته ويلى او په همدې پسې ګرځي ګ

- 7ځان يې ليونى کړى دى ګ

- 7د يوه کار پسې شله دى او خامخا يې غواړي ګ

- 8ځان ترې د سپلنې غوندې لوګى کوي ګ

- 8ځان ترې ځاروي ګ

- 9ځان پسې پنډوکي مه جوړوه ګ

- 9ځان پسې خبرې مه جوړه يعنې ځان ساته ګ

-10ځان د هر څه شيرين دى

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



- 10خپل ځان له هر څه خوږ وي گ

- 11-ځان د خپل سيال نه کم مه گڼه گ

- 11د کوف او خپلو عزيزانو نه ځان کم مه راوله گ

- 12ځان چې په ضرور شي نه د زوی شي نه د لور شي گ

- 12يو سړی چې پخپله په کړاوو کې وي زوی او لور ترې هيريږي گ ځکه چې څښتن تعالی (ج) فرمايی "د قيامت ورځ داسې سخته ده چې ورور د ورور نه تښتي او زوی له مور نه تښتي او د پلار نه هم تښتي او د ښځې نه هم تښتي او د زوي نه هم تښتي يو د بل څنگ ته نه راځي" او هر سړی پخپلو خولو کې ډوب وي گ

- 13ځانته ترخز وهي گ

- 13د بل چا په کيسه کې نه دی خپل ځانته گټه کوي گ

- 14ځان د کور مشر بولي گ

- 14ځانته مشر وايي که څوك يې مني او کنه گ

- 15ځمکه هغه سوځي چې اور پرې بل وي گ

- 15تکليف په هغه چاوي چې په کې اخته وي گ

- 16ځيني ولولي ملا شي ځيني ولولي بلا شي گ

- 16يعنې ځينې خلك چې څه زده کړي عمل پرې کوي او خلك يې درناوی کوي او ځينې بې عمله عالمان وي چې هيڅ څوك يې احترام نه کوي گ

- 17ځواني د باد سورلي ده گ

- 17يعنې د باد په څير د سترگو په رپ کې تيريږي گ

-18ځان ځاني خپله خواري گ

- 18يعنې بې اتفاقي لويه بلا ده چې د کور نه نيولي تر کلي او اولس پورې ټول تبا کوي گ

- 19ځنگل بې شغاله نه وي گ

- 19په يوه ملك کې د تکړه خلکو ترڅنگ بې ننگه خلك هم وي گ

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



- 20ځمکه ښخ دولت دی گ

- 20جایداد پخه خزانه ده گ

- 21ځواني یوه نیشه ده هسې نه چې همیشه ده گ

- 21ځواني هر وخت نه وي گ

- 22ځنګل د زمرو نه خالي نه وي گ

- 22په هره ټولنه کې توریالي ، ننګیالي او پوهان وي گ

- 23ځنګل کې زمري وي گ

- 23په هره ټولنه کې تکړه خلك وي گ

- 24ځان له ټول جهانه ګران گ

- 24ځان له ټولې دنیا نه خوږ او ګران وي گ

- 25ځولي ځمبولي پاتې دی گ

- 25ښه او تکړه خلك يې ولاړل ، چټي او بيکاره وګړي يې پاتې دي گ

- 26ځان ظهير کړه ، بيا ځان مير کړه گ

- 26زيار وګاله او قرباني ورکړه پخپله به مشر شې گ

- 27ځان چې کم عقل نه کړي ، ګټه نشي کولای

- 27یو څوك ځان په ناپوهۍ کې واچوي او د يوه شي پسې ځان ټينګ کړي چې خامخا به يې راکوي گ نو بيا عاقلان وايي چې څه ورکوه يې ځان ترې خلاص کړی او ور يې کړئ گ

- 28ځوان د باد په نيلي سيور دی گ

- 28د ځوان سرعت او چالاکي دومره ډيره وي لکه په باد چې سيور وي گ

- 29ځان ته يې کولۍ جوړه کړه گ

- 29ځانته يې ستونزې پيدا کړې گ کولۍ ډبرينه او ستوغې لارې ته ويل کيږي گ

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



- 30ځوانان په کار ښه ښکاریږي ګ

30 - ځوانان په زده کړې ، پوهې او همت باندې ښه ښکاري ګ

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## (چ)

– 1چاویل ښه پسرلی دی بل وویل غوا زه نلرم زوی مې واښه نه خوري گ

- 1کومې ښځې ته چا وویل ښه پسرلۍ شوی دی ښځې ورته په ځواب کې وویل غوا او خوسی زه نه لرم گ گ گ او زوی مې واښه نه خوري گ

- 2چاره که د سرو شي څوك يې په ځيگر نه منډي گ

- 2یو شی که ډیر ښه شی وي او چاته ترې مشکل پیدا کيږي او تکلیف پیښوي نو څوك به یې څه کړي گ

- 3چاره او غوښه شول سره گ

- 3یعنې مخالف شول سره گ

- 4چاره يې ورته په مری کیښو ده گ

- 4راگیر يې کړ یعنې اړیې کړ گ

- 5چانه کمیس ورك شو بیایې ویلې هسې هم را باندې لنډ و گ

- 5وسعه يې نه کیده چې پیدا يې کړی نو د مجبورۍ له مخې يې دا وینا په خوله راغله گ

- 6چا ویل چې پوزه دې پیته ده هغه ویل چې باد به پرې وځي گ

- 6یو څه بې ارزښته گڼل

- 7چراغ چې په کور کې بلیږي صحرا ته حاجت نشته گ

- 7چې خپل کور ته يې گټه رسیږي بل ځای ته اړتیا نشته چې پسې يې یوسې گ

- 8چرگه مې ناجوړه ده بانه مې ورته جوړه ده گ

- 8د یوه کار د کولو له چې د چا يې زړه وي گ هسې یوه پلمه په لاس ورشي نو بیا پرې ډاډه ورځي گ

- 9چرگ چې زلمی شي په بلۍ ورو، وروقد مونه ږدي چې را لاندې نشي گ

- 9لنډا که او نادیده کسان چې یو څه پیدا کړي ځان ورته ډیر غټ او قوي ښکاري گ

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



- 10چرمښکۍ وايي مونږ او مارانو دا سړی خوړلی دی ګ

- 10په يوه ځای کې يو کس مار چيچلی و او بيا مړ شوی و خلك پرې د جنازې له پاره راټول وو ګ پر لاره يو سړی روان و او دې ګڼې ګوڼې ته يې ودا شوه نو له ځانه سره يې وويل چې دا انسانان څنګه را ټول شوي دي نو په دې وخت چرمښکۍ ور غږ کړ چې موږ او مارانو سړی خوړلی دی ګ يعنې يو سړی چې پخپله تورزن نه وي او د بل په توره ځان ښيي ګ

- 11چرته چې سړي وي هلته بلا نه وي ګ

- 11چرته پوهه وي هغه خلك به اباد او خوښ وي او هره ستونزه به يې حل وي ګ

- 12چرته چې سور ږيری وي هغه به شاه ګل يې ګ

- 12ملا شاګل يو سړی و چې ږيره يې سره وه بله ورځ يوه کلي ته يو سور ږيري سړي څه د بينجارګۍ سودا راوړې وه او د کلي په مخ کې يې غږ وکړ چې سودا ده سودا کوچنيان ورته را غونډ شول او يو بل ته يې ور غږ کړ : هلئ راشئ چې ملا شاګل بينجاره شو ، نو بيا يوه سپين ږيري ماشومانو ته وويل چې چرته سور ګ ګ ګ ګ

- 13چرګ چې څومره غټيږي کونه يې تنګيږي ګ

- 13ځينې خلك چې څومره شتمنيږي هومره بخيليږي ګ

- 14چې اوربشې خروار د روپۍ شي د خره په کې لپه ده ګ

- 14خوار او غريب سړي ته څو قدر نه ورکوي او په ټيټه سترګه ورته ګوري ګ په ويش او تقسيم کې بې کاره او خراب شي د خوار په برخه وي ګ

- 15چې اجل يې راغلې وي که لقمان يې پلار شي هم مري ګ

- 15د چاچې عمر تمام شو په درو او درملو نه کيږي ګ

- 16چې اوبه تر مرۍ ورسيږي زوی او لور تر پښو لاندې کيږي ګ

" - 16زوی او لور تر پښو اوبه تر حلقه

فراموش په بيلتانه ځان او جهان شه "

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



يو ځناور په سيند پورې واته او بچی يې په غيږ کې و ځومره چې په سيند ور ګډېده سيند به ژوريده او اوبه به دده د بدن پورته راتلې ، کله چې اوبه يې سينې ته راورسيدې بچی يې پر اوږه کښيناوه ، کله چې اوبه اوږو ته راورسيدې بچی يې پر سر کښيناوه ، بيا چې يې کله اوبه خولې ته راوسيدی بچی يې تر پښو نه لاندې کړ او خپله پرې ودريده او خپل حلق يې د اوبو نه پورته شو ګ

- 17چې خدای(ج) يې رغوي د منګي اوبه دارو شي ګ

- 17د يو چا زوی ناروغه و او په ډېرو طبيبانو يې ګرځولی و ، خو هماغسې ناروغه و د کور خلکو يې ډير په پرهيز ساته ناروغ پخپله طبعه خوړل او ځښکل نه شول کولای ، مور به يې اوبه هم نه ورکولې، بله ورځ يې مور چرته تللې وه او ناروغه هلك د منګي پورې ځان وررسولی و د يخ او شنه منګي نه يې ښې ډيرې اوبه وڅښلې او له دې ورسته ورو ، ورو هلك مخ په ښه کيدو شو، او خپلې مور ته يې هم حال ويلی و ، مور به يې د منګي اوبه ورکولې ، نو هلك روغ رمټ شو ، نو بيا به يې چې له مور نه چا پوښتنه وکړه چې دا هلك په څه روغ شو مور به يې ويل : چې خدای (ج) يې رغوي د منګي اوبه دارو شي ګ

- 18چې ځې ځې ابازو ته به راځې ګ

- 18پخوا سرکونه او پلونه نه وو هر خوا چې به سړی ولاړ نو ابازو ته به راتلو ځکه چې جاله دلته ګرځيده او بل خوا لار نه وه ګ

- 19چې د کوچيانو امامت يا ملايي يې کړې وي يو ليمځی وړی به يې خوړلې وي ګ

- 19د کوچيانو کار او بار مالداري ، د ميږو او پسونو ساتل دي ، چې ميږې او اوزې ولوشي په شودو کې هم ويښتان لويږي ، په شمبره کې هم ويښتان وي چې کرت ترې جوړوي ، ښځې چې اوړه لمدوي هغه کې هم وړی ورلويږي لنډه دا چې د خوراك په هر څيز کې ويښتان ورلويږي ، کال چې تيريږي نو سړي يو ليمځی وړی خوړلی وي ګ

- 20چې په خندا يې خورې ويې خوره ګ

- 20يو ګيدړ کلي ته راوښتی و او د چرګانو په کوټنۍ ورننوتی و چرګانو ټغ پغ شروع کړ او په دې وخت کې يې خاوند راويښ شو او سوباړی يې راواخيست او په کوټنۍ کې يې ګيدړ را ايسار کړ او دبی يې دننه دې کوټنۍ ته پسې ور ننويست او ګيدړ يې پرې چوخاوه ، ګيدړ خوله چينګه کړه او داړې يې ښکاره شوې نو دې وخت کې ورته سړي ووېل څه چې په خندا يې خورې ويې خوره ګ

- 21چې غاښ مې و هډوکي نه وو چې هډوکي شته غاښونه نشته ګ

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



- 21چې ځواني وه نعمتونه نه وو اوس چې نعمتونه ډير شول ځواني نشته ګ یا چې قوت او قدرت و په هغه وخت کې کارونه نه وو چې کار پيدا شو قوت او قدرت نشته ګ

- 22چې په نڅانه پوهيږي وايي حويلۍ کږه ده ګ

- 22څوك چې په کار نه پوهيږي بې ځايه پلمې جوړه وي ګ

- 23چې غل نه ځي مل دې ځي ګ

- 23چې يو ناپوهه د خپل جهل نه نه تيريږي شرمول او بې عزتي کوي نو پوهان دې ورته يو څه تير شي ګ

- 24چې و دې کږه پخپله ، ګيلې څه ته کړې له بله

- 24يو کس پخپله يو کار ورانوي او خرابوي او بيا ګيله له بل نه کوي ګ

- 25چې پړانګ دې ويشتلی نه وي پوستکی يې مه خرڅوه ګ

- 25مخکې د يوه کار د کولو نه مزدوري او انعام غواړي ګ

- 26چونړۍ ته يې اور اچوم ګ

- 26يو ملا واعظ کړی و او د اوريدنکی کور جومات ته نږدې و ملا پخپل واعظ کې ويلي و ، که څوك خپلې ښځې سره د سنت معامله وکړي لکه يو کافر چې مړ کړي ، ښځې دا خبره اوريدلې وه او خپل ميړه ته يې وکړه چې په سنت څملاستلو باندې خو ملاصيب دومره ټينګار وکړ چې په يو وار څملاستلو باندې په جهاد کې د يو کافر د قتل ثواب ورکول کيږي سړي کږه ډيره ښه ده او څو شپې يې سر په سر کله يو کافر واژه او کله دوه کافران په دې قتلونو نور تنګ شو ګ بله شپه ورته ښځې بيا وويل چې سړيه راځه چې کافر مړ کړو سړی ښځې ته وويل چې ښځې يو اور لګيد راوړه ښځې ورته کږه څه پرې کوې ، له ډير ټينګار نه وروسته يې ورته وويل چې په تاکې خو بيخي د کافرو چونړۍ ده او دې چونړۍ ته يې اور اچوم چې ځان ترې خلاص کړم ګ

- 27چې بچي وي هم غم دی چې نه وي هم غم دی ګ

- 27اولاد هم تکليف دی هم راحت ګ

- 28چې زوی دی په سوال عادت کړ بيا يې مه منع کوه ګ

- 28يو سړي به خپل زوی ځان سره خيراتونو ته بيولو او بيا خلکو ورته پيغور کا وه بله ورځ په يوه کلي کې خيرات و او دې سړي پسې هم خبر راليږل شوی دی سړي خپل زوی په کور کې وتړه او خپله د خيرات په لورې ور روان شو ، چې دې زوی ته يې هم د خيرات او کور واټن ور معلوم و ، نو په دې وخت کې به هلك ويل چې ياره پلار به مې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس له هغې فلانکۍ ونې نه تیر شوی وي ، د فلانکي ماما د کور نه به اوښتی وي ، اوس به د خیرات ځای ته رسیدلی وي اوس به په کټ کې ناست وي اوس به یې کوزه او چلمچي راوړی وي ، دسترخوان به یې غوړولی وي ، خانك به یې پرې یښی وي ، او اوس به یې کپ را خیستی وي او په خوله کړی به یې وي ، ناڅاپه هلك خوله بیرته کړه چیغه یې کړه او ځای په ځای وغځید ګ

- 29چې ډنګ شي دابې ګوډی د څنګ شي ګ

- 29یوه سوالګره ښځه وه چې هر چیرې به یې د ډول ډمبك اواز واورید ، نو بیا به یې خپل ګوډی تر څنګ کړ او ځان به یې د خوښۍ ځای ته رساوه چې څه راوړي ګ

- 30چې ځوان وم همداسې ټیزن وم ګ

- 30یو سړی و د شپې په تیاره کې په لاره روان دی او شاته یې پام نه دی او باد ترې ولاړل او ویې ویل هئ هئ ځوانۍ او پخپله مخه روان دی چې بیا ترې باد ولاړل او بیا یې کړه هئ هئ ځوانۍ څوګامه چې نور هم ولاړ بیا یې باد خوشې کړل او دا ځل یې دا وویل چې یاره زه چې ځوان وم همداسې ګ ګ ګ وم ګ

- 31چناق یې د لخوا دی ګ

- 31پخپله خوښه یو شي غواړي ګ

- 32چې په تمه د سورو شي هغه پاتې په میرو شي ګ

- 32د بل چا ښوروا ته ډوډۍ ماتول اخر سپوره پاتې شي ګ د بل چا د امکاناتو په تمه باید سړی نه شي ګ

- 33چې وې غواړې په خوله نو وبه یې خورې په څه

- 33شی هغه خوند کوي چې پرته له غوښتنې یې چاته ورکړی ګ

- 34چې نه دې وي له موره ورته مه وایه چې وروره ګ

- 34چې خپل ورور نه وي بل هومره ظهر نه وي ګ

- 35چې تیندکونه وخوري نو هوښیار شي ګ

- 35چې تیروتنې وکړي نو بیا سړی تجربه او هوښیار شي ګ

- 36چې نه ځې په شابه دې کړم چې نه یې خورې څه به دې کړم ګ

- 36د پوهې او سړیتوب ځای ته به دې بوځم او چې ته ترې سړیتوب او پوهه نه زده کوې نو زه به څه وکړم ګ

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



- 37چې يوه شپه يې تر منځ وي د هغې بلانه مه ويريږه ګ

- 37د يوه مشکل د پيښېدو ترمخه چې څه وخت وي نو د حل لار ورته پيدا کيږي ګ

- 38چې د شير غشي بوټي نيسي ټنيګ يې نيسه ګ

- 38څوك د يوه قوي مخالف سره په مقابل کې وي نو ټينګ عزم او ښه تابيا دې ورته کوي ګ

- 39چې ګوړې او کونځلې خورې رنګ يې معلوم وي ګ

- 39چې د چا ژوند ښه وي غمونه او انديښنې يې لږې وي په رنګ کې يې د خوښۍ نښې وي ګ ګ

- 40چې په غوشايا نو يې زيره نشې په غوږو به يې غوږه نشې

- 40چې تکليف اوکړاوو ونه ګالې دراحت هوساينې تمه مه کوه ګ

- 41چې بخت واوړي پردي بدور پورې خلك ترې ګ

- 41چې سړی خوار شي د هر چا لاس پاکی شي او هر سړی پرې خپله بده وراړوي ګ

- 42چې بخت کوټه شي تندی تل ټکرې خورې ګ

- 42چې برخه خواره شي مصيبتونه پيدا کيږي ګ

- 43چې غوښه وسوځې د پيتو نه ښه ده ګ

- 43دا ډيرې ماناوي لري يوه يې داده چې يو کارګر ، هوښيار او يوه کس که ډير له خپل قوت نه ولويږي ، خو بيا هم د ناپوهه او د بې کاره کس نه ښه او غوره وي ګ

- 44چې هوږه ونه خورې د خولې نه يې بوی نه ځي ګ

- 44څوك يو کار پخپله ونه کړي بل يې پسې نه وايي ګ

- 45چې نه کار هلته څه کار ګ

- 45چې يو کار د يو سړي پورې اړنه ولري بايد چې و يې نه کړي ګ

- 46چې خاورې اخلې د لوی ډيران نه يې اخله ګ

- 46د لنډاك او کم اصله نه څه غوښتل يا څه پور کول ګ يا د کوم بل کار احتياج کول دا غلط کار دی يعنې ، ناسته پاسته او دوستي ، لويو او پخو خلکو سره کول په کار دي ګ

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



- 47چرسي نيم سړی دی ګ

- 47ځکه چې نيم عمر يې په نيشه کې تيريږي ، کارونه او خبرې يې کاوا که وي ګ

- 48چې زوی و ژاړي مور تی ورکړي

- 48 که اړشوي نو له چا مرسته وغواړه ګ

- 49چې پټې خورې مولي به زعمې ګ

- 49هغه څوك چې وريجې نه لري او غواړي چې وريجې وخوري او پيدا کيږي نه دا زياتره په للمي سيمو کې لکه د مومندو په سيمه کې به خلکو اوربشې لمدې کړې او يو څه موده به پرې تيره شوه او د اوربشو پوستکي به را ډېر شول بيا به يې په بغرۍ کې څه ومښلې او پوستکي به ترې جلاشول او هغه به يې بيا د غټو وريجو په شانته په کټيو کې پخې کړې او بيا به يې د مستو او يا د شمبړو سره خوړلې ، چې هضمول يې ډېر ګران وو ، د بټوخوړونکې به يې قبض کړ نو بيا به خلکو دا پورتنۍ وينا کوله ګ

- 50چې په شاتو مري په زهرو دې مړ نشي ګ

- 50چې يو کار په اسانه کيږي سختۍ ته يې اړتيا نشته ګ

- 51چې خان يې په ياران يې ګ

- 51سړی په دوستانو او انډيوالانو باندي سړی کيږي ګ

- 52چې سيپو شومه نو پوه شومه ګ

- 52د يوه شتمن نالوستي سيف الرحمان نوم و ، ښه ديره او ډنډه يې درلوده بې کاره او بې روزګاره خلك به دده په ديره مدام راټول وو او د سيف الرحمان ستاينې به يې کولې او دده چرګان او پسونه به يې خواړه ځمکې ، جايدادونه او ټوله شتمنې يې په دې بی کاره خلکو وخوړله او خلاصه شوه او پخپله سيف الرحمان خان ډېر غريب او نورو ته اړ شو ديره او ډنډه يې ولاړه او بې کاره خلکو هم ورسره اشنايي او ناسته پرېښوده ګ او بيا دغو خلکو سيف الرحمان د سيپو په نامه باله ګ سيف الرحمان چې د سيپو له نامه خبر شو نو بيا يې دا وويل يعنې وروسته بيا عقلمند شو ګ

- 53چې څوك خوب کوي ميښه يې نرکټې زيږوي ګ

- 53دوه ګوجران پيښور ته تللي وو چې بلار بې ميښې واخلي او کورونو ته يې راولي د اټك نه کښته ذګوندلو په منډيې کې دواړو يو شان ميښې واخيستې چې د لنګيدو نيټې يې هم نږدې وې د ډيره مزله وروسته ته په يوه ځای

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې پرې شپه راغله یو ګوجر ویده شو او بل یې ویښ و په دې کې دواړه مېښې لنګې شوې ، د ویښ ګوجر مېښې نرکټی وزیږوه او د ویده ګوجر مېښې ښځه کټې وزیږوله ، ویښ ګوجر په منډه ، منډه مخکې له دې چې مېښې خپل بچې وپېژني خپل نرکټیی یې د هغه د مېښې مخې ته ورواچوه ګ دواړو مېښو کټي وڅټل پاك او صفا یې کړل کله چې د سبا رڼا ولګیده او ویده ګوجر را ویښ شو چې ګوري دده د مېښې سره نر کټی پروت دی ، د ویښ ګوجر نه یې پوښتنه وکړه چې زما مېښې نرکټی زوکړی ؟ هغه ورته فقط همدا وویل چې څوك خوب کوي مېښه یې نرکټي به زیږوي

- 54چې فیلان کوي فیل خانې به لري ګ

- 54څوك چې غټ کارونه کوي د غټو کارونو له پاره به خپل ترتیبات نیسي ګ

- 55چې شونګ یې کړ کړی ته یې مه پریږده ګ

- 55شونکړی د کونړ په ولایت کې دي و ځای نوم دی د شونکړیوالو د یوه بل ټبر سره د ښمني وه ، نو چې شونکړیوال به پرې ور پیښ شول هغه خلکو به یو تکلیف ور رساوه او هغه مخالفو خلکو یې شونکړیوالو ته یو مصلحت وکړ چې شونکړیوال مو چرته لیدل چې پرینږدئ دومره سخته پریکړه یې وکړه چې هیڅ تحقیق به ترې نه کوئ چې دومره د چاله خولې نه ووتل چې شونك نو بس ګوزارونه به پرې کوئ چې کړی درنه ونه وایي ګ

- 56چې تللي بیرته نه دي راغلي ګ

- 56دا زیاتره د مړو په هکله ویل کیږي خو کله د ژوندیو د کارونو په هکله هم ویل کیږي چې یو کار ترې تیر شي ګ

- 57چې په کور کې لرګي وي لیوني غرونو ته ځي ګ

- 57چې پخپل کور کې یو شي او یا یو کار پوره کیږي یا بسی کیږي بل ته اړتیا نه شته ګ

- 58چې دښمن دې خر شو هم پرې مه سپریږه ګ

- 58له میرځي او دښمن نه د ښیګڼې تمه لرل ناپوهي ده ګ

- 59چې خر دې د خره نه کم وي غوږ یې غوڅ که ګ

- 59سیال باید چې له خپله سیاله کم نه وي ګ

- 60چې ښه تعمیرونه دي هم د سوداګرو دي او چې خراب کورونه دي هم د سوداګرو دي ګ

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



- 60سوداګر ډیره ګټه کوي او ځان ته د هستوګنې ښه ځایونه جوړوي او کله چې ښه ډیر تاوانیان شي او تردې چې د کور لاړي او تیران یې خرڅ شي ګ

- 61چیرته چې زړه ځي هلته پښې ځي ګ

- 61هر څه د زړه په مینه کیږي ګ

– 62چې ونډې خوري هغه خپلې پنډې خوري ګ

- 62پخوا قصابان لږ وو او په هر ځای کې نه وو او اوس هم په ځینو غرنیو سیمو کې همدا حال دی د کلي د خلکو چې به غوښې ته زړه وشو ، کلیوال به راټول شول او یو څاروی به یې په ګډه واخیست او حلال به یې کړ ګ او ان تر لري پورې به یې سره وویشل او په کومو پیسو به چې څاوری اخیستل شوی و ، نو پیسې به هم په هماغه ډول د برخې په اخیستونکی پسې تللې او دې حلالې ته ونډې ویل کیده ځینو خلکو به چې ونډې خوړله او د پیسو خلاصولو توان به یې نه و نو بیا به یې دا ویل ګ

- 63چې شرم کوي بیا شریعتونه کوي ګ

- 63یو سړی د خپل دوست او اشنا سره یو دنیاوي معامله کوي او د شرم او حیا نه ورسره غوڅه خبره نه کوي ، او د سند په اخیستلو کې بې پروایي کوي ، چې د مودو په تیردو باندې با هغه دوست یا ناداره شي او یا په څه خبره زړه بدی شي او په ورکړي مال باندې خیټه واجوي ، بیا منکر شي او یا څه بله پلمه را جوړه کړي او ان سریې تر قاضي او محکمې ورسیږي ګ

- 64چې د قاضي سره دی شریعت شي فیصله په چا کوې ګ

- 64د یو چا د داسې کس سره دعوه شي چې ددغې دعواوې واك دده د مخالف په لاس کې وي نو ده ته به څه ګټه ورسیږي ګ

- 65چې ښه ونکړې بد نشته ګ

- 65ښه کول ښه کار دی خو د ځینو خلکو سره چې ښه وکړې نو بیا په مقابل کې بد کوي ګ

- 66چې ښه کوي بد به ګوري ګ

- 66خوك چې له بدو خلكو سره ښه کوي نو له ځان سره دښمني کوي ګ

- 67چې مور میره شي پلار پلندر شي ګ

- 67د پلار پخوانۍ مینه بیا د خپل اولاد سره نه وي ګ

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



- 68چې په غوجل دې لوی شو غاښ یې مه ګوره

- 68په کور او اولس کې دې چې څوك را لوی شول حالات یې تر چا تا ته ښه جوتیږي ګ

- 69چې سر حیات وي خولۍ ډیرې دي ګ

- 69چې سرې ژوندی وي د ژوند اسباب ورته څښتن تعالی پخپله برابر وي ګ او نکل یې داسې دی:

یو سړی و او خولۍ یې په ګرانه بیه اخیستې وه ، په جاله کې ناست و، او جاله داوبو څپو کنګس خوره کړه نو په دې وخت کې د سړي خولۍ په اوبو کې پریوته او سیند لاهو کړه ، خاوند یې ډیر خپه شو د ډاډ او تسلې له پاره ورته چاوویل چې خیرده چې سر ژوندۍ وي خولۍ ډیرې دي دا اوس یو عام متل دی او هر څوك چې زیان ووینې نور یې ورته د ډاډ او تسل له پاره وایي ګ

- 70چې رښتیا راځي درواغو به کلي وران کړي وي ګ

- 70د درواغجنو په خبرو که باور وشي نو کلي به وران کړي ګ

- 71چې باد نه وي ځانګې نه ښوریږي ګ

- 71چې کار نه وي شوی اغیز یې نه څرګندیږي ګ

- 72چرګ په ډیران مه ګوره په کاسه کې یې ګوره ګ

- 72د سړي رنګ او جامې ته مه ګوره ورتیا او پوهې ته یې ګوره ګ

- 73چې نور خلك یې په لښکر کوي توریالی یې په یو سر کوي

- 73یو کار وي چې د ډیرو خلکو په قوت کیږي مګر داسې وګړي هم شته چې دا سخت کار په یوازې ځان وکړي ګ

- 74چې تل یې غره وي یوه ورځ به یې ورو‌ي ګ

- 74چې هره ورځ ګواښیږي یوه ورځ به یې شل کړي ګ

- 75چې خوله ګړیږي زړه بدیږي ګ

- 75ځینې خلك بې سوچه خبرې کوي او بیا پرې د خلکو زړونه بدیږي ګ

- 76چې نه دي ګړیدلي هغه نه دي شرمیدلي ګ

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



- 76په ګړاري کې ځينې وخت د چاله خولې داسې خبرې هم وځي چې ويونکي ته شرم شي ګ

- 77چې غنم کرې غنم به ريبې چې اوربشې کرې اوربشې به ريبې ګ

- 77څوک چې هرڅه کوي د هغې ګټه او تاوان به ويني ګ که ښه دې وکړل نو بدله يې ښه ده او که بد وو نو جزء يې بده ده ګ

- 78چې ماما سر ګر وي د خورې تمه کيږي ګ

- 78د خور د خپل ورور سره برخه او بنډه وي نو ځکه ورته خوريونه سترګې په لار وي ګ

- 79چې وچولی دې خپل وي پسرلی به په تاتل وي ګ

- 79که قسمت او برخه د يوه کس ښه وي نو تل به ګلزار او ښيرازه وي ګ

- 80چې ژوند وي ديدن کيږي ګ

- 80انسان چې ژوندی وي ليدل ، کتل يې ناشوني نه وي ګ

- 81چې مور دې وي ادکه په صفت به دې واده که ګ

- 81چې غمخور لرې د غمونو پروا مه کوه ګ

- 82چې لرشي او بر شي په ميرې ور برابر شي ګ

- 82يو سړی و او پلار يې بله ښځه کړې وه خو دا هلك يا پخپله نازولی و او يا پرې غښتلی و نو هر چاته چې به په غصه شو نو پخپلې ميرې باندې به يې ډب او ډوب پيل کړ ګ

- 83چې خدای(ج)يې ورکوي په باغ مرزاکې يې هم ورکوي ګ

- 83باغ مرزا په لغمان کې د يوه کلي نوم دی ګ يو سړی ډير نستمن او ناداره شو د خوارۍ له پاره هندوستان ته ولاړ او يو کال نيم خواري يې وکړه او بيرته خپل کور ته راستون شو او ښځې يې ترې پوښتنه وکړه چې څه دې راوړی ګ سړی يو څه پيسې ميسې راوړې وې خو د نشت په حساب وې او ژر خلاصې شوې بيا ښځې اړويست چې د خوارۍ ، مزدورۍ پسې به ځې سړی بيا د هندوستان په تکل روان شو، چرګ بانګ مهال چې له کوره ووت او يو څو ګامه ولاړ هميانۍ يې په پښه بنده شوه او پسې راټيټ شو چې څه مې په پښه کې ونښتل چې خلاص يې کړم چې ګورې هميانۍ له طلاو ډکه ده او همداسې يې تر شا کړی او د کور په لورې روان شو د خپل کور ور يې وټکاوه ښځه يې لا بيرته تر کټه نه وه تللې راوګرځيده او غږ يې کړ چې څوک يې ميړه يې ور غږ کړ چې زه يم ، ښځې يې کړه ولې بيرته راوګرځيدې څه درنه پاتې دي سړي کړه ښځې هيڅ رانه پاتې نه دي ، ښځې يې بيا ور غږ کړ ولې هندوستان

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته نه ځې سړی ورته په خوښۍ او خندا وویل خدای(ج) یې چې ورکوي په باغ مرزاکې یې هم ورکوي او که نه یې ورکوي په هندوستان کې هم نشته او شرنګ شو چې کټ کې یې همیانۍ ګوزاره کړه ، ښځه یې هم خوشاله شوه او سمدواره یې ډیوه بله کړه ګ

- 84چې ټکر ونه خوري نه سړی کیږي ګ

- 84چې ستونزې او سختې په سړي رانه شي عقل یې سرته نه راځي

- 85چې شل مړه نه کړي نه ډاکو کیږي ګ

- 85څوك چې په بدکاریو باندې همیشه والی وکړي اخر د بدکارانو مشر شي ګ

- 86چې پخپله دروند نه وي په بل نه درنیږي ګ

- 86د هر سړی عزت او دورندوالی پخپل لاس او اختیار کې دی ګ

- 87چې ښوریږي نو ډوبیږي ګ

- 87په پلندیو او بوختو کې چې سړی څومره ښوریږي هومره ښخیږي ګ

- 88چې په تورو شپو تللي بیا چانه دي لیدلي ګ

- 88یعنې د تورې شپې مدعیان نه جوتیږي ګ یا په بله مانا بې باکه ناسته پاسته سړی هلاکوي ګ

- 89چې زور او زر لري څه یې غم دی ګ

- 89څوك چې هر څه لري د چاڅه پروانه ساتي ، زیاتره یې کبرجن وي ګ

-90چې زه غل شومه سپوږمۍ راوخته ګ

-90چې زما دې کار ته زړه وشو نو حالات بدل شول ګ

- 91چې موړ شو ډانګ یې کیښود ګ

- 91چې غوښتنه یې تر سره شوه نور سوړ شو ګ

- 92چې روټه خوري د خپلې ګ ګ ګ سره دې مصلحت کوي ګ

- 92چې څوك یو کار کوي پایله دې په پام کې نیسي ګ

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



- 93چې را خيږي په ميرزاخيلو او وليږي په ثمرخيلو په ما يې نه پيايي او چې را خيږي په سله لا او وليږي په مولا بيا يې ځاځيو پيايي ګ

- 93زموږ د کامې په ميرزاخيلو کې به خلکو په پا دوان باندې د غواوو پاده څروله (( په قندهارۍ اصطلاح يعنې ګوروان )) خو چې ژمې به شو او کامې ته به پاسني خلك د کرديز ، لوګر او د کابل نه کامې ته د مزدورۍ له پاره راغلل ، نو هغوی به په ډير کم څه باندی مزدوري کوله نو ميرزاخيلو به بيا په دې وطنې سرې باندی پاده پووله او چې دوبی به شو بيا به يې ميرزاخيلي پادوان ته ويل چې اوس پاده پياوه ګ ډير کلونه تير شول بل وار چې بيا پسرلی شو او پاسينو کډې وکړې . ميرزاخيلو د مرزاخيلو پاده وان ته وويل چې راشه او پاده وپيوه هغه وويل چې نه يې شم پووڵای دوی ورته ويل ولې ؟ بيا پادوان ورته دا کړه :

- 94چې شپه تياره شي ميلمه ليوه شي ګ

- 94ميلمه د خوراك په وخت کې د کوربه په نشتوالي خوش وي ګ

- 95چې ځوان ومه د انجينو پيزوان ومه چې زوړ شومه د انجينو پيغور شومه ګ

- 95چې شتمن او قدرتمندوم د هر چا ښه يسيدم چې نستمن شوم اوس د خپلو بديسم ګ

- 96چې بخت يې ښه شي پردي ښه ورپورې خلك تږي

- 96مطلب دا چې سړی طالعمند شي بيا يې په اوبو کې هم ډيوه بليږي ګ

- 97چې سړي لړي غوړي به خوري ګ

- 97چې څوك ميړونه ولري هرڅه کولای شي ګ

- 98چې زر لويږي زر به ورك کيږي ګ

- 98هر شي چې سريع او چوست وي ، ورکيدل يې هم سريع او چوست وي ګ

- 99چې نه لري سړي نه دې قرت خوري نه غوړي ګ

- 99چې سړي نه لري د دنيا د ښاديو ، خوشالۍ او راحت نه دې لاسونه ومينځي ګ

- 100چې نه يې کړي حبيب څه به وکاندي طبيب ګ

- 100چې څښتن تعالی(ج) نه وي غوښتي هغه نه کيږي ګ ما ( ياسيني ) خپل پلار د ( 13362) لمريز کال د د لوې په مياشت کې چې مونږ په ګونډۍ هيواد کې مساپراو مهاجر وو ، نوموړی مې د علاج او معالجې له پاره يو تکړه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



رنځپوته اسلام اباد ته بوته ، چې ډاکتر خپل شخصي کتنځی او ځو بستریزه روغتون یې درلود او په هغې کې مو پلار بستر کړ ، د داکتر د ډیر کوښښ باوجود پلار مې بیا هم روغ نه شو ګ نیمه شپه ده او ډاکتر راغی چې هغه انګریزی ویله او زه یې په ژبه نه پوهیدم ګ مطلب یې دا و چې ویل یې زه خو خواري کوم خدای(ج) به دې جوړ کړي بیا مې ارواښاد پلار دا متل ووایه چې نه یې کړي حبیب څه به وکاندي طبیب ګ نو ډاکتر پوښتنه وکړه چې مریض څه وویل او یو کس ورته همدا خبره وژباړله داکتر قلم را واخیست او دا متل یې له ځان سره ولیکه چې البته دغه د پښتو ژبې ډیر لرغونی متل دی ګ

- 101چرګ بیل شو او ډونګه یې بیله شوه ګ

- 101یو څوك د یو بل کس مخالف وي خو د مخالف د خپلوانونه ، یو کس ته دی څه تکلیف وررسوي نو ده ته یو کس وایی چې دا خو هغه نه دی او بیل کس دی نو په دې وخت کې دی ورته وایی چې ماته ټول یو شی دي ګ

- 102چالاکي د شیطان کار دی ګ

- 102یو کار باید چې سړی په تدبیر ، حوصله او په قراره سینه وکړي او تلوار په کې ونه کړي ګ

- 103چې خپله یې زده نه وي ، د بل دې ومني ګ

- 103چې په څه نه پوهیږې له بل چانه ځان پوه کړه ګ

- 104چې کابل نه خوري بد پرې مه وایه ګ

- 104یو څوك دې د یو ښه شي او یا ښه کار بد نه وایی ګ

- 105چې ډوډۍ خوري، پیشوګانو ته تیسري اچوي ګ

- 105ډیر شوم او بخیل دی ګ

- 106چې په سر یې ګرځوې د سر په کنډولي کې به اوبه درکړي ګ

- 106د چا چې خپلې اندازې نه زیات درناوي او قدر وکړې نو بیا دې په سر درخیږي ګ

- 107چې دولت ته ځان سپی نه کړې، دولت نشې ګټلی ګ

- 107ځینې کسان چې د دنیا د ګټلو له پاره ځان سپك نه کړي دنیا نه شې ګټلای ګ

- 108چې غاپي لیونی نه دی ګ

- 108لیونی سپی داسې عادت لري چې نه غاپي او خپله لکۍ ټیټه وري ګ

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



– 109چې نصيب خوار شي شپه او ورځ پرې يوه شي يعنې راحت يې ورك شي ګ

- 110چا د مور خيټه کې څه نه دي زده کړي ګ

- 110هر څه په تجربه او ليدلو زده کيږي ګ

- 111چې لوخی ډك شي اوبه ترې توئيږي ګ

- 111چې سړی خو نپوره شې او حوصله ختمه شي نو بيا کار خرابيږي ګ

- 112چې پښتو کوي ، بيابه يې ګالي ګ

- 112څوك چې بې ځايه ننګ او غيرت کوي نو ځان دې ټينګ کړي ګ

- 113چې خاونديې ستوان خوري سپي ته به څه واچوي ګ

- 113چې يو کس پخپله څه نه لري بل ته به څه ورکړي ګ

- 114چې د اختر جامې دې دادي د اخيږ به دې کومې وي ګ

- 114چې ته داسې يې دا نور به دې لا څنګه وي ګ

- 115چې د بل سپيږه يې نه وي ليدلې خپله سپيږه ورته تندر ښکاري ګ

- 115چې د بل قوت وګوري خپل ورته هيڅ ښکاره شي ګ

– 116چې خپله چا وهل نه وي خوړلي ، د بل وهل ورته ساعتيري ښکاري ګ

- 116چې خپله درديدلی نه وي د بل ورته هيڅ ښکاري ګ

- 117چې په دښمن دې لاس برشو ، اسره ورته مه کوه ګ

- 117چې د يوه کار په کولو دې لاس برشو ګوره ورته مه ګ

- 118چې د ستار ترې په شمار دي ګ

- 118سرې په انسانانو کې ډير لږ دي ګ

- 119چې سترګې توروم هم تاته ، چې شونډې سرې کوم هم تاته ګ

- 119هر څه د خپل وطن او دين له پاره کوم دا د دوست او خپلوانو له پاره هم کارول کيږي لکه زه چې هر څه کوم ستا د خوشالۍ له پاره يې کوم : او کيسه يې داسې ده : يو بې عقله سړی و چې کله به يې ښځې سترګې توري کړلې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم وهله به يې او كه شونډې به يې سرې كړې هم به يې وهله لنډه دا چې هر ډول سينګار به يې وكړ سړى به ورته په غصه كيده ، او ويل يې ورته چې دا كارونه ولې كوې نو بيا ورته ښځې دا وينا وكړه ګ

- 120چې نوم يې وي شړى ، باك يې نشته كه پيره وي او نرى

- 120فقط چې اسباب او وسايل وي ګ كه ډير بې كاره هم ښه وي ګ

- 121چېلى له خوارى مري، قصاب يې د وازدې په تمه دى ګ

- 121هر سړى خپلې ګټې په نظر كې نيسې ګ

- 122چغلګر د شيطان ورور دى ګ

– 122څوك چې دوه جنګوي او خبرې رسوي د شيطان ورور دى ګ

- 123چاړه مې يې هډوكو ته ورسيده ګ

- 123د ده ظلم او تير په ما باندې نور انتها درجې ته رسيدلى دى ګ

- 124چې زور وي زارى ته ضرورت نشته ګ

- 124چې سړى پخپله غښتلى وي سوال ته اړتيا نشته ګ

- 125چې په جرګو شي په زور نشي ګ

- 125كوم كار چې د خلكو په منځګړتوب او مركو باندې كيږي هغه په زور نه كيږي ګ

- 126چې ډول يې تر غاړې شو د وهلو يې څه شرم دى ګ

126 – چې يو سړى د بې حيايى كارونه پيل كړل نو بيا دې په كولو كې نه ډيل كيږي ګ

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## (ځ)

1.ځه ابۍ ورسته او ځه توره تیره .

1.ډیر اسانه او کوونکی یې ډیر ماهر او چوست .

2.ځه اجرا دی .

2.ځه بېکاره سړی دی او د نرتوب هیله ترې نه کیږي .

3.ځه بنګړي یې اچولي دي .

3.یعنې دومره بې ننګه او بې خونده نه دی چې د ښځې په سترګه ورته وکتل شي .

4.ځه به اوزه وي ځه به یې مزه وي.

4.کله چې یو کار نیمګړی شي او بشپړ نه شي نو بیا د کار

د کوونکي په هکله خلك دا وایي .

5.ځه پاړسي یې شروع کړې ده .

5.ځه ګډې وډې وايي ځوك پرې نه پوهیږي.

6.ځه ټټو خو مې در ته ولاړ نه دی .

6.ځه اړتیا درته نه لرم چې ځه راکړې .

7.ځه شال یې درته په سر کړ.

7.چې یو ځوك د چا لپاره چغولي وکړي او د دغه سړي زور په هغه چا چې خبر یې کړې ده برنه وي او هغه سړی له چغولۍ خبر یې نو بیا چغو لګر ته دا وایي.

8.ځه داني لمدې او ځه ژرنده پخه .

8.د دواړو خونده نشته او نکل یې داسې دي: یو سړي ژرندې ته داني وړې وې او د لازم مهال نه پرې ډېر وخت واوښت کله چې یې اوړه کور ته راوړل، نومایه یې ورته په غصه وه چې ډېر وخت دې واړوه نو بیا ورته سړی دا وویل .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



9.څه چې کرې هغه به رېبې .

9.د خپلې کرنې د ثمرې په هيله اوسه

10.څه ډيران دې اور واخيسته .

10.تا ووکوې، قهر او غصه ورځې او تلوار يې دی .

11.څه شيروار دې په کې اچولی دی .

11.خبره اورېده وې او تمامه وې يې نه او نورې نورې په کې پيدا کوې .

12.څه ښايسته کنړ دی په کنده کړ يې شر مولی دی.

12.کنده کړ په کونړ کې يو وران کلی دی چې ګڼ کورونه لري د څوکۍ او نرنګ ترمنځ په سرك پروت دی. څوك چې پر لاره تېرېږي او د دې کلي په کنډرويې سترګې ولګيږي نو د انسان زړه له ټول کونړ تور شي نو بيا دا وايي .

13.څه لاس پناه څه غر پناه .

13.څوك چې د چاد حله نه خبرېږي، نو که ډېر نږدې وي او يا ډېر لرې وي نو يو شان وي .

14.څه وړ خو نه دی چې خورې يې .

14.وړ هغې ځمکې ته ويل کېږي چې فصل ترې تازه واخيستل شي او په دې ځمکه کې واښه وي دود داسې دې چې دې وښو ته د هر چا مال او څاروي راتللای شي او د ځمکې څښتن دا حق نه لري چې څوك ترې منعه کړي. کله چې يوکس د بل مال نا حقه خورې نو هغه بل بيا ورته دا وايي .

15.څه چې په ديګ کې وي په کاسه کې راوځي .

15.پوهه ، وړتيا او مېړانه پته نه پاتې کيږي .

16.څه کوچ ترې باسې؟

16.څومره يې لټوې او څېړنې په کې کوې.

17.څه نر ښځی دی .

17.چندانې سړی نه دی، نه ترې د نرکار اخيستل کيږي او نه ترې د ښځې .

18.څه ګل يې درته سر کې کېښود .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



18.چې يو کس بل ته د چا څه ووايي او هغه پرې هېڅ پروا ونه کړي نو بيا ورته خلك دا وايي .

19.څه قطلمې پخوې

19.څوك چې د يو ورې له پاره يو څه پخوي او د هغه وار نه کيږي نو بيا دا وايي.

20.څنګه چې را ته ګورې هسې درته ګورم .

20.چې څنګه مې ګڼې هسې دې ګڼم .

21.څنګه ژرنده هسې يې دوړه

21.څومره چې د چا پوهه وي په هماغه کچ کار کوي .

22.څنګه غر هسې يې کربوړی .

22.څنګه چې چاپېريال وي په هماغه بڼه يې اوسېدونکي.

23.څنګه غر هسې ځناور .

23.که غر سخت وي ځناور يې هم قوي وي او هماغه شان قوت او غړي ورته څښتن تعالی ورکړي وي .

24.څنګه ميندې هسې لوڼه.

24.په لونو کې د مېندو خوی وي د يوه وزير زوی و او د پاچا د لور سره يې جوړه وه وروسته له ډېرې مودې يې سره مصلحت وکړ چې وطن به پرېږدو او يوه خوا به تښتو، يوه شپه د پاچا لور له ځانه سره يو څه پيسې ميسې راواخيستې او تبيلې نه يې يوه اسپه را زين کړه د وزير زوی او شهزادګۍ دواړه په همدې اسپه سپاره شول او د څو پرله پسې ورځو مزله وروسته يې يو رود مخې ته راغی چې په دې پورې وځي خواسپه په دې اوبو کې څملاسته. دوی چې اسپه هر څومره په متروکه ووهله خو نه پاڅېدله. د وزير زوی شهزادګۍ ته وويل چې دې اسپې ولې داسې کار وکړ. شهزادګۍ ورته وويل چې د دې مور به هم په اوبو کې څملاسته د وزير زوی وويل ښه او تور يې راواخيسته او شهزادګۍ يې دا سپې سره يوځای له منځه و يوړه او دا يې له ځانه سره وويل که تا نه ما لور زېږولې وای هغه به هم متېزه تلله .

25.څومره چې ښورېږي هماغومره شرمېږي .

25.د شرم په کار کې چې سړی څومره ګرځي هومره شرمېږي .

26.څومره چې ګرېږي هغومره به شرمېږي .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



26.له بدو پسې چې څومره ګرځي هومره به شرمېږي .

27.څومره چې تريخ دی هومره خوږ دی .

27.زياتره صادقو خلکو ته قهر ژر ورځي مګر شفقت او رحم يې هم زيات وي .

28.څوك چې عاجز شو خپل يې پر دي کيږي.

28.له غريب سړي نه خپل او پردي لاسونه اخلي او پرې شرميږي.

29.څوك يې په خروار لېټې کې نه حسابوي .

29.څوك ورته په هېڅ نظر قايل نه دي .

30.څنګه يې چې ورور وي هسې خور وي .

30.د خور رنګ اکثراً ورور ته وي. نو ځکه خلك وايي چې ورور يې ګوره خور يې پرې نيسه ورور د خور آينه ده .

31.څېر سترګي کوي .

31.بې حيا يې کوي

32.څوك وايي چې زما شړومبې تروې دي؟

32.هر سړی د خپل کار او د خپل ځان ستاينه کوي .

33.څه زما څه مې د جال ستابرخه والوته .

33.دوه کسان د مرغانو ښکار ته تللي وو، جال او تناب دواړه د دې يوکس وو او دا بل ورسره د ښکار کولو لپاره ملګري شوي و څو مرغان يې ونيول او يو څه والوتل. د جال او د تناب خاوند مرغان په بډه وهلي و او دی بل ته يې نه ورکول. او هغې ورته ويل چې زما برخه ترې راکړه نو بيا دې ورته وويل چې څه زما څه مې د جال ستابرخه والوته .

34.څملاستل خو هلته و چې پلار دې ژوندی و اوس خو هسې سر لګول دي .

24.د کونډې زوی و د شپې ډوډی يې چې وخوړه نو مور ته يې کړه: چې څملوبه مور يې ورته وويل څملاستل خو هلته و چې پلار دې ژوندی و اوس خو هسې سرلګول دي.

35.څنګه چې د اقرض خدای(ج) خلاص کړ دا نور به هم خدای(ج) خلاص کړي .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



.35د يوه سړي په چا قرض و او پوروړی څه نه درلودل خو ده تنګ کړي و او پور وړي ترې په ونه وخوت، او ويل يې چې ځان له ونې را غورځوم چې دربانديې تاوان شم. هغه ورته کړه سل روپۍ مې دربانديې دي پنځوس مې در بخښلي خو راګوز شه. چې راښکته شو سړی ورته کړل چې دا پنځوس به کله راکړې. دې ورته وويل چې دا پنځوس خدای(ج) روغې درورسولې دا پاتې به هم همداسې درورسيږي .

.36څه څړی يې پرېښې ده .

.36يو څوك له چا سره بد کوي اويا يې ځوروي بل ورته وايي څړی يې پريښې نه ده يعنې د دين مخالف خو دی نه دی چې دومره تکليف درکوي .

.37څه کړي او څه رېبي .

.37يعنې په يوه وخت کې دواړه کارونه کوي .

.38څه اخلي او څه پرېږدي.

.38يعنې منصف دی او داسې هم ويل کيږي چې کار پوره نه کوي .

.39څوك چې د منې په قدر نه پوهېده د باغ په قدر نه پوهيږي .

.39د لړو په قدر چې څوك پوه نه شول د ډيرو په قدر هم نه پوهيږي .

.40څومره چې پورته ځي هغومره په ښکته ځي .

.40څوك چې ډېره ترقۍ کوي ډېر تنزل به کوي دغره د سره چې څومره واټن دی هومره يې له سرنه تر ښخه هم واټن وي .

.41څوك چې ننګ کوي، شړی به لنګ کړي .

.41څوك چې بې ځايه ننګر توربورولي کوي نو ځان به نېستمند کړي. او کيسه يې داسې ده چې: د يوه سړي د تره زوی ته چا ښکنځل وکړې چا ته چې ښکنځل شوي وې هغه غږ ونه کړ او د تره زوی يې توره راواخيسته او دا بل سړی يې پرې وواهه او مړ يې کړ. د سړي شته څه حکومت يوړل او څه د مړي ورثو وتښتول او دغه سړی له وطنه فرار شو، جامې به يې چې د پريولو له پاره ويستې نور جامې يې نه درلودې چې اغوستې يې وای نو شړۍ به يې لنګ کړه .

.42څو يې چې شروار نه کړي، کچ به يې ونه ګوري .

.42تر څو چې زحمت ونه ګالي راحت نه شي ليدلای .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



43.څه سپي خوړلی، څه لېوه خوړلي .

43.تاوان ورسېدلی چې د هر چا د لاسه دي .

44.څه کوز کړه،څه پاس کړه، څه ځان ترې خلاص کړه .

44.خراب فصل دی ورته وايي يوڅه کوز ته يوسه او څه يو خوا بل خوا وشينده او ځان ترې خلاص کړه .

45.څه ځمکه او اسمان پرې تنور دی .

45.ډېر تکليف دی ورته په يو ځای کې يې هم ګوزاره نه کيږي .

46.ښخوبی به حال وايي .

46.يو سړي خپل دښمن په يوه ځای کې راګير کړ باران وريده او يوې ځمڅې ته يې ننويست باران ډېر شو او ځمڅه ښڅېدله او دواړو ورته کتل دښمن يې ورته کړه زه خو دې اوس وژنم څوك به دې حال ووايي. سړي ورته کړه دغه ښخوګبی به مې حال ووايي .

سړي مړ شو او ډېره موده تېره شوه قاتل معلوم نه شو يو وخت باران دی او قاتل او ښځه يې په يوه کوټه يا ځمڅه کې ناست دي او هماغسې ښڅوبی دی لکه د چې هغه سړی واژه او ځمڅه ښڅېده .

سړی خپلې ښګځې ته وويل چې همدا شانې باران و ځمڅه را ښڅېده او ما هغه فلانکی وواژه، ښځې چې کلي ته ورسېده په زړه کې يې ټينګه نه شوه او د کلي ښځو سره به چې کښناستله نو بيا به يې دا خبره کوله چې مېړه مې مړی کړی دی. او اخر کلی خبر شو .

47.څير سترګې ده .

47. بې حيا ده لولۍ ده او کنچنۍ ده.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# (ح)

- 1حلوا کې یې پښه ماتېږی.

-1ډېر بدبخته او بې برخې دی.

-2حلوا په جنگ کې نه ویشل کیږي.

-2جنگ ترخ او خبرې او کیسې یې ډېر خو ږې وي.

-3حلوا ورته ښکارم.

-3زما مغلوبیدل او ما تیدل ورته ډېر آسانه ښکاري.

-4حلوا مې مه بوله.

-4مقابل ته ویل کیږي یعنې دومره کمزوری او مات مې مه بوله.

-5حلوا کې څوك مالگه نه اچوي.

-5په خوږو کې باید څوك ترخه ورگډنه کړي.

-6حلوا کې یې غاښ ماتیږي.

-6بدقسمته دی.

-7حال مې درنگ نه گوره.

-7ظاهر ته مې گوره او باطن مې پرې قیاسوه.

-8حساب په کك بخشش په لك.

-8دیوه کس دبل سره معامله وي ډېر وړوکې شې به هم له یاده نه او باسي او که په بخشش یې ډېر څه وربخښل څه پروانه کوي.

-9حصه په جوسه.

-9یو څوك چې دچا قدر کوي، دهغه دعلمیت او سړیتوب په اندازه یې کوي او یا که یو څه ویشي دډیرو او لږو تو پیر به کوي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## (خ)

.1خان نه چرته تللی وم او نه راغلی وم .

.1یو هندو و له کوره بهر تللی و او یو پینځه شپې یې په بل ځای کې کړې وې کله چې کورته راغی پینځه مېلمانه یې راغلي وو او شپه یې تېره کړې وه. هندو خوشاله و چې ځه پنځه شپې مې په بل ځای کې وکړې او خبته مې واوښته. کور ته چې راورسېد مېلمه ترې پوښتنه وکړه لالا چېرته تلی وې. هغه کړه خان نه چر ته تللی وم او راغلی وم .

.2خانکه ټینگ شه باډیلي راغلي دینه.

.2با ډیل د کونړ په ولایت کې د یوې سیمې نوم دی چې خلك یې تکړه او کاریگر دي او غرنۍ سیمه ده یو دوه کسه باډیلي په کونړ خاص کې چې د وریجو د کرهنېگ سیمه ده په چا مېلمانه شول د کور ښځېتن ورته یو غټ خانك وریجې راوړې او با ډیلي ترې راتاو شول او خانك یې په گوته و ځاټه د کور ښځېتن له خانك سره داسې پېټ گړپړي چې: خانکه ټینگ شه باډیلي راغلي دینه .

.3خان چې خوار شي هندو ترې جوړ شي .

.3یعنې د بې پیسو او بې دسترخانه خان څوك قدر نه کوي .

.4خان ورته خر بې شوی ویلي دي .

.4یو نادیده سړي ته چې یو شتمن او غټ سړی اشکنځل او بد ووایي دغه سړی د غټ سړي په بدو او ښکنځلو هم ویاړ او فخر کوي .

.5خانده، خانده ښه کور دې دی.

.5یو غل کوم کور ته ورغلی و خو په دې کور کې هېڅ هم نه وو غل څلور کنجه کور ولټاوه خو څه یې پیدا نه کړل، د کور خاوند ویښ دی او ورته گوري او اخر یې په خندا کې غله ته وویل که څه دې پیدا کړل زما او ستا نیمایي دي نو بیا غله ورته وویل چې:

خانده، خانده ښه کور دې کړی دی.

.6خان دا هم کوي هغه هم کوي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



6.يو مسلمان د يوه هندو كور ته د بد كارۍ له پاره ورغلی و چې هندو پرې راغی په دې وخت كې مسلمان منډه كړه بېرون ووت او په جومات كې په لمانځه ودريد هندو د كلي خلك راوغوښتل او د ده د بداخلاقۍ نه يې شكايت وكړ، خلكو ورته وويل له چا چې ته شكايت كوې هغه خو په لمانځه ولاړ دی، هندو كړه خان دا هم كوي هغه هم كوي.

7.خاورې د ايرو پورې واړل باد راغی ايرې او خاورې يې ګډې وډې كړې .

7.يو كمزوری راځي د بل كمزوري سره ځان يو ځای كوي چې تكليف ورونه رسيږي ظالم او مستبد راځي د دې له پاره هغه بل هم له منځه وړي .

8.خاوره اوباسي.

8.بې همتي كوي او ورسپارل شوي كار ته ډېره نه لګوي او ځان اخوا او دې خوا كوي.

9.خاوره يې ويسته .

9.بې ايماني يې وكړه .

10.خاورې يې په سر شوې .

10.هلاك شو .

11.خاني په خپل وطن كيږي .

11.ځكه چې اولس يې پېژني. كه خان يې په بل وطن حيران يې .

12.خان يې په بل وطن حيران يې .

12.د خان په پردي وطن كې څوك قدر نه كوي ځكه چې څوك يې نه پېژني .

13.خبرې كوه د خدای له پاره كوتك وهه د ورور لپاره .

13.دا په هغه وخت كې ويل كيږي چې د سړي د خپل او پردي سړي سره لانجه وي او خپلوان په كې جرګه شي د يوه طرف نو بيا خلك وايي چې خبر او پريكړه دا به په كتاب كوئ او كه د كوتك ځای راغی بيا به د خپل ورور ننګه كوي څښتن تعالی هم په دې هكله فرمايي: "چې د حق په ننګه او پرېكړه كې به د خپلوۍ پلوي نه كوي ".

14.خپل پرتوګ په چنار اچوي.

14.خپل ځان پخپله سپكوي .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



15.خبرې د خبرو نه پیدا کیږي.

15.څوك یوه خبره وکړي هغه خبره څه سلسله لري او نورې خبرې ترې پیدا کیږي .

16.خرې ته چا لښتۍ وویله بیا یې د کبره واښه نه خواړه .

16.یو څوك چې بې ځایه څوك ستا یې او د هغې وړ نه وي د هغه نه ځان ورك شي او ځان ته په غټه سترګه ګوري. او بې ځایه غرور کوي.

17.خر په غوږ وهه چې لغته یې هېره شي.

17.یو څوك چې بد کاره نامنونکی، کبرجن او ظالم وي بیا خلك وایي چې له ده سره داسې کار وکړي چې نور هر څه ترې هیر شي.

18.خر په لار که سمه پرې خپله چار که.

18.دا دوه خبرې دي لومړی دا چې خرپه لاره کړه یعنې په لاره یې برابر کړه، په حوصله باندې چې له ډرتو او لغتو نه یې وباسه او خپل کار پرې وکړه. دویم دا چې خره د بې عقله" ته ډېر قدر ورکړه او د پلار په مقام یې کړه او خپل کار ترې واخله .

19.خرې خرې زوی دی وشو ویل یې خپل وری به وړي خپل به ورم.

19.یو څوك په یو چا باندې د یو چا داسې زېرى کوي چې هغه یا ډېر دولتمند شوی وي اویا یې یو منصب اخیستی وي، لیدونکی او ویونکی یې د ده خپل ګڼې مګر دا وایي چې زما په کې دومره ګټه نشته خپل کار به کوي. او خپل به کوم.

20.خپل بار د ابونه پورې باسي.

20.څوك له چا نه پوښتنه کوي چې فلانی څنګه دی؟ دی ورته وایي چې ښه دی او خپل مشکل پخپله حلولای شي .

21.خپل ځان یې سیوري ته کړ.

21.دا هغه مهال ویل کیږي چې یو څوك په لږ څه تکلیف کې وي او بیا له تکلیف ته په راحت کې شي په خپل کوښښ سره .

22.خپله پښه په ترخز وهي .

22.ځان ته پخپله ستونزې پیدا کوي .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



.23خپل کوم خپل چې په ځان دې ښه وي.

.23خپل هغه وي چې سړي ته یې ګټه ورشي او د کړاوو په وخت کې یې درد ته دوا شي .

.24خپل هغه چې په بده ورځ پکار شي .

.24هر څوك چې دې په تکلیف او کړاوو کې په درد وخوري هماغه خپل دی .

.25خپله اّینه یې ولیدله.

.25خپله اندازه او لیاقت او قدر ورته جوت شو .

.26خپله اّینه ګوري.

.26خپل ځان ګوري، خپل اعمال ګوري .

.27خپل سوري نه ډاریږي.

.27یو سړی ډېر در زنده او ډارېدونکی وي، ډیر احتیاط کوي او هر شی ورته بلا ښکاري او د لږ څه نه هم وریږي .

.28خپله لاسه ګله لاسه.

.28یو څوك چې په خپل لاس بانديې یو کار کوي د بل د لاسه نه ډېر ګټور او خوندور وي. او یا څوك د بل چا په تمه وي او هغه یې ورته ونه کړي پخپله پسې ورپاڅي او ویې کړي .

.29خپله خوله هم قلا ده هم بلا .

.29یعنې خیر، ښیګڼه او شر او زیان دواړه سړي ته له خپلې خولې ور رسیږي. که ژبه ښه وه نو ګټه به وکړي او که بده وه نو تاوان به یې ووینې .

.30خپل عېب د ولو منځ دی .

.30خپله ګناه سړي ته ګناه نه ښکاري .

.31خپل ټټو د بل اّس سره برابر وي.

.31بې انصافه دی او خپله برخه د خپل قوت له اندازې نه ډېر غواړي. د بل کس د ښه کار سره خپل نیمګړی کار برابروي .

.32خپلې شړۍ سره پښې غځول ښه دی .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



.32هر څه د خپل توان سره کول په کار دي .

.33خپل کار کوه خپل به کوم.

.33چې يو څوك ګډ ژوند کوي او سلا او مصلحت يې يو وي نو کله چې لږ څه زړه بدی شي نو بيا دا وايي .

.34خپل قدر په خپل لاس کې دی.

.34که يو سړی له خلکو سره ښه ګوزاره او ښه خوی کوي نو خلك هم ورته په درنه سترګه ګوري .

.35خپل ځانته دعاو که چې ورځ دې ښه شي .

.35يو څوك د چا نه د خير، ښېګنې په تمه وي او د هغه زړه نه غواړي چې ده ته خير ورسيوي او دی په خپله خبره ټينګ ولاړ وي او وايي چې ما تاسره دا کړي او دا کړي او دعا درته کوم نو بيا هغه دا وايي .

.36خره که دوه ښکره لرلی خواته به نږدې څوك نه ورتلی .

.36د کزوري او ناتوان ظالم او تېري کوونکي په هکله دا ويل کيږي .

.37خر په طواف نه حاجي کيږي.

.37بعضې کم عقله چې د ښوکارونو په ارزښت نه پوهيږي او کوي يې او عمل يې پرې نه وي نو بيا خلك دا وايي .

.38خر وايي ما له که بيا ګيله که .

.38خر چې کله يوازې وي او بل خر ورسره نه وي ډېر زړه ماتی روان وي خو کله چې د خرو په ګله او ډله کې ور ګډ شي بيا د تربګنۍ په خاطر يوله بله مخکې کيږي .

.39خر ونه ژړل ورور يې وژړل.

.39يو څو د يوه چا لپاره تکليف اوباسي او کار او خدمت کوي، مګر د چا له پاره چې کار کوي هغه جناب تنګ شي، او دغه کار چې د دې لپاره کيږي په ده باندې دروند او سخت تماميږي .

.40خدای(ج) دې د لندن هم پسې ورك که .

.40څوك چې چا ته ډېر په قهر شي او نه غواړي چې د ده سره نږدې واوسيږي او هغه ووايي چې زه چېرته ځم او دی يې په ورکاوي خوښ وي نو بيا دا وايېز خو اوس دا ښېرا کول دعا ګرځېدلې ده لندن ته په تګ خلك اوس لس لکه روپۍ ورکوي او هم ناشوني وي او چې ولاړ شي پرنګيان يې بيرته په الوتکه کې کشېنوي او په کابل يې سپاري .

.41خدای (ج) دې يو لاس بل ته نه اړباسي .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



41.احتیاج ډېر بد شی دی، که ورور، ورور ته محتاج شو هم ډېر سخت او بد حالت دي .

42.خدای(ج) په څه پېژنې په قدرتونو .

42.هر څه په نښو او علايمو پېژندل کیږي .

43.خدای (ج) وژلی په قربانۍ حسابوي.

43.کوم سړی و د لوی اختر په ورځ يې غوايا شو تل خوړلي و او پړسيدلی و بيا يې حلال کړ اونوره قرباني يې ونه کړه او همدغه غويا يې په قربانۍ کې حسابو. نو اوس چې کله څوك له چا نه څه غواړيي او هغې ورته درې غوښتنې نه مخکې پوځه ورکړي وي خو دغوښتونکی په خوښه مقصو دي شی يې نه وي ورکړی، دی ورته وايي چې ماخو درکړی و، بيا غوښتونکي داسې وايي .

44.خوردمې دې خوراك وي او خروار مې دې قدر وي .

44.یوځوك چا خپلې ښادۍ ته په ډېر نري ست غوښتی و، د ښادي والا په خوراکونو کې د څه کمی نه و ډېرو رابلليو ته کټ، بالښت او چاپونه او چلمونه تيار وو، خو دې يوه بللي ته پوزی (انډيری) هم نه ور رسېدلی دغه سړي خپل څادر په اوږه واچوه او د ښادۍ له ځايه مرور روان شو. کوربه ورپسې رامنډې کړې او ويل يې، چې ولې ولې، څه کم دي، چې ته خپه شوې؟ نو په دې وخت کې هغه دا وويل .

45.خربوزه د خربوزې نه رنگ اخلي.

45.هر سړی له خپله سیاله څه زده کوي .

46.خبر نه دی، چې دنيا څو ډانگه ده .

46.يو کس پرته د علم او پوره معلوماتو يو څه وايي اوله خپلې خېټې څخه تشريحات کوي او له واقعاتو نه خبر نه وي، نو بيا په ده پورې خلك دا وايي .

47.خر يې مات که او که ليوه يې مات که .

47.يو سړي خر درلوده، خو بار يې سم نه وړلو او دغه سړی د خپل خره نه دېرنتگو، خر ډرتې او لغتې هم وهلې. خاوند يې مجبور شو او خر يې خوشې کړ. په خره لېوه راغی او خره ورسره ډرتې شروع کړي.گ د سړي ښځې خر او لېوه وليدل، نو خپل مېړه ته يې غږ کړ، چې هله سريه زمونږ خر او لېوه سره نښتي دي سړي کړه پرېږده ښځې او خبره يې وکړه .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



يعنې چې يو دوه سره په جنګ اخته وي او يو سړي ورته ګوري او د ده دا جنګ کوونکي دواړه بد يسي. په داسې‌حال کې، چې د خلاصولو توان يې هم لري، بل راځي او ورته وايي، چې دوی ولې نه خلاصوي، نو په دې وخت کې دی دا وايي .

.48خر هماغه خر دی خو کته يې بدله ده.

.48يو سړی، چې مخکې يې خوی يو څه وي او بيا څه موده وروسته څه لباسي بدلون ځان کې پيدا کړي او په دې ډول غواړي، چې خلك تېر باسي او په همدې وخت کې د پخوا په شان بيا يو ناوړه کار وکړي، ظاهربين خلك وايي: دا ولې يې داسې بد کار وکړ دا، خو ډېر ښه سړی شوی دی. پوه او هوښيار د ظاهربينو په ځواب بيا داسې وايي .

.49خر د باروړلو نه دی د تيزونو مزري دی.

.49يو کس چې خبرې او لافې يې ډېرې وي، خو د کار نه وي .

.50خرابه ښځه پرېښودی شي او خراب فصل نشي پرېښودی.

.50يو سړي للمې فصل کرلی و په دې فصل کې ډېر ځوزان شنه شوي وو او د غنمو يو يو بوټی چېرته د ځوز په خوا کې ولاړ و. سړی به سهار له کوره وواته خپل مال به يې څراوه او واښه به يې راوړل کله به چې کورته راستون شو، نو ښځه ګ به يې ورکه وه. د کور کار به ټول ګډوډ پروت و. د لو وخت راغی، خو د ښځې عادت يې ورك نه شو. دی اړ شو او خپله ښځه يې پرېښوده. برستن او تلتك يې په شا کړل اوپه للمه کې د لو له پاره دېره شو. له کلي يو تن ورباندې راغی او دی يې يوازې په خوار او خراب فصل کې د غنمو په راټولولو بوخت وليد او پوښتنه يې ترې وکړه، چې ښځه دې څه شوه ده ورته کړه، چې هغه مې پرېښوده. کليوال ورته وويل، نوپه دې خوارو غنمو څه کوې؟ سړي ورته وويل: په دې مې زړه نه کيږي .

.51خراړې د يوه ګذاره سره لاړی .

.51يو څوك چې مشکلات به خپل سر نه شي بارولای او د سختو نه وي کمزوری او ناتوانه وي مقابلې ته نه شي ټينګېدای او د يوه ګوزاره سره ميدان پرېږدي نو بيا ورته خلك د خراړې د ضيغه مرغه په نظر ګوري. کله چې د غوايي کودتاه وشوه او غوايي خپلو د روسانو په حکم باندې د مسلمانانو نيول وژل، زنداني کول، ژوندي په ځمکه ننويستل او رنګ په رنګ نادودېي په مظلومو او بې وزلې ملت پيل کړې، ډېر غيرتي افغان اړ شول چې هجرت وکړي. زما په څېر ډېر مسلمانان چې د دوی له پنجو نه ښتن په امان کړی وو. مهاجر شول، کمونستانو د ځمکو د خاوندانو ځمکې په بې ځمکو خلکو وېشلې، ميتنګو نه او مارشونه به يې د ځمکو په وېش کې جوړول په دغه وخت کې مهاجرو په سپېڅلي جاهد لاس پورې کړ او د سره کفر مقابلې ته يې په تش لاس ځانونه تيار کړل او په سپېڅلي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



جهاد يې پيل وکړ. چې بيا ملحدينو په بې شرمانه ډول باندې، د ډمانو د ساز او ټنګ ټکور سره زمونږ د مجاهدينو پورې يوه سندره ويله :

چې وه کنجۍ خراړې د يو ګوزاره ولاړې .

چې يو د هغو کسانو له ډلې څخه چې دا سندره به يې ويله ماسټر فضل غني نومېده زمونږ د خالص صاحب مجاهدينو په سره رود کې ونيوه او په ونه کې يې وځړاو او په دې ډول يې خپل مقام ته واستوه. له دې وروسته جهاد زور واخيست. تر دوه لکو پورې روسان راغلل او په هره وسيله او وسله ښه سمبال وو. چې د دې جملې څخه لس زره روسي عسکر زمونږ د ننګرهار د ثمرخېلو د غره په څنګ کې ديره کړل چې د دغو لېوانو زياتره عمليات به په کامه باندې وو او زما د مجاهدينو زياتره عمليات به هم د همدغه روسانو په کمپ باندې وو، تر دې چې زما مجاهدينو د دې روسانو څخه ژوندی روسي عسکر په کال (د سنبلې مياشت 1326) ونيوله. چې د يوه نوم يې ولاديمير ولديف و چې د لنينګراد اوسېدونکی و او داسې نور همدارنګه تقريباً په سلهاو مړي د روسيانود همدې (کامه، ثمرخېل) ځايه مسکو ته زمونږ د عملياتو له برکته تللي دي. لنډه دا چې روسيان د مجاهدينو سرښندنو ته ټينګ نه شول او بېرته يې مسکو ته تېښته وکړه او د دوی له تېښتې وروسته د افغاني کمونستانو حکومت هم ړنګ شو او همدغه سندره يې درواغ شوه چې ويل يې.

.52خږ سپی د لېوه ورور دی .

.52د ظالم سره چې مرسته کوي او د غله سره د جوال خوله نيسي، دغه ټول کسان يو شان دي .

.53خلك يې غولو ته راوستي دي .

.53خلك يې ډېر تنګ کړي دي .

.54خلك په څه کې ابۍ د ځان شکولو کې ده.

.54يو چا کډه بار کړې وه او خپله مور ترې ورکه وه پسې ګرځېده اوښان يې بار په لاره کې ودرولي وو، کله چې يې زوی يوه کنډ وو ته سرښکاره کړ ګوري چې مور يې ځان پاکوي نو بيا يې دا وويل .

.55خواره شې وينځې چې د وينځې جامې مينځې.

.55غلام چې د غلامې کوي نو دا هغې ته خلك وايي.

.56خوشې نه بېګار ښه دی.

.56د هستې ژوند تېرولو نه پردی کار او يا سرکاري کار هم ښه دی که نغده ګټه يې نه وي نو ورزش خو به يې وشي .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



57.خوب چې راشي بالښت نه غواړي.

57.د یو کس چې یوشي ته ډېره اړتیا وي، نوبیا یې د شپې او بدې پسې نه ګرځي فقط مطلب یې حاصل شي .

58.خوار په هندوستان هم خوار وي.

یو سړی د خوارۍ او مزدورۍ لپاره هندوستان ته تللی و دومره یې ګټله چې خپله یې خوړله او څه سپما یې نه شوه کولای یوه ورځ په سم سړك روان دی او په زړه کې یې ووېل چې راځه سترګې پټې کړه چې په پټو سترګو څومره پلی مزل کولای شم .

سترګې یې پټې کړې او روان شو په لاره کې د روپیو یوه ډکه پکه همیانۍ پرته ده او دی پرې په پټو سترګو تېر شو، د دې پسې وروسته یو سړی روان دی او همیانۍ هغه راواخیسته، ګوري چې له زرو ډکه ده. سړی را جابکه شو او د سړي پر اوږه یې لاس کېښوده او ورته یې ووېل ماما ته ړوند یې ویل یې نه ړوند نه یم ښه بینایم خو سترګې مې پټې کړې وې ما ویل چې په پټو سترګو څومره مزل کولای شم، هغه سړي ورته کړه چې هندوستان ته د څه لپاره راغلی یې؟ ده ځواب ورکړ خوار یم چې څه مزدوري وکړم او وطن ته یې یوسم، نو بیا ورته هغه ووېل چې دغه همیانۍ باندې ته تېر شوی وې او ودې نه لیده بخت دې خوار دی نوره خواري مه کوه .

59.خواري ما وکړه کندو پوري بی بی کښیناسته.

59.یو سړی و چې ډېره ځمکه یې درلوده او ډېرې غلې دانې به یې کېدلې درمندونه یې واخیستل او کور ته یې راوړل به ترټه، په په غله دانه او کندوانو کې بې واچول یو فقیر راغی او د دې سړي نه بې د یو من دانو سوال وکړ. سړی ډېر په اخلاص کور ته ولاړ خو ښځې یې ورباندې ډېره زوره وره او ثومه وه، سړي ورته ووېل ملنګ راغلی او یو څه دانې غواړي، ښځې یې ورته کړه چابك ځه کنه اوس به دې به سوکې و داغم، سړي بېرته خړ دیرې ته راغی ملنګ پرې غبږ کړ صیبه دا دې راته ونه وې سړي ورته کړه خواري ما وکړه او کندو پورې بې بې کښیناسته .

60.خوله کې خبره ژوي.

60.ځینې خلك په خوله باندې د زړه خبره کول نه غواړي هسې هغه او دغه کوي.

61.خوله کې غوزمه ماتوه.

61.ښکاره او غوڅه خبره کوه .

62.خورې او ځکې دلته غاپې د میر الدین کره.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



62.د يو سړي سپی و د خوړو په وخت کې به په خپل کور کې و او د څوکۍ وخت چې به شو بیا به یې د مهرالدین د کور په منځ کې غپل. نو دا هغه چا ته ویل کیږي چې خوړل او څکل له یوه چا کوي او ګټه او خدمت بل چا ته کوي .

63.خوري روټې پسکې د پلو اچوي.

63.په درواغو ځان ته په ډېر څه قایل وي .

64.خمبیره یې کړو.

64.یعنې ښه یې وډباوه .

65.خوب کې جبې ګوري .

65.یعنې ځان نه یې مېښه جوړه کړې خوب کې د څرځایونه ګوري. تصور کوي چې څه به پیدا کوم، په څه کې به مې ګټه وي او څوك به غولوم .

66.خوار له جامو نه معلومیږي.

66.سړی د یوه چا ظاهري بڼې ته ګوري او هماغه یې په باطن ور قیاسوي مګر زیاتره داسې نه وي او سړی په معامله پېژندل کیږي .

67.خدای(ج) یې کوي خوهمت په کار دی.

67.په ښو کارونو کې څښتن تعالی د سړي مرسته کوي .

68.خبرې د ایله ځای د بېزو ګانو کوه .

68.ایله ځای د مومندو په سیمه کې یو جګ غر دی چې ګڼ ځنګلونه یې درلودل او ډېر بیزوګان به په کې اوسېدل او له ډاره به څوك نږدې نه شول ور تلای ځینې کورونه ورته نږدې وو. د کور خاوندان چې کله له کوره ووتل بیزوګان به راغلل او د کور اسباب به یې ورته ګډوډ کړل، د ماتېدو شیان به یې مات کړل. د خوړلو به یې جوته او توی کړل او چې څه به یې وړلای شول هغه به یې له ځانو سره وړل، هره ورځ به یوه نوې نوې پېښه کېدله، د ایله ځای یو سړی بلې سیمې ته تللی و او په یوه مجلس کې یې څه خبرې کولې او یو چا ورغبر کړ چې نورې پرېږده د ایله ځای د بیزوګانو کوه .

69.خدایه دنیا را کړې خو خپل کور کې.

69.یو څوك ښه ژوند غواړي خو زیار او تکلیف ته ځان نه نیسي اوپه خپل کور کې یې غواړي .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



70.خدای(ج) مې دې هلته هم بې اوره نه کړي .

70.کومه ښځه وه او په ژمي کې باران لمده کړې وه او ډېره يخني يې شوې وه کوم چاورته اور بل کړ توده او ډېره خوشاله شوله چا چې ورته اور بل کړی و هغې ته يې هم دعا وکړې او ځان ته يې هم دغه دعا وکړه.

71.خوله يې وازه نيولې ده .

71.تياري ته يې خوله خلاصه نيولې او کړاوو،نه ګالي. يا يو کار د چا نه نه کيږي او حيران ورته پاتې وي .

72.خدای(ج) دې داسې حيران کړه لکه زه چې دې حيران کړم.

72.په ننګرهار کې د شينوارو لويه سيمه ده. چې هلته يو زيارت دی او هغه د درو بابا په نامه ياديږي. خلك ورته ډيره عقيده لري او تقريباً ډېر خلك يې په شرك کې مبتلا کړي د کوم شينواري نه چا پوښتنه کړې وه چې خدای تعالی لوی دی او که دور بابا شينواري کاکا وروسته له ډېر فکر او تصور نه د خپلو زنګونونه سر را پورته کړ او ويې ويل خدای دې داسې حيران کړه لکه چې زه دې حيران کړم. که ووايم چې خدای لوی دی نو دور بابا؟ خپه کږي او که ووايم چې دور بابا لوی دی نو خدای خپه کيږي .

73.خپل څادر سره پښې غځوه .

73.د خپلې دارايۍ په مېچ او کچه خرڅ کوه .

74.خوټ خوټ يې د ليټۍ دی او دب دب يې د حلوا دی .

74.لياقت او وړتيا يې کمه وي خو دې ځان د اسمان په شنو کې ګوري.

75.خر د زور په وري نه سرې کيږي .

75.سړيتوب په پيسو او دولت نه دی په علم او پوهې پورې اړه لري .

76.خورې، څکې حساب نه منې .

76.ګټه غواړي او تاوان نه مني .

77.خاوند نوم د خدای(ج) دی .

77.کومه ښځه وه او د خپل مېړه نه ډېره تنګه وه او په بده يې يادوه، بله يوه ښه ښځه وه چې د څښتن تعالی د لارې نه خبره وه د خپل مېړه منونکې وه نو دې ښځې ته يې هم نصيحتاً وويل چې خاوند د خدای تعالی نوم دی. زمونږ

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



پیغمبر علیه السلام فرمایي "که له خدایه پرته بل چا ته سجده روا وای نو ما به د خپل امت ښځو ته امر کړی وای چې خپلو مېړونو ته سجدې وکړئ ".

.78خبره ښه کوې، لکۍ یې کږه کوې .

.78خبرې ښې کوې مگر اخره یې خرابوې. یعنې کار جوړول نه غواړي چې پای ومومي .

.79خپل سر په خپله نه خریل کیږي .

.79دا خو متل دی خو زه (یاسیني) په اونۍ کې خپل سر پخپله خر یم خو دا متل پخوای دی چې البته هغه وخت داسې وسایل نه وو. متل حقیقت دی چې خپل مشکل زیاتره خلك پخپله نه شي حل کولای د نورو مرسته ورته اړینه وي .

.80خپلوي له دواړو خواوو کیږي .

.80یعنې باید دواړه خواوې په اخلاص او په راستۍ کې وي او یو په بل ظیروي .

.81خپله کوي د بل نه اوري.

.81خپله خبره ورته تر هر چا غوره او ښه ښکاري.

.82خر بار ته خفه دی، خاوند یې دواړو ته .

.82یو سړی چا ته د یوه کار ووایي مگر د هغه سړي نه نه شل کیږي .

دا دې ته خپه وي چې کار رانه ونه شو او فرمایونکي په دې اندېښمن وي چې یو خو کار ترسره نه شو او بل د خپل دوست

په ناتوانۍ خپه وي .

.83خر ځوك نه زین کوي .

.83هر سړی د هر کار وړ نه وي .

.84خر مرداریږي نه سپو ورته نهارې ورځې تېرې کړې.

.84یوه کار ته چې ځوك په تمه وي او هغه کار ډېر وخت ونیسي، وخت ضایع شي نو بیا دا وایي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



.85خروار په يوه موټي معلوميږي .

.85د يوه ټولنې، يا د يوه جنس څه نښه او نمونه دې وليدله نو نور پرې نسيه .

.86خوار چې موړ شي، ځمکې ته نه ګوري .

.86نوی شتمن شي نو بيا ورته ځان ډېر غټ ښکاري.

.87خواښې په زوم ريږيدي، داسې نه چې لور يې پريږدي.

.87ځينې خلك د غرض له پاره د نورو خوشامندې کوي.

.88خور او لور چا په کور کې نه دي ساتلي.

.88خور او لور څوك په کور کې نه زږوي، ورکول يې ضرور په کار دی چې خدای (ج) ته يې هم غاړه خلاصه شي او د بشر حقوق هم په ځای شي .

.89خبره ولاړه ډنډوره شوه جانان خپل کار دې کوه خپل به کومه.

.89د يوه هلك د يوې انجلۍ سره يارانه وه خو د دوی دغه پټه مينه اخر رسوا شوه انجلۍ ته يې مور وويل:

چې څله ډك منګی تشوې او بيابيا ګودر ته ځې زه په تاپوهيږمه خلکو راته ويلي دي چې د فلاني سره دې جوړه ده نو بيا انجلۍ د خپل انډيوال په مخه ورغله او د پخوا په څېر مينه يې ورسره ونه کړله هلك ورته کړه دا څه دربانديې وشول نو په دې وخت کې انجلۍ ورته دا ورتنی وينا وکړه:

.90خبره شاربي .

.90 خبره اوږدوي او نورې ترې پيدا کوي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



**(د)**

- 1داهاړلمرته خرنشي ټينګيدی.

- 1بې شانه ګرمي وي

- 2داّهنګر يوټك دزرګرسل ټكه

– 2دزورورهسې اشارت اودکمزوري ټول قوت.

– 3داملوکوپه تول خرڅيږي.

– 3ډيرارزانه دي.

– 4داوبوخروارډی په ګوته ښوريږي.

– 4ډيرپه اسانۍ سره کيږي.

– 5داباسيندنه اوبه غواړې ترې نه يې.

– 5يوڅه ناشوني ښکاري.

– 6داوبونه کوچ اوباسي.

– 6خبره ډيره اړوي رااړوي

– 7داوښ دشاوړۍ ده

– 7مفت کاردی

– 8داهاړليوه دی

– 8ډيروړی دی اويايې خوله نه راټوليږي

– 9داّسمان لاندې يې کوردی په دی پوردی

– 9دهرچاپوروړی دی

– 10داڅه ډوول سړی دی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



– 10بې معنايې سرغړ شوی خونديې نشته

– 11داسې دی چې په ژبه خلك ځپي.

– 11ډيرقدردان دی

– 12داوړی نه شړی کيږي

– 12داكارسرته نه رسيږي

– 13داور سوي په اور رغيږي .

– 13داورسوي له پاره گرم داروگان په كاروي . يالوی قوت په لوی قوت ماتيږي.

– 14داډول اوداوتي .

– 14پخواپه بتي كوټ كې اوبه نه وې اوخلك به يې چهاردهي ته دژرندې له پاره تلل يوسړي دانې پرخره باركړې اوچهاردهي ته يې دوړه كولو لپاره ورلی اوبل سړي په چهاردهي كې خپل اوړه كړي دي اودبتي كوټ په لورې راروان دی چې دلارې په منځ كې دواړه سره مخامخ شول ددانووالا ، داوړووالا ته وويل : ياره كه زه درغلی وای ژرندې ته قسم كه دې رانه مخكې اوړه كړي وای ،داوړووالا ورته كړه په قسم كه تاهم رانه اوړه كړي وای ،په دې كې خبره ډيره گرمه شوه نويوبل ته يې وويل چې راځه دايې ډول اوداپې وتی اوپه دې كې سره ونښتل اوښه وهل يې سره وكړل .

– 15داغزوپه پولۍ مې شپه وه .

– 15په كړاوو وم .

– 16داغزوپه لښتوپې وهي.

– 16غواړي چې قانع يې كړي ، يعنې په جرم اعتراف وكړي اويادا چې په زوره پرې اقراركوي .

– 17داحال دی چې دغوايي وال دی .

- 17نكل يې داسې دی : يودغوايي والاوْ اوپه سفرروان و اوپه لاره كې پرې شپه راغله اوباران وه ،دغوائي خاونديوكورته وروگرځيد چې شپه تيره كړي ، دكورخاونددغوايي ځاي نه درلوداوبهرغله اوډاكوان وو، سړي مسافرته ډوډۍ راوړه اووخوړل شوه دغوايانوماماد غلوله ويرې خپلوغوايانوته ځوكۍ كوي ، په ده هم باران وريږي اوپه غوايانويې هم باران وريږي دكور خاوند دمسافر څخه پوښتنه وكړه چې دغوايانو ماما ځنگه يې هغه ورته وويل چه داحال دی چې دغوائی وال دی .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



- 18داري غوندې دواړوخواوته اچوه.

– 18يعنې داسې شه چې هرچاته دې ګټه ورسيږي.

– 19داوښ په شاسوردی .

– 19ددنیادحاله ځان نه خبروي خیالات یې ډیر لوړ دی .

– 20دارهټ منګوټې دي .

– 20ددنیاژوندکله تش کله ډك ، يعنې کله وړی کله موړ، کله غم کله خوه ښي .

– 21داجل نه مخکې مري .

– 21دتکلیف رسیدونه مخکې یې ورته سترګې سپینې وي.

– 22داګز دا میدان .

– 22یو سړي ویل ما سل ګزه ټوپ وهلی دی بل ورته دا پورتنۍ وینا وکړه .

– 23داملوکوپه تول کې لاړو.

– 23یوسړي واوتوراملوك یې اخیستي و، په املوکوکې توره ګونګوټۍ هم راغلې وه سړي داملوکوپه ځاي خولې ته واچوله ګونګوټۍ چې دغاښ لاندې شوه په چیغ یغ یې پیل وکړ، سړي ورته وکړل داملوکوپه تول کې راغلې یې چغ یغ مه کوه پریږدم دې نه .

– 24دبازله ځالي بازپاخیږي .

– 24زیاتره دنارینه پلارنارینه زامن وي .

– 25دباران نه پاڅیدډناوي لاندې کښیناست .

– 25لږتکلیف یې په خپله ځان ته ډیر کړ.

– 26دبوسولاندې اوبه مه تیروه.

– 26خبره پاکه ، سپینه اورښتیاکوه.

– 27دبریښناپرق دی.

– 27تل نه وي ، اوکله کله راښکاره کیږي .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



– 28دبادام په شان مې زړه سوری دی .

– 28ډيرغمجن دی ، ډيرغمونه يې ليدلی دي.

– 29دبيزوپرهردی.

– 29ګوتې په کې وهي اورغيدوته يې نه پريږدي .

– 30دبل په اوږومياشت ګوري .

– 30ديوسړي نه چې خپله کارنه کيږي اوتل بل ته په تمه وي .

– 31دبل په اوږويې لاس اينبی دی .

– 31ځان يې په بل بارکړی دی.

– 32دباران پسې پټې ګرځوي .

– 32چې يوکارناشونی ښکاري.

– 33دبادپه نيلي سوردی .

-33سطحې دی ، تيزدی هرکارزرغواړي ياهسې ځان لوي بولي.

– 34دباغوان لاس ګل دی .

– 34دکارګراوخواري کښ لاس کيمياده .

– 35دباران تورمخی دی.

– 35په پښتنوکې يودوددی چې کله باران جړی شي . نوبياخلك دلرګي نه يوه توره ټوټه تاوه کړي اور، ورواچوي اوپه ديوال کې يې ودروي دادباران دودريدوله پاره يوه ټوټکه ده ، خواستعمال يې داسې دي ،چې يوڅوك دتهمتونواو تکليفونووړوګرځي نو بيا هرسړی پرې خپل لاس پاکو.

– 36دبازارسپي ته چاويل ولې نه غاپې ،سپي وويل ،هرچاته غپلی نشم که يوته غاپم اوبل ته نه ترجيح بلامرجح راځي.

– 36په ډيروخولواوډيروخبروکې بايدسړی چپ اوسي ،يايوسړی ښيګڼه کوي خومستحقين ډيروي اودده وسعه ټولوته نه کيږي نوبيادټولونه قرارشي يعني صرف نظرشي .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



– 37دبنوښتن په آرامه نه وي .

– 37دخپلوخپلوانوپه بې اتفاقۍ بل خپل ځوريږي .

– 38دبنوکورو‌ران دی.

– 38يودبل په تمه وي اوپه منځ کې ټول کارونه وران وي .

– 39دپردي زوی نه خپله کړميزنه او پوواړي لوربنه ده .

– 39دبل دښه شي نه خپل خراب شي ښه اوغوره دی.

– 40دپولۍ پرق ته ناست دی.

– 40ډيرنيستمن اوخواردی ،اوکيسه داسې ده: چې پخواوختونوکې غلې دانې لږې وې خلك خواراوغريب وو،مزدوري نه پيداکيدې ،رواج وچې په ژمې کې به دلوی اوګڼ کلي خلکويوه بټۍ درلوده اوپه هغۍ کې به بټيوان جوارنيني کول اوخلکوبه زياتره دغرمې ډوډۍ په ځای دژمي په موسم کې دګوړې سره نينې خوړلې بټيوان به داوردبله ولو لپاره يومزدورونيوه ،چې هغه ته به بل ځاي مزدوري نه پيداکيده ،نوارسړی به دبټيوان سره مزدورشواودهغه مزدوري به داوه چې کومې پولۍ دبټې نه والوزي اوپه ځمکه ولويږي هغه به دې مزدورراخيسته اوبيابه يې خوړه ، نوبيابه خلکوويل چې فلانی دپولۍ ترق ته ناست دی.

- 41دپاچاصاحب بازدی په ډيران چورګوړي نيسي.

– 41په خپلواوکمزوروخلکوزوروردی.

– 42دپندانې قصه شوه .

– 42ډيره اوږده شوه. نکل يې دادي : چې شيطان اويوسړي په لاره ملګري شول ،شيطان ورته وويل .چې يوبل ته په شاکيږواوسپورسړی به کيسه کوي کله چې کيسه خلاصيده نوبيابه دابل په شاکېږي اوخپله کيسه به کوي ،سړي وويل ښه ده ځوك به مخکې په شاکيږوشيطان وويل چې زه به مخکې درپه شاشم ،چلي اوهوښيارسړي ورته وويل ډيره ښه ده اوته راپه شاشه ،لنډه داچې شيطان يې په شاکړپه شيطان خوډيرې کيسې تيرې شوې دي اوفکريې کاوه چې زماکيسه به اوږده وي اوپه سړي باندې به ترډيره ځايه پورې ځان ورسوم اودکابل نه يې داکيسه ورته راواخيسته خواخرپه يودوه ساعتو کې تمامه شوه ،اووارد‌سړي راغی، شيطان ته ورپه شاشواودپندانې کيسه يې پيل کړه اوپه لاره روان دي ا وويل به يې نه وه، نه وه يوپندانه وه ،اونه وه نه وه يوه پندانه وه ، نه وه نه وه يوه پندانه وه ، بس سړي همداالفاظ ويل په دې کې ډيرساعتونه تيرشول اوبې دمې روان ووځکه چې دوي ويلي وو چې دمه به په منځ

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې نه کوو، اخرشيطان سترۍ اوتنګ شواوسړي ته يې کړه چې ځنګه کيسه دې لاخلاصه نه ده سړي ورته وويل چې شيطان جانه ماخولاواوس کيسه شروع کړه .

– 43دپخلادښمن نه ځان ساته.

– 43ددښمن زړه نه سپينيږي ولوکه هرڅومګره خوړاوپخلاشي . احتياط په کاردی.

– 44دپاچانزديکت اوردی .

– 44يابه ورته خپله پاچاکله په قهرشي اويادپاچاهۍ نه وروسته به دهغې دښمنانونه په غذاب شي.

– 45دپراچه موټی دی.

– 45پراچه زمونږپه وطن کې هغه چاته ويل کيږي چې دوکانداری کوي چنې ، مميزاوداسې نور خرڅوي دوکاندارچې کوچنيانواوياسوالګروته څه ورکوي نولاس دوړاندې نه موټی کړي اوټوکرۍ ته يې ورښکته کړي ، اوهسې يوڅودانې چې دګوتودڅوکوسره ښکاري مګرپه موټي کړي دومره څه نه وي سوالګراوياماشوم ته په ځولۍ کې ورواچوي . اوس چې کله څوك وغواړي چې بل کس تيرباسې اولږ ورته ډيرښکاره کړي نوبياخلك داوايې.

– 46دپاسه مسْله راغله په درست جهان خوره راغله.

– 46يعنې په يوکس نه ده په ټولوده .

– 47دانسان مخ دخداي له نوره دی .

– 47چې يوکس چانه څه وغواړي اودغه کس يې ورکړي په دې وخت کې يوبل کس په دې کارخپه شي اودې لومړي سړي ته ووايي چې ولې دې داکاروکړنوموړی سړی په ځواب کې داسې وايي ياره دانسان مخ دخدای(ج) دنوره دي يعنې زه تري وشرميدم اوحياراغله.

– 48دپيشودوژلوشپه ده.

ـ 48کيسه يې داسې ده چې يوې ښځې دخپل ميړه خبره نه منله بله ورځ ددې سړي ورور هم واده وکړ او دواده لومړۍ شپه ده زوم (شاو) دپالنګ تر څنګ يوه پيشو ترلې وه کله چې شپه قراره شوه او زوم خپلې کوټې ته شوپه څنګ کې يې په تيکي کې توره ده چې ګوري پيشو ولاړه ده کله چې سړي وليده نوډيرپه قهراوغضب يې پيشوته وويل چې وځه مګر پيشو خو ترلې وه او وتلای نه شوه ددې سره سم زوم خپله توره له تيکي راويسته او په دې وخت کې ناوې خپل ميړه ته په څنګ ګوري چې داڅه کوي خو سړي په پيشو ګوزاروکړ او پيشو يې په منځ دوه کړه دغې ښځې دخپل ميړه ډير اطاعت کاوه او ډيره به ترې ويريدله او ويل به يې هسې نه چې ماهم دپيشو به شان نه کړي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو ځکه ډیره منوونکې وه مشر وروریې چې داحالت ولید چې ورندار یې د ورور پوره اطاعت کوي نو دي خپل کشرورورته یې کړه چې روکیه داستا ښځه ستا څنګه منوونکې ده ؟

کشروروریې ورته کړه چې لالا ماخو دادپیشو دوژلوپه شپه ویرولي ده مشرکړه ښه زه به هم داسې وکړم خیرده زه به هم بیګاته دا کار وکړ ده هم پیشو راوستله او وئي وژله خو ښځې یې ورته وویل : چې کښینه جانجو ګیه داخلك په لومړنۍ شپه کوي.

ــ 49دبلي ونې سوري ته نیالګی نه غټیږي.

ــ 49یوقام چې دبل چاپه غلامۍ کې وي خیرنه شي لیدلای .

ــ 50دبل سوری پرې شوی.

ــ 50نه غټیږي او نه لویږي یعنې پر مختګ نه شي کولای.

ــ 51دبدو به بد مومي.

ــ 51چې چوك بد کوي بد بهویني.

ــ 52دبل په غاړه چاړه تیره کوي.

ــ 52په بل خپل زور معلوموي بل دخپل ظلم وسیله او اله ګر ځوي .

ــ 53د بنګړ وباردی.

ــ 53هیڅ شی هم نه دی. په ترینګلۍ له منځه ځي.

ــ54داناااوګره ده په ځکلو خلاصه شوه.

ــ54یوشی چې ډیرلږوي.

ــ55دټوکې نه پټاکه شوه.

ــ55له ټوکي نه شرراولاړشو.

ــ 56داخرت سختې خوارۍ دي.

ــ 56داخرت له پاره بایدمسلمان توښه ولري.

ــ 57داوسپنې نه غُل پاتېکیږي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ 57دښه اوميږه سږي نه بې کاره اولاد پاتېکيږي البته دځينونه.

ـ 58دانځرگل شوې.

ـ 58نه ښکارې.

ـ 59داولادبد چاته نه ښکاريږي.

ـ 59اولاد دومره خوږوي چې بد کاريې ځينو ته بد نه ښکاري .

ـ 60دپادوان پخپله غوا نظروي.

ـ 60هر څوک په خپلو زهير وي.

ـ 61دپاسه ښه رنگين دی دننه يې زړگی خوړين دی.

-61په ښکاره خوښ ښکاري مگر دننه ډير غمجن دبيا ښکاره ژونديې ښه دی مگر له کوره يې خبر نه شې.

ـ 62دپادوان گټه په ..... تنکيوکوټو کې ده.

ـ 62دکارگر گټه دکارپه ښو او تا زه شيانوکې ده.

ـ 63داو ښ تالو دی.

ـ 63غاښونه نه لري يا په سر ويښتان نه لري يا داچه سور سر دي.

ـ 64داوښ پل يې جوړکړ .

ـ 64يعني کار ترې ونه شو.

ـ 65دبې صبره دي بيخ ووځې وايي ماته يې په لمن کښې واچوه.

ـ 65دتلواريانو په هکله ويل کيږي.

ـ 66دتورې شپې غل دی.

ـ 66څرگند نه دی.

ـ 67دټيپروپه تول يې ورکړه.

ـ 67ډيره ارزانه او مفته يې ورکړه.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ 68دجوړ و نايی دی.

ـ 68هسې تود ، تود کيږي.

ـ 69دجمعې مړی شو.

ـ 69يوپه بل يې سپاري او سرته يې نه رسوي.

ـ 70دجولامنډه دموږي پورې وي.

ـ 70لنډاك دی او اوږ ده دوستي نه شي کولا ی يا دده همدو مره توان دی.

ـ 71دجومات تنبه ده.

ـ 71هيڅ نه لري ، يعنې خپل خپلوان نه لري.

ـ 72دجواری موټی دی.

ـ 72يابه ګته شي يا به تاو ان شي.

ـ 73دجب نه اوبا سه پيسې وربانديې وخوره پتاسې

ـ 73ورکړه او وخوره.

ـ 74دخيرپه غونډی ناست دی

ـ 74نور خلك يي په خپل منځ کې په شرا خته کړي او دی ورته ګوري يا داچې په هيڅ کې کارنه لري.

ـ 75دخنداپسې ژړاشته.

ـ 75خندا ژر په سر ماتيږي.

ـ 76د خپلې کوټې واورې په بل اچوي.

ـ 76خپل غم په بل اچوي،خپل شرم په بل باروي.

ـ 77د خرې دومره شيدې دي چې د خپل کوټې يې کيږي

ـ 77دومګره ګټه يې ده چې پخپله يې ايله بسي شي.

ـ 78د خوشحالۍ ياران ډير وي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



_ 78د راحت ملګري ډیر وي.

_ 79د خیرات خوا کې ډېر کوي.

_ 79یو څوك چې په غوړ ځای کې ګرځي او یا د غوړو خلکو پسې ګرځي یعنې د یو څه په تمه وي.

_80 د خارې مرز دی.

_80وړیا ګټه ده.

_ 81د خپلو سره جنګ دښیښې درز دی.

_ 81بیا له زړو نونه خپګان ژرنه وځي.

_82 خوارې کونډې زویه خپلې روټې ژویه.

_ 82یعنې چې غریب یې د غریبۍ ژوند کوه.

_ 83دا حوض څوکاسې دی.

_ 83دا کار په څومره تاوان کیدای شي. یعنې که کار غټ و تاوان یې هم ډیردی او که کار کوچنی و نو تاوان یې هم لږ دی. دا مانا که کاسه د حوض هومره وه نو یوه کاسه او که زرمه برخه یې وه نو زر کاسې دی.

_ 84د خوارۍ ژرنده ساتې د کبره یې مزد نه اخلي.

_ 84خوار کبرجن دی.

_ 85د خره په تندې کې محراب نه وي.

_ 85په بې عقله کې نښه نه وي.

_ 86د خره مینه لغته ده.

_ 86د بې عقلو په دوستۍ کې مې تاوان دی . کم عقله که د چا سره بد وکړي هم فکر کوي چې ګوندې ما ښه کړي.

_ 87د خیر نه مې دې توبه سپې دې کورې که.

_ 87خیر بیخې مه رارسوه ، خو تکلیف هم مه رارسوه.

_ 88د خوږې ګوتې نه نیول کوي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ 88سړی اړباسي.

ـ 89د خولې نه يې اور پورته کيږي .

ـ 89ډير جراره پوه او عالم دی.

ـ90 د خوږ لاس غونډې يې د زړه پورې نيولی دی.

ـ 90ډير پرې قدرمن او ګران دی.

ـ 91د جولا د ننګورتيز شو.

ـ 91يو جولا زوی ته ښځه کړې وه، کله يې چې راواده کړله .ناوې په پخلي مخلي نه پوهيده خو په توشك ښوګريده او يو غټ تيز يې اچولی و، نو چاچې به يې د خواښې او خسر نه پوښتنه وکړه چې ننګور دې څنګه ده په کار مار پوهيږي او که نه؟ نور صفتونه يې نه دګرلودل، يود هاضمې د صفايۍ صفت به يې ورته کاوه چې خدای(ج) دی لرې پرون په توشك ناسته وه او داسي غټ تيز يې واچوه.

ـ 92دخرې څټه ورکه شه دښځې ګټه ورکه شه .

ـ 92دواړه کمزوري اوضعيفه دي. خره بارنه شي وړلای اوښځه دنرپه شان کارنه شې کولای.

ـ 93خپل لونه لورمه پټوه.

ـ 93دخپل کارنه ځان مه ګوښه کوه.

ـ 94دخوار ملا په اذان څوك کلمه نه وائي.

ـ 94دعاجزاومسکين سړي ښه خبره هم څوك نه مني .

ـ 95دڅادر نه پښې مه اوباسه .

ـ95دخپلې وسعې سره سم چليږه.

ـ 96دڅپلۍ ګردته يې هم نه شې رسيدی.

ـ96دهغه سره هيڅ دپرتلې وړنه دي .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ 97دچراغ لاندې تياره وي.

ـ 97داهغه وخت ويل کيږي چې دښيګڼې په وخت کې له يوسړي خپل نږدې خپلوان هير شي او پاتې شي اولرې خلکوته يې خير ، ښيګڼه ورسيږي .

ـ 98دچرګې دنيولودی.

ـ 98يعنې ښه دی لږ غټ شوی دي .

ـ 99دچرګ دمالګې دڅښلوسره څه دي .

ـ 99چې يوڅوك په يوه کارنه پوهيږي نوهغه کار دې نه کوي .

ـ 100دچادسترګو نه خلی نه اوباسي .

ـ 100ډير بې خيره دی يعنې چا ته ترې ګټه نه رسې .

ـ 101دچل ياري سرته نه رسيږي .

– 101دمطلب دوستي ترپايه نه رسيږي .

ـ 102ددوزخ خپسه پرې ناسته ده .

ـ 102ظالم سړی ورباندې واکدار دی.

ـ 103ددله سپيه چې غاپې نه بوخ خوکښينه.

ـ 103که کار درځني ګ نه کيږي نو لږ چالاکه چالاکه خو ښوريږه .

ـ 104ددرواغو مزل لنډوي .

ـ 104ټول کارونه تراخره په غلطۍ نه تر سره کيږي .

ـ 105ددرمند څخه يې ناپاکي زياته ده .

ـ 105له رښتياوونه يې درواغ ډير دي ، دامانتداری نه يې خيانت ډير دی .

ـ 106ددووه به کوروي ددريم ګړي به مخ توروي .

ـ 106دچوغلګراوشيطان مخ اخر توروي .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ــ 107دډېر وامساء ديوګيږي .

ــ 107يوکار که په ډېرو کسانووکړل شي نو زربه خلاص شي اوکه يوتن ته پاتې شي نو ډېر وخت به پرې واوړي يا که يوتاوان په ډېر کسانو باندې راشي ، نوپه هر يوه به لږې لږې پيسې راشي او که په يوه کس راغلو نو ډېر به يې خراب کړي اوهمداسې نور ډېر شيان .

ــ108ددادپورې يې پريږده.

ــ 108يعنې خبره پوره اوريدل په کار دي .

ــ 109دډېر وخويندوورورډی په دنګه ولوېږ کونه وشليده .

ــ 109دډېروخويندو ورور ډېر قدرمن وي . يوځوک يوکس ډېر نازوي نوبيا دغه شخص له ډېره نازه خراب شي .

ــ 110دځوانۍ يوه نيشه وي هسې نه چې هميشه وي .

ــ110ځواني يوخاص وخت لري.سړی چې زوړ شي بايدسوړشي او لاری ته سم شي او نيك نيك کارونه وکړی .

ــ 111دځنګل اوردی زياتيږي اوکميږي نه .

ــ111داسې ژراوپه اسانه نه خلاصيږي .

ــ 112داخوله که زماوای مابه پرې .... خواړه .

ــ112يوسړی چې ډيرې بې باکه خبرې کوي اودرواغ وايي اويانورچټيات وائي نوبيا خلك ده ته داوائي .

ــ113ددوه پښوسړيدی.

ــ113خپله لار به وهي اوځي به . يايوځوك يوبې باوره سړي سره څه مالګي معامله کوي اوضامن ترې نه اخلي بيا داوائي.

ــ114ددښمن په خوړومه تير وځه.

ــ114دمير ځي اوبد خوا په پستواوخوړوخبروبه نه تيروځې.

ــ 115دزاخيلوسپی‌ترې جوړه شوه .

ــ 115نکل يې داسې دی : دکامې دزاخيلواودثمرخيلوترمنځ کابلی اوکونړي سيندبهيږي دزاخيلويوه سپی وه ، چې چيرته به يې پورته شوي لوګي وليدل فکربه يې وکړچې ګونډې خيرات باندې دی يوه ورځ دثمرخيلوپه کلي کې لوګی پورته شوسپی سمدستې په سيندورلاهوشوه اوپه دې وخت کې ديخوادشين کميسوپه کلي کې هم لوګی پورته

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوخودالوگی دثمگرخیلوترلوگي ډیرښکاره کیده کله چې سپی٘ دالوگی ولیدنوبیرته یې دزاخیلوپه لورې لامبووهل پیل کړل ، لنډه شیبه لاتیره نه وه چې دالوگی ورك شو، اودثمرخیلولوگي بیاتازه شوي و، سپی٘بیرته دثمرخیلوپه لورې لامبووهل پیل کړل چې یوڅولاسه یې واچول دثمرخیلولوگي بیاتت شواودزاخیلولوگی بیاتازه ښکاره شواوسپی٘ بیادزاخیلوپه خواراوگرځیده لنډه داچې کله به یو لوگی زیاتیده اوکله به بل په دې وخت کې سپی٘ ډیره ستړې شوه اودلاده بادولویده اوبالاّخره سیندپه مخه کړه اومړه شوه .که څوك په خپل ژوندکې (متردد اودوه زړي وی نوهیڅ کله به بری حاصل نه کړي )

–116دزمري زړه لري .

– 116ډیرزړه وراوشجاع دی .

– 117دړندوپه بازارکه راغلې په یوه سترگه ته هم لاس کیږده.

– 117یعنې چیرې چې اوسیږي دهماغوخلکوپه شان خوی کوه

– 118دشولوځړی دی.

– 118یعنې نورڅه دکارپه کې نشته هسې دانسانیت نمونه ده، زمونږپه وطن (کامه) کې چې شولې پخې شي یعنې وږي یې ژیړ شي ، چرچنې ډیرزیاتې وي دشولوپروږویوباندي کښیني اوشولې خوري نوبیاددې له پاره چې دغه چرچنې وډاریږي اوشولې ونه خوري دهقان یوزوړاوتورکمیس رااخلي اوپه تنه کې یې لرگی ورننباسي اودپټیوپه منځ کې یې ودروي ، نوبیاپرې چگرچنې دانسان گمان کوي اوشولوته بیانه راځي.

– 119دړندودلاس امساُده .

– 119یعنې دناپوهانولارښوددی .

– 120دړندوسترگواوښکه ده.

– 120ډیرې نایابه اوقیمتي دی .

– 121دزمري ورورډی .

– 121ډیرزړوردې.

– 122دزمري په خوله کې هم خیرغواړه .

– 122ډیروسختیوکې هم خپل همت دلاسه مه ورکوه .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



– 123دزورورمخې ته مه ځه او داّس شاته مه ځه

– 123مانادواړوکې خطرشته .

– 124دزوم ختِه دخسردکاله وي .

– 124په زوم کې ځينې داسې خويونه وي چې هغه يې په خسرخيلوکې هم وي.

– 125دزوراّوراوبه په پيچومي خيږ ي .

– 125ماناداچې په زورسخت کارهم کولاي شي .

– 126ددرواغوګوډې دی.

– 126ډيردروغجن اوزيات ګودی .

– 127دسپي دغپ پسې مه ځه.

– 127تحقيق وکړه داوريدوپسې مه ځه .

– 128ديوسړي مارپه ګيډه تيرشوخفه واوويل يې چې دايې لارشوه.

– 128دمضرشي نه اخرسړي ته ضرراوتاوان پيښيږي.يالاريي راباندې جوړه شوه

– 129دسترګواغزی دی.

– 129مخکې خنډدی يعنې مانع دی.او ډيريې بديسي

– 130ددوبي کورداخترپه ورځ معلوميږي .

– 130يو سړي چې په سوالی شي ځان ترخلکوغوره ګڼي.

– 131دزروقدرپه زرګروي .

– 131يعنې دهرشې په قدرهرڅوك نه پوهيږي ، يواځې پوه اومسلکي خلك پرې پوهيږي.

– 132دسروپيزوانه ګړنګوزوړکړې .

– 132ښه شی دی خوداناااهلوپه لاس کې دي .

- 133دسلوغويانوخاونديولنډي ته ودريږي .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



– 133کله کله دقدرت خاوندان ډیروعاجزواوغریبوخلکوته اړیږي.

– 134دښمني دسرې اوردی نه مړکیږي .

– 134دغه بدي اوشخړه به ترډېره پورې وي.

– 135دشرم تیزدکونې په سروي.

– 135دچاچې دسپیکیدلواوشرمیدلوقسمت راشي لږڅه ورته پلمه شي.

– 136دشګونه پړي نه غښتل کیږي .

– 136دیوناشونې کارپسې ګرځیدل دوخت ضایع کول دي.

– 137دسپې مرګ په ګیدړاختردی.

– 137ددښمن په تکلیف باندې دښمن خوشحالیږي .

– 138دسلوکالوموړیه سلوکالوکې نه خواریږي .

– 138اصیل سړی که خوارهم شي بیاهم خوارنه دی ځکه چې خوبیې موړ وي.

– 139درستم نوم درستم نه ښه دی .

– 139دځینوخلکونه ظاهراًاوجسماً دیوه کارتمه نه کیږي خودهغوي نه به ډیرغښ ،درانه او مانادارکارونه کیږي .

– 140دښارنه زه راغلم دنرخ خبرې ته کوې .

– 140ځیني خلك دخپل ځانه په یوکاریایوه موضوع کې خبرې کوي اوپه اصل کې به په هیڅ خبرنه وي .

– 141دسلوکالووږي په سلوکالوکې هم نه مړیږي .

– 141کم اصله اوبې نسبه سړی که هرڅومره دولتمندشي بیاهم یې سترګې وږې دي .

– 142دسوال دژوندنه مرګ ښه دی .

– 142دبې همتۍ دژوندنه مرګ ښه دی .

– 143دسیندنه مړي چاګټلي.

– 143دورك مدعې نه غچ نه اخیستل کیږي .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



– 144دسلوقصابانوونډې ده.

– 144په ډيروکې کارخرابيږي.

– 145دسلوبللوځای کيږي خوديونابللي نه .

– 145ځکه چې نابللی ناګڼلی وي .

- 146دسيوري ونه خورمانه نيسي .

– 146بې تکليفه اوبې مشقته مقام ته رسيدل ګران دي .

– 147دسختۍ نه څوك نه مري .

–147دمصيبت اودغم دسختيونه څوك نه مري .

- 148دسروګلوبدمه وايه .

–148دښوخلکوپسې بدمه وايه .

–149دسوال په اوبوژرنده نه ګرځي .

149دبل په ورکړه څوك ژوندسرته نه شي رسولای .

– 150دسورنا چي يوپف دی.

– 150داّمراودواکمن يوامرکافي دی .

– 151دسپي سترګې يې دي .

– 151کلك سترګی اوبدسترګی دی .

- 152دشکانړه غل دي نه خس دي نه سره .

–152هيڅ ترې نه جوړيږي يعنې بې مانادی .

- 153دشعرمعنې دشاعرپه خيټه کې ده .

– 153هرسړي ته خپل کارمعلوم وي اوپرې پوهيږي .

– 154دشړې لنګ يې وهلی دی .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



– 154ډيرمسکين دی .

– 155دسپيورمه نه وي .

– 155دبدو خلکو ډله نه لوېږي .

– 156دسره غمي په شان دی.

-156ډيرلائق اوښکلی دی.

– 157دشنه آسمان ږلۍ ده .

– 157يوافت اوبلاده ياهسې پرړن اوغراوودي .

– 158دسرويښتان يې په کې سپين شول.

– 158ډيره تجربه په کې لري.

– 159دنغري په غاړه جنت غواړي .

– 159بې زحمته راحت غواړي.

– 160دللون کونه حساب نه ده .

– 160يوسړی چې عقيق نوميده په شولوکې يې للون اوخشاوه کوله لنډاوشکيدلي پرتوګ يې په ځان کې ؤ چې زمونږپه ژبه کې ورته چوتی وايي . اوکميس يې هم په تن کې نه و،ددغه زاړه اوشکيدلي پرتوګ څخه يې لږکوناټی ښکاره کيده يوچاپري غږکړچې عقيق ماماکوناټی دې پټ کړه ، عقيق ماماورته کړه خوری جانه په للون کې که کونه ښکاره شوه پروانه کوي.

– 161دشولوبې پريښودل او دپروړوبې راونيول .

- 161غټ غل يې پريښوداوکوچني غل يې راټينګ کړ.

- 162دسترخوان ته يې مه ګوره اوچولې ته يې ګوره .

–162يعني اخلاص ته يې وګوره .

– 163دشادکتلوپه ځاي مخکې ګوره .

– 163راتلونکی ژوندپه پام کې ونيسه .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



– 164دشپې هرسړی ډاریږي څوك حال وایي اوڅوك يې نه وایې.

– 164غمونه اواندیښنې په هرچاراځي څوك يې مقاومت لري اوڅوك نه .

– 165درنگ ته مالگه مه وړه .

– 165په کوم ځای کې چې یوشی ډیروي ، هلته همداشی دگټې وتې گله پاره مه وړه.

– 166دپسرلي باران دی .

– 166یوه شیبه ده نورڅه په کې نشته .

– 167دقارون دنیاده .

– 167دشوم اوبخیل سړي شته دي ، چاته تري خیرنه رسي.

– 168دادپټي سردی پټی وروسته سورودی.

- 168دالادکارابتداده کارخووروسته غټ دی .

- 169دشیطان په خره سوردی .

- 169ټول اسباب اووسایل دغلطۍ اودشیطانۍ ورسره دي.

– 170دسپي مرگ ترې ښه دی .

– 170چې یوسړی په بدکاراوبده لارکې مړشي نوبیاداویل کیږي .

– 171دچاغران دچابگیل مړزشو.

-171پخوابه خلکومړزان جنگول اوشرطونه به يې پرې تړل ، چې په دغه میدان کې به ځینوخلکواوبه گرځولې اوځینوبه ځادرلاندې باندې په مړزانونیولي اواچولی و، کله به چې مړزجنگي خلاصه شوه اوخلك به رخصتیدل ، چاچې به دغه جواري گټلې وه ،نوداوبوگرځونکي ته به يې یوغیران ورکړ،چې دیوي افغانۍ نیمایې برخه وه،اوځادروالاته به يې هغه بگیل اوتښتیدلی مړز ورکړ نودامتل ترې راپاتې شو.

ـ 172دپیښې نه تیښته نشته.

ـ172تقدیرچې څه لیکلي وي هغه کیږي.

ـ 173دپنځه جریبه ځمکې نه یو مرید ښه دی .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



_173څوك چي مريدان ولري د پيسو او دولت كمی يې نه وي .

_174درنګريزخم دی.

_174يوه ټولنه او چاپيريال سړی په خپل رنګ رنګوي.

_175درب سر وهي عرب يې په سروهي.

_175درب يو ځيړ بو ټی دی چې څاروي يې هم خوري او كه له بيخه يې څوك را او باسي بيخ يې هم يو انداره كلك دی او په نغري او تناره دواړوكې سو ځول كيږي پخواوختونوكې ونې اوبوټي هم ډيرنه و،عربان به زياتره په دوبې كابل ته او په ژمي كې به ننګرهارته راتلل او ددربو څخه به يې هم دواښو او هم دخس خاشاكو كار اخيسته ، نو چې كله به د دربو بوټي سرو واهه نوبيا به دوی وهلي و.

176دحريص كاسه چپه وي خوله ئي سپيره وي.

_176د حريص مړيدل نشته.

- 177دټيكې سرشو.

_177دخلكو خولې ته ولويد، او هرسړی يې ياد وي.

- 178دژبې پر هرنه جوړيږي.

_178كه په ژبې دې څوك خپه كړ په ژوند به يې هيرنه شي .

- 179دغوادپښو وتی دی.

_179يعنی له خطر ووت او په خپلو پښو ولاړ دی.

_ 180دغوړيو زور دقرتو نه او باسي.

_180ديو په ځای بل ته زجر وركوي.

_ 181دغوړلستوڼي ياردی.

_ 181دشتمنو دوست دی.

_ 182د ښونه ښه پيداكيږي دبدونه بد.

_182ښه ښه زيږ وي او بد بد زيږ وي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



_ 183دتړنګې بیزو نه وه دروپۍ ځنځیر یې وتښتاوه.

_183یو سړي په یوه تړنګه بیزو اخیستې وه او په یوه روپۍ یې ورته ځنځیر واخسته بله ورځ بیزو ځنګله ته وتښتیده او هرڅه یې یوړل اوس چې یو سړی په یو بې ارزښته کار باندې ډیر مصرف کوي نو بیاخلك ورته داوایي .

_ 184دبدونه هم لرې هم غلی.

_184له بدوخلکو باید سړی لرې وګر ځي او په بدو کې هیڅ خوله ونه ښوروي.

_ 185دسپي خوی یې دی.

_ 185ډیرسپك، بد اخلاقه او بد ژبی دی.

_ 186دسپي سریې ترې جوړکړ.

_186سپك یې کړ.

_ 187دسلوشاباسونه یوه روپۍ ښه ده.

_187روپۍ دکارکونکي په کار راځي او شاباسی به یې دکوم درد دواشي

– 188دغلې بلانه ویره په کارده

-188دمرماري انسان نه ویره په کارده

– 189دسپي په کودي کې یې ورکړه

– 189ډیریې خجالت کړاووېې شرماوه ،ویې رټه

– 190دډبګرۍ اجړادی .

– 190سړیتوب نه لري

– 191دغم تغریې غوړولې دی

– 191مصیبتونه غمونه اوبې اتفاقۍ پیداکوي

– 192دبې اتفاقه خلکوجمع کول دچنډخانوتول دی

– 192راټولول یې ګران اوستونزمن کاردی

– 193دخپل خره تیزپیژنم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



193– زه چې څوك پيژنم د هغوى كړه وړه ماته جوت دي

194– دغره هوسۍ دغره تازيان نيسي.

194– هرسړى دخپل كلي په نرخ اونوا،دوداودستوربښه پوهيږي. يادخپلې سيمې دوګړيوسره پخپله سيمه وال په كارونوښه پوهيږي.

195– دغله لاس چې كوركې ولګيدبركت يې والوت ،

195– دغله پل ډيرسپيره وي په كوم كورچې سم شي هغه كوربياپه ډيره موده كې نه كور كيږي.

196– دشيعه په ليمخې چې كښيناستې وړۍ ترې باسه.

196– يعنې چې ته يې نه خوښيږې هغه ته تاوان اړه وه ، ځكه چې شعيه ګان دسنيانوسره هيڅ دوستي نه كوي.

197– دغله په ږيره خس وي

197– يوپاچاواودملك خزانه يې غلو وهلې وه ، ډنډوره يې وغږوله اواعلان يې كړه چې سبادې ټول رعيت فلانكې ځاى ته راشي ، چې هلته پاچاځه خبرې كوي ، اوكه هرڅوك رانغې هماغه غل دى ، دښارټول خلك په ټاكلي وخت راحاضرشول پاچايوهوښياروزيردخبروله پاره وروليږه وزيرخلكوته مخامخ ودريد اوخلك ناست وو، وزيردډيروعظ اوسپارښتنوورروسته وويل، چې ماته غل معلوم دى ځان دې نه پټوي زه يې ګورم دغله په ږيره خس دي يعنې ډكې نښتې دي ، ددې خبرې داوريدوسره سم غله په خپله ږيره لاس راتيركړچې خاشه ترې پريوزي داسړى وزيرولېداوورغږيې كړچې ته دلته راشه.

198– دغله مورپه غلاژاړي

198– غل چې دغلاپه وخت ووژل شې ورته يې د خلكو له ويري مړي نه شي وړلاي په دې خاطرچې رسوانه شي نوځكه يې موردځان سره پټه پټه ژاړي اوخپل زړه سپكوي.

199– دغريب سړي دخيرات په ورځ غواوركه وي

199– دخوارسړي ددنياپه نعمتونوكې برخه خواره وي.

200– دشملې ګل دى

200– ډيرقدرمن دى

201– دڅاڅكونه سيلاب جوړيږي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



– 201دیویوټکي په زده کړه سرې عالم کیږي یادلږخه نه ډیرخه جوړیږي

– 202دغنموله رویه ځوز هم اوبه کیږي

– 202دښوخلکوله برکته بدو خلکوته هم ګټه رسیږي

– 203دچړمړی دی

– 203بې څوکه دی

– 204دټانټوکټ دی

– 204ضعیف اوکمزوری دی

– 205دفیل غوږ کې ویده دي

– 205بې خبره دی .

– 206دقربانۍ ګډوری دی .

– 206ډیرتیاراوخرب دی.

– 207دقارغه روژه ده په غلو ئې ماته کړه .

– 207یوکس چې کله ترې بدکارنه وي صادرشوی اویوناڅاپه ترې یوبدکاروشي نوبیاخلك داوائي.

- 208دخوړهره تیره من نده.

– 208په سریوکې یوسرې چیرې سرې وي.

-209دصبر میوه خوږه ده.

-209زغم ښه شی دی خدای(ج) پرې انسان ته اجر ورکوي.

-210دطالبانو غویشو.

-210نکل یې داسې دی: په یوه جومات کې د یوه مولوی صاحب سره ډیر طالبان دیره وو او سبقونه یې ورته ویل. یو مالداره سړي دخیرات په نیت طالبانو ته یو ژوندی غویی راوست. طالبانو دجومات تر څنګ په مړوي وتړه او بیا به هر طالب راتلو او دغوایي خوله به یې خلاصه کړه او غاښونه به یې ورته کتل، تر ماښامه داکار روان و، غوایی نور عادت شو او خپله خوله یې خلاصه ونیوله.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



-211دكانګړي په ټس کې لاړې بټګرامه.

-211دشبقدر ډيرۍ لمرخاته ته يو کلی دی چې پخوا زمانه کې يو غټ هندو په کې او سيده، ددغه هندو يو زوی و او يوه يې لور وه. دورځونه يوه ورځ وه چې غلو ورته مسلات وکړ چې دهندو لور به راوتښتوو. هندو به يا پيسې راکړي او که يې رانه کړې نو په لور به يې نکاح وتړو او مسلمانه به يې کړو دشپې غله دهندو په کور ورواوښتل او دهندودکور نه يې يو تن راوتښتوه چې ددوی پرې دکانګړي ګمان راته دلارې په اوږدو کې يې پرې مخ لوڅ کړ ګوورې چې دهندو زوی بټګرام دی غلو پخپل منځ کې سره وخندل او دايې وويل چې د کانګړي په ټس کې لاړې بټګرامه.

-212دقربان نه دې معلوميږي چې چرسي يې.

-212په چرسي سړي چې غږ وکړې وايې قربان څه وايې کوم سړي ديوه چرسي نه پوښته وکړه چې ته څوك يې چرسي ورته کړه قربان فلانکي مې نوم دی، سړي ورته کړه چې ته خو چرسي يې کنه، چرسي بيا کړه نه قربان، سړي ورته بيا وويل دقربان نه مې معلوم کړې چې چرسي يې.

-213دکوربه په پسه زړه کيده دميلمه په هډوکي نه کيده.

-213يو سړي ميلمه ته پسه حلال کړی و، کله يې چې حجرې ته ډوډۍ راوړه، دکوربه سپی هم ورسره جوخت راووت او دحجرې په دروازه کې يې خپلې پښې وغځولې او سريې پرې کيښوده او دوې ته يې دهډوکي په انتظار ورکتل دميلمه په لاس کې يو غټ هډوکی و او خوله يې پرې وهله، کوربه ورته کړه چې بس دی نور يې دی سپي ته ور ګوزار کړه، ميلمه ورته وويل چې زړه مې پرې نه کيږي ډير خوږ هډوکی دی.

-214دکبر کاسه نسکوره ده.

-214کبر جن آخر خواريږي.

-215دکور ګټه دډهلي ګټه ده.

-215دکور په لګښت چې سړی يو څه لاس ونيسي او په اندازه يې وکاره وي داګټه تر هر څه ښه ده يا دا چې دخپل کور تر څنګ چې کار او خواري وي تر بل ځايه غوره ده او هغه ځکه چې شپه به يې په خپل کور وي.

-216دکور په کار دکور ميرمن ښه پوهيږي.

-216نابلده کس په پردي کار څه پو هيږي.

-217دکر واړې چج دی اواز يې شته دانې يې نشته.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



-217کرواړه دحاصل دپاتې شونو راټولولو ته وايي، څوك چې ګدرمند واخلي او دهغې نه وروسته په ګونډي او کامبوري او خاوره کې يوه نيمه دانه پاتې شي بيا نو غريبې او کونډې ښځې دغه خاورې او خيګې راټولوي او چج کې يې څپ وهي او چج پورته پورته ارتوي چې په دې وخت کې چج اواز او ښکالو زياته وي او دانې نه وي نو دې عمل ته کرواړه وايي او په دې هکله يو بل دسترګو ليدلی نکل داسې دی: دشاهي دورې په ورستيو شپو کې کله چې شهيد محمد موسی شفيق دملك صدر اعظم و، دکامه والو اوبه لګړې شوي وې او دکامې سر بند سخت شو، نو دکامې سپين ږيري راټول شول او کابل ته ولاړل او غوښتل يې چې دسربند دستونزې دحل په خاطر دحکومت څه مرسته لاسته راوړي نو په دې نيت دوخت صدر اعظم محمد موسی شفيق صاحب ته ورغلل، چې په دغه وخت کې دصدراعظم سکرتر ارواښاد محمد ګلاب ننګرهاری صاحب و سپين ږيري ننګرهاري صاحب ته ورغلل چې دملاقات وخت وټاکي، ننګرهاری صاحب به بيا ورته کړل چې ښه ده او ښه ده په دې کې څوورځې تيرې شوې او ننګرهاري صاحب به هره ورځ همداويل چې ښه ده او ښه ده وبه شي خو موقع نه برابريده په دې ډله کې يو تن ملك چې حمدالله صاحب نوميده او دکامې دګهك دقريې ملك و خدای بخښلی ډير ظريف او صادق سړی و او دننګرهاري صاحب سره يې ډير ګپ شپ و. نو اخر دملك صاحب زړه تنګ شو او ننګرهاري صاحب ته يې کړه چې دکرواړې چج يې اواز دې شته او دانې درکې نه شته.

په دې خبره پخپله ننګرهاري صاحب او نورو سپين ږيرو ښه په اخلاص وخندل.

-218دکوز کلي پخه نه وه دبر کلي تيره وه.

-218يو مسافر په لار تللو او دوه کلي سر په سرپراته وو مسافر ورې وبرکلي ته ورغی دهغی دډوډۍ وخت تير و بيا کوز کلي ته ورغی او دکوز کلي عادت داو چې ډوډۍ به يې مازيګر څلور بجې خوړه او دمسافر تلوار و او بالاخره مسافر ددواړو کليو نه وږی تير شو او مسافر خپل کورته ورسيده، او سم دستي يې ډوډۍ وغوښته دکوروالا ورته وويل چې څنګه داسې وږی يې ته خو په ودانو کليو راغلې؟ نو بيا ورته سړي وويل چې دکوز کلي پخه نه و. او دبرکلي تيره وه .

-219دګورشپه نه په کورکيږي.

-219چې نيته پوره شوه بيا پاتې کيدل نشته.

-220دکونډې که دروازې دسروشي هم خوله يې خواره وي.

-220کونډه که هر څومره مړه شي، نو بيا هم دبچيو په اّينده ژوند ويريږي او وايي: داسې نه، چې خدای (ج) نا خواسته وږي نه شي.

-221دغم لايقه ابۍ ده.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



-221په یوه کور کې ماشومان دچرګۍ په غاړه ناست وو او مور یې هم ورسره ناسته وه او یو ځای یې سره ډوډۍ خوړه. پلار یې ورته، ویل ،چې خورئ بیګاه ته درکې یو........ په دې کې ماشومان وویریدل او دډوډۍ نه یې لاس ونیوه او هك پك پاتې شو ل، نو مور یې ورته غږ کړ، چې خورئ، خورئ دغم لایقه ابی‌ده. هر څه چې وي ماته پیښه ده.

-222دکوچې کټی شوه.

-222پخوا کوچیان ډیر غریب وواو له کابله به،چې راغله زیاترو به کټوې خرڅولې چابه خوړه وله کوله او خرڅوله به یې. یو کوچې په چا کټوه خرڅه کړې وه. بیا به یې، چې کله کټوې راوړلې، نو په هغه پخوانې سړي، چې کټوه یې پرې خرڅه کړې وه، نو شپه به یې پرې اړوله او پوښتنه به یې ترې کوله چې کټوه څنګه ده، ترډیره وخته داکاروشو او یوه ورځ ددې سړي زړه تنګ شواوویې و، ویل چې دا څنګه هر وخت راځې او دکټوې دقیمت نه یې له ماډیرې وخوړې. کله، چې بیا کوچې راغی او دکټوې پوښتنه یې کوله. دسړی زړه تنګ شو. کور ته ولاړ او کټوۍ یې راواخیسته پورته یې کړه او ځمکې ته یې راخلاصه کړه، خو او س دخدای فضل دی دکوچیانو وضعه ښه ده.

-223دکوزې او چلمچې ساز دېولو سازونو نه ښه دی.

-223دکوزې او چلمچې اواز، چې ورې میلمه واوري ډیر پرې ښه لګیږي.

-224دګل غوندې ځواني یې ده.

-224ښه ښکلی ځوان دی.

-225دګل په شان ځواني یې خاورې شوه.

-225په ځوانۍ کې ولاړ.

-226دګوتو په شمار دي.

-226ډیر لږ دي.

-227دکمبو لیوه دی خو له یې وازه ده.

-227کمبو او پتیرۍ په ننګرهار کې دچپرهار لویدیځ ته او دبیهارنه ختیځه ته په غونډیو کې پرتې سیمې دي چې پخوایې ډیرلیوان درلوده. چې ددې سیمې لیوان به تل وږي وو او خولې به یې خلاصې وي نو دامتل دحریص او ډیر غوښتونکي په هکله ویل کیږي.

-228دګل غوندې غوړیږي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



-228ډير ښائيسته او ژر ژر غځيږي.

-229دګوتې دايښو دوځاى په کې نشته.

-229داعتراض او نيوکې ځاى په کې نشته.

-230دکولال منګوټې دي.

-230ټول په يوه رنګ او په يوه ميچ دي.

-231دلاس ګوتې هم برابرې نه دي.

-231په انسانانو کې تو پير شته.

-232دلړمانو مورده خپلو بچيو وخوره.

-232لړمه چې بلاربه شي او بچي يې په ګېډه کې ژوندي شي نو دمور په ګېډه شروع وکړي او دمور ګېډه وخوري او ترې را وځي نو کله چې کومه مور دخپلو بچي نه تنګه شي نو بيا خلك دا وايي.

-233داوبو چاټول دي.

-233دا کار سرته نه رسيږي.

-234دلو ګري، چې لو دلاسه نه کيږي، لور په لوټه تيره کوي.

-234ديو کس چې يو کار دلاسه نه کيږي نو په نه څه به ځان اخته کړي.

-235دمور ګيډه بوخسه ده.

-235مور ښکلي او بدرنګه او لاد دواړه زيږوي.

-236دمور زړه په زوى دزوى زړه په وچ کاڼي.

-236مور په زوى ډيره زهيره وي مګر زوى دمور په شان زهير نه وي.

-237دلاس غوټه خولې ته مه راوړه.

-237کارمه ستونزمنه وه.

-238دمات لوښي اواز ثابت نه وي.

-238نا پوهه او کم عقله انسان دخبرو نه معلوميږي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



239-دمرچك په پوله زه ځم خوله ستا سوځي.

239-تكليف په مادی او چيغې ته وهې.

240-دلارې سترې راستنوي.

240-بې كاره سرې دی ځانته دمحفل او مجلس ياران پيداكوي ياډيرميلمه پال دی.

241-دليوه زوی نه آموخته كيږي.

241-چې ذات يې خرابوي تربيت نه اخلي.

242-دليوه زوباخر ليوه كيږي.

242-بد اخر بديږي.

243-دمغل نه چې ميم لرې شي څه پاتې كيږي.

243-په يوه ټولنه كې چې يو څوك ډير اهم وي او هغه ترې لرې شي نو ټولنه هيڅ شي. يا سړی سړيتوب پرېږدی هم هيڅ شي.

244-دومره خوشحاله شوه لكه مسلۍ ته چې لری وركړې.

244-پخوا زمونږ په ننگرهار كې يو وركوټی قوم و چې دمسليانو په نامه يادیده دغو خلكو به دشتمنو خلكو خدمتونه كول درمندونه يې پاكول دمړي او ژوندي سوال او جوابونه به يې كول، خلكو به ورته په فصل كې څه دانې وركولې او په ښاديو كې به يې نغدې پيسې او دمال لری هم وركولو مگر دمړي په وخت كې به يې يوازې لری وركولو چې په دې به مسلۍ ډيره خوشاله شوه. اوس چې څوك چاته يو شی وركړي او خوشاله شي نو بيا داوايي.

245-دمور او دميرې خوی كوي.

245-ټولو ته په يوه سترگه نه گوري او فرق كوي.

246-دمرگ نه مخكې ژاړي .

246-يو څوك چې دتكليف نه مخكې تكليف ته حيران وي.

247-دمرگ نه مخكې پښې غځوي.

247-دتكليف دپيښيدو نه مخكې يې سپينې تښتيدلې دي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



248-دلیلی دکوځې سپی دی.

248-دیار او داشنا دکلي چې هر څوك وي هغه ښه لګي.

249-دمرګي هیر شې.

249-کله چې یو دوست دښادۍ په شیبو کې له چا هیر شوی وي او بیا ورسره مخامخ شي او ور په یاد شي نو بیا داورته وایی.

250-دمرګ وخت معلوم نه دی.

250-مصیبت او غم چې په چا راځي مخکې ورته خبر نه کوي.

251-دژي دخولې په ځای دژي کونه سپړي.

251-ژی دخرمنې هغه ګوډی دی چې خلك په کې او به راوړي او څوك ورته مشك وایی یو کس دکوچي په کیږدۍ کې میلمه و چې کله یې دژی نه اوبه نه وي څښکلي میلمه دشپې تږی شو را پاڅید، دژي خوله ترې غلطه شوه او دژي کونه یې په چاقو وسپړله لړې او به یې ترې وڅکلې او نوري توي شولې سهار چې کوچۍ ترور راپاڅیده ګوري چې په ژي کې اوبه نشته میلمه ته یې کړه چې دادې څه چل کړی.

252-دمړو واردی دوړیو تلواردی.

252-څوك چې ډیر اړوي دهغوی تلوار وي.

253-دمور نه میره زهیره نه ده.

253-له خپلو نه پردي زهیر نه وي.

254-دمیرې زامن دلیوې زامن.

254-میر یز وروڼه دسړي سره د دښمنۍ رویه کوي.

255-دماتې ژرندې غوندې ګړبیږې.

255-چټې وینا کوي.

256-دنشت میړه نه موزي هم ښه دی چې کټ پرې ډك وي.

256-دهیڅ نه لږ څه هم ښه وي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



257-دریا عبادت نه قبلیږي.

257-بې اخلاصه عمل دهیڅا نه خوښیږي.

258-دومره خوارې سپږې نه یم خوړلې.

258-دومره لابې همته نه یم چې ستا زور ومنم.

259-دمکې نه زه راغلم دحج خبرې ته کوې.

259-په دې کارزه ښه پوهیږم او لارښونې راته ته کوې

260-دلاغړجو اوبو ته دبړو کونه نه ټینګیږي.

260-لاغړ جي دسپین غر په لمن کې یوه ډیره سړه سیمه ده، دبړو یو سړی لاغړ جوته تللی و، دماسپښین دلمانځه وخت راغی او بړوال غوښتل چې او دس تازه کړي، نو دلښتي په سر استنجاء ته کښیناست او اوبه ډیرې یخې وې چې ځانته یې ورواچولې نو دې وخت کې ترې تیز ولاړ او لاغړجیوال واورید نو بیا یې دا وینا وکړه.

261-دمچ په کونه ډبلی منډي.

261-یعنې ناشونی کار ترې غواړي.

262-دملخ سترګې یې دی.

262-ډیرې کلکې سترګې یې دي، حیانه کوي.

263-دماشوم په ژړا خپله مور پوهیږي.

263-هر سړی دخپلو خلکو په غوښتنو او اړتیاوو ښه پوهیږي.

264-دنوك په ځای سوك منډي.

264-نه ځایږي خو ځان ځایوي.

265-دناروغ تسل په طبیب کیږي.

265-داړ اړتیا چې په چا پوره کیږي نو تسل یې هم دهغه په لیدوکیږي.

266-داوړې لوخنې دژمې کتغ دی.

266-ددوبې پاتې شونې په ژمې کې په کاریږي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



-267دونې به عمر وي دمرغۍ به په کې یوه شپه وي.

-267دکور به خپل کور دی او میلمه دلږ وخت له پاره وي.

-268دویش نه په تالان خوښ دی.

-268دچا چې په ویش کې برخه لږه رسیږي نو هغه په چور خوښ وي چې ډېره واخلي.

-269دورغوي تناکې مرغلرې دي.

-269دخپل لاس ګټه خوږه او ډېره قیمتي وي.

-270دورخه تیرې او به بیرته نه راګرځي.

-270وخت چې تیر شو بیا پسې مه ګرځه.

-271دنر هلك ژړا په زانګو کې معلومیږي.

-271نارینتوب او میړانه دلومړۍ ورځې نه جوتیږي.

-272دوږي په غوږ کې د ډوډۍ ټپاروي.

-272دچاچې څه ته تلوسه وي همغه یې په فکر کې ګرځي.

-273دلمدو ختو لرې او به دارو وي.

-273هوښیا او ځیرك خلك په لږ وخت کې ډیر څه زده کوي

-274دهر چا په خپل لنډي نظر وي.

-274هر څوك په خپل زهیر وي.

-275دوزې هره ورځ ښکاریده هیڅ نه وه چې دمیږې ښکاره شوه ویلې کونه دې ښکاري.

-275دښه او نیك سړي نه چې کله لږ څه بدوشي دټولو خلکو ورته پام شي.

-276دلولۍ وتل یو شرم ننوتل یې بل شرم .

-276دبدکارو اکثره کارونه دشرم او خجالت وي. په بې شرمۍحکومت او واك نیول دا یو شرم دی او بیرته چې څوك ترې په زورقدرت اخلي دایې بل شرم دي.

-277درې خره کونه په کونه وتړه اسمار دی.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



277-يو كس اسمار نه وليدلی او غوښتل يې چې اسمار ته ولاړ شي.بل سړي ورته وويل چې پيسې مه لګوه زه به درته اسمار وښيم، او بيا يې ورته کړه چې درې خره کونه په کونه وتړه او دټولو ديو ځای کيدو منځ ته (نقطه) اسمار وايي يعنې ددريو غرونو دسرو نو په منځ کې پروت دی.

278-دوه خويندې په يو ورور حساب دي.

278-دکمزوريو سړيو په هکله ويل کيږي.

279-دولې دې وي خو چې منه وی.

279-مطلب دې حاصل شي چې په هر ډول وي.

280-دوه پك هغه هم سره ورك.

280-دوه خپلوان او هغه هم سره وران.

281-دوه هندوانې يو لاس کې نه نيول کيږي.

281-دوه کسان چې په خپل منځ کې سره مخالف وي او دريیمګړی غواړي چې دواړو سره اشنايي وکړي نو دا نه شی کيدای.

282-دلامده خوړ خيرات نه دی چې په ناولو لاسونوې خورې.

282-پخوا زمانو کې دملکنډ غر سوری شوی نه و او اوبه ترې ديخوانه راتلې، ټولې ميرې او للمې وې لوند خوړ تخت بهاناودرګۍ په منځ کې واقع دی نوم يې هسې لوند وخو دومره اوبه په کې نه وې دلته به دخيرات خوړلو ته چالاس نه مينځه . نو چې اوس څوك ديو چانه يو شی بې تکليفه غواړي نو بيا ورته وايي چې څه د لامده خوړ خيرات خونه دی.

283-دورځې قندار دشپې ډتار.

283-وايي چې دورځې به کاروکړم خو بيا ورځ هسې تيره کړي او وايي چې څه بيګاته به يې وکړم چې شپه شي بيا ويده شي.

284-دولت مند که ډير لرې وي خلك يې خپل ګڼي.

284-شتمن او قدرتمن که ديو سړي نه ډير لرې او پردی وي هم نږدې خپل يې ګڼي.

285-دوست ته حال وايه دښمن ته لافې کوه.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



285-دښمن ته غورې او دوست ته حقيقت وايه.

286-دوست هغه دی چې په سخته کې په کار شي.

286-دوست او خپل هغه دې چې په تکليف او تنگسه کې دې په کار شي.

287-دوست به دې و ژړوي دښمن به دې وخندوي.

287-دوست به درته رښتيا ووايي او ته به پرې خپه شې مگر دښمن به دې بدهم ددې له پاره ستايي چې دگړنگونو نه دې گوزار کړي.

288-دورخاړي کاسه ده.

288-هسې ښويه او لباسي دی.

289-دوچو دغمه لامده هم سوځي.

289-دبدو خلکو له امله کله ښو خلکو ته هم تکليف رسيږي.

290-دورځې دسرنه سل کوره کړه شي دشپې قوبه شي.

290-يو ينگرو او ښځه يې قوبه نوميده دادسلو کورو ينگرو او دهقانانو به ورته اسباب راوړه چې جوړ يې کړي. په دې کې ديوه سړي په تسپار يا کرکۍ جوړولو باندې ډيرې ورځې تيرې شوې دهقان ينگر سره په جنجال کې شو چې دازما اسباب ولې نه جوړوې ينگر ورته وويل دورځې دسرنه سل کوره کړه شي دشپې يوه قوبه شي او يا داسې هم ويل کيږي چې يوسړی و او ښځه يې قوبه نوميده او دسړي کسب دهقاني وه چاترې پوښتنه وکړه چې ماما رنگ دې ډير خراب دی سړي ورته وويل چې دورځې قلبه شي او دشپې قوبه شي.

291-دومره پور اخله چې خلاصولی يې شې.

291-هغه څه کوه چې په وسعه کې دې وي.

292-دومره دانې وې چې دتلې شوې.

292-يو کوچني دکوڅې باغوان ته ديوه شي درانيولو په خاطر دانې راوړې دباغوان ماما دتلې يوه چاړې درنه وه او بله سپکه وه، باغوان به په دغه سپکه خواکې دانې اچولي او په گ هغه درنې خواکې به يې سودا اچوله کوچني چې څه دانې راوړې وې هغه ايله دتلې دړه شوه، او ويل يې چې ولاړه شه او نورې دانې راوړه.

293-دومره بخت مې نشته.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



-293يو بيكاره شانتي ملاو او په يوه جومات کې ديره و او په دې کلي کې ديو هلك مور دخپله کوره وتې وه او دکوم خپلوان کورته تللې وه خو هلکی خبر نه و چې مور يې چيرې تللې ده پسې ګرځيده او ځايو نه يې پسې لټول آخر راغی او دملاصاحب نه يې پوښتنه وکړه چې مور خو به مې دلته جومات نه وي راغلي، ملاصاحب ورته وويل چې دومره بخت مې نشته.

-294دپولي متهٔك دنسوارو زور به وروسته ګوري.

-294پل متهٔك په شمالي کې ديو ځاى نوم دی چې نسوار يې مشهور دی او ښه نيشه لري اولوړی سړي ته څه نه ښکاري مګر کله چې يې واچوي بيا يې ورته زور جوتيږي، بيا داسې وايي چې ددې شي زور به درته وروسته معلوم شي.

-295دپښتانه يوه خبره ده.

-295ديوه پښتون نه چا پوښتنه کړې وه چې څو کلن يې؟

هغه ورته وويل ديرش کلن يم.

شل کاله وروسته يې ترې بيا پوښتنه کړې وه چې څو کلن يې؟ پښتون ورته ويل ديرش کلن يمه، سړي ورته وويل چې شل کاله مخکې هم ديرش کلن وې، هغه ورته وويل چې دپښتانه يوه خبره ده.

-296دلمر تاو په ژمي معلوميږي چارك شولې نشي وچولی.

-296يوه ښځه وه او په دوبي کې د اړ لمر تنګه کړې وه نو بيا يې دلمر سترګې ته ويل چې ايمان دې راته په ژمي کې معلوم دی يو چارك شولې دې را ته په دوه ورځو کې وچې نه کړې.

-297دجوماعت په ناسته څوك نه ملاكيږي.

-297هسې دکار ځاى ته په تش تګ او راتګ او هلته په هسې ناسته څوك نه کارګر کيږي.

-298دخر په ځاى کولال وداغه.

-298ديوه کولال خر ناروغه شوی و، او يو سړی دخره دداغلو له پاره راوستی و کله چې يې خر دداغلو له پاره څملاوه او پښې يې پرې وتړلې، دداغلو په وخت کې خره ناڅاپه ډرتې کړې او پښې يې ايله شوې، دسړي لاس يې په لته وواهه او تود سيخ دکولال په څټ وربرابر او و داغل شو .

په ځينو موضوعاتو کې خلك اصلي مجګرم پريږدي او دهغه په ځاى غير مجرم ته جزا ورکوي.

-299داغنم مې ښې بدې ته ساتلي دي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



-299دیو سړي مور مړه شوي وه په کور کې یې غنم درلودل، خو میچن کول یې نه او دماښام لیتې له پاره یې اوړه په کور کې نه و او دبل چانه یې په سوال غوښتل یو چا ورته وویل چې په کور کې خو دې غنم شته سړي ورته وویل چې دامې ښې او بدې ته ساتلي دي نو دیو بخیل سړي سره یو شي وي خو دخپل ضرورت په وخت کې یې هم نه لګوي .

-300دهوسۍ په ښکر کې شو.

-300داکار ډېر سخت او ځنډنی شو.

-301دهیلۍبچوته غوټې مه ښییه.

-301دیوه کار او یا دیوه شي ماهر ته دې ځوك دهغه کارښوونه نه کوي.

-302دیو سړي لور نه کیده چې وشوه نوم یې ورباندې ..... کبیره کیښوده.

-302نادیدکه سړی چې یو شی پیداکړي بیا یې په استعمال نه پوهیږي او وخت یې نه پیژني.

زموږه دسیمې یو سړی په لال او سرجنګل (غور)کې مامور و، کله چې کورته راتلو دبرکې یعنې وړین څادر یې له ځانه سره راوړی وا و دا کور ډېر غریب کور و او څه یې کله نه ولیدلي، دګرمۍ دزور په وخت کې مامور صاحب له مامویته راغی او دا سوغات یې خپل ورور ګل میران ته ورکړ، ګل میران سمدواره له ځانه راچاپیر کړ او په ګرځیدو یې پیل وکړ کله به یو کلي ته تللو او کله به بل کلي ته تللو چې خلك یې په دې نوي څادرکې وویني، چې په دې وخت کې ما (یاسیني) ولید او ور غږ مې کړ چې وه ګل میرانه ځان دې له ګرمۍ نه مړ کړ، هغه راته وویل چې دامې لالا راوړی.

-303دیولاس نه ټك نه خیږي.

-303دنفاق نه څه نه جوړیږي.

-304دیو لعل نه دوه پچې ښې دي.

-304دیو نه دوه ښه دي.

-305دیوي ورځې مامور دسړي دسلو کلو کور ورانوي.

-305دوسیه او قضیه ورته جوړوي.

-306دیو فقیر بل فقیر بدراځي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



-306ديو سوالگر، بل سوالگر بدې شي ديو مسلك كسان كله كله يو بل نه خوښوي.

-307ديوې سپږې له پاره ټول پوستين ته اوراچوي.

-307ديو كس له پاره ډير خلك خپه كوي يادلږ ې ګټې له پاره ډير نقصان پيښوي.

-308ديوه پوكي سره ځي.

-308په لږ زور له منځه ځي يا دومره وچ او كلك دى چې ديوه پوكي سره ځي.

-309دينلي ماردى.

-309ځان يې غلى كړىدى ځان يې په ويدو اچولى دى.

-310داوښ په شا سوريې.

-310بې پروايې، كبرجن يې، ځمكې ته نه ګورې، څوك دې دپامه څه نه راځي.

-311داخر دى نه پوهيږي زه خو دې درشم.

-311ديو ناولي سړي خر جومات ته ختلى و، ملاصاحب خر راوست او په خاوند يې وروسپاره او ورته يې شكايت وكړ چې ګوره خر دې جومات ته راغلى وبياسړي ورته پورتنۍ وينا وكړه .

-312دلته دې كورونو څه وخت اړه ولي دي؟

-312يو چيرې يو سړى ميلمه شوي واو ډوډۍ يې ډيره خوړلې وه بيا ورته دګيډې تكليف پيداشوى و، غوښتل يې چې رفع حاجت وكړي خو شا او خوا دكوچيانو كيږدۍ وي ، سړى ډير ور خطاْ و ديو څو كيږديونه تير شو نور يې دوسې نه پوره نه شوه او ديوې كيږدۍ په خوا كې يې خپل رفع حاجت وكړ ستر ګې يې وغړيدې چې ګورې تر څنګ يې يو سړى ولاړ دى، كوچي ورته كړه چې دا كورونه ګوره او ستا دا كار ګوره نو بيا ورته نوموړى دا پورتنۍ وينا وكړه.

_ 313دطالبانو ګاډى شو.

_ 313څو طالبانوداورګاډي ټيكټونه اخيستي واو لاهورته تلل دګاډي دروازه بيرته شوه او د روانيدو وخت يې نږدې شو طالبانو د احترام په خاطر يو بل ته ويل چې دكابل ملاته مخكي وخيږه هغه بل ويل:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دکونړملاصاحب ته مخکې شه ،طالبان به همدې کش او ګیر کې وو چې اورګاډی روان شو او دوی ټول بیسترې ترشا اولاس ترزنې پاتې شول.مانا داچې یوکارکې ډیرټینګیدل ښه نه وي هرڅه باید په اندازه وي ددې له پاره چې وخت ضایع نه شي.

– 314دګهیخ ورك چې ماښام راشي ورك نه دی.

_ 314وران کار چې ژر جبیره شي داوران نه دی.

_ 315دغله دلاسه ارزي.

_ 315ډیر ارزانه او وړیادی.

_ 316دخرې شوده یې رودلي دي.

_ 316یعنې ډیر بې عقله دی.

_ 317دفقیرقهر خپل ځانته نقص دی.

_ 317دبې وزلي او سوالګر تاوواو قهرکول دده خپل تاوان دی مانا داچې خیروانه خلي او تش ولاړشي.

_ 318دصحت قدر رنځورپيژني.

_ 318دنعمت قدرد ذوال نه وروسته ښه معلومیږي.

_ 319داوزې چې دوهلوقسمت راشي دشپانه ډوډۍخوري.

_ 319کوم یوه چیلۍ یا بز چې دشپون سوېری او یا ډوډۍ وخوري نو بیا ورته دشپانه قهر راځي اوښه یې وهي.

_ 320دبی غیرته کورمیلمه واکداروي.

_ 320په ناپوهه اوبې ننګو خلکوباندې نور خلك واك چلوي.

_ 321دزمري شوده یې رودلي دي.ګ

_ 321ډیر زړور او شجاع دي.

_ 322دمرغۍ پۍ ورسره نشته نورهر څه شته.

_ 322هرڅه لري.

_ 323دقاضي خرمړوډیر خلك راغلي وء قاضي پخپله مړو چایې مړی نه ښخولو.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



-123خلك دقدرت او منصب اشنايان دي.

-124دمار ماهي ورورډی مارانو سره سر او ماهيانو سره لکۍ ښکاره کوي.

_ 324منافق او چلي دی.

_ 325دطالبانو دری شوه.

-325طالب يوه برستن او يوه درۍ لري کله چې يې يو څو ميلما نه راشي نو طالب ورته درۍ وغوړوي چې په دې کښينئ، خو يو بل ته داحترام په خاطر يو هم په درۍ نه کښيني درۍ په منځ کې پرته وي لکه دسترخوان او دوی ترې چاپيره ناست وي.

-326دلاس غوټه په لاس خلاصوه.

-326کارمه سختوه.

-327ديوالي شو.

-327ديوالي دصرافانو په اصطلاح هغه چاته ويل کيږي چې له پيسو څخه خلاص شي يعنې عاجزشي.

-329دځرمنې اسمان يې جوړکړ.

-329درواغ وايې، هسې غټې غټې خبرې کوي.

-330دځلې نه څه ګيله ده.

-330دنا اهلو نه ګيله په کارنه ده يا له ګرمۍ او يخنۍ به سړی څه ګيله وکړي.

-331دزهروګوټ دی.

-331ناکام دی يا مجبوريت دی.

-332دزهرو ګوله يا قپ دی.

-332مجبوريت دی.

-333دمردانو ديګ په صبر پخيږي.

-333دتکړه خلکو خوی او عادت صبر او زغم وي او بې حوصلې کيږي نه.

-334دژرندې لاندې پل يې ګرځي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



-334دښځې گټې ته ناست دی، دښځې میراث ته ناست دکوځې ته ناست دی.

-335دومره خوره چې هضمولی شي.

– 335دومره بارپورته کوه چې ورلای یې شې.

– 336درمندته یې خرخوشې کړویل یې مه یې خوره

– 336خاین ته یوشی ورپه لاس کړي اوورته وایې چې مه یې خیانتوه

– 337دیوه گریوان څخه سراوباسي

– 337دټولویوه خبره اویومقصددی .

– 338دمشورې سرورك دی

– 338مطلب ترې ورك دی

– 339دټپوسانوسیل دي په یوه گوزارټول تښتي

– 339بې زړه خلك دي تش په بوویریږي

– 340دځاني نه شوده غواړي

– 340بې خیره خلکونه دخیرتمه مه کوه یادهغه چانه تمه کوه چې امکانات لري

– 341دانسان په جامه کې لیوه دی

– 341حیوان صفته انسان دی

– 342دمشرلاردکشرپل دی

– 342مشرچې څخه کوي کشرهم دهغه په پل پل ایږدي

– 343ددواړوجوړه ده خوچل یې ماته ایښی دی

– 343یوکس اینځیران اوشیدې یوځای خوړلي وو بیادسړي په گیډه کې دردپیداشو، چاترې پوښتنه وکړه چې څه دې خوړلي دي چې گیډه کې دې درددی ؟سړي وویل انځراوشوده مې خوړلي دي سړي بیاورته وویل چې ددې دواړوخوړل یوځای ښه نه دي رنځورورته وویل دوی په خپل منځ کې سره ښه جوړدي خوچل یې ماته جوړکړی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوداسې هم کيږي چې يودوه تګان سره په خپل منځ کې ونښلي اولاسونه سره واچوي اودريم ګړي چې دخلاصون له پاره ورشي بيايې ترې جب وهلی وي.

– 344دپرکارڅخه يې وغورځاوه

– 344دده مګرکزيت يې ورختم کړ،ياداچې ده په خلکوحلقه راتاووله دهغې نه يې خلاص کړ.

– 345دګورمړي شرموي

– 345دومره بې حياکارونه کوي چې په ګورکې خپل مړي شرموي

– 346ديوسړي په چاقرض و اوپه هديره کې ورته ناست و

– 346په ژوندون ترې قرض نه بوديده اوپه کورکې يې ورته سپورې اوسختې هم کولې سړی ولاړاوپه هديره کې ورته کښيناست اوويل يې څه داخويې لارده

– 347دروغ دميرہ وزرونه دي

– 347يعنې ځينې کسان په درواغوځان هم ديومشکل نه خلاصولاي شي اوګټه هم پرې کولای شي.

– 348دا ديرش روزي مې داخترله پاره نيولي دي

– 348دادومره تکليف مې ددې له پاره ګاللی دی .يوسړی دروژې په اهميت نه پوهيده خوداخترخوشحالي ورته ډيره مهمه ښکاريده دهغې له پاره يې روژې نيولې.

– 349دقدرشپه په شوګيرمندل کيږي

– 349چې تکليف ونه ګالې مقصدته نه شې رسيدلای.

– 350دهزارناوي چې خرزوړشي دسرك سرته يې راوباسي

– 350هزارناواوباسول کې خلك داسې وايي چې خر دباردوړلونه ولويږي نودسرك سرته يې راوباسي چې کوم موټريې ووهي ، هم به دخردواښونه خلاص شي اوهم بګه دډريورنه يوڅوپيسې تاوان واخلي

– 351دويښې مورنه زوی اخلي

– 351ډيرچالاکه ټګ دی

– 352دزمري کوربې هډوکو نه وي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



– 352دمیړنیوخاندان کې دمیړانې نښې وي.

– 353دعقل وړی نشته اوددنیاموړنشته

- 353هرسړی ځانته هوښیاروايي اوپه دنیاکې هیڅوك ځانته موړنه وايي

– 354دفیل لغته فیل هضموي

–354دزورورګوزارته زورورځواب ویلای شي .

– 355دتیزله غمه ورك دی

–355یوسړی واودخپلې ښځې په مخ کې ترې تیزوتلي و اوبیاسړي ځان ورك کړهندوستان ته ولاړچې چابه یې دښځې نه پوښتنه وکړه چې میړه دې څه شوښځې به یې فقط همدومره ویل چې دتیزله غمه ورك دی ، ډیره موده پس دسړي په زړه کې وګرځیدل چې څه کورته ولاړشه دښځې به اوس هیروي ،زامن یې هم غټکي شوي وو او لس اتوکالوته رسیدلې وو ، سړی ماښام تیاره کورته راغی اوپه تیاره کې غلی کښیناست اوځانته معلوموي چې هغه زماجرم دوي ته یاددی او که هیر شوی دي په دې وخت کې یې زامن په یوشي سره ونښتل اوموريې پسې خمګځۍ راواخیسته ټس یو په سرووهه اوټس بل په سرووهه اوورته وايي چې دټیزن زامنوغلي شئ جنګ مه کوئ، سړي چې داخبره واوریده ، چې شی خوبې هیرنه دی په ورو، ورویې دروازه بیرته کړه چې غنګ ونه کړي اودکوره ووتودوه یې خپلې کړې اودوه یې پردۍ کړې اوبیاهندوستان ته ولاړ.

– 356دباندېي دهندوانونه میاګلاب شاه بزرګ دی

– 356میاګلاب شاه بې نمانځه سړی واودجومات نه یې خولۍ په خنجکی راواخسته ، چادمیاګلاب شاه غیبت کړی و، بل ورته وویل چې څه دباندې دهندوانونه بزرګ دی

– 357دشلخي ټوپك نه دوه کسه ویریږي

– 357خپل خاوندیې په دې ویریږي چې په ماونه چوي یاقوله ونه نیسي چې دښمن به راباندې راشي اودښمن ترې په دې ویریږي چې ټوپك دی.

– 358دازل لیکه نه بدلیږي

– 358څه چې تقدیرلیکلي وي هغه به کیږي

– 359دریاب په یوموټي ایره نه خړیږي

– 359دغټوخلکوپه وروخبروپروانه وي یادولتمندته لږتاوان هیڅ شی دی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library




– 360دزاړه قچریوه جوپه ده

– 360دزړوطاقت لړوي

– 361دیومری دسلوحکمران

– 361یوکس چې دډېرزورورغلامی ومنې په ډېروکمزوریوبه پاچاهی کوي

– 362دوروریولاس په چاړه بل په خواړه

– 362ورورکله بدهم شي خورحم اومینه یې ډېره وي

– 363داګوته هم دډول په سوري اوداګوته هم دډول په سوري

– 363ټول یوشی دي.

– 364دپیسوغل اودزروغل دواړه یوشی دي

– 364دډېرواودلږغل یوشی دی .

– 365دسپینې خولې یاران ډېردي

– 365ددولتمندسړي دوستان ډېروي

– 366دپیرڅوتاره ږیره وه چې په تعویذوکې ولاړه

– 366زمونږپه خوارملك کې دومره څه وچې هغه ډاکوانویوړل

– 367دنیاهغه ده چې ویې خوري یایې دخدای(ج) په رضاورکړې

– 367دنیاهغه ده چې تاته یې خیردورسي په دارینوکې

– 368دمیږي خوادي نه خلاصیږي.

-368د خوار سړي راحت نه شته یا دا چې حریص نه مړیږ ي.

-369دمړه سیند نه ویریږه دتیز نه مه ویریږه.

-369دغلي او مړ ماري سړي نه ویریږه.

_ 370دمرګ دارونشته


Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



– 370چې پوره شوه بیاپه وسائلونه کیږي

– 371دغله توره تیښته ده

– 371غل چې ځان روغ رمټ ویستوداپې میړانه ده

– 372دجومات نه خولۍ په خنجکي رااخلي

– 372بې نمانځه دی

– 373دړانده دنیولواودکاڼه دوهلونه دې خدای(ج) ساته

– 373ړوندسړیکلك کوي ،اوکوڼ سخت وهل کوي ځکه چې دوهلواوازاوډبول نه اوري

– 374دینگرپه دوکان کې کښیناستې یابه وسوځې اویابه بدبوي درشي .

– 374دبدوسره چې کښیناستې تکلیف به ترې گورې اودښوسره که کښیناستې څه به ترې زده کړې

– 375دعطارپه دوکان کې به یاعطراخلې یابه ښه بوی درشي.

- 375دښوخلکوسره چې کښیناستې خامخابه ترې څه زده کړې

– 376دبنده امیدبه څه وي اوبنده به څه وي

– 376دانسان نه تمه کول هـیڅ دي .

– 377دنن زوی دسباپلاردی

– 377پلرونه مري اوزامن دهغوی ځای نیسي

– 378دیووطن خاوره دبل وطن داروده

– 378دیوې خاورې شی په بله خاوره کې ډیرارزښت لري

- 379دوست دوخت انتظارنه کوي ، اودښمن دوخت انتظارکوي

– 379دوست فوراً دتکلیف په وخت کې ځان خپل دوست ته وررسوي اودښمن دخپلې غلبې اوحملې وخت ته گوري

– 380دمیلمه رخصت پښتي ده

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



– 380پخواپيتې ته چاپه ډيرقدرنه کتل ، نوچابه چې ميلمه ته پخه کړه بل وخت ته به بيانه پاتې کيده تردې پورې چې بيابه دې کورته نه راته

– 381دګونګي په ژبه مورپوهيږي

– 381هرڅوك دخپل وطن په رسم اورواج ښه پوهيږي

– 382داصيلې ښځې کول سخت دي خوساتل يې اسانه دي

– 382اصيله ښځه په هرحالت کې دخپل ميړه پت ساتې

– 383داسې خوږه ژبه داسې لنډه وعده اوداسې ښه ضامن .

– 383يوسړی و اوويل يې چې نشته يودوس ، کوستې زن دله اوطلاقي،

چې ماته يولك روپۍ قرض راکړي ضامن به مې .... شي اووعده به يې اخرت شي بل سړي ورته وويل چې واه څه خوږه ژبه او څه ښه ضامن .

– 384دنجارکره ځمځۍ نه وي ، کاسه په سرراړوي

– 384ځکه کسبګردی خپل اولس نه خپه کوي ځانته ځمځۍ نه پريږدي اوهغوی ته يې ورکوي اوداهنګرکره لورنه وي خلك يې ترې وړي

– 385دبيمارهرڅه ته زړه کيږي

– 385دمحتاج هرشی په کاردی

– 386ديوې ورځې حکومت دسلو کالوکورخرابوي

– 386دنااهلوديوې ورځې واکمنې ملت سل کاله ورروسته غورځوي.

_ 387داختر په ځوانانومه تيروزه.

_ 387په اخترکې هر چاپه ځان باندې يو څه ګګګو تې وهلې وي،او ځان يې بناو کړی ويخو په منځ کې هيڅ نه وي.

_ 388دزوم کره شپه مه کوه،په پسرلي کنځمکه مه اخله ،او په واده کې جينۍمه خوښوه،

_ 388دزوم کره شپه خوندنه کوي ،ځکه چې لور به هم لمبلې وي او زوم به هم خو خسربه خرې سترګې نيولېوي پسولی کې هسې ډاګ هم ښه ښکاري ځکه چې شين وي .اوپه واده کې هرې پيغلې په ځان يوڅه خواري کړې وي اوځان يې ښکلی کړی وي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دهسکي ميني معلم افسر راته کيسه کوله چې زموږ کليوال ته په پيښور کې په يوه واده کې مور جنۍ خوښه کړې وه بيايې زوی ته وکړه اود مهاجرت نه وروسته يې واده کړله بله ورځ جنۍ په وطن يعنې په هسکې مينې کې چينې ته د اوبو پسې تللې وه ډك منګی يې دچينې نه په سر راوړلو په مخ باندې يې څه اوبه راڅڅيدلې وې اوبو پوډر وړې و او مخ يې ورته لارې لارې کړی و کله چې کور ته راننوته دخواښې يې پرې نظر ونښته او ګمان يې وکړ چې ننګور سره مې چا په چينه کې جنګ کړی دی مخ يې ورته شوکارې شو کارې کړی دی، سمدستې يې خواښې ورغبږ کړ چې مخ دې شوکې شوکې دی، سپين پوډر يې له مخ نه تللي و او مخ يې ټاپو ټاپو شوی و اوپه ځينو ځايونو کې يې هغه توره څرمن ښکاره کيده . ناوې ورته وويل چې ادې جانې مه خپه کيږه دا اوس بيرته جوړيږي سمدستي يې منګی کيښوده او کوټې ته شوه او مخ ته يې بيا د پوډرو اخير ورکړ.

– 389دبې اتفاقه خلکوملك جولا وي .

– 389ځکه په اصيل سړي باندې اتفاق نه راځي. يو وختې په ګوشته کې خلکو هندو ملك کړی و.

– 390دبار دارې ونې څانګې ټيټې وي.

– 390پوهان ، سخيان او عالمان متواضع وي.

– 391دپښو لا ندې يې ميږې شول .

-391ترور شو،بيږه يې ده . او ځي .

– 392دغل دپټې ځای غوجل دی .

-392په غل چې خلك را پا څيږي او لارې پرې بندې کړي غل ځي او دغوا ګانو په منځ کې ځان پټوي .

-393دخيګ غوندې پړسيدلی دی .

-393بې مانا غټ شوی او تيار شوی دی .

-394د دې ځايه تر کامې چاکړې معاملې .

-394دکامه والو سره يو چا څه خيښې کړې وه ، د وچې غاړې خلك وو دسيند نه ويريدل ، دناوې پسې په اوومه راغلي دي دسراچې پل په برابري دزاخيلو کلي ته مخا مخ د جالې انتظار او باسي کله چې جاله راغله او څه کسان په کې ور کښيناسته يوه ښځه وترهيده يعني وويريده او په جاله کې نه کښيناسته نو دلور پلار ته يې وويل چې ددې ځايه ترکامې چاکړې معاملې.

– 395د دنيا توله برابر وي .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



– 395یو لیوني نه چا پوښتنه وکړه چې په دې بازار کې څه خلك ښکته او څه پورته ځي دا والې ؟ لیوني ځواب ورکړ او وېې ویل که چیرې ټول په یولوري ولاړشي نو دنیا به واو ړي ځکه چې یوه خوا به یې درنه شي .

– 396دګنډ یري ګل دی .

-396رنګ یې شته او بوی یې نشته.

– 397دید نی پرې تیرې شوې .

– 397ډیرې سختۍ پرې تیرې شوي دي .

– 398دین دین ولاړ او ......... ولاړ .

– 398یو هندو مسلمان شوی و او بې عقله خلکو سنت کړی و، او بیا ډیر په عذاب وا وپه لاره آزاده ازاده او ګوډګوډ روان و، کوم مسلمان ترې پوښتنه کړې وه چې لالا دا ولې ؟

هندو خپلودپښومنځ ته اشاره وکړه چې دین دین ولاړ او...... ولاړ.

– 399دمالو چو خروار دی .

- 399یو بې عقله سړي ویل چې دا مالوچ چې دومره سپك دي زه خوبه یې یو خروار وړلای شم .

- 400دهندوانې منځ ته هم ګرد ننوځي .

– 400یعنې دګرد او غبار نه ځای نه پاتې کیږي .

-401د زاوه وال پیاز شوه .

-401یو زاه وال په کوز بیهار کې پیار اخیسې وو او ډیر ترخه وو خوړل یې او له سترګو یې او ښکې بهیدې چاور ته ویل چې مه یې خوره زاوه وال ورته ویل چې پیسې مې پرې تللي دي.

_402دکونډې لور وه په سکونډلو کې ولاړه.

_402دومره شی و چې په لړه لړه ورکړه خلاص شو.

_403دومره پیتي وه چې په څکلو کې خلاصه شوه.

_403دومره څه و چې تجربو او تمریناتو خلاص کړل.

_404دظالم قبر معلوم نه وي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



-404ځکه چې ظلمونه یې کړي وي چې بل قدرت ورپسې راشي بیا دده قبر ورك وي لکه دسردار داود خان، ترکي، حفظ الله "امین" داکتر نجیب الله ،ببرك او داسې نور.

_405ددوو خرو اوربشې نه شي بیلولای.

_405ډیر بې عقله او ناپوهه دی.

_406دومره وشول چې ایله یې ماته راکړه.

_406یو سړی خلکو دېوې انجلۍ کورته په جرګه واستوه سړی ولاړ او دغه انجلۍ یې ځانته وکړه کله چې بیرته راغی خلکو ترې پوښتنه وکړه چې څنګه چل شو؟

نو دې سړي بیا دا پورتنۍ وینا وکړه.

_407دمحبوب خان سپاهي دی.

_407محبوب خان یو مشر و چې نو کران یې درلودل او ډیر بخیل سړی و نو کرانو ته یې نه تنخواګانې ورکولې او نه یې په خیټه ماړه ساتل نو ځکه به یې نوکران تل محتاج وو.

_408دلور مې دې میړه مري، او دزوی مې دې عورته زه دې ګرځم سلامته.

_408یعنې یو زه دې روغه یم نور که ټول خلك مړه شي پروامې پرې نشته.

_409داوبو داوبو شو او دشودو دشودو شو.

409_ یو ګوجر و چې کله به یې خپلې میښې ولوشلې نو بیا به یې په شودو کې سمې نیمې اوبه ورګډې لړې او مخ په بازار به شو ډیرې پیسې یې په دې ډول وګټلې دپیسویوه غټه همیانۍ ورسره ده او د سیند په غاړه روان دی ګرمي یې وشوه، جامې یې ویستلې او په سیند کې یې لمبل په دې وخت کې یوه غټه بیزو راغله او همیانۍ یې ترې وتښتوله او پاس ونې ته وختله او دهمیانۍ خوله یې رالیله کړه یوه کلا ترې و چې ته راغورځوي او به سیند ته غورځوي، کله چې یې همیانۍ تشه کړه نو بیا یې راګوزاره کړه نو بیا ګوجر له ځانه سر داپورتنۍ وینا وکړه.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



**(ډ)**

1.ډبره په ډبرې ماتيږي.

1.يعنې زور زور ماتوي.

2.ډبلۍ يې ورته نيولې ده.

2.وهي يې.

3.ډرامه يې ترې جوړه کړې ده.

3.کيسه يې ترې جوړه کړه.

4.ډزې په قراره نه کيږي.

4.د يو چا واده و او خلکو په کې ډزې کولې ، د زوم پلار راغۍ او په خلکو يې غږ وکړ وه خلکو ډزې په قراره کوئ.

5.ډمه ښه گډيږه چې ښه شرميږې.

5.چې څومره شوريږې هومره به شرميږې.

6.ډمامې وهي.

6.اعلانونه کوي او خلك خبروي.

7.ډليز مرگ جشن دی.

7.د ډيرو خلکو سره چې سړی يو ځای مړشي دخو شالۍ مرگ دی.

8.ډولۍ ډولۍ مه کيږه.

8.په صورت روغ دی خو کارونه دليونيو کوي.

9.ډوله چيرته دې و هم چيرته غږيږ ې.

9.زه څه وايم اوته څه وايې .

10.ډوډۍ زما خورې غاپې د ارسلاخان کره.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



.10خرڅ دربانديډ زه كوم او ګټه دې بل ته رسيږي.

.11ډول او ډمبك وهي.

.11څه ساز او سورد يې شروع كړی دی.

.12ډول او ډمبك دې واخله ځه.

.12خپل سامان واخله ځه.

.13ډ ډه يې واچوله.

.13نور دتلو نه دی د همدې ځای شو يا دا چې ځان يې لټ كړ.

.14ډ لې ډلې كيږي.

.14ټولنې جوړوي او مسلاتونه كوي.

.15ډانګ پيل يې ورته و وايه.

.15ښكاره او سپينه يې ورته ووايه.

.16ډير مې مال بد مې حال.

.16چې دسړي هستي ډيره وي خوب او خندا يې ورکه وي.

.17ډيران يې اور اخيستی دی.

.17دومره قهر ورغلی چې بيخي يې غصه نه سړيږي.

.18ډيل مه كوه چې اوګګره سړيږي.

.18نو ر ورته مه ګوره.

.19ډير خوره زهر او ګنډير خوره.

.19هر څوك چې په ځان باندې يو شی زيات كړي نو بيا خرابيږي.

.20ډيرې خولې ډيرې خبرې.

.20څومره چې خولې ډيرې وي خبرې يې هم ډيرې شي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



21.ډوډۍ که پردۍ وه ګيډه خو دې خپله وه.

21.يو سړی په چا ميلمه شوی و او هلته ډوډۍ خوندوره وه ميلمه ډيره خوړلې وه بيا يې ګيډه خوږيده کورته چې راغی ويل يې چې ګيډه مې خوږيږي ، د کور خلکو ورته وويل که ډوډۍ پردۍ وه نو ګيډه خو دې خپله وه.

22.ډانډس يې کړ.

22.سپك يې کړ، هرڅه يې ورته وشيندل.

23.ډبلۍ که ماته هم ده دکولال د پچي بيخ به اوباسي.

23.د کولال د کټيو قطار ماتولای شي يا که يو سړی ډير بې کاره هم شي يو کار کولای شي.

24.ډير يې نه ميندل لږيې نه اخيستل.

24.ډيره ګټه يې کولای نه شوه او لږه يې نه خوښيده.

25.ډانډس باندې روسی دتوپ ګمان کوي.

25.د جهاد په شپو کې کامې ته د روسيانو يوه لويه قوه راغلې وه ، نداپانو ډانډسان په اوږوينبي وو او په کليو ګرځيدل چې چيرې مالوچ وټکوي خو پرې روسيان ورپيښ شول ، کله چې روسيانو ډانډسان وليدل ، نداپان يې سمدستې شهيدان کړل او ډانداسان يې دځانه سره پر ټانګونو کيښودل او دڅمر خيلو کيمپ ته يې يوړل او ويل يې چې موږ دومره باسمچيان يعنې کمونستانو دجهاد په وخت کې مجاهدين اشرار بلل اشرار مړه کړل او توپو نه مو ترې راوړل.

## (ر)

1.رمباړه يې وکړه.

1.نور تر ې کارنه کيږي لټ شو.

2.رمباړې يې ترې ويستې.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



2.ډيرېږي وواهه اويا ډير يې وځورولو.

3.روژه نه خورم ډوډۍ خورم.

3.چا روژه خوړه بل ورته وويل چې روژه ولې خورې هغه ورته وويل چې روژه نه خورم ډوډۍ خورم.

4.روغ درنځور دحاله څه خبر دی.

4.دخوښيو خاوند دغمجن په غم څه پوهيږي.

5.روغ صورت اختر دی.

5.روغه څټه خو ښې او خوشالي ده.

6.روغ صورت پاچاهي ده.

6.روغ ځان تر پاچاهۍ هم ښه دی.

7.روغه ورځ يې نشته.

7.خير يې ونه ليده.

8.روغ ليونی دی.

8.په صورت روغ دی خوکارونه دليونيو کوي.

9.روستی عقل چې ړومبی وای.

9.چې اوس پو شوم کاش چې تر دې پخوا پوه شوی وای.

10.رادې نه کړ رانه غوځ دې کړ.

10.يو څوك يوكس ته ديوه شي په تمه ورشي مگر هغه پرې خپل كار وكړي او بيا يې تش رارخصت کړي.

11.رښتيا يا له وړو ياله زړو پوښته.

11.په يوه کلي کې چې يوه موضوع پيدا شي او دپلټنې له پاره يې يو څوك راشي او دکلي خلك غواړي چې موضوع پټه کړي او ترې منکرشي. نو سړی بايد بيا يا واړه وپوښتي يا زاړه.

12.راستي زوال نه لري.

12.رښتيا عبث نه ځي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



13.را وایې خله نوم یې مه یادوه.

13یو پاچا چیرې په ښکار وتی و او په بیابان کې پرې شپه راغله د یوه کوچي کیږدۍ ته ورغی او دهغه سره یې شپه شوه، دخوب وخت شو او دکوچي کره برستنې نه وې یو د اوښ ځل پروت و کوچي ویل پاچا صیب داځل به درباندې واچوم چې ساړه دې ونه شي پاچا ویل رنګ یې ورکه وه، پاچا څملا ست او دشپې یخنۍ ونیوه بیا یې کوچي ته ورغږ کړ چې څه تلتك ملتك نه شته کوچي وویل صیب ځل شته ، پاچا ویل ورك یې کړه خو چې کله شپه ښه یخه شوه دپاچا ډیره یخني وشوه او بیا یې په کوچي ورغږ کړ چې څه اسباب نشته هغه وویل صیب ځل شته ، پاچا وویل چې نوم یې مه اخله خو را باندې یې را واچوه.

مونږ افغانانو هم ښه مشر غوښته خو چې نه پیداکیږي نو اوس مو چې هر څوك واکمن شي او چې هر څنګه وي شپې به ورسره تیره وو.

14.رنګ ته یې مه ګوره خو ند ته یې ګوره.

14.دیوه چا ظاهري بڼه څه بیکاره غوندې ښکاري خو هغه به ډیر یوه او کار یګر سړی وي .

15.روزي په طالعو ده نه په هلو ځلو.

15.هر څه سړي ته له ازل نه رسیږي په ډیرو هلو ځلو نه ده.

16.ریچې ویل که خوله کې مې لومه نه وای د انسان به مې ماغزه راویستي وی.

16.دځینو خلکو وسه نه رسیږي خو ډیر ظالمانه خویونه لري.

## (ړ)

1.ړانده ته چشمې څه په کار دي.

1.دړانده پرې نظر نه زیاتیږي.

2.ړوند دخدایه څه غواړي دوه سترګې.

2.د ړوند لومړی ارمان سترګې وي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



3.ړوند یوارامسا ورکوي.

3.هوښيار سړی یوار تیروزي.

4.ړوند درڼا په قدر څه پوهیږي.

4.جاهل سړی د علمیت او پوهې په قدر نه پوهیږي.

5.ړوند په چراغ څه کوي.

5.ناپوهه ته ښه کار او بد کار یو شان ښکاري.

6.ړوند خو ړند یم نو سترګو ته مې ګوتې مه راوړه.

6.مصیب او غم خو مې تاته معلوم دی څله یې راته هره شیبه وایې.

7.ړوندیې شل ته په شاکړی دی.

7.په یو بیکاره دبل بیکاره کار کوي.

8.ړوند په ګډا څه کوي او کوڼ په نغارو څه کوي.

8.ړوند دګډا په خوند نه پوهیږي . او چې هر څومره ښه اوازونه وي ګاڼه ته خوند نه ورکوي ځکه چې په اسانه یې نه شي اوریدلای.

9.ړوند یو وار ټکر کیږي.

9.هوښیار سړی یو ځل نیم غلطیږي.

10.ړوند ته تور او سپین یو شی دی.

10.ناپوهه دښو او بدو توپیر نه شي کولای.

11.ړوند خپله خوله نه غلطوي.

11.په ناپوهو خلکو یوازې خپل ځان ګران وي.

12.ړنده سپۍ ده په خپلو بچو غل کوي.

12. خپل خلك ترې ناقراره دي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## (ز)

.1زاړه په خواړه.

.1زړو ژوند په ښو خوړو دی.

.2زده کړه دزانګونه تر قبره پورې ده.

.2یعنې زده کړه تر عمره نه خلاصیږي.

.3زرګره ده.

.3ډیره هوښیاره ده.

.4زر هم غم او بې زره هم غم.

.4که دې دولت درلود هم غم دی او که دې نه درلود نو غم غم دی.

.5زرګر دمور دنتکۍ نه هم غلا کړې ده.

.5په زرګرانو کې صادقان نه وي.

.6زر چې لري زمري به هم ستا غلام وي.

.6چې پیسې لري ډیر غټ غټ قدرتونه ماتوي.

.7زړه ورپورې مه تړه.

.7باور او اعتماد پرې مه کوه.

.8زړه مې غلبیل، غلبیل دی.

.8ډیر غمجن یم زړه مې سوری ، سوری دی.

.9زړه چې غمجن شي ستر ګې ژاړي .

.9چا ته چې تکلیف پیداشي ظاهري اثرات یې ښکاري.

.10زړه یاري زین کړی آّس دی.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



10.پخوانۍ دوستي او اشنايي د باور وړ او سمه لار ده.

11.زمرو کې نراوښځه نشته.

11.میرٍونه ټول میرونه وي.

12.زامن دپلار په شان وي او لوڼې دمور په شان.

12.په زامنو کې زیاتره دپلار خویونه وي او په لوڼو کې زیاتره دمور خویونه وي.

13.زوريې دملخ لګیږي مې په مخ .

13.هیڅ هم نه یې خو په سترګو کې راننوځې.

14.زما دې سوال ورك شي او ستا دې دا د ورك شي.

14.چې یو سوالګر دډیر شي په تمه وي او سړی لږ ورکړي.

15.زوړ غم تازه کوي.

15.بل کار یې نشته بیکاره دی زاړه غمونه تازه کوي.

16.زړه دغوښې دی.

16.هر څه غواړي.

17.زوړ شو او سوړ نشو.

17.ځینې خلك تر اخره پورې دبد خوی او بد عادت نه لاس نه اخلي .

18.زور دچل کونه شکوي.

18.چې زور راشي بیا چلونه نه ټینګیږي.

19.زوم لرګی دی.

19.دپګښتنو په ځینو سیمو کې چې یو پلار دخپل زوی له پاره دچا په لور مرکه کوي او دهغه سړي به ورته دخپښۍ خوښه راخله نو ددې له پاره چې د زوم همت او قوت معلوم کړي، چې لورته مې روزي ګټلی شي او کنه نو ازموینه به یې پرې کوله ، یو سخت او غوټن لرګی به یې پیدا کړ او زوم ته به یې ورکړ چې دا په تبر ټوټې کړه که چا به په لږ وخت کې دا کار وکړ هغه به ډیر تکړه و نو بیا به یې ګوړ ماتی وکړ.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



.20زه پور غواړم دی نور غواړي.

.20زه ترې زوړ غواړم او دا لا نورې هم غواړي.

.21زه دګناه ګار قبر په هديره کې پيژنم.

.21زما سره ډيره تجربه ده خلك پيژنم.

.22زه دې مړی ژاړم ته مې خولې پورې خاندې.

.22يو څوك د چاسره په يوه كار كې څه مرسته كوي، مګر هغه ښاغلی ددې د مرسې او كار كولو يورې خاندي .

.23زه دې پوزه غوڅوم ته رانه چار ګل غواړې.

.23يو سړی و او خپله ښځه يې ډيره بدې شوه او قهر يې ورته راته سړی دپيښور اندرشير ته روان و او څه پيسې يې بدلو لې ښځې يې ورته کړه چې سړيه چې را تلې ماته به په اندر شير كې يو چار ګل واخلې ، سړي ورته کړه چې زه دې پوزه غوڅوم ته رانه چار ګل غواړې.

.24زه دې په مسلمانۍ کې شك ګڼم ته راته مريدان نيسې.

.24زما دې په زده كړه كې شك دی ته استاد شوې.

.25زه دخان نوكر يم نه د بانجان.

.25خان بانجان خوړل، نوکر ته يې وويل چې ياره ډير خوندور بانجان دې بله ورځ بيا خان صاحب د ډوډۍ په وخت كې بانجان خوړل خو پرې بد لګيدلي او بيايې نوكر ته كړل چګې ياره بانجان خو ډير خراب شی دی نوكر وويل چې هو صاحبه ډير خراب شی دی.

يو چادې نوكر ته وويل چې څنګه تيره ورځ دې ورته ښه ويل مګر نن والي چې خراب دي په دې وخت كې نوكر کړه چې زه خان خوشالوم دبانجانو سره مې كارنشته،

.26زه په تا ته خطا.

.26زه په تا زهير يم خو ته زما د ضرر كارونه كوې.

.27زه زړه در وړم ته سړی راوړې.

.27زه ډير اخلاص درسره لرم مګر ستا خوا خوږې راسره نشته او يو څه تكليف هم راكوې.

.28زه خوته شوم ته څه شوې.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



28.يو سړی و او حبن قطعه نوميده ، په خپله غاړه کې يې يوه غاړکۍ اچولې وه او خپل ځان يې پرې پيژنده . بل ورځ يې ورور دا غاړکۍ په خپله غاړه کړه . نو ده ورته وويل چې لالا زه ته شوم ته څه شوې؟

29.زه به يې پريږدم که دې مې پريږدي.

29.يو هلك و اوبل ته په غيږه ورغلی و او په دې عين غيږه کې سره په جنگ شول يو بل ځملاوه خو دا لانديني يې نه پريښوده ، دې برني ته يو ملگری ولاړ دی او ورته وايي راځه چې ځو پريږده يې، برني ورته کړه چې زه خو يې پريږدم دې مې نه پريږ دي .

30.زر څه او زر را څه.

30.که يو ځوك غواړي چې يو لرې ځای ته يو کار پسې يو سړی وليږي او غواړي چې بيرته زر سوال او ځواب راوړي نو بيا داوايي.

31.زه لاپخوا مست وم بنگ مې بهانه شو.

31.يو بنگي بنگ څکلي و او ځان يې مست ، مست او پورته پورته اچاوه چاورته وويل چې دا بنگ مه څکوه چې بيا دې مستوي، بنگي ورته وويل زه لاپخوا مست وم دبنگو تا ثيرنه دی.

32.زه پردو غمونو وخوړم .

32.پردو انديښنو په تکليف کړی يم.

33.زلمي کې چې غيرت نه وي سر يې دپرې کولو دی.

33.زلمی چې غيرتي نه وي د پريښودو نه دی.

34.زه دبې بې سره خوښه يم.

34.په يوه ښادۍ کې يو کور ډيرې ښځې را غوښتې وې په دې کې کومه ډيره معتبره ښځه هم راغلې وه هر چا به ورته سترې مشې کوله کور والا ورته په کټ کې توشك او بالښت کيښودل او بې بې تکيه ووهله ، دکلي يو ه غريبه ښځه راغله بې بې ته يې سترمشي وکړه او همليته ورسره کښيناسته چې بې بې يې پښو غځولو ته نه پريښوده د کور ښځو ورته وويل چې د بې بې نه رادې خوا شه لاندې کښينه ښځې وويل نه زه د بي بي سره خو شاله يم.

35.زنگ وهلې توري نه نه توره ښه ده.

35.دبيکاره اشنا نه نه اشنا ښه دی يا دبيکاره وسلې نه نه وسله ښه ده.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



.36زاري يې دزور اندازې ته ورسوله.

.36دومره زاري يې وکړه چې سړی مجبور شو چې څه وکړي.

.37زر زردار ته ورځي.

.37چاسره چې ډېر دولت وي نو هماغه ته ډېر دولت ورځي.

.38زر زور لري.

.38څوك چې دنيا دار وي هغه زورور هم وي.

.39زړه چې مين شي ستر ګې ژاړي .

39ديو چا غم او خوشالي په بل دوست اغيز کوي .

.40زړه زړه ته لار لري .

.40څوك چې دچا خوښېږي دهغه هم هغه سړی خوښيږي.

.41زما پيدا په مالګيا.

.41سړيتوب مادر زده كړ تكليف دې هم اوس ماته دی.

.42زمروته خدای په غره کې غوښې رسوي .

.42چې څوك سړی شو كه بيا په غره كې كښينې هم خلك به يې احترام کوي او احتياج يې رفع دی .

.43زور په غريبو ازموي.

.43زور ورته څه ويلای نه شي او دخپل زور تجربه په غريبو كوي .

.44زه مې لالا سره راغلی يم.

.44په يو ځای کې يودوه ورونه غلا ته تللي و او د کور خاوند ور باندې راويښ شو . مشر ورور يې په کندو کې پټ شو او کشر د کور خاوند ونيوه. او پوښتنه يې ترې وکړله چې دلته دې څه کول .کشر غل ورته وويل زه مې دلالا سره راغلی يم ويل يې لالا دې چيرې دی؟ ده ويل په کندو کې ناست .

.45زه دادې مز دوره ادې د کلي مزدوره.

.45دغلام غلامي كوي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



46.زړه چې تنګ نه وي ځای تنګ نه دې.

46.يو څوك چې په يو ځای کې تنګ ناست وي اوبل سړی راشي دا خلك ځان تنګ کړي او هغې ته ځای ورکړي. نو راغلی سړی ورته وايي چې تنګ مې کړئ. هغه خلك ورته په ځواب کې وايي چې زړه تنګ نه وي ځای تنګ نه دی.

47.زه په تمه ته بيغمه .

47.يو څوك يو چاته ديو کار دکولو په تمه وي او دهغه نه يا هير شوی وي او يا يې قصداً نه کوي او يا يې دناراستۍ نه نه کوي .

48.زه مور ټينګ تړلی يم.

48.نه مې څوك غولولی شي اونه مې څوك ويرولی شي.

49.زمری دځناورو پاچا دی.

49.دټولو ژويو څخه په زمري کې قوت زيات دی ځکه پاچا دی .

50.زور به يې په لسمه مياشت معلوميږي .

50.لومړی خو دمزو وخت وي دتکليف وخت يي بيا په لسمه مياشت وي .

51.زه ژوندی سړی يم .

51.بيداره يم، څوك مې نه شي غلولای.

52.زمانه هماغه ده خو انسانان بد ليږي .

52.په زمانه کې بدلون نه راځي ، په خلکو کې بدلون راځي،

53.زړه يې ښه که کار پرې وکه .

53.چې زړه خوشالوي نو کار هم په اخلاص کوي .

54.زه ستړی ته خفه .

54.مانا داچې هغه احسان هومره مې هم نه منې او خپه لا سرباري يې.

55.زه چې ستا په منګ ومه بوټی دلونګ ومه.

55.زه چې ستا په منګ ومه ما ډير ښه ښه کارونه کول.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



.56زوی بادام دی او لمسی دبادام مغز دی.

.56دزوی نه لمسي گران وي.

.57زه دې هم دلور غونډې كړم او ځان دې هم.

.57يو چرسي و او دچنګاښ په مياشت كې د روژې مياشت وه ، د روژې شپږويشتم و، سهار چې چرسي را پاڅيده او ښكته اسمان ته يې وكتل ، مياشت دلور غونډې نرۍ وه . داخپله ګوته يې را كات كړه او دلور شكل يې ترې جوړ كړ او مياشتې ته يې وويل چې ځان دې هم داسې راكوږ كړ او زه دې هم را كوږ كړم .

.58زه خپل حال هم داسې وايم لكه پردى.

.58صادق يم په زړه كې څه نه ساتم .

.59زړه يې موړدى.

.59زړه يې صبر شو .

.60زړه يې صوتې دى.

.60خپه دى ، موړ دى.

.61زما د سره تيره خدايه مه كړې دنيا ډيره ګ

.61چې زما برخه په كې نه وي هغه دنيا او دولت دې ډير نه شي ګ يا دا چې له ما پاتې كيږي خداى (ج) دى ډيرنه كړي چې نور به يې بيا خوري ګ او په حديث مبارك كې دنيا په درې برخو ښودلې ده ، لومړى هغه ده چې ده وخوړه هغه هم دده ده دويم كه د خداى (ج) په رضا يې وركړه هغه هم دده ده او دريم هغه ده چې هغه دده نه ده او د ورثوو يې ده ګ

.62زما برخه وشوه د خداى ونه شوه ګ

.62يو سړي غنم كرلي و او يو فقير راغى زكات يې ترې غوښته ګ سړي وويل چې ماته زكات نه كيږي ګ فقير ورته وويل چې ولې نه كيږي فصل دې شوى ؟ سړي بيا كړل په فصل كې خو عشر دى لسمه برخه د خداى (ج) ده زما نهه منه غنم شوي او لسم من يې نه دې شوى چې هغه د خداى (ج) برخه ده ګ نو تاته څه دركړم ګ

.63زوى چې دې نيازبين شونه د ستا شو نه ددين شو ګ

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



63.هغه زوی به نه تاته ګټه ورسوي او نه به د خدای بنده ګي وکړي یو بې کاره فرد او د ټولنې د اوږو بار به شي ګ

64.زوی د خپل سوري لاندې ساته ګ

64.یعنې خپل اولاد خپل سر ته مه پرېږده ګ

65.زما خولې ته د توت اهمیت نه ورکوي.

65.زما ویناوې او نصیحتونه ورته بې ارزښته دي.

## (ژ)

1.ژامنو ر سړی دی .

1.بلا خور دی.

2.ژامنه کې یې یو غاښ نشته .

. 2یعنې ښه سپین ږیری شوی دی.

3.ژامنې به پرې ماتې کړم .

3.له خبرو او خوراك نه به یې او باسم.

4.ژبه لمده ده هرې خوا ته اوړي.

4.خوك چې خپله خبره بدله کړي .

5.ژبه یې په ویلو تناکې شوه.

5.ډېر یې ورته وویل .

6.ژرنده کې یې شپه شوه .

6.تکلیفي شپه پرې راغله .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



.7ژرنده که دپلار ده هم په وار ده.

.7سړی باید په هر کار کې ترتیب په نظر کې ونیسي .

.8ژرنده یې ګرځي بلا یې پرځي.

.8د چا چې ژرنده وي نیستي به ترې لرې وي.

.9ژرنده ګړي ښځه ده تیار مزد ته ناسته ده.

.9تیاره ګټه خوري زحمت نه ګالي .

.10ژرنده کې وایه بله ځای کې مه وایه.

.10که غواړې چې اولس پرې خبر شي نو په ژرنده او جومات کې یې وایه.

.11ژوره ده وینې یې وڅښکلې.

.11یو سړی چې دمال په راټولو نه مړیږي .

.12ژبې ته " 32" غاښونه په قهر وي .

.12دزورورو په منځ کې چګې ځوك او سیږي او بیا هم سلامت پاتې وي .

.13ژمی یې تود اوړی یې سوړ.

.13یعنې په مزو او چړ چو کې دی .

.14ژمی هغه وخت وي چې یا باد وي یا باران وي .

.14یخني دباد او باران سره وي .

.15ژوند دې سخت دې له مرګه بد تر .

.15ډیر ستونزمن ژوند یې دی چګې مرګ ترې ښه دی .

.16ژوند نه یې مګرګ ښه دی .

.16سپك او بې حیا یې کوي .

17ژبه یې دغوځولو ده .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



.17روغه خبره نه کوي .

.18ژبه يې دملا نه ترلې ده .

.18ډيره زباندرازه او بې شرمه ښځه ده .

.19ژمنی دپسرلي وال دوه برابره دی.

.19په ژمي کې چې ميږه يا اوزه بچی راوړي هغه دپسرلي دبچيو دوه برا بره قيمت او ارزښت لري .

.20ژوبل دی يعنې عاجز دی .

.20تاواني شوی دی يعنې څه نه لري .

.21ژبې باندې ولاړ نه دی .

.21په ژمنه او وعده ولاړ نه دی .

.22ژولې خبره کوي .

22. غوڅه او پاکه خبره نه کوي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## (س)

. 1سبا نارى يې وګوره غرمه پرې پاتې شه ګ

. 1اول يې ګوره اخر پرې قياسوه ګ

. 2سپاهي ځان ستائي ګ

. 2خپله لوي پخپله وايي ګ

. 3سپلمۍ په ځان کې ټکی کوي ګ

. 3سپلمۍ يو بوټی دی چې ډيرې پۍ لرې چې په کوم ټپ باندې ولويږي بيخي يې ناسور کوي ګ يعنې ځانته په خپل لاس يو تکليف پيدا کوي ګ

. 4سپږه وژني ريچه يې مزد اخلي ګ

. 4د لږ کار ډيره ګټه غواړي ، يادا چې په يو خسيس کار باندې هم خپل اجر او ګټه غواړي ګ

. 5سپيرکۍ په کې مه خرڅوه ګ

. 5کار په کې مه لره ، البته زجراً ورته ويل کيږي ګ

. 6سپيره ميدان دی ګ

. 6هيڅ هم نشته ګ

. 7سپی چې سپی دی هغه هم په لکۍ ځانته ځای پاکوي ګ

. 7څوك چې په کوم ځای کې اوسيږي بايد چې د هستوګنې ځای يې پاك او نظيف وي ګ

. 8سپين غر د واورو خالي نه وي ګ

. 8دا کور له ميلمانونه تش نه وي ، افغانستان بې ميړونونه وي

. 9سترکې د سترګو نه شرميږي ګ

. 9چې سترګې مخامخ شي بيا ترې خلك حيا کوي ګ

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



. 10ستا د خيره مې توبه ده سپې دې كورې كه گ

. 10خير نه دې تير خو شر هم مه راپيښوه گ

. 11ستوان خوړل او شپيلى وهل نه كيږي گ

– 11توتان چې د اوړو غوندې ميده شي ستوان ورته ويل كيږي ، چې پنجشيريان يې ډير خوري ، نو ستوان چې په خوله كې پراته وي شپيلي ورسره نه وهل كيږي گ

يعنې په يو وخت كې دوه ضدكارونه نه كيږي گ

. 12سردې سر نه دى او وزې ښې خو ښوې گ

. 12يو چا په خپله ورورى كې د اوزو يا چيليو رمه سره ويشله ، كشر ورور به ځانته ښه اوزه كتله او بيلوله به يې مشر ورته په قهر شو او دا خبره يې ورته وكړله گ

. 13سر مې ببر دى كه لغړ ويل ځولۍ كې به در توى شي گ

. 13نايي ته يو سړى ناست و او سر يې خريلو ، په دې وخت كې يې د نايي نه پوښتنه وكړه چې د سر ويښتان مې اوږده دي كه لنډ گ نايي ورته وويل چې اوس به دې ځولۍ كې در توى شي گ

. 14سر چې دې وكړ په يو ور راشه جامې چې وينځې نو په مور راشه گ

. 14د دوه وروڼو ښځې پخپل منځ كې سره ورانې وي يو د بل ښه جامه يې هم بدې شي او راحت يې هم بدې شي ، او چې ښځه جامې وينځي ډيره ستړى شي گ نو كه په مور راشي يو څه تاوده ساړه به ورته كښيدي او ستړيا به يې پرې رفع شي او چې سر يې غوړ كړى او كوڅۍ كړي وي او ښه سينگار يې كړى وي نو په يو ور دې راشي چې هغه خفه شي گ

. 15سر مې په كې سپين شو گ

. 15ډيره تجربه په كې لرم گ

. 16سر بانډى يې ورواړوله گ

. 16زور يې پرې زيات راوست ، تاوان يې پرې زيات راوست گ

دوه غوايان چې دهقان په قلبه سره وتړي او يو قوي او بل كمزورى وي نو بيا هغه بل ته سر بانډى يا لودره ورښوروي چې په هغه قوي زور زيات راشي گ

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



. 17سر يو دی سوداگانې ډېر دی ګ

. 17يو سر دی تکليفونه او کارونه ډېر دي ګ

. 18سُدُوم ته شين دی ګ

– 18سودم يوه سيمه ده چې تقريباً د مردان شمالي شرق ته پرته ده هلته وچکالي راغله خلك يي د پيښور خواته مهاجر شول او ددی مهاجرت يې ډېره موده وشوه غوښتل يې چې بيرته خپل کلي ته ولاړ شي ګ ځکه چې دوی فکر کاوه چي ګسمه به شنه شوی وي او وچکالي به ختمه شوې وي ، په دې وخت کې چا ورته وويل چې کله مه ورځئ اوس هم اسمان سودم ته شين دی او بارانونه نه دي شوي ګ

. 19سړی چې زوړ شي مرض ته جوړ شي ګ

– 19په زاړه بدن باندې مرض ډېره اغيزه کوي ګ

. 20سړی په رنګ نه سړی کيږي ګ

. 20په جامه او په رنګ سړيتوب نه دی ګ سړيتوب لياقت او پوهه غواړي ګ

. 21سړی هغه دی چې پخپله هم پو هيږي او د بل مشوره هم ومني ګ

. 21مشوره اوريدل او مشوره غوښتل په يو کار کې دا غټ سړيتوب دی ګ

. 22سړی سړی نه دی نوم يې فتح خان دی ګ

. 22سړيتوب په کې نشته او نوم يې غټ ينبي ګ

. 23سل روپۍ پور که زوی په بازار لوی که ګ

. 23يعنې په زوی باندې تاوان وکړه ، د خلکو سره يې اشنا کړه چې جهان وګوري او سړيتوب زده کړی ګ

. 24سل دې ومره د سلو سر دې مه مره ګ

. 24ډېر دې نه وي خو د قوم ياد کورنۍ مشر دی وي ګ

. 25سل په لالي پورې دايو يې د بنګړو ګ

. 25يو چا په خپلې معشوقې ډېر مصرف کړی و او په جيب کې يې يوه روپۍ پاتې وه په هغی يې هم ورته بنګړي واخيسته ګ چا ورته وويل چې تاخو د ځان سره هيڅ پرينښودل بيا دی ورته وويل :

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



. 26سل خبرې سر يې يو دی گ

. 26په يوه موضوع کې ډېرې خبرې وشي خو نتيجه يې يوه خبره وي گ

. 27سم چړ پرې ور روان دی گ

. 27ډېر زغرد وربانديې راځي بريک پرې نه نيسي گ

. 28سم زما ځواني راغله سم مسلماني راغله گ

. 28يو هندو پنځلس کلن و چې مسلمان شو گ او سمه روژه هم راغله ټول گ احکام پرې فرض شول نو هندو بيا دا وويل :

. 29سوری يې په تيږو ولې گ

. 29ډېر يې بديسي ان تردې چې سيوری يې هم خوش نه دی گ

. 30سوری ستنه يې هم ورنه کړه گ

. 30هيڅ يې ورنه کړل گ

. 31سوری مشکنېه نه لري گ

. 31هيڅ هم نه لري گ

. 32سور د پلې د حاله خبر نه دی گ

. 32د راحت ښبتن د غمګځپلو او ستونزو وهليو د حاله خبر نه دی گ

. 33سيلاب چې هر ځای و خوت و خوت گ

. 33زور چې په هر ځای راغی نو راغی يعنې مخه نيول يې سخت دي گ

. 34سيند چې سړی واخلي هر بوټي ته لاس اچوي گ

. 34يو کس چې ارشي بيا نو له هر چا نه د خپلې اړتيا د رفع کولو هيله کوي گ که ترې کيده اوکه يه ؟

. 35سيالبين د نښې منځ ولې گ

. 35له ورايه هر چاته پردی کار اسانه ښکاري گ

. 36سيری زما ده او دانې د خان دي گ

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



. 36باجوړ او د پښتنو په ځينو نورو سيمو کې داسې رواج و چې خانانو، نوابانو او ملکانو به ملا، نايي او نورو کسبګرو ته يوځه ځمکه ورکوله خو چې د حاصل وخت به راغی خان صاحب به ترې يووړ چا به چې د نايي نه پوښتنه وکړه چې دا سيرۍ ستاده هغه به دا ويلی ګ

. 37سورۍ يې په تبر وهي ګ

. 37ډېر يې بديسي ګ

. 38سيلۍ چې نه وي ځانګې نه ښوريږي ګ

. 38کار د خپلو نښونه ښکاري ګ

. 39سر يې په خط کيښود ګ

. 39تابع شو ، تسليم شو ګ

. 40ستا په خبره يې پرتوغاښ وشکيده ګ

. 40په خپله غلطۍ پوه شو ګ

. 41ستا ښه به په زړه کرمه نو وير به درته وکمه ګ

. 41ښيګڼه به دې يادوم او خپګان به درباندې کوم ګ

. 42سړی سړی نه دی په مونږ ملك دی ګ

. 42داخو چنداني سړی نه دی، خو زموږ هم خونده نشته ګ

. 43سړي ورك شول چې زما پلار ملك شو ګ

. 43د يو سړي خور په بل وطن کې واده وه ، ورور د خور د پوښتنې له پاره هلته تللي و خور يې ترې د کور د لويو وړو پوښتنه کوله ګ ورور ورته ډير په خوښۍ وويل چې زيری مې درباندې پلار دې ملك شو ، انجلۍ په شټ شټ وژړل او ويې ويل چې ولې نور سړي ورك شول چې زما پلارم ملك شو ګ

. 44سپيبه چغې شه د چا د مخې شه ګ

. 44خپل او پردی وپيژنه بيا خبرې کوه ګ يعنې د هر چا پورې مه نښله ګ

. 45سړی په خوی سړی دی ګ

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



. 45سړی په اخلاقو سړی کیږي گ

. 46سور سترګي نه لري گ

. 46ګېډندوی او ملا تړی نه لري گ

. 47سترګې يې سرې دي گ

. 47په قهر دی گ د یو لیوه او ګیدړ سره اشنايي وه ګیدر لیوه ته ویل چې کله تاماته وويل چې ماما سترګې دې سرې دي نو زه به هغه وخت په ښکار حمله کوم گ یو وخت لیوه وږی شوی و او یوه تیار قچر په ځنګل کې ګرځيده ، لیوه ګیدړ ته وویل چې ماما سترګې دې سرې دي ګیدړ چې په قچر برید وکړ قچر په کلکه لته باندې وواهه او هډوکي يې ورمات کړل او تر ډيره وخته بې هوښه پروت و کله چې لږلږ را په خود شو، نو لیوه ته يې کړه چې سترګې مې سرې نه وې تا هسې ویل چې سرې دي گ

. 48سره او سپين ورته ښيي گ

. 48وطن ورته شړشم کړي ، پسرلی ورته جوړ کړي هسې يې تير باسي گ

. 49سر د پاسه سر وي گ

. 49د زور د پاسه زور شته گ

. 50سوه چې پيدا شي تازي ته غول ورشي گ

. 50چې د کار وخت شي ورك شي يا پلمې کوي گ

. 51سپي د ملنګ سره وران وي گ

. 51ځکه چې د ده دبادار له کوره څه غواړي گ

. 52سيل هم سيل سر ګرداني هم سيل گ

. 52که یو سړی د یو کار پسې يو ښه ځای ته ولاړ شي ، که کار وشو خو ښه ده او که ونه شو دا ستړيا او ګرځيدل يې هم یو کار دی گ

. 53سیاست کې ننني دوست سبا دښمن او سبانی دښمن د بل سبا دوست دی گ

. 53سیاست کې دوست او دښمن یو دی گ

. 54سليم عقل په سالم بدن کې وي گ

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



. 54چې سړی په بدن روغ وي کارونه هم ترې ښه کيږي او خبرې يې هم د سړيتوب وي گ

. 55سپی مې کړې کشر مې مه کړې گ

. 55ځکه چې هر څوك په کشر باندې مينتونه کوي گ

. 56سل زامن د سپي يو د زمري گ

. 56نا اهله چې څومره ډير وي هيڅ دي خوکه اهل يو تن هم وي ډير څه دي گ

. 57سپی چې ډير بچي راوړي هم کرنج نه کوي گ

. 57په ډيروالي نه ده په اهليت او اصليت ده گ

. 58سپورې ستغې يې ورته وکړې گ

. 58بدې بدې خبرې يې ورته وکړې گ

. 59سپورې او ستغې مه وايه گ

. 59بدې خبرې مه کوه گ

. 60سر په ويښتو دروند نه دی گ

. 60خپل بار او خپل تکليف دروند نه وي گ

. 61سر مې درنه قربان خو څه رانه مه غواړه گ

. 61هسې دې مخلص يم گ

. 62سر دې سلامت وي د مال پسې مې بلا گ

. 62کله چې يو کس زيانمن شي مال ترې ولاړ شي او دی روغ پاتې شي نو بيا خلك دا وايی گ

. 63سر يې بل چا وړی و گ

. 63نکل داسې دی چې : يو پاچا د مجرم په سر باندې انعام ټاکلی و او ويلي يې و چې که هر چا يې سر راوړ نو دا انعام به واخلي ، نو وخت داسې راغلو چې نوموړی مجرم چاوژلی و او سر يې ترې وړی و ، يو بل سړی راغلو او د مجرم پښې يې غوڅې کړې او د ځان سره يې يوړې او غوښتل يې چې يو څوك پيدا او واسطه کړي او پاچا ته ځان

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورسوي يو تن يې پيدا کړ خو هغه سړي ورته وويل چې د مجرم سر دې ولې نه راوړه چې پښې دې راوړي دي ګ سړي ورته کړه چې سر يې بل وړی و ګ

64. سل نغري لري خو غوښه پري نه پخيږي ګ

64. د نارينتوب خبرې ډيرې کوي مګر عمل يې نشته ګ

65. سل کاله پس يې بدل واخيسته ورته يې وويل چالاکي دې وکړه ګ

65. نو کس سل کاله وروسته د خپل نيکه کسات واخيست بل ورته وويل چې ډيره چالاکي دې وکړه يعنې د کسات وخت هر وخت تازه او نوی دی ګ

66. سل مړه دي او جنګ ورته نه وايې ګ

66. يوه ښځه وه او په لاره يې منډې وهلې ، بل ترې پوښتنه وکړه چې خيريت دی څنګه منډې وهې ، ښځې ورته کړل چې خير خيريت دی زه يې د عاشور لالا سره ونيولم او خلك سره په جنګ شول او يو څو کسان سره مړه شول خو نور خيريت دی ګ

67. سوه چې بار شي څومره به يوسي ګ

67. د يوه کمزوري سړي نه به د قوت څه تمه کوي ګ

68. سيرلی خپلې مور سره څملي ګ

68. هر څوك خپل خوا حوړي سره نړديوالی غواړي ګ

69. سل سرونه لمدوي يو په کې نه کلوي ګ

69. ډيرو ته تمې ورکوي خو د يوکار هم نه کوي

70. ستاسو سپي خو زمونږ تبر نه دی راوړی ؟

70. يو زوم و او تازه يې کوژده کړې وه ګ کور يې نږدې و ، او د ورځې به څوواري د خواښې کره تلو او يوه پلمه به يې کوله دا ځل ترې نورې بهانې ويرې شوې او دا يې وويل ګ

71. سم د خبرو ماشين دی ګ

71. ډير خبرلوڅ دی ګ

72. سيند په شګو نه بنديږي ګ

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



. 72ډېر قوت په لړ مقاومت نه ايساريږي ګ

. 73سر سر او کونه ستر يې دواړه لاړ ګ

. 73هر څه ورك شول ګ

. 74سر يې يو واخيست مال يې بل واخيست ګ

. 74چا مړ کړ او چايې مال وتښتوه ګ

. 75سترګې د ليدو او غوږونه د اوريدو دي ګ

. 75ځان به د دنيا د حالاتو نه خبروي او په سترګو به هم حالات مشاهده کوې ګ

. 76سر به ورکړم سنګر به ورنه کړم ګ

. 76د خپل عزم او هوډ نه نه تيريږم ګ

. 77سپی بل کلي ته تللی و بيرته زر راغی چا ويل څنګه راغلې ويل يې د عزيزانو د برکته ګ

. 77يو سپی بل کلي ته تللی و د هغه ځايه سپيورا په مخه کړ او په خپل کلي يې وسپاره بيا ترې چا پوښتنه وکړه ده ورته دا وويل ګ

. 78سل پرې مرکې کوي او ديو په قسمت کی شي ګ

. 78يو شی ډېر خلك غواړي مګر د يو کس په برخه شي ګ

. 79سيند په لپه نه کميږي ګ

. 79د يوې خزانې نه په لږ څه ورکړه خزانه نه کميږي ګ

. 80ساړه خوره ګ

. 80خبره کوه ګ

. 81سترګې يې شکيدلې دي ګ

. 81بې حيا دی د چا خبره نه مني ګ

. 82سرکار د خلکو د راحت له پاره وي نه د زحمت له پاره ګ

. 82يعنې کله چې سرکاري او حکومتي چارواکي چاته بې ځايه تکليف ورسوي نو بيا خلك دا وايي ګ

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



83 . سپي ته کپ نه اچوي گ

83 . ډير بخيل دی گ

84 . سپي ځکولي گ

84 . دومره بخيل دی چې د سپي وړی هم خرڅوي گ

85 . سرسر دی خوري او کونه ستر يې نورو ته ورکوي گ

85 . ډير حاصل يې دی خوري او نورو ته هسې لږ څه ورکوي گ

86 . سخي زوم د ټول کلي خوښوي گ

86 . يو زوم چې په يو کلي کي کوژده وکړي ، نو بيا يې په ټول کلي لورونه زياته وي گ

87 . سترګې را باندي برګې برګې مه کوه دې ته به د چا زړه ټينګ شي گ

87 . يوه ښځه وه او لږ څه د ماغی تکليف يې دردلوده گ د خپلې ترور سره په لاره روانه وه چې مخې ته يې دواده جوړې د ډول او سورني سره راغلې ليونې سمد واره په ګډا ورته شروع وکړه ، ترور يې له ويرې لاس نه ور وړې چې څه بد رد ونه وايي گ خو کله چې پخپله ښه سترې شوه ، د جوړو خلك هم روان شول ، او ترور او ويره هم سره روان شول ، بيا يې دې ترور دې وريرې ته سترګې برګې کړې وې نو بيا ليونۍ ترور ته دا وويل :

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



**(ش)**

. 1شپون خپلې میږې ښې پیژني گ

. 1هر سړی خپل شي ښه پیژني گ

. 2شپې چې واخستې کښینه گ

. 2چې کار دربانديې ډیر شو او ترور یې کړې لږ فکر ورته وکړه گ

. 3شیدو وره غوا د لکۍ نه معلومیږي گ

. 3سړی له رنگه جوتیږي ، چې دې کې کار شته او دې کې نشته گ

. 4شړۍ هم د پچیرې ورکه وه پټ هم پچیری گرځې گ

. 4یعنې وهل شوی او تاواني شوی هم دادی او ویریږي هم دا گ

. 5شر دې پیښ شي چې خیر مې په کې وي گ

. 5داسې یو کار دې خدای(ج) پیدا کړي چې زما په کې گټه وي گ

. 6شرم خو دوه کونې نه لري گ

. 6شرم ، شرم دی په لږوالي او ډیروالي نه دی گ

. 7شفشف مه کوه شفتالو وایه گ

. 7ښکاره او غوڅه خبره کوه گ

. 8شودې خوري او خبرې یې نه کوي گ

. 8نعمت خوري او شکر نه اوباسي گ

. 9شنډې نه میوه لري نه سوری گ

. 9د بیکیانې میوه نشته او سیوری یې هم مزناك نه دی دا خلك هغه چا ته وایي چې نه یې خوند شته او نه یې رنگ شته گ

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



. 10شوده د هر چا خوښ دي خو د پيشو پسې زيړی دی ګ

. 10دنيا او دولت د هر چا خوښ دي خو ځينې خلکو ورباندې ايمان ورکړ .

. 11شونکړي وال وايي خدايه خواري را پيښه کړې ګ

. 11 د شونکړی خلك ډير غريب او خوار دي او هر وخت د مزدورۍ په انتظار وي سره ددې چې ډير غيرتي او ميلمپال خلك دی ګ

. 12شونکړي وال وايي ما پيدا کړه نور خلاص اوسه ګ

. 12يعنې پخپله دومره همت لرو چې ځانته روزي پيدا کړو د چانه سوال نه کوو ګ

. 13شولې يې شډلې دي ګ

. 13کار يې ګران او سخت دی ګ

. 14شولې او پروړې ګډې وډې شوې ګ

. 14کار يې مردار کړ ګ

. 15شيری چې سترګې تورې کړي د چا نه بدتر دی ګ

. 15چې ډير ضعيف سړی هم همت وکړي د لويو خلکو په قطار کې ځان ودرولای شي ګ

. 16شين بانجان يې تری جوړ که ګ

. 16ډير يې واوهه ګ

. 17شينۍ په پټه نه چيچل کيږي ګ

. 17شينۍ يوه غرنۍ کلکه ميوه ده چې د خوراك په وخت کې کړ پار کوي يا ځينې کارونه په پټه نه کيږي ګ

. 18شين تريخی دی ګ

. 18کله چې آسمان ډير شين شي نو بيا خلك دا وايی :

. 19شلامير کوي ګ

. 19شلا مير يوه لوبه ده چې ماشومان يې کوي ګ نو که څوك هسې بې ځايه ګرځي او کار نه کوي نو بيا خلك دا وايي :

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



. 20شين شين تږغ دی گ

. 20یعنې رنګ هم نه لري او چنداني غوښه هم نه لري گ

. 21شپې ګورځې به وي ياران به نوي گ

. 21همدا زمانه به وي خو دوستان به نه وي گ

. 22شنې سترګې سرو ویښتو کې خير نوي گ

. 22مبارك حديث دی چې وایي " چې سترګې یې شنې وي او ويښتان يې سره وي د خير تمه ترې مه کوه گ

. 23شيخ دی خو په هرې بلا پیښ دی گ

. 23د شيخۍ له برکته يې ډير کورونه وران کړل گ

. 24شيخ دی خو پردي دولت ته میخ دی گ

. 24دا شيخي يې د ريا ده په دې چل پردي مالونه خوري گ

. 25شيطان باندې چې د خره نظر شي هنګيږي گ

. 25حديث مبار دی : چې خر شيطان ووینې نو بيا هنګيږي او چرګ چې ملایکه ووینې اذان کوي گ

. 26شترمرغ کله په اوښانو کې ځان ګډوي کله په مرغانو کې گ

. 26ځینې خلك د هر وخت سره سازش کوي گ او په هر ګوند او رژيم کې چليږي گ

. 27شعر وایي گ

. 27غټې وېناوې کوي گ يا دا چې هسې خبرې کوي گ

. 28شعر يې جاري شوی دی گ

. 28ډيرې خبرې کوي گ

. 29شاګرد ته ټول چلونه ښيه دونې ختل ورته مه ښيه گ

. 29ټول کارونه او چلونه چاته مه ښییه گ

. 30شړې په کې ورکيدلې گ

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



. 30یو سړی میلې ته تللی و شړۍ ترې ورکه شوې وه ګ بیګاه ته چې کور ته راغی ښځې ترې پوښتنه وکړه چې سړیه په میله کې څه حال و؟ هغه ورته وویل یره ښځې شړۍ په کې ورکیدلې ګ

.31شهر ناپرسان دی.

.31یواستاذ و او یو یې شاګرد و او یو ځای دغریبۍ پسې روان وو. استاذ یې ډیر تجربه کار او ماهر سړی و. یو ښار ته ورسیدل چې په دې ښار کې هیڅ قانون نه و. په دې وخت کې دوی د خټکیو په یو پالیز برابر شول او وروګرځیدل او خټکي یې بیه کړل . لس خټکي دیوې روپۍ وو. ښار دې ځای ته ډیر نږدې و، کله چې دوی ښار ته ورسیدل او هلته یې خټکي بیعه کړل یو خټکی په یوه روپۍ و شاګرد استاذ ته کړل چې استاذه ښه د مزدورۍ ځای دی همدلته به په کار او بار شروع وکړو، استاذ خپل شاګرد ته وویل چې په دومره لنډ ځای کې په نرخونو کې دومره ځمکه او اسمان فرق دی نو دا ښار د اوسیدو نه دی.

خیر خو شاګرد په خپله خبره ډیر ټینګار کاوه، با لاخره همدلته یې یو ځای ونیوه او په ښار کې دیره شول . شاګرد یو خر واخیست او پالیز ته ولاړ او دروپۍ لس خټکي یې واخیستل او په خره یې را بار کړل . کله چې بیر ته ښار ته را رسیده نو په لاره عسکرو ترې ځای په ځای یو یو خټکی اخیسته تر څو چې ښار ته رارسیده خټکي خلاص شول او تش لاس خپل ځای ته راورسید . شاګرد بیا ولاړ او دیو ه دوکاندار سره تش په خیټه مزدور شو. شپې او ورځې تیریدې یو ه شپه یو غل په یوه کور ور اوښته چې له دیواله راپریوته او پښه یې ماته شوه. غل په سبا پاچا ته عارض شو. او ویل یې چې د فلانکي کور نه مې غلا کوله ، دیوال یې لوړ جوړ کړی دی. زه تر ې راولویدم او دا دی پښه مې ماته ده . جنابه عرض مې دادی چې دکورواله نه زما تاوان واخلئ پاچا عسکر ولیږل او دکور خاوند یې راجلب کړ. او پاچا ورته وویل چې دا دکور دیوال دې ولې دومره جګ جوړ کړی دی. چې دا غل خوارکی ترې راولیدلی دی او پښه یې ماته شوې ده. نو ته اوس ددې وړ یې چې په دار دې کړم .

کوربه پاچا ته په ځواب کې کړل: جنابه زه څه ملامت یم داخو دخټګر خطاء ده پاچا ددې خبرې سره دکور خاوند ایله کړ او سمد واره یې امر وکړ چې ورشئ او خټګر راحاضر کړئ. عسکر ولاړل او خټګر یې سم د واره را حاضر کړ. پاچا چې کله خټګر ولید سمدستي یې پرې غږ کړ چې ظالمه دا ولې دې دومره جګ دیوال جوړ کړی دی. چې غله ترې راولویږي. او پښې یې ماتیږي. خټګر پاچا ته وویل: قربان زه څه ملامته یم . ما چې کله ددې دیوال پخسه وهله . په دې لاره یوه انجلې تله او راتله چې ډیرې ښایسته ګاڼې ترې پرتې وې. زه به ددې ګاڼو په نندارہ وم او دیوال رانه لوړیده. نو په دې قضیه کې د پیغلې پلار ملامته دی. پاچا خټګر هم خوشې کړ او دانجلۍ پلار یې راحاضر کړ . او پاچا ورته وویل : ولې دې دې خپلې لورته داسې ښکلې ګاڼې اخیستې چې په خټګر یې دیوال دومره لوړ کړ. د انجلۍ پلار پاچا ته وویل چې موږ ملامته نه یو ټوله ملامته په زرګر کې ده چې هغه داسې ښکلې ګاڼه جوړه کړې ده، پاچا داهم خوشې کړ او زرګر یې راجلب کړ. پاچا د زرګر نه پوښتنه وکړه چې ولې دې دومره ښکلې ګاڼه جوړوله

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې دامصیبت ترې پیدا شو. زر گر بې ځوابه پاتې شو او پاچا پرې داعدام امر وکړ او ویل چې په دارېې کړئ. کله چې یې زر گرته کړی په غاړه کې ور اچوله نو د دار کړۍ یې په اور میږ کې نه راتله نو زرگر یې د پانسۍ له تختې راښکته کړ او پاچا امر وکړ چې په ښار کې داسې یوکس پیدا کړئ چې داکړۍ یې په ورمیږ کې روغه راشي چې په دار یې کړو . عسکر مخ په ښار شول او دداسې یو تن لټه یې پیل کړه چې په هغه کې برابر راشي. عسکر ولاړل او په مزدور شاګرد ور برابر شول، کله چې یې حلقه دشاګرد په ورمیږ کې واچوله نو بیخي برابره وخته . عسکرو مزدور شاګرد لاس تړلی دپاچا حضور ته راوست.

او دمرګ په تخته یې ودرولو. په دې وخت کې پاچا په دې هلك غږ کړ چې څه ارمان لرې ووایه؟

هلك غږ کړ چې په دې ښار کې مې یو استاذ دی. دومره مهلت راکړئ چې هغه ووینم او بخښنه ترې وغواړم. پاچا امر وکړ چې شاګرد خپل استاذه ته بوځئ او بیرته یې ژر راولئ چې په دار یې کړو. شاګرد یې استاذ ته بوتلو، استاذ یې ددې ټولې کیسې نه لاپخوا خبر و.

استاذ خپل شاګرد ته وویل چې ماخو تا ته ویل چې داښار د اوسیدو نه دی .

شاګرد ورته کړل: چې اوس راته چل وښیه.

استاذ خپل شاګرد له عسکرو لږ ګوښه کړ او ورته یې وویل : کله چې یې دستا په ورمیږ کې کړۍ درواچوله او په سولۍ کولې یې نو په ډیره قهه قهه به خندا وکړې او لاسونه به وپړ کوې، پاچا دې دسولۍ نه راښکته کوي او پوښتنه درنه کوي چې دا څه دې ولیدل چې دومره خوشحاله شوې؟

نو ته به ورته ووایې چې صاحبه قربان دې شمه ژر ژر مې بیرته سولۍ ته بوځه چې په دار شم، دا دنیا خو اور دی، کله چې جلادانو کړۍ زما غاړه کې راواچوله او پورته کولم یې نو اته واړه جنتونه مې ولیدل حورې او غلمان وو، دشهدو او شودو ولې بهیدې. نو پاچا دې سمدواره خوشې کوي او دا جنتونه یې دخپل ځانه په بل چا پیرزو نه دي. ته مه ورخطاء کیږه پاچا دغه کړۍ په خپله غاړه کې اچوي هغه به اعدام شي او داعدام نه به مخکې دا وصیت وکړي چې داهلك زما په ځای پاچا کړئ. چې په پای کې همداسې وشول.

**(بښ)**

. 1ښامار یې په توره وهلی دی ګ

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



. 1يو کس چې توره يې په وينو وه او پر اوږه يې يښې وه او ويل به يې چې ماښامار وژلی دی ، ښامار بل چا وژلی و ، مگر ده د مړه ښامار په وينو توره لړلې وه گ

. 2ښه ځرب دی گ

. 2تيار دی ، دولتمد دی گ

. 3ښځه د کور مالگه ده گ

. 3کور په ښځه کور دی گ

. 4ښځه يا په کور ده يا په گور ده گ

. 4ښځه بايد پرده او حجاب ولري گ

. 5ښځو په سبو ږيره ورکړې ده گ

. 5د ښځو سابه ډير خوښ وي گ

. 6ښکر يې اړم کړي دي گ

. 6په جنگ دي خپل زور سره ازموی گ

. 7ښکره ور سږی دی گ

. 7زور ور سږی دی گ

. 8ښه وکړه په سيند کې يې واچوه گ

. 8يعنې ښه د چانه هيريږي گ

. 9ښه ونه کړې بد نشته گ

. 9ځينې ناپوهه خلك د ښو په وړاندې بد کوي گ

. 10ښه خوی به دې سلطان کړي بد خوی به دې د ځان پوری حيران کړي گ

.10ښه خوی درنه پاچا جوړوي او بد خوی سړی سپکوي او ورکوي گ

. 11ښکار هغه تازي کوي چې لس گزه ټوپ وهي گ

. 11د کار کولو خلك معلوم وي چست او چالاکه وي گ

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



. 12ښکاریانو ته د ښکار ځایونه معلوم وي گ

. 12هر سړی په خپل مسلك كې ښه پوهيږي گ

. 13ښه میړونه په ښه خوله یادیږي گ

. 13د ښو خلکو هر څوك ستاینه کوي گ

. 14ښه د ځان او بد هم د ځان گ

. 14هر څه چې دی وکړل خپل دي دي گ

. 15ښه په زړونو باندې واکداري کوي گ

. 15ښه خوی اولس رعیت کوي گ

. 16ښځه شریکه ښه ده نه تجارت شریك گ

. 16کله چې څوك د خپل یو ملگري سره تړگي وکړي نو بیا د ډیر مجبوریت نه دا وایي گ

. 17ښځې ته حال ویل ځانته اور کرل دی گ

. 17ځکه چې ښځه راز ساتلی نه شي یو سړی دا متل اوریدلی و او ویل یې چې دا تجربه کوم گ د پاچا زوې چا تښتولي او ورك كړی یې و پاچا د خپل زوي د پیدا کولو په خاطر انعام اعلان کړ دی سړی د شپې یو غټ چیلی حلال کړ او د چیلي سر یې په خاکې ور واچولو او نوره غوښه یې وخوړله گ او خپلې ښځې ته وویل چې د پاچا زوی ما وژلی دی او په دې کوهي کې مې اچولی دی ښځه چې سبا د هرې ښځې سره کښېناسته دا به یې ورته ویل اخر پاچا ته خبره ورسیدله گ پاچا خپل عسکر راواستول او د سړي د کوره راتاوو شول سړی یې ونیوه کوهي ته یې ورښکته کړ او ویل یې چې ژرشه د شهزاده مړی را اوباسه سړی کوهي ته ښکته شو ، د کوهي نه یې غږ کړ چې د پاچا صاحب د زوی ږیره شته ، نور ورغږ کړ چې نه ، بیا یې ورغږ کړ چې خوله او سونټه یې اوږده ده دوی ویل نه گ بیا یې غږ کړ چي پاچا صاحب د زوی ښکرونه شته گ دوی ورغږ کړ چې نه او هر شي چې وي را اوباسه یې کله چې یې شی له کوهي نه را بهر کړ گوري چې د چیلي سر دی گ پاچا ورته وویل چې داولې ؟ سړي کړه چې ماته چاویلي و چې ښځې ته به حال نه وایې ما دا تجربه کوله گ

. 18ښادي پرې غم شوه گ

.18د خوښۍ په شیبو کې چې چاته یو خپگان پیدا شي بیا دا وایې گ

. 19ښادۍ باندې پوه نه شوه گ

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



. 19تکلیف او کړاوو ورته پیدا شوګ

. 20ښار په ښه خوی باندې خوړل کیږي ګ

. 20زندګي په ښه اخلاقو کیږي ګ

. 21ښځه د کاله ډیوه ده ګ

. 21ښځه د کاله رڼا ده ګ

. 22ښځه کره پښتنۍ ده ګ

. 22باید سړی ورسره په نرمه ژوند وکړي ګ

. 23ښه په ښه کیږي ګ

. 23چې ته ښه وی ټول به در سره ښه وي ګ

. 24ښه په دې دنیا وکړه چې اخرت کې یې میوه وګورې ګ

. 24ښه د اخرت توښه ده ګ

. 25ښې او چپ لاس نه پیژني ګ

. 25بیخي ناپوه دی ګ

. 26ښایست په سادګۍ کې دی ګ

. 26ساده ژوند ډیر ښکلی وي ګ

. 27ښه هغه څوك دی چې په ځان دې ښه وي ګګ

. 27تا ته چې ښه و هغه ښه دی ګ

## (ص)

. 1صبر خو سپې کړی چې هډوکی یې ورسید ګ

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



. 1صبر خوښه شي دی خدای تعالی(ج) د صابرانو ملګری وي ، دلته يې سړی داسې استعمالوي چې بايد سړی ډير انتظار و نه کړي چې په اخر کې ورته څه نه پاتې کيږي ګ

. 2صبر تريخ دی ميوه يې خوږه ده ګ

. 2د صبر زغم ډير سخت دی ، خو خدای(ج) صابر ته اجر ورکوي ګ

. 3صبر چې کوي خدای ور سره مل وي ګ

. 3څښتن تعالی د صابرانو مددګار دی ګ

. 4صراف قلبې روپۍ پيژني ګ

. 4پوهان ښه سړی او نه سړی پيژني ګ

. 5صرافانو مخکې قلبې چلوي ګ

. 5د پوهانو په مخکې غلطي کوي ګ

. 6صبر خوشحالي ده ګ

. 6صابر ته په پايله کې خوښي په برخه کيږي ګ

. 7صدقه د بلا رد دی ګ

. 7خير خيرات د بلا سپر دی ګ

. 8صبر د لوی والي علامه ده ګ

. 8صبر د استقامت ، تحمل او د سړيتوب نښه ده ګ

. 9صورت يې خپل دی واك يې د بل دی ګ

9 . واك يې د بل دی ګ

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



**(ط)**

- 1طالع من ته يې خدای(ج) په سپين ميدان ورکوي ګ

- 1بخت چې د چاويښ شي خدای(ج) يې پخپله کارونه برابر وي ګ

- 2طالع مې کوټه شوي دي ګ

- 2بخت مې اوښتی دی ګ

- 3طلاق حلال دی خو د خدای(ج) بد راځي ګ

- 3د خدای(ج) چې په حلالو کې بديشي هغه طلاق دی ګ

- 4طلاقي د پردو ښځو هم بد راځي ګ

- 4طلاقي د هر چا بديشي ګ

- 5طلاقي چې د طلاقې ښځې په مخه ورشي طلاقۍ ورته لاړې تو کوي ګ

- 5چا چې د چاسر بد کړي وي نو کله چې په مخه ورشي نو بد بد ورته ګوري ګ

- 6طلاقي چې مړ شي په طلاقۍ اختر وي ګ

- 6دښمن چې مړ شي په دښمن يې پرې خوشاليږي ګ

- 7طبيب هغه دی چې ډېر مريضان يې له مخې نه تير شوي وي ګ

- 7چې تجربه کار وي ګ

- 8طبيب هغه دی چې پرې تير شوي وي ګ

- 8په چا چې کوم رنځ تير شوی وي نو د هغه رنځ په درملنه پخپله يو اندازه پوهيږي ګ

- 9طبابت په يو ورځ کې نه زده کيږي ګ

- 9طبابت يو لوی علم دی او علم په يوه ورځ کې نه زده کيږي ګ

- 10طبيب هغه کوټې ته نه ځي چې لمر په کې وي ګ

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



- 10لمر د ډېرو رنځونو دوا ده ګ

- 11طوطي د طوطي په ژبه ښه پوهيږي ګ

- 11هر سړی د خپل په ژبه ښه پوهيږي ګ

**(ظ)**

- 1ظالم د خدای(ج) دښمن دی ګ

- 1څوك چې ظلم كوي د خدای(ج) سره دښمني كوي ګ

- 2ظاهر داري كوي ګ

)په ظاهر لباس د هيچا غلط مه شه

منځ يې ګوره چې چغزی دی كه مېاك(

- 2ريا كار دی يا دا چې خلك تيرباسي ګ

- 3ظاهري لباس يې ښه دی خو په زړه كې ټګ دی ګ

- 3ښكاره ښه خو كارونه يې وران دی ګ

- 4ظاهر ته يې ګوره او باطن ته يې مه ګوره ګ

- 4په ښكاره ښه دی خو باطن كې ښه نه دی ګ

- 5ظاهر كې شيخ دی پټ شيطان دی ګ

- 5په ښكاره يې لوی شيخ او عابد له ځانه جوړ كړی دی مګر په پټه كې دوه جنګوي ګ

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# (ع)

- 1عجله د شیطان کار دی گ

- 1په یوه کار کې ډیره تادي کول د شیطان خاصه ده گ

- 2عمر یې په دار شو گ

- 2ژوند یې سخت شو گ

- 3عمر د باد په شان تیریږي گ

- 3ژوند په منډه تیریږي گ

- 4عمر به مې تیر شي د ستا سوی کناټې به مې هیر نه شي

- 4یو کال وچکالي وه او غلې نه وې ، یو مسکین ورور یوې مالدارې خور کره ورغی خور یې پر تبۍ ډوډۍ پخولې چې په ورور یې نظر ولګید توده ډوډۍ یې له تبۍ راښکته کړه او د کوناټ لاندې یې کړه گ ورور ته یې په خوله سترمشي وکړه او وریانه څیده ویل یې وروره څنګه یې ؟ ورور یې ورته وویل ډیر ښه یم خو ستا سوی کوناټې به مې هیر نه شي گ

- 5عمر یې خوار شو گ چې خدای تعالی چاته په قار شي گ

- 5په تکلیف او سختۍ کې یې ژوند دی گ

- 6عاجز د غني نه پنځه سوه کاله مخکې جنت ته ځي گ

- 6پیغمبر علیه السلام فرمایي چې یو عاجز صابر پنځه سوه کاله مخکې له غني نه جنت ځي گ

- 7عجز او زاري کول خدای(ج) ته نږدې والی دی گ

- 7خدای(ج) ته سوالونه کول او په خپله ګناهونو اعتراف کول خدای(ج) ته سړی نږدې کوي گ او مغفرت یې په برخه کیږي گ

- 8عاقلان په خپله پوهیږي گ

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



- 8يو هلك چا پر اوږه كښېنولی و او په بازار كې روان و ګ دې هلك به چيغې وهلې او ويل به يې دغه سړی چې زه يې په اوږو يم دغه سړی ما وهلی دی نو په دې وخت كې خلكو ورته ويل چې عاقلان پوهيږي ګ

- 9عقل يې خام دی ګ

- 9تجربه نه لري په څه نه پوهيږي ګ

- 10عقل يې د جولا دی ګ

- 10بې علقه دی ګ

- 11عقل يې په ښنګري كې دی ګ

- 11يعنې د جولا په شان لنډ پاری دی عقل نه لري ګ يا دا چې جولا ډير كار په پښه كوي ګ

- 12عقل يې سر ته راغی ګ

- 12اوس پوه شوګ

- 13عقل په كې د دوه پيسو نشته ګ

- 13ډيركم عقل لري ګ

- 14عقل يې چې ويشه دی غره ته تللی و ګ

- 14بيخي د عقل نه خلاص دی ګ

- 15عقل پسې تبرګی ګرځوي ګ

- 15بيخي د عقل دښمن دی ګ

- 16عقل سره يې ډزې دي ګ

- 16د پوهې او هوښيارتيا سره مخالف دی ګ

- 17عقل باندې څه كوي دنيا لري ګ

- 17د دنيادار هرې خبرې ته خلك ښه وايي ولوكه هغه غل په سرتپې ګ

- 18عقل عاجز سړي ته په كار دی ګ

- 18عقل خو هنر دی عاجز به پرې يو كار جوړ شي ګ

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



19- عقل يې چې کم وي تل يې په کور غم وي ګ

19- بې عقله داسې کارونه کوي چې د هغه نه ورته جنجالونه جوړيږي ګ

20- عقل يې چې خام وي هر وخت به پرې ماښام وي ګ

20- په کم عقله سړي رڼا يې نه راځي ګ

21- علم د دواړو جهانونو رڼا ده ګ

21- پوهه د دنيا او اخرت دواړو له پاره په کاريږي ګ

22- عذر يې د ګناه نه بدتر دی ګ

22- بخښنه په داسې ډول غواړي چې کړې ګنا ترې ښه وي ګ

23- عالم د خدای(ج) نه ډير ويريږي ګ

23- څښتن تعالی فرمايي " چې علماء زما د قهر نه ډير ويريږي" ګ

24- عالم او جاهل برابر نه دي ګ

24- څښتن تعالی فرمايي " چې پوهان او ناپوهان سره برابر نه وي " ګ

25- عقل په بيع نه اخستل کيږي ګ

25- عقل د خدای(ج) ورکړه ده او د پيسو شي نه دی ګ

26- عقل د بې عقلانو نه ياديږي ګ

26- بې عقله چې يو خراب کار وکړي عاقل چې هغه ويني بيا دی هغه شان کار نه کوي ګ

27- عقل په ډير عمر نه دی ګګ

27- ځينې ماشومان د سپين ږيرو نه عاقلان وي ګ

28- عمر باندې اعتبار په کار نه دی ګ

28- بايد سړی نيك عمل وکړي ځکه چې عمر تيريږي او د مرګ وخت معلوم نه دی ګ

29- علم تر قبره پورې زده کول په کار دي ګ

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



- 29په زده کړه کې وقفه په کار نه ده ګ ګ

- 30علم په قبر کې هم په کاريږي ګ

- 30ځکه چې د عمل په سبب به يې په دنيا کې نيك كارونه كړي وي چې د اخرت توښه شوي به وي ګ

- 31عالم خدای(ج) ته نژدې وي ګ

- 31عالم داسې كارونه كوي چې څښتن تعالی ته پرې نږديوالی حاصلوي ګ

- 32عالم د نورو لارښود وي ګ

- 32عالم او يوه سړی نورو په لارښوونه كوي ګ

- 33علم امساء ده ګ

- 33په علم او پوه د سړي اتكاء وي ګ

- 34علم د شر او فساد مخه نيسي ګ

- 34څوك چې پوه وي هغه شر او فساد نه غواړي ګ

- 35علم چې نه لري ړوند دی ګ

- 35ناپوهه د ړانده په مثال وي ګ

- 36عالم سره په دوستۍ كولو خدای(ج) خوشحالې كيږي ګ

- 36د پوهانو سره په ناسته پاسته څښتن تعالی خوشحاليږي ګ

- 37عيان ته څه بيان ګ

- 37چې يو كار د لمر په څير روښانه وي ، شرحې ته يې اړيا نه وي ګ

- 38علت لاړ شي عادت نه ځی د سړينه خدايه مه كاندې په بد چارو عادت څوك ګ

- 38نقصان د سړی جيره كيږي ، خو عادت نه ځي ګ

- 39عدل تقوی ته ډير نږدې دی ګ

- 39انصاف پرهيزګارۍ ته ډير نږدې دی ګ څوك چې منصف وي هغه پرهيزګاره هم وي ګ

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# (غ)

1- غاښ چيچى كوي گ

1- ډير په قهر دى گ

2- غاښونه راته چيچي گ

2- ماته په قهر دى گ

3- غر په غر نه ورځي بنده په بنده ورځي گ

3- خامخا انسان انسان ته اړ كيږي گ

4- غر به در پسر كړم قدرت به درته دركړم گ

4- دا د خالق تعالى كار دى په چا چې بار ږدي توان هم وركوي گ

5- غريب خداى كړې دله چا كړې گ

5- ځينې خلك چې غريب شي بيا بې همته هم شي گ

6- غريب سړى او برگ يې سپى گ

6- غريب سړى بايد د خپل ژوند سره سم كړنه وكړي گ

7- غريب سړي ته بازار هم كوهستان دى گ

7- چې پېسې ورسره نه وي څه به پرې واخلي گ

8- غرونه سوري كوي گ

8- دومره مالي او بدني قدرت لري چې غټ ، غټ كارونه وكوي گ

9- غلبيل پاخي كوزې ته وايي تا كې دوه سوري دي گ

9- د يو سړي چې پخپله يې د عيبونو شمارنه وي او بل ته گوته نيسي گ

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



- 10غل د کور پورې څوك نه څغلوي گ

- 10كه د غل سړي پسې تر كوره پورې څوك ځي هغه مجبور دی چې د رسوايۍ نه ځان خلاص كړي او دی مړ كړي گ

- 11غل په چورنډې واوښت گ

- 11دا هغه وخت ويل كيږي چې څوك له غله نه غلا وكړي گ

- 12غل د غله نه غلا كوي گ

- 12په غلا كې ډېر ماهر دی گ

- 13غل ته وايي كور وهه كور والا ته وايي بيدار شه گ

- 13د دواړه سره ملگرى دی گ

- 14غل چې سل كورونه وران كړي يو پرې نشي اباد ولی گ

- 14ځكه چې د ده پرې لاسونه نه وي تړاكې شوي، د ځان سره يې نه جمع كوي گ

- 15غل سپې په يو من تيږه ووله كړنج نه كوي گ

- 15د ملامته سړی سترگې خړې وي گ

- 16غل په توربږمۍ كې خو شخاله وي گ

- 16ځكه چې څوك يې نه ويني گ

- 17غل په غره كې نه ځائيږي گ

- 17غل په هر ځای كې ويريږي چې رسوا نه شم گ

- 18غل هم د سړي خپل وي گ

- 18يعنې ځينې داسې خپلوان وي چې سړی يې په خپلوی شرميږي گ

- 19غم چې د چرگۍ نه اخوا و غم ندی گ

- 19غم او ماتم چې خاص پر تانه و بيا سوړ وي گ

- 20غم خور چې لري څه يې غم دی گ

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



- 20ځوك چې مربې لرې مربا به خورې ګ
- 21غم او ښادي خور او ورور دي ګ
- 21کله په سرې غم وي او کله خوښې ګ
- 22غم د پاسه غم دی ګ
- 22یو تکلیف لا تیر نه وي چې بل تکلیف راشي ګ
- 23غم به يې غمګين کوي ګ ګ ګ زما به يې دا ګ ګ ګ کوي ګ
- 23غم چې په چا راغلو هماغه به يې ګالي زما پروانشته ګ
- 24غم له غمه نه شرمیږي ګ
- 24یو غم په سړی وي بل هم پرې راشي ګ
- 25غنم دې وي للمي وي که آبي ګ
- 25زه کار غوارم هر څنګه چې وي ګ
- 26غوړې لا غوړي ګ
- 26نیکي چې څومره زیاتیږي هومره ښه ده ګ
- 27غوړي د کاسې بیخ کې واچوه سرته راځي ګ
- 27لیاقت او میړانه نه پټیږي ګ
- 28غوجل کې یوه غوا متیازې وکړي ټولې پرې ککړې شي ګ
- 28یو سړی بد کار وکړي ټوله ټولنه او قوم پرې بد ښکاره شي ګ
- 29غویان لا حلال ندي خانك يې په سر نیولی ګ
- 29کار لا پیل نه دی، خو دا يې نتیجه غواړي ګ
- 30غوښه او چاړه شو ګ
- 30سره مخالف شول ګ

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



- 31غوړي، چې ډېر شي دغه دې پرې څوك نه غوړوي ګ

- 31يو شی، چې ډير شي هسې يې څوك نه كار وي ګ

- 32غوټه، چې په لاس خلاصيږي په غاښ دې خلاصه نشي

- 32کوم کار،چې په اسانه کيږي سختۍ ته يې مه ورکوه ګ

- 33غومبر ورته وهي ګ

- 33خپل کار پرې کوي، يا دا، چې شرموي يي. يا دا،چې پرې خوشاليږي ګ يا دا چې ترې تاويږي ګ

- 34غوا تياره کړه شوده ترې واخله. ميښه مړه کړه. شوده ترې واخله ګ

- 34غوا، چې تياره وي شی شودې کوي او ميښه چې مړه وي ښې شودې کوي ګ خواره غوا كه هر څومره مړه شي
د شيدو يې مزه نه وي ګ

- 35غوږ دې وګوره سپې پسې مه ځه ګ

- 35په يوه خبره لومړی ځان ښه پوه کړه بيا اقدام کوه ګ

- 36غل د خپل سيوری نه هم ډاريږي ګ

- 36غل، چې غلا ته ځي هر شی ورته سړی سړی ښکاري ګ

- 37غيرتي يا ځان وژني يا بل ګ

- 37احساساتي سړی، چې د خپلې خوښې خلاف يو کار ووينې، نو بيا يا خپل ځان ته تکليف پيښوي يا بل ته ګ

- 38غشي ته چاويل ولې چابك ځې؟ ويلې لندۍ ګ په کونه وهلی يم ګ

- 38د چا پسې چې زور وي هغه کار په سرعت کوي ګ

- 39دغلو لارې چا نيولې دي ګ

- 39څوك ،چې يو کار کوي په هره لار ځان ور رسوي ګ

- 40غل يو، ګمان په ډيرو ګ

- 40بد کار يو کس کړی وي او بد نام ډېر خلك شي ګ

- 41غر په شلګي نه سوری کيږي ګ

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



- 41سخت او قوي كار ډېر قوت غواړي گ

- 42غيرت په خوار او په موړ باندې ندی گ

- 42غيرت او ميړانه په پيسو او عاجزۍ نه ده گ

- 43غل، چې غلا كوي د كور د خاوندانه اجازه نه غواړي گ

- 43څوك، چې د يو كار كول خامخا غواړي د مصلحت پسې نه گرځي گ

- 44غل غل پيژني گ

- 44هر سړی د خپل مسلك خاوند پيژني گ

- 45غرونه چا سوري كړه، مزې پرې څوك كوي گ

- 45خواري چا وكړه او خوري يې څوك گ

- 46غريب مه وهه كالي ترې واخله گ

- 46غريب سړي ته تاوان ډېر سخت وي گ

- 47غوښه د هر چا خوښه ده خو د سپي پسې تبه ده گ

- 47دنيا دولت د هر چا خوښ وي خو ځينې دوزخ ته پسې ننوځي گ

- 48غنم خبرې دې منم گ

- 48چې ښه وې هر څه به دې ومنم گ

- 49غزل ويل او مزل كول نه كيږي گ

- 49هر شی وخت غواړي گ

- 50غل چې غلا كوي متيازې ډېرې ورځي گ

- 50ډېر ويريږي گ

- 51غل د پيشو د ترپ نه هم ويريږي گ

- 51خاين ډېر ويريږي گ

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



- 52غم دی د لالي په سر مسته دي تازه ګرځي ګ

- 52غم به يې يار کوي معشوقه دې بې چرته ګرځي ګ

- 53غويا چې لټ وي چوکه ورته پکار ده ګ

- 53بيکاره سړی به په زور د کار پسې پاڅوې ګ

- 54غريبي دې خدای(ج) په هيچا نه راولي ګ

- 54څښتن تعالی دې نيستي په هيچا نه راولي ګ ځکه چې سړی بې پته کوي ګ

- 55غوږ ګټي سر بايلي ګ

- 55په لږه ګټه ډير تاوان کوي ګ

- 56غوا دې هم ورکه شي ګ

- 56يو سړی ويل چې زما شړمبې خوښې نه دي ، بل ويل زما ماسته خوښ نه دي ، بل کوچ او بل شودې يادې کړې، پنځم وويل چې زما يې غوا هم بديسي ګ

- 57غر غوښه کړي سيند ښوروا کړي ګ

- 57لافې او شاپې کوي ، د نه شي نه ډير شي جوړ کړي ګ

## (ف)

- 1فقير ته يوه در وازه پورې سل بيرته ګ

- 1اړته که يو تن څه ور نه کړي خدای(ج) به ورته نور څوک سبب کړي ګ

- 2فقير ته شپه او ورځ يوه ده ګ

- 2څوک چې محتاج وي تر څو چې يې خپله اړتيا نه وي دفع کړې خوب نه ورځي ګ

- 3فيلانو سره ټانټې مه ژوه ګ

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



- 3زورورو سره مه کښينه گ

- 4فقير څوك د ښار نه نه شړي گ

- 4يعنې ښار او بازار په فقيرانو نه تنگيږي گ نو څله يې شړي گ

-5فقير ته چا ويل ښه غاښونه لرې گ ويل يې څه پرې وخورم گ

- 5چې څه يې نه وي خوړلي نو غاښونه به يې په څه خراب شي گ

- 6فن د هيچا ميراث نه دی گ

- 6هر سړی يې زده کولای شي گ

- 7فاحشې ته چا ويل يار دې مړ شو ويل يې د کومې کوڅې ؟!

- 7ځينې خلك دومره يارانې او دوستانې لرې چې بيا يې پاللی نه شي او د مصيبت په وخت کې ترې خبر نه وي گ

**(ق)**

- 1قاضي ته ځانته تللی دی گ

- 1ځان نه گرموي گ

- 2قاضي زه ملامتولم خو زه نه ملامتيدم گ

- 2ناپوهي پرې دومره غالبه شي چې ځان ملامته نه بولي گ

- 3قاضي راته ترې جوړ کړه گ

- 3يو ملا په يو جومات کې طالبانو ته سبق وايه گ يو طالب يې نه پوهيده او استاذ يې ورته په قهر شو او ويل يې چې که خره ته مې دومره سبق ويلی وای اوس به ملا شوی وای او اوس به چيرته قاضي وای گ دا خبره يو ناپوهه سړي واوريده ولاړ او خپل يو کوتی يې راوست او ملا صاحب ته يې وويل چې دا راته قاضي کړه ملا صاحب ورته وويل چې ښه ده څه او دوه کاله وروسته راشه ، ملا صاحب کوتی خرڅ کړ، دوه کاله تير شول او ناپوهه سړی راغی او ملا صاحب ته يې وويل چې څنگه شو زما کوتی ، ملا صاحب ورته وويل چې ورځه په فلانکی ځای کې مامور شوی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناپوهه سړی راساً هملته ورغی ، خپله ځولۍ یې ورته ونیوه او ځانته یې راباله ، څو واري یې دا کار وکړ، اخر د مامور صاحب زړه ورتنګ شو او د سړي پسې را پاڅیده او پوښتنه یې ترې وکړه چې دا څنګه ځولۍ راته ښوروې ، ناپوهه سړي ورته کړه چې ته خو زما هغه کوټۍ یې چې هغه فلاني ملا صاحب ته مې سپارلی وې او ورته مې ویلي و چې سړی کړي ، او هغه دی اوس یې سړی کړی یې او دلته مقرر یې ګ

- 4قرض د پلار هم بد دی ګ

- 4پور ډیر بد او تریخ وي چې د هر چا نه وي ښه نه وي ګ

- 5قرض چې وختینی شي خندنی شي ګ

- 5په پور چې ډیر وخت واوړي نو خبره جنجالي شي ګ

- 6قرض د سړی وینې خوري ګ

- 6پور سړي په رنځ اخته کوي ګ

- 7قصاب اشنا نه لري ګ

- 7قصاب ته ټول یو رنګ دي ګ که اشنایي وپالي نو هډوکي به ورته پاتې وي ګ

- 8قرض مې لا خلاص ندی قلبه مې حلاله شوه ګ

- 8تاوان مې خلاص کړی نه دی چې پټی مې ږلۍ وواهه ګ

- 9قرت قرت دی خو مزه یې باران وړې ګ

- 9یو سپي چیر ته په یوه بوټي باندې غل کړي و ، یو څوك په لاره تیریدل او ډیر وږي شوي وو، چې ګوري په دې بوټي کې سپین کرت پراته دي ګ سړي را پورته کړل او خورلې ته یې کړل ، خو خوند یې لږ پیکه شانتې و ، نو په دې وخت کې یې خپل ملګري ته وویل چې کرت خو کرت خو مزه یې باران وړې ده ګ

- 10قرض چې د زړو نه واوښت نور قرمې او پلوونه خوره ګ

- 10نور دې بې پروا شي او د پور غم دې نه کوي ګ

- 11قصاص په کتاب کې حق دی ګ

- 11کسات اخیستل حق دی ناروا نه دی ګ

- 12قناعت بډایي ده ګ

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



- 12قناعت لوی دولت دی گ

- 13قچر نه چا پوښتنه وکړه چې ته څوك يې ويل يې اس مې ماما دی گ

- 13يعنې د پلار اصل يې خراب و نو ځکه يې د لرې پورې ځان پيوند وه گ

- 14قربان له خپله كوره چې نارې كړمه په زوره گ

- 14يعنې په خپل کور کې سړی هرڅه په جرئت غوښتلی شي گ

- 15قرض وركول يو هنر او بيرته ترې اخيستل سل هنره غواړي گ

- 15د پور ورکړه اسانه ده مگر بيرته اخيستل يې ډير گران دي گ

- 16قل هو هماغه ده خو خوله هغه نده گ

16 - كار هماغه دی مگر دا څوك يې چې كوي مزه يې نشته گ

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## (ک)

1.کار دې باډیلی کړ.

1.هر کار چې په بیړه وشي او ښه پایله ورنه کړي نو بیا خلك دا وایي .

2.کار دې کوچانی کړ .

2.یعنې کار دې ډېر دروند او خراب کړ .

3.کارغه د زرکې چې مزل کاوه خپل ترې هېر شو .

3.په یوه ټولنه کې یو څوك د بلې ټولنې رواج وکړي نو د خلکو د خندا شي .

4.کارفرما ښه دی که کارکن؟

4.کار فرما ښه وي ځکه چې د هغه سره قدرت وي او په امر یې هر څه کېږي.

5.کار چې په صلاح شي بې بلا شي .

5.کوم کار چې په مشوره وشي نو نقصان یې ور کیږي.

6.کار خپل وکړه شاباسی د بل واخله .

6.یعنې کار کول دومره ښه شي وي چې خپل کار به کوې او نورو ته به ښه ښکاري .

7.کاسې لاندې کاسه ده .

7.په ښکاره یو څه وي مگر ترې لاندې بل څه وي یا دا چې دومره چې پاس ښکاري څه په کې هم شته. همدا شان د دې خبرې پلسیې بله هم شته .

8.کاسې ته چا ویل چېرته ځې ویل یې بېرته راځم .

8.یعنې که چاته دې څه ورکړل نو حتمي ده چې سبا تا ته هم څه درکړي. او ستا کاسه به تشه پرېږدي.

9.کاروان تېرېږي سپي غپیږي .

9.څوك چې یو کار کوي او د نورو نه خوښیږي نو څه ستونزې ورته پیدا کوي نو بیا یې ورته دوستان وایي چې د خلکو خبرو ته مه گوره او خپل کار کوه .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



.10کار پوره هندو غره.

.10ځينې خلك د اړتيا په وخت کې ډېرې خوشامندې کوي مګر کله چې يې کار تر سره شي نو بيا يې هغه احترام نه وي.

.11کاش که شا ګل شې .

.11شاګل يو سړی و چې ډېر ښه ښه کارونه يې کول. يوه ښځه وه چې د هغې زوی بد کارونه کول. مور به يې ورته نصيحت کاوه چې ته لږ ښه شه اخلاق پيدا کړه. د ورځو نه يوه ورځ وه چې سهار له خوبه راپاځېده د دې له پاره چې مور خوشاله کړي، نو مور ته يې کړه چې نور د شاګل ماما په شان ښه کارونه کوم، نو مور يې ورته بيا دا خبره وکړه .

.12کتاب به هر څه وايي که ملا شاګل يې ومني .

.12د ملا شاګل د چا سره دعوه وه، حکم يا قاضي کتابې پرېکړه ورته کړې وه خو بهادر پخپله خبره ټينګ و او د مداع عليه نه چا پوښتنه وکړه، چې څه ښه شوه چې خبره مو اوس په کتاب فېصله شوه، هغه بيا ورته دا خبره وکړه .

.13کټې وهه مېښه زهيرېږي .

.13ځوك چېګ غواړي يو کس خپه کړي نو بيا يې دوستان ځوروه .

.14کانې چې رالوېږي د غريب په سر راغورځېږي .

.14چېر ته چې مصيبتونه وي په خوار، غريب او يتيم باندې راځي .

.15کوم کور کې چې حرام داخل شي حلال اوباسي .

.15حديث شريف دی چې وايي حرام د ځانه سره حلال وړي .

.16که ما وپوښتې ته به وتښتې .

.16يو ځوك د خپل ژوند د سختو او ستونزو نه چا ته فرياد کوي، خو په هغه کس د دې نه هم ډېرې ستونزې وي. نو بيا دا ورته وايي .

.17کم خرڅ بالا نشين دی .

.17تاوان لږ کوي او ګټه ډېره غواړي. يا دا چې لګښت لږ کوي او دناستې ځای لوړ غواړي .

.18کټ دې سترې کړ چې پاتې شوه منا .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



18.پخوا د خلکو ژوند ښه نه وو، د ننه په کوټه کې به يې غواګانې د ځانه سره يوځای او درولې، نو د دې له پاره چې په کوټه کې يو بل ځای هم پيدا کړي، د غواګانو په سر او د چت لاندې به يې يو ځای جوړ کړ چې هغه ته به يې منا ويله، په کوټه کې چې به خلك ګڼ شول او په کټونو کې به ځای نه و نو بيا به په دې منا کې هم خلك ويده کېدل، نو اوس خلك دا وايي چې دا ورکوټې کار دې خلاص کړ چې غټ ته لاس اچوې.

19.کچکول مې مسين دی .

19.يو څوك چې چا ته په کم نظر وګوري نو هغه ورته بيا وايي که ملنګ يم خو کچکول مې د ميسو دی .

20.کفن اوباسي.

20.يو سړی چې نهايت غل وي او په هېڅ هم صرفه نه کوي نو بيا خلك دا وايي .

21.کونډې ته د کوروالي چلونه مه ښيې .

21.يعنې څوك چې په يوه کارکې پخپله تجربه لري نو هغې ته ښودنه مه کوه .

22.کونډه د لېوره په تمه د جمله مړونو ووتله .

22.د پښتنو په سيمو کې دا رواج دی چې کونډه لېور په نکاح کوي د کومې کونډې لېور يا لرې ملك ته تللی وْ او يا همدلته و خو په کونډې يې نکاح نه تړله او بل چا ته يې هم نه پرېښوده چې نکاح يې کړي. سرېې سپين او غاښونه يې ووتل يا يو څوك د چا په تمه باندې وي او کار ورته ونه کړي نو بيا دا وايي .

23.کونډه د لېوره ده .

23.د کونډې مصارف ، غم او درد په لېور دی يا دوست به د دوست تکليف ګالي .

24.کوشنده وژلی دی.

24.زمونږ د مومندو په قوم کې که څوك د چانه مړی وکړي بيا يوه روغه ورسره کوي چې هغه په دې شکل وي. په دې کور کې يا قاتل او يا پرته د قاتل نه اګر که ماشوم وي. اولس پرې داسې فېصله کوي چې همدا سړی به وژنې او نور کور پورې به غرض نه کوي. کوشنده يې چې هر چېرې د مقتول ورثو پيدا کړ د دوی په وړاندې يې وژل مباح دي. که يې کور ته راوست بيا يې د قاتل ټول کور دښمن دی خو کورته يې نه شي راوستلای. يعنې کوشنده په مرګ حساب دی.

25.کب چې هر وخت د اوبو نه راووځي تازه دی .

25.چې يو کار پخپل وخت باندې وشي هغه ډېر ګټه وروي .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



26.کوږ بار تر منزله نه رسيږي .

26.په درواغو او ټکی سړی ټول عمر کارونه نه شي کولای.

27.کرامت د اولياوو حق دی.

27.يعني د خدای (ج) صحيح بنده ګان دي د خدای تعالی په صحيح بنده ګی ومني نه په خدايی. چې د ولي نه څه غواړي او د حق تعالی سره يې به غوښتنه کې شريکوي. د حق تعالی د علم نه لږ څه برخه لري.

28.که هوسۍ سترې ده تازي ته يې هم غل وروستي دي .

28.که څومره چاته تکليف سوي نو دی به هم څه ناڅه تکليف ګوري .

29.که ته خر يې زه... يم .

29.يو... ځای دی چې خلك يې ډېر سر زوري دي .

30.که بل ډب دي ورکړ هېڅ هم نشته .

30.يو سړي بنګړي په خره بار کړي وو، بل سړی يې په مخه راغی چې په لاس کې يې امساء وه، او د خره بار ته يې يو ډب په امساء ورکړ او غږ يې وکړ چې ماما څه دې بار کړي دي؟ نو په دې وخت کې ورته د بار والا پورتنۍ وينا وکړه .

31.که شپه تياره ده منې په شمار دي .

31.شی معلوم اوښکاره دی د غدر او خيانت مجال نه لري .

32.که دښمن دې ګډ وری وي تابيا ورته د زمري کوه .

32.که دښمن او بد خواه دې هر څومره بېکاره و ته مه غافله کيږه او مقابلې له پاره يې ځان تل چمتو ساته .

33.کلی د لېوني پورې خاندي او لېونی د کلي پورې .

33.ناپوهان د عاقل د کار پورې خاندي او عاقلان د ناپوهانو پورې خاندي .

34.که تا ويل چې زه يم او ماويل چې زه يم نه به ته يې او نه به زه يم .

34.هر سړی بايد يو د بل قدر او درنه وکړي .

35.کسب زده کړه او په تاخچه کې يې کښيده .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



35.هر هنر زده کړه یو وخت به دې په کار شي .

36.کور دې ګوښی په کاڼي ينبی .

36.کور دې رانه لرې دی د ښېګڼې تمه مې در نه نشته .

37.که پوزه وي د کوچي غلابه نه کړي د موچي .

37.يو کوچی د موچي کره غلا پسې تللی و، په تياره کې موچي پسې راپاڅيده او په رمبې يې ترې پوزه غوڅه کړه. يا څوك چې د يو چا د ضرر په خاطر يو کار کوي او هغه ورته ښه درنه جزا ورکړي نو بيا خلك داسې وايي .

38.کور کې کوره کی جوړوي .

38.يه يوه کور کې چې واکدار ډېر شي او اختلافات رامنځ ته شي نو بيا خلك دا وايي .

39.کوڼ يې واهه دره بار يې نه اورېده .

39.ناپوهه په خپل ضرر نه پوهيږي .

40.کوڼ دوه ځلې خاندي .

40.چې د خندا يوه خبره وشي خلك وخاندي کوڼ هم د خلکو په طبع وخاندي او کله چې په اصلي خبره پوه شي نو بيا هم وخاندي .

41.که غر لوړ دی هم په سر يې لار شته .

41.يعني داسې ستونزه به نه وي چې حل کېدل يې ناشونې وي .

42.کمينی ته کمال دی او کبرته زاوال دی .

42.عاجزي او کميني سړی لويوي او کبر سړی ورکه وي .

43.که کابل نه خورې نو بد پرې مه وايه .

43.ښه شی که ستا يې نه نو بد يې مه وايه .

44.که ميږې دې پوولې نه وي نو چښې خو به دې اورېدلی وي .

44.يعني دا کار خو ډېر اسانه کار دی که پخپله دې کړی نه وي نو د بل نه خو به دې اورېدلی وي .

45.که د کټ سرته ځملې او که پښو ته يې ځملې کوناتې به د کټ منځ ته راځي .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



45.مانا دا چې دغه کار ته د دواړو خواوو نه واټن يو شي دی .

46.که مرگ غواړې کندز ته ولاړ شه .

46.پخوا په کندز ولايت کې ډېر زيات ماشي وو تر دې چې د ورځې به ترې هم خلك په عذاب وو، اوس هم چې په يو ځای کې ډېر تکليف وي نو بيا خلك دا وايي .

47.که نور نه پوهيږې ځوان اخله .

47.يعنې زوړ شی به نه اخلې چې گټه نه لري .

48.که وطن ړلی وواهه پښې خو دې ړلی نه دي وهلي .

48.يو غريب د چا ځمکه په دهقانی کرلې وه ړلی وورېده او فصل يې ورته تباه کړ خو غريب لاس تر زنې همدلته ناست و او نوره غريبي يې نه کوله او د خپل ژوند نه يې فرياد کاوه، نو يو چا ورته وويل چې بل ځای ته مزدوری پسې ولاړ شه پښې خو دې ړلی نه دي وهلي .

49.که زه يې نه وايم زما گوډه پښه يې وايي .

49.يو شپانه د وزو رمه پوله، په اوزې باندې يې کوزار وکړ او پښه يې ورماته کړه او بيا يې په يوه ټوټه ور وتړله او وزې ته يې وويل چې خاوند ته به حال نه وايې، نو بيا اوزې ورته دا وويل .

50.که گور گران دی د مړي ناکام دی .

50.د چا چې په يوه خطري ځای کې کار وي، مجبور دی چې د هغې د حل له پاره هلته ورشي .

51.که ته پاچا شوې څه به خورې ويل يې گوړه .

51.د کونړ ولايت يو دره وال بل دره وال ته وويل چې ته پاچا شوې څه به خورې؟ هغه ورته وويل چې گوړه به خورم. بيا ده ورته وويل چې گوړه به دومره وي چې ته به يې همېشه خورې؟ هغه ورته وويل چې خبر نه يې پاچا د گوړې زين هم جوړولای شي .

52.که ته هلك يې زمونږ ملك يې .

52.که عمر دې کم دی هم مونږ ته محترم يې او زمونږه مشر يې .

53 .که غوښه گرانه ده صبر ارزانه دی .

53.چې يو شی د سړي ډېر خوښيږي خو پيدا کول يې ور ته گران وي نو بيا دا وايي .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



54.که شکوڼ حلال دی هم رنگ يې د مردار دی .

54.که څه هم دی سړی دی خو خوی يې د سړيو نه دی .

55.که ولاړ شې تر بلخه درسره به وي خپله برخه .

55.يو سړی بلخ ته د دهقانۍ او مزدوری پسې تللی و په بلخ کې يې ډېره موده تېره کړه خو څه يې ونه ګټل او ډېره موده پس يې يو خپلوان پسې ورغی چې څه به يې ګټلې وي ترې به يې راوړم. سړي ورته وويل چې ماخو هېڅ نه دي ګټلي نو بيا دې خپلوان ورته دا وويل .

56.کاڼی چې په خپل ځای پروت وي درووند وي .

56.سړی دې په خپله برخه خوښ او قانع ووسي او چا ته دې د سوال لاس نه نيسي چې سپکيږي .

57.کار پخپله ورانوي لاس په بل پاکوي .

57.خراب کار دی وکړي او بيا يې په بل اړوي .

58.که د خوږ کاڼي پاسته وای نو ګيدړانو به يو هم نه وای پرېښی .

58.درانه کارونه که اسانه وای نو هر چا به کولای او يو به هم بې کړو پاتې نه وای .

59.که تل غوبل وای غوايان به نه وای .

59.غوبل د غوايانو لپاره ډېره سخت وي، که تل وای نو يو غويي به هم نه وای. خو اوس د تخنيك له برکته تريشلې پيدا شوی او غوايان دمه شول .

60.که تل لونه وای زلميان به نه وای .

60.لو هم په کارونو کې ډېر سخت کار دی او د سړي ملا ماتوي .

61.که ايزك نر شي اول د خپلې مور سره ځملي .

61.ځينې کم اصله خلك د خپلو دوستانو او خپلوانو له پاره ډېر مضر وي .

62.که د پيشو شوده خوښ وي ځانته دې غوا واخلي .

62.يو سړی خپل ژوند همېش په سوال تېر وي او د ژوند ټول اسباب د بل نه غواړي او خپل کار پرې کوي. نو بيا خلك دا متل کوي .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



63.که په ځمکه ننوځې دغوړونو نه دې نيسم او که اسمان ته رانه خيږې د پښو نه دې نيسم .

63.يعنې مانا دا چې په هېڅ صورت کې رانه خلاصيدای نه شې انې او بهانې مه کوه .

64.کږې خولې په سوك سميږي .

64.وران خلك په زور لارې ته سميږي .

65.که وراره دې د ورور نه نه وي خو ری خو دې د خور نه دې .

65.که وراره په شك کې وي وي به خو په خور یې کې هيڅ شك نه وي .

66.که ولې نه يم خالي هم نه يم .

66.يو سړی د خپلې تجربې له مخې د يوه کار پيش بيني کوي چې دا به داسې کيږي او هماغسې وشي نو بيا دا وايي .

67.که موسی خېل خبر شول شونګړی به ورانه کړي .

67.د موسی خېلو او شونګړيوالو سره دښمني وه، زياتره شونګړيوال پېښور ته د مزدورۍ پسې تللي وو. نو بيا يې دا وويل .

68.که اوربشې لرې ولړه نشته .

68.چې جېب دې ډك وي هرڅه ستا دي .

69.که هوس دی همدمره بس دی .

69.ډېر حرص ښه نه دی .

70.که سل خويونه يې نور وي يو به يې د مور وي .

70.لور د مور نه اخلاق او خوی زده کوي .

71.که سرسايه دې رانه کړه نو زما تراويح هم په ترنګړنه ايساريږي .

71.يو اخوند يو کلي ته تراويح ورکړې وې او کلي سرسايه نه ورکوله، سره يې لانجه شوه، نو کله چې اخوند صاحب ناهيلی شو، بيا يې دا وويل. ترنګړ لوخو او يا د مزري نه جوړشوی شی دی چې ازاد ازاد سوري لري، څوك په کې واښه راوړي او څوك په کې بل کار کوي .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



72.که يو ځل دې زه تېرويستم تادې خدای ووهي او که بل ځل مې بيا تېر باسې ما دې خدای  ووهي .

72.ځکه چې دويم وار به زه تجربه شوی يم او بل څوك به راباندې ملامته نه وي .

73.که ګټه دې ونه کړه وطنو نه خو دې وليدل .

73.يو څوك بل وطن ته په سوداګر پسې تللی و او بې ګټې کور ته راغيی بيا چا ورته وويل چې څه وطنونه خودې وليدل .

74.که په ماراغله په تا به هم درشي .

74.يو کلي کې يوه بلا اموخته وه، د يوه سړي کور د بلا د راتلو په لار کې و هغه په کلي کې چاته وويل چې راځه د دې بلامخه ونيسو، هغه ويل چې مانه لرې ده بيادي سړی ورته وويل که زه يې مغلوب کړم خو بيا وار ستا دی .

75.که تور بور يې د خپلې خبرې نه مه اوړه .

75.يعنې غېرتي او مېړه سړی د خپل قوم او ژبې نه نه تېرېږي .

76.کمال مې ياد دی څوك چې کټ اسنې زه يې ورته پښه جګوم .

76.يوسړی سيند اخيستی و او خلکو ته يې غږ کړ چې ای خلکو زه ډېر کمالي سړی يم خو سيند درنه يوړم، خلکوو ويل چې دومره کمالي سړی دی راځئ کوښښ وکړو او راوېې نيسو خلکو راونيوه او ورته يې وويل چې څه کمال دی ياد دی نو بيا ورته هغه سړي پورتنۍ وينا وکړه .

77.کومه ناخواله به دې ياده کړم .

77.ستا به کوم، کوم بد يادوم .

78.که پاچاهي تل وای څومره به ښه وای .

78.يوه پاچا وويل که پاچاهي همېشه وای څومره به ښه وای بل ورته وويل که چېرې تل وای نو بيا به تر تا نه رارسېده .

79.کتابونه دريابونه دي .

79.ملا صاحب غلط قرائت کاوه،يو بل يو ملا صاحب چې پوهيده هغې يې غلطي ونيوله يو عامي ورته وويل پرېږده چې لګياوي کتابونه دريابونه دي کېدای شي چې داسې هم په کې وي .

80.کوچي په يو موټي کښته نه دی راوړی .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



.80پخوا به کوچیان د لوګر ننګرهارته نه راتلل او د ځان سره به یې ننګرهار ته د خرڅون له پاره کښتې راوړې. د یوه اشنا زوي ته یې یو موټی کښته بې پیسو ورکړه اشنا یې ورته وویل چې مه کوه تاواني به شې نو بیا کوچي راوویل .

.81کم عقل ته چا وویل چې ونه درکې وشوه کم عقل وویل چې څه سیوري ته به یې کښېنم .

.81یعنې کم عقله د خپل غلط کار د ګټې په تمه هم وي .

.82که حق وي د وروری فصل دې ووهه ړلی.

.82د یوې ښځې ورور چې ډېر شتمن و او دې څه نه درلودل دې ښځې د خپل ورور نه د یوه شي سوال وکړ، خو ورور یې ور نه کړ نو خور یې دا وویل .

.83کال چې ورندی شي ټینټاره هم وانه کوي .

.83ټینټاره یو ضعیفه برګبرګ مرغه دی چې په هېڅ شي یې زور نه رسي خو کله چې باران کال وي او پسرلی ښه وي نو بیا ټینټاره هم په یو ضعیفه مرغه باندې حملې کوي. یعنې ځینې ډېر ضعیفه خلك هم ځینې وخت قدرت ته ورسیږي او پیسې پیدا کړي لکه زمونږ په انقلاب کې چې نور خلك ورته بیا نه ښکاري .

.84که د هاضمې دارو دې وکړل بیا په دې لارمه راځه .

.84یو سړی ډاکټر ته تللو په لاره کې په چا مېلمه شو او کور به ورته ډوډی راوړه بیا وروسته د کتغ پسې ولاړ کتغ یې چې راوړه مېلمه ډوډی خلاصه کړې وه، بیا ډوډی پسې ولاړ چې تر څو راتلو مېلمه کتغ هم خلاص کړی و څو وارې دا کار تکرار شو اخر مېلمه روان شو، کوربه ترې پوښتنه وکړه چې چېرته ځې ویل یې هاضمه مې کم زورې ده طبیب ته ځم، چې د اشتها څه راکړي کوربه ورته وویل چې اشتها دې ښه شوه بیا په دې لار مه راځه .

.85کوټ کوټ دلته کوی او هګی د محمد ګل کره اچوې .

.85دانې دلته خورې او ګټه ترې بل څوك اخلي .

.86که سوړو نه یې راویستل او مړه شول بیا ووایه چې مېړه مې مړ دی .

.86یو سړی جنګ ته تللو خو ښځې یې نه پرېښود اوویل یې ورته چې مه ځه مرې، سړی ویل نه مرمه، ښځې ورته ویل چې څنګه نه مرې جنګ ته روان یې او نه مرې، سړي وویل ته ماته غوږ ونیسه ویل یې که د جنګ په لومړي کرښه کې خلك مره ووهم زه به په کې نه یم، که خبره شوې چې د جنګ په منځ کې خلك مره وو هم زه به په کې نه یم نو ښځې یې ورته کړه چې سړیه نو ته به چېرته یې؟ د جنګ ځایونه خو همدا دي سړي ورته وویل یو دې هېر کړی دی، که خبره شوې چې خلك یې له سوړو نه راوستل اومړه وو نو بیا ژاړه په هغوی کې به بیازه مړیمه .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



87.که د اس لکۍ اوږده ده خپله کونه یې پرې پټه ده .

87.شوم سړی که هر څومره دولتمند شي بل ته یې ګټه نه رسي .

88.که شات شي هم د ستوني نه مې تېرېږي .

88.یعنې نه مې خوښیږي .

89.که دابۍ د کور شاته غم وي هم نه ورځي .

89.د چا په غم کې نه ده .

90.که وطن ټول اوبه شي د هیلۍ تر خیټې پورته نه راځي .

90.که د سړي سره دولت هرڅو مره ډېر وي، د مزدور هماغه مزدوري ده .

91.کوهی مه کینه د بل سړي په لار کې.

91.بل چاته کندې مه جوړوه چې پخپله به په کې ولویږې.

92.کمه وخوره مزدور ونیسه .

92.په سوال کار مه کوه پیسې ورکړه .

93.کار چې ناوخته شي بې بخته شي .

93.ناوخته کار ډېره ګټه نه لري .

94.کار مې په بل خوښ دی خوراك مې خپل خوښ دی .

94.چې زه یې په تیاره خورم او کار راته بل څوك کوي .

95.کونډه پخوانۍ مېړه ژاړي .

95.کونډه د پخواني مېړه د کارونو صفت کوي .

96.کال دې په لکړه تېرکړ که په ککړه.

96.پخوا به له برو ځایونو نه ننګرهار ته ځیني خلك

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



راتلل اوپه ژمي کې به يې خپله ډوډۍ نه پخوله او خيربه يې غوښته، پسرلي کې به چې بيرته بيا خپل وطن ته ولاړل په وطن کې پاتې خلکو به ترې پوښتنه کوله چې ژمې دې په لکړه تېرکړ که په ککړه يعنې مزدورۍ ته يې ککړه ويله او د سوال ژوند ته يې لکړه ويله .

.97کانی به پوست نه شي دښمن به دوست نه شي .

.97د دښمن دوست کېدل ناشوني دي .

.98کرمی چې گرځي فتح خان ته به غمونه راوړي .

.98فتح خان يو لوی خان وله کابل نه به تر هندوستانه پورې تللو او دا خلك به يې تابع کول د دې خان په لښکر کې يو سړی و چې

نايې وخوښه توريالی سړی و کله کله به يې د شرکارونه هم کول چې بيا به فتح خان ته خلکو د ده دلاسه شکايت .

.99کلي په کلي کوتك په ولي .

.99يا دا ده چې په هر کلي کې شر جوړوي او يا په هر کلي کې سوال کوي .

.100کور مې درنه ځار شه خو څکه دې په کې مه اوسه .

.100هر څه مې د ستا دي خو هيڅ هم نه درکوم.

.101کاږه په اور سميږي.

.101شين لرگی چې را پرې کړې او کوږ وي اور به پرې بل کړې چې لږ پوست شي بيا به يې په کوږ ځای باندې وزن کښېږدې نو سم به شي. مانا دا چې بې لارې کسان په وهلو او زور سميږي.

.102که په تا ووربدل په مونږ به وځاځي.

.102که تا ته خدای (ج) ډيره درکړه نو مونږ ته به دې هم خير راورسيږي.

.103که د کوربه رنگ بديږي د مېلمه هم لږ بديږي.

.103کوربه ته چې څوك تکليف ور سوي او هلته مېلمه ناست وي او زور يې نه رسي دا هم ورسره شرميږي.

.104که راغله غوا پېيی او که ولاړه غوا پردۍ.

.104پخوا به خلکو غواګانې په ډاگ او ټاپو کې خوشې کولې او د شپې به پخپله بېرته کور ته راتللې او کله کله به غلو هم بوتلې يو چا خپله غوا ځر ته خوشې کوله نو بيا يې دا وويل .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



.105که زمرى د مودو وړى وي خو د ګيدړ پاتې شونې نه خوري .

.105غيرتي خلك د بل لاس ته نه کښېني .

.106کوچيان چې د مېنې نه لېږدي نغري يې ورانوي .

.106نه غواړي د دوى د کور برکت چا ته پاتې شي. يعنې ځينو خلکو کې دا ناسم دود پاتې دى چې زمونږ د کور برکت بيا کمېږي .

.107که پور وړي کاڼى هم درکاوه ترې اخله يې .

.107چې پور دې په هر ډول حاصلېږي پرېږده يې مه.

.108کله وارد ابا او کله د ابى .

.108وايي چې يو کوګر ته ډېر ميلمانه راتلل. کله به نارينه ميلمانه کيدل او کله به زنانه ميلمې کيدې . مطلب داچې يابه دپلار ميلمانه وو او يابه يې دمور ميلمنې وې.

.109که روځ د زور ور ده نو شپه د کمزوري ده.

.109کمزورى په تياره کې خپل انتقام اخلي.

.110کونډه چې څوك په نکاح کړي په کټ کې درى کسه وي .

.110د زاړه مېړه صفت هم کوي.

.111کابل دې بې زرو وي خو بې واورې دې نه وي .

.111په واورې د کابل حاصلات او ښکلا زياتيږي.

.112که وايې خو د ښځې پرتوګ دې او که نه دوه ګزه الچه ده .

.112چاد يوکس د ښځې پرتوګ پټ کړى و. خاوند يې خپه و، ځکه چې د شرم او د پښتو خبره وه او کنه نو دوه ګزه الچه ټوټه وه. دې سړي ته بل کس داډ ورکاوه چې څه پرتوګ نه الچې کړه .

.113کله يې وريځ کړى کله يې شين کوي .

.113کله يو څه وايي او کله بل څه وايي په خبره ولاړنه وي.

.114کور دې د کنډې جومات شه .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



114. کنډۍ د پیچ په لاره کې یو خوار جومات دی چې څوك په کې دومره عبادت نه کوي. نو څوك چې چا ته د نیستۍ ښیراوې کوي نو دا ورته وایي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## (گ)

1.ګازرې په خوند دې نه یم په خرپ دی یم.

1.د ځینو شیانو هسې لیدل یا اورېدل سړي ته خوند ورکوي.

2.ګازرې زه دې خورم ته را نه ځار شه.

2.اړهم دی وي او احسان هم د ده وي.

3.ګټه په تاوان کیږي.

3.چې په چا تاوان ونه کړې ګټه ترې نه شي کېدلای.

4.ګرځنده ګیدړ د پروت زمري نه ښه دی .

4.چې هر څومره تکړه سړی وي چې کار نه کوي هېڅ دی او چې ډېر بېکاره سړی وي او کوښښ کوي غټ کار ترې کیږي.

5.ګل بې اغزیو نه وي.

5.راحت سره زحمت وي.

6.ګل د کدو ګل ګوره یو پور ته کوه ورلاندې بل ګوره.

6.د بې غیرتو، بېکارو او د بېخونده خلکو بزغلي شنه شوي دي .

7.ګنجي سره که د ویښتو واك وی په خپل سره به یې د کوڅیو قطار جوړ کړی وی.

7.که د محتاجانو په لاس کې واك وای نو ځانته به یې هر څه ډېر کړي وای .

8.ګنجی نه په سر تار لري نه په غوږیو کار لري .

8.د چا چې یو شی په ښه نه راځي که هغه شي ډېر ښه شي وي نو څه به یې کړي. نه ورته هیله لري او نه یې ورته اړتیا شته.

9.ګودر پرې معلوموي .

9.مخکې کړې یې دی دخطرې ځای پرې ګوري.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



.10گرمي د اوړي جامه ده.

.10دوبی په کرمۍ ښه ښکاري.

.11گوشته کې هم ځوانان شته .

.11وايي چې ديولوی کار له پاره ځوانان ټوليدل له گوشتې نه چاځوك ونه غوښتل ،نو بيا يو گوشته وال همداگيله وکړه .

.12گونډي مال يې کړ.

.12ښه يې وواهه.

.13گيدړ لمرختو پورې خوشاله وي.

.13ځکه چې تياره وي دی څوك نه ويني. او د ښکار مخه يې خلاصه وي.

.14گيله د خپلو نه کيږي.

.14له پرديو نه څوك گيلې نه کوي او کومه گټه هم نه رسوي .

.15گيله نيم جنگ دی .

.15په شته گيله هم ډېر زړه بديږي .

.16گونگټ د ځانه غټ بار وړي .

.16ځينې خلك د چا د پامه څه نه راځي خو غټ کار ترې کيږي .

.17گورو به چې اوښ په کومه خوا څملي. يا چوکيږي

.17يعنې پايلې ته به گورو .

.18گمان د ايمان زيان دی .

.18بدگماني ايمان خرابوي.

.19گل شي خو عمر دې د گل نه .

.19ښکلا او تازگي دې د گل اوسه او عمر دې ډېر شه .

.20گړنگ چې د چا څاڅي بلاله هغه پاڅي .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



20.ځينې وخت د ډېرو بېکاره خلکو نه ډېر لوی فساد پيدا کيږي .

21.ګوړه ګوړه کوه خو له به دې خوږه وي.

21.د خوښۍ او د راحت په هيله اوسه ژوند به دې ښه تېر شي. يعنې په تمه اوسه .

22.ګل په بوټي کې ښه ښکاري .

22.هر سړی به خپل ځای او خپل وطن کې ښه ښکاري. يعنې د خپلو په منځ کې.

## (ل)

1.لاسونه به مروړې وار به درنه تېر وي .

1.وخت به درنه تېر شي بيا به ارمان کوې.

2.لاس لاس پېژني.

2.چې له چا نه دې څه اخيستل هماغه ته به يې ورکوي. يعنې د بل چا په کې کار نشته.

3.لاس چې مات شي غاړې ته راځي .

3.يو خپل او يا يو دوست ته چې څه تکليف پيدا شي سړی يې پخپله غاړه اخلي .

4.لاس مې توري سپی ځټلی دی.

4.بخت مې کوږه شوی دی. يا د هر کار پړه او ملامته په ماراځي.

5.لاس او لستوڼی دی.

5.ډېر سره نږدې دی يا دواړه څنګ په څنګ دی .

6.لاس او ګرېوان شول .

6.سر مخالف شول .

7.لاس ور ننه باسي ګوړه را اوباسي .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



7.يعنې زحمت نه ګالي وړيا يې وړي .

8.لغمانی ماما چې خر په خرې بدلوي په دې کې دې هم چل دی .

8.يعنې د لغمان خلك د ديني کارونو تر څنګ په دنيا وي کارونو کې ډېر تکړه دي .

9.لکه مرغۍ په ډکي مې شپې دي .

9.په اضطراري حالت کې يم يا د ناستې سم ځای نه لرم.

10.لږ خوره تل خوره، ډېر خوره ګنډېر خوره .

10.څوك چې ډېره خوري اغيړ کيږي، تامبه کيږي او سدقاويږي او که لږ يې خوړه نو د دې مصيبتونو نه به خلاص وي .

11.لښکر د پلار هم بد دی .

11.په لښکر کې لحاظ نه وي. يعنې په قبايلي سيمو کې چې څوك يو جرم وکړي د هغه پسې قوم را ټوليږي کور يې سيځي، مال يې يلا کوي او آن چې د ده د مرګ وېره هم په کې وي .

12.لعل په ايرو کې نه ورکيږي.

12.لياقت او مهارت نه پټيږي .

13.لغړ دی که ببر دی په زکات کې برابر دی.

13.ځينې قوانين پرته له توپيره يوشان پلي کيږي .

14.لوخې د قام بدغوښتل سر يې په درياب کې وچ شو.

14.څوك چې د خپلو او دوستانو بدغواړي خوار او ذليل به وي .

15.لکه چرګ په ناوه زوړ شو.

15.دا خلك هغه وخت وايي چې يو سړی ډېر وخت جره وي .

16.لمر په دوه ګوتو نه پټيږي.

16.د چا لياقت او سړيتوب څوك نه شي پټولای يا يو ښکاره کار وي او څوك يې پټول غواړي .

17.ليمڅی هلته خرڅ کړه چې پرې کښينې.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



17.هغه چاسره ډېر ښه کوه چې ستا ورته احتیاج پیدا کېږي او لار دې وي پرې .

18.لکه انګور تاك په بل بار دی .

18.خپل ژوند یې ټول د بل په اوږو اېښی .

19.لمن دې در غونډه کړه .

19.یعنې ځان ترې ساته یا دا چې څه نور دې خپل کار کوه .

20.لمن یې زرغون نه شوه .

20.زوی او لور یې نشته .

21.لړم ته چا ویل چې لیږد دی هغه ویل چې ما پخوا لکۍ ډانګه کړې ده .

21.یو څوك چا ته وایي چې فلانکي ځای ته به ځو یا به هغه کار کوو، دا ورته وایي چې زه لاپخوانه چمتو یم .

22.لومړنی مکتب د مور غېږه ده .

22.زده کړه د مور له غېږې پیلیږي او لومړنی استاذ هم مور ده .

23.لورې تا ته یې وایم ننګورې ته یې غوږ باسه .

23.مخاطب یو وي او مقصد د بل پو هول وي .

24.لور په لوته مه تېره کوه .

24.هسې پلمې مه کوه او چل مه جوړوه .

25.لونډې نیمه باد شاهي ده .

25.ځکه چې د هر څه نه بې غمه وي .

26.له ازاره چا بازار مندلی نه دی .

26.څوك چې یو تن بې موجبه ځوروي خدای تعالی پرې خپه کیږي ځکه چې مخلوق یې دی .

))د یوې خولې له ازاره ووېرېږه

که په عمر دې دعا کاندې هزار خولې ((.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



27.لېوانو ته غوښې چا پخې کړي دي .

27.هر څوك او خپلې غوښتنې او خواهشات يې يا دوی په دې کار يا په دې خوند څه پوهيږي .

28.لېوني ته وايي درمند ته اور مه اچوه .

28.يو بد کار ته قصداً د چا پام را اړوي .

29.لېوه برې اوبه څښکلې او مېږې کوزې څښکلې، ليوه ويل چې اوبه دې راته خړې کړلې .

29.زور ور خلك هسې چتې پلمې لټوي .

30.ليوني ته يې مه ورکوه او مه ي ترې غواړه .

30.ځکه چې لېوني په خير اوپه شر نه پوهيږي او رسوايي کوي .

31.لېور د کوټې ور په ټولو مسلمان په ما خوارې کاپر .

31.ځينې لېورونه ورنداري په عذاب وي .

32.لور د کور برکت دی .

32.حديث مبارك دی چې حضرت پيغمبر عليه السلام فرمايي: که چا دوه لونې لوې کړې زما سره به لکه منځنۍ ګوته او مسواکۍ ګوته په جنت کې داسې يوځای وي .

33.لټ غويی د حلالولو وي .

33.د بلې ښې نه دې پرته د دې چې غوښه يې وخوري يا بېکاره سړی د کور د پرېښودو نه دی .

34.لس قسمه پلو مې ياد دی يو يې دا دی .

34.يو کس و او ويل يې چې زما لس قسمه وريجې پخول ياد دي يو تن ورته ښې اعلی وريجې ورکړې چې دا راته پخې کړه، سړي پخې کړې خو ترې ليتۍ شوې، سړي ورته وويل چې تا خو د لس قسمه دعوه کوله دا خو دې ليتۍ کړې؟ اشپز ورته کړه: د لس قسمونه يو قسم دا دی .

35.لنډۍ د خېرات په ورځ ورك وي.

35.د کار په وخت کې نه وي. په درد نه دوا کيږي .

36.لکه د چتې کوړ او سم لټوي .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



36. د یو پاچا په لور باندې یو چټي جرګه کړې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## (م)

.1مار يې لنډى كړ مړ يې نه كړ .

.1يعنې كار يې سرته و نه رسوه. لايې خطرناك كړ.

.2ماښام ځكالكى دى.

.2د ورځې ورك وي د شپې را پيدا شي .

.3مارته په لستوڼي کې ځاى مه ورکوه.

.3دښمن د ځان سره نږدې مه پرېږده.

.4مار خوړلى د پړي نه وېرېږي.

.4كه يو څوك د يو شي نه تكليف ووينې، نو د هغه په څير چې بيا هر څه ويني د هغه گمان پرې كوي .

.5ما په اسمان غوښتې خداى (ج) په ځمکه راکړې .

.5ماويل چې زه به تا په ډير تكليف پيدا كوم مگر خدا(ج) په ډيره اسانه راكړې .

.6ماليدلي دي د کونډو وران کورونه.

.6ما د ډېرو ناتوانه خلكو كارونه وران ليدلي دي .

.7ملغلره خپل قيمت نه وركوي .

.7د ده د اصل خلك هر وخت قدر كوي .

.8ما په کې ږيره سپينه کړې ده .

.8ډېره تجربه په کې لرم.

.9ما ليږلى وې خاكشير پسې تا راوړه بنفشه.

.9ما د يوه مطلب پسې استولى وې تا بل څه وكړل او په قهر لا سرباری يې .

.10مار كوږ ځي چې سوړې ته ورشي سم شي .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



10.په ځوانۍ کې چې سړی هر څه کوي خو چې زوړ شي باید سم شي. یا دا چې یوه خبره نه مني خو چې کله پرې زور راشي بیا ورته غاړه ایږدي .

11.مارکه اوږد دی سمساره بلنه ده. یعنې که تا پیسې لرې هغه سړي لري .

11.که ته ډېر زور ور یې خو بل هم درنه کم نه دی .

12.ماکو سری دی .

12.یعنې سر یې کوچنی او عقل په کې لږ دی. یا جولادی

13.مالداري او دینداري نه جوړیږي .

13.زیاتره مالدارو خلکو نه د دین په کارونو کې یوځه کموالی کیږي .

14.ماسره چې گرځې داسې مزې به کوې .

14.د یو سړي سره یې خپل شاگرد په یوه لاره روان وو. سړي د لارې په اوږدو کې یوه وڅکه پیدا کړه، راپورته یې کړه او له خاورو یې پاکه کړه او خپل شاگرد ته یې ورکړه او ورته یې ویل وخوره زما سره چې گرځې داسې مزې به کوې .

15.مخ په مخ یاري ده .

15.ظاهر داري ده، چې شا یې شوه بیا نشته .

16.مچ په پوزه نه پرېږدي .

16.ډېر توند او تور ند دی.

17.ماشوم د مور د خولو بوی پیژني .

17.هر سړی خپل او خپل دوستان پیژني .

18.مرگ هم په مره گېده ښه دی .

18.په ولږه او ناداری باندې ژوند خوند نه لري .

19.مرچ او مالگه پرې ودوروه .

19.لږې خوندور کړه.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



20.مشر د قام خادم وي.

20.مشر د قام خدمتگار وي خو اوس چې موږ گورو اکثره مشران لېوان دي .

21.مزې چاښوي.

21.په هر کار کې خوندونه او مزې لټوي او تکليفنه گالي .

22.مړی تيز نه اچوه چې وايې چوه کفن يې وشکاوه .

22.دې کله کار نه کاوه چې ويې کړ هغه هم د شرم کار.

23.مړي په ژړا نه ژوندي کيږي .

23.يو کار چې خراب شو بيا په فرياد جزع او فزع نه جوړيږي .

24.مړی په ژړا ښه ښکاري او واده په خندا .

24.هر شي سره چې څه مناسب وي هماغسې ښه ښکاري .

25.مرگ د سترگو د ښو نه نږدې دی .

25.لازم دي چې اخرت ته څه توښه تياره کړې .

26.ملك دی د مولا ته ماوهه زه تا .

26.يو کس له چا نه څه اخيستي و او هغه با شکايت کاوه چې دا دې ولې را نه غصب کړ هغه ورته بيا دا وويل .

27.ملك يې شړشم کړ .

27.يو چا يو تن ته وويل چې فلانکی خو ډېرښه کار وکړ مگر د دې کار نه راضي نه و نو بيا يې ورته دا وويل .

28.ملکي دې د کوره نه وځي خير که مې ورور ملك شي .

28.د يو تن په مشرۍ د چا سره جگړه وه چې دا يو په کې پخوانی ملك و خلکو بيا دا پرېکړه وکړه چې دی دې ملك نه وي ورور دې شي. د دې قضيې نه يې خور خبره شوه چې بل ورور دې ملك شو. نو بيا يې خور دا خبره وکړه :

29.مار په دښمن وژنه .

29.دواړه د ده له پاره ضرر دی هر يو چې مغلوب شي د ده گټه ده .

30.ملخه يو ټوپ دې وکړ پسې بل دې وکړ اخر به په لاس راشي .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



.30ځو غلطۍ دې راسره وکړې اخر به په لاس راشې .

.31ملا يې په خپل وطن كې نه كيږي .

.31ځكه د ده كورنۍ خلكو ته معلومه وي هغه شان قدر يې نه كيږي .

.32ملنګ چې خير غواړي سپي به يې خوري .

.32ځوك چې د چا دروازې ته ځي يو څه تكليف به ګوري .

.33ملا ګوره كور يې مه ګوره .

.33د ملا كور اكثره ستر وي بله دا چې ځينې ملايان سخيان نه وي .

.34مړو نه سوالونه كوي .

.34د مړيو نه څه غواړې په داسې حال كې چې هغوی به ځان پورې حيران وي. يا د مړي نه سوال كول شرك دی.

.35منګی يوه ورځ ماتيږي .

.35هره ورځ ستونزې او كړاوونه نه وي .

.36منګی مات شو او كه مات نه شو اواز يې ولاړ .

.36خلكو خبره رسواه كړه دا چې رښتيا ده او كه درواغ .

.37مېلمه هغه ښه دی چې ماښام يې مخ وګوري او سبا يې شا .

.37هسې نه چې كاروان واړوي .

.38موږ د وړي د حاله څه خبر وي .

.38ځوك چې ډېر هوسا وي د نورو تكليفونه ورته نه ښكاري .

.39موچي ته هغه ځوك ځي چې پښې يې سوځي .

.39د چا چې په چا ښه كيږي هماغه ته ورځي .

.40موږكه خاورې كنه او خاورې دې په كونه .

.40كوښښ او هڅې دې عبث دي .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



.41مور او لور جنګ وکړ کم عقلو پرې باور وکړ .

.41د مور او دلور جنګ جنګ نه دی .

.42مه کوه په چا چې وبه شي په تا .

.42هرڅه چې د چا سره کوې تا سره به هم کیږي .

.43موږك د سوړې د ننوتونه و د لکۍ پورې یې چج وتاړه .

.43یو کوچنی کار د یو سړي د لاسه پوره نه وي خو دې غټ کار ته لاس اچوي .

.44مېږه چې د رمې نه بېله شي لېوان یې خوري .

44بې اتفاقه شی کمزوری شي. پورتنی متل د حدیث مبارك نه اخیستل شوی .

.45میاشت د لومړۍ ورځې نه معلومیږي .

.45ښه او بد د سړي د اول وخت نه معلومیږي .

.46میږي ته چې خدای (ج) په قهر شي وزرې وکړي .

.46د یو چا چې د زوال وخت راشي نو کبرجن شي .

.47میږي ته شبنم دریاب دی .

.47بې وزلو ته لږ تاوان هم ډېر شی دی .

.48میړه مړ کړه مېړانه یې مه مړه کوه .

.48د چا په توره، غیرت سخا او سړیتوب باندې سترګې پټول په کار نه دي .

.49منږه غوني د هندوانې په شان نه وي .

.49ټول انسان یو ډول نه دي .

.50مه کوه هغه کار چې نه دې مور کړی وي نه پلار .

.50داسې کار مه کوه چې ستا مشرانو نه وي کړی.

.51میاو ته به یې څوك ټینګ شي .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



51.مېرکان را ټول شول او غوښتل یې چې پیشو ته مصلحت وکړي د مصلحت نه وروسته یې دا وویل چې پیشو ته به په غاړه کې یو ګینګرۍ ور واچوو چې کله راځي مونږ به خبرېږو، بل موږك وویل چې څوك به یې په غاړه کې ور واچوي او میاو ته به یې څوك ټینګ شي .

52.مینه د مینې نه پیدا کیږي .

52.څوك چې د چا سره څومره محبت کوي نو بالمقابل یې ورسره هغه هم کوي .

53.مینه په تلو راتلو زیاتیږي.

53.محبت په راشه درشه زیاتیږي .

54.مینه اور دی .

54.انسان ته تکلیف رسوي .

55.مېنې یې ورګې وکړې .

55.رخصت اخلي نه ځنډیږي .

56.منی د ژمي استازی دی .

56.یونښه یې ده .

57.مور... پلار ترې په منډه خلاص شو.

57.یعنې مور ته هم ضرر رسوي پاتې لا پلار .

58.ملا کېدل ډېر وخت غواړي .

58.علم ژر نه زده کیږي .

59.ما چې وخوړه لکه تاچې وخوړه .

95.زه چې هوسا یم ته به هم هوسا یې. یو استاذ و او د خپل شاګرد برخه ډوډۍ یې هم خوړلې وه، کله چې شاګرد راغی نو استاذ ته یې کړه چې استاذه زما برخه خواړه څه شول هغه ورته کړه ما چې وخوړه لکه تا چې خوړلې وي. ورځې تېرې شوې یوه ورځ دا استاذ سیند پسې واخیست او شاګرد ته یې غږ کړ چې هله سیند یوړم، نو په دې وخت کې شاګرد پرې غږ کړ چې استاذه ته یې چې یوړې لکه زه چې یې یوړم .

60.ملنګ ته د کلي سپي یو دي .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



.60يعنې د ټولو يو شان دښمن دی. يو څوك چې د ټول قوم بدېشي .

.61ما موته بيا دې موته .

.61روږدی شو، بلې خواته نه ځي .

.62ما سلام نه اچوه چې وامې چاوه هغه هم په هندو وخوت .

.62ما له چا څه نه غوښتل خو چې ومې غوښتل په بخيل واوښتم .

.63ميدان يې خوشې کړ .

.63زور يې ونه رسېديا بې ايماني يې وکړه .

.64مار چې لنډی شي خورندی شي .

.64کله چې د شرم پرده لرې شوه بيانو سترګې کلکې شي .

.65ما ته د همدې پرتوګ نه را پيښه ده .

.65يوه ښځه په اولاد مريضه وه او سخته په تکليف کې وه. قابلې د ټوټکې له مخې يې د مېړه پرتوګ راوغوښت چې په مريضې ښځې يې سيوری کړی چې خدای(ج) دغه مشکل اسانه کړي په دې وخت کې ناروغې ښځې چيغې کړې چې مه يې راوړئ ما ته د همدې نه را پيښه ده .

.66ملنګې بې مکره نه کيږي .

.66د چا نه خير غوښتل چل هنر او فرېب غواړي .

.67مړی چې شرميږي په تخته به يې اودس ماتيږي .

.67د چا چې د شرمېدلو نصيب شي په اخره کې به ترې داسې يو بد کار وشي چې تر ډېر وخته پورې به ياديږي .

.68مخامخ صفت حلالول دي .

.68مخامخ صفت کول ډېر بد کار دی .

.69مال دې ولاړ شي، سر دې هم ولاړ شي پت دې نه ځي .

.69د مال او د سرد تګ پروانه شته خو چې د سرې عزت او پت په ځای وي .

.70مرګ حق دی ګور او کفن شك دی .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



70.مرگ حتمي دی خو نور مراسم يې په شك کې دي .

71.مرگ پرده پوش دی .

71.ټول بد کارونه عيبونه او نيستي ختمه شي .

72.مزدور چې کال تېر کړي د کور واکدار شي .

72.ډېر زړور شي او اکثره کارونه ياد کړي د کور په خوی بوی بلد شي .

73.ملا هم پاك مسواك يې هم پاك.

73.زياتره ملايان دُنيا لړه لري .

74.مور يې په سوال شرمبې غواړي او لور يې په چارك کوچو سر نه غوړوي .

74.د لور کبر ته يې گوره او د مور نيستۍ ته يې گوره .

75.مېړونو د خندانه ميندلې ده .

75.يو څوك چا ته څه نه شکاري خلك ورپورې ټکې او مسخرې کوي مگر بيا ترې خدای(ج) لوی سړی جوړ کړي .

76.ميېري نه چا پوښتنه وکړه چې سر دې ولې غټ دی ويل يې ده عقله، ملا دې ولې نرۍ ده ويل يې

کارگر يم کوناتې دی ولې غټ دي؟ ويل يې د سيالانو لاندې څوك نه يادوي .

76.مانا دا چې ميږيان ډېر هوښيار، حساس او ډېر لري نه يو اواز اوري .

77.ميړونه گوره برخې پرې وېشه .

77.حديث مبارك دی چې وايي: (( د خلکو قدر د هماغه د شان سره مناسب کوي.))

78.ماسته خرڅوي او مخ پټوي .

78.د ماستو خرڅول په پټ مخ نه کيږي .

79.مدعي سست او گواه چست .

79.د مدعي نه شاهد ډېر باعث دی .

80.مينځه چې توده شي هماغلته ويده شي .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



80.مینځه خو خدمت کوي سترې او ستومانه وي. یخني يې هم کيږي او چې په کوم ځای کې خوب ورشي هماغه ځای کې ويده کيږي يا دا چې د غريبانو چې چېرته ساعت تېريږي هماغلته اوسيږي .

81.مه نازيږه په اشنا دا کره پورې زيات د تهکال کم دلالپورې .

81.د دې دريو اړو سيمو د خلکوپه اشنايې او په ډوډۍ کې مزه نشته .

82.موکی ټکوهي .

82.يو سړی و او د مړيو نه به يې کفنونه ويستل او خپله نفقه به يې ترې جوړوله. خلکو به ورته ډېرې ښيراوې کولې، بله ورځ کفنکش مړ شو خلك پرې خوشاله شول. زوی يې چې وکتل نو د ځان سره يې پرېکړه وکړه چې زه به داسې کارونه وکړم چې پلار ته مې خلك دعا وکړي. نو زوی به يې د مړيو نه کفن هم ايسته او يو موگی به يې هم ښخوه. نو خلکو چې دا حالات وليدل نو بيا به يې ويل چې خدايه پلار يې وبخښې.

**(ن)**

1.ناکوبۍ پرې تېرې شوې .

1.ډېرې سختې پرې تېرې شوې .

2.ناوې د اولې ورځې نه معلوميږي .

2.سړی د لرې ناستې پاستې نه هم جوتېږي .

3.نابلد غل کنډر وهي.

3.په يو کار کې چې څوك مهارت نه لري هغه کار ترې خرابيږي .

4.ناخبره جرگه مار د جرگې لېوه وي .

4.په پټوسترگو يوه پرېکړه کوي .

5.ناخواله واورم زړه مې ډېر بد شي .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



.5چې بدې واورم زړه مې ډېر بد شي.

.6نازولی زوی ادب نه اخلي .

.6ځیني نازولي نه سړي کیږي .

.7ناراستي د ځان نیستي ده .

.7لټ سړی تل نیستمند وي .

.8ناوخته مېلمه یې د خپل جب نه خوري .

.8مېلمه چې بې وخته راشي اکثره کورونو کې څه پاتې نه وي او کوربه سره هم نقد څه نه وي نو د همدې مېلمه نه څه قرض کړي او خواړه پرې برابر کري .

.9نامرده مري خو زاري یې پاتې کیږي.

.9یو څوك چې د خپل دښمن په لاس ورشي او هغه یې د مرګ تږی وي که هرڅومره زاري ورته وکړي بې مرګه یې نه پرېږدي. نو زاري دې ورته نه کوي ځکه چې بیا پېغور پاتې شي .

.10ناوې چې پخپله ښایسته نه وي په مور یې مه ستایه .

.10په چا کې چې پخپله لیاقت او اهلیت نه وي په نورو دې خلك نه ستایي .

.11ناسور زخم شو .

.11دا کار ډېر اوږ د شو .

.12ناداره پوروړی چا نه دی وژلی .

.12له چا چې پور نه بودیږي وژني یې پرې څوك نه .

.13ناداري بد شی دی .

.13څوك چې څه نه لري د تکلیفونو سره مخ وي .

.14نر پسه خدای (ج) حلالې ته پیدا کړی دی .

.14مېړونه به قرباني ورکوي .

.15نېك عمل د خلکو په ذهنونو کې پاتې کیږي .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



15.ښه له چا نه هېريږي .

16.نصيب کته کړی خر دی .

16.نصيب چې هر چېرې وړې وړلای يې شي .

17.نن دې که سبا دی دا ملك د زرغون شا دی .

17.قدرتمند چې يو کار پسې شي کولای يې شي .

18.نن دی که سبا دی توکل د ښيوې تللی دی .

18.عمر په تېرېدو دی او تر تله څوك ژوندی نه پاتې کيږي .

19.نوك او ورۍ دې .

19.ډېر نږدې خپل دي .

20.نوك او ورۍ سره بېلوي .

20.ډېر نږدې خپلوان سره بې اتفاقه کوي .

21.نوی نوکر هوسۍ په منډه نيسي.

21.ځان بادار ته چالاکه او کاريگر ورښيي .

22.نه مري او نه رغيږي.

22.معامله ډېره اوږده شوه او تماميږي نه .

23.نر ښځی به څه وي او توره به يې څه وي .

23.د بې همته سړي نه د تورې تمه نه کيږي .

24.نه يې رنګ د ادمي نه يې شکل د سړي .

24.نه يې اخلاق شته او نه يې خوی شته .

25.نه خر وهلی نه لښته ماته .

25.خپله غوښتنه تر سره کړې او بل چا ته تکليف ورنه کړي .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



26.نه سيخ سوی نه کباب .

26.مطلب لاس ته راوړه او څوك مه خپه کوه .

27.نه پېژني نه ايژني تلتك اغوندي څملي .

27.ځيني داسې خلك وي چې څوك يې په خروار لېټېږي کې نه حسابوي خو دی به ځان واکي واکي کوي او يا يې څوك پېژني هم نه او په کارونو کې به کار لري.

28.نه دين دی نه سادين .

28.نه د دنيا د کاره شو او نه هم د اخرت .

29.نه تره ده نه بادرنګ .

29.د يوه کار خونده يې هم نشته يا يو کار هم ترې پوره نه دی .

30.نه پير پېژني نه فقير .

30.د هېڅا قدر ور سره نشته .

31.نيت او مراد .

31.ته خپل اخلاص وکړه نور کارونه به خدای(ج) کوي .

32.نوم دې خوشحال دی خو مونږ ته غم يې .

32.زياتره نومور د خپل نامه سره مناسب چلندنه کوي .

33.نوم دې زما وي او تورې دې نور کوي .

33.زه دې هېڅ همت هم نه کوم خو خلك مې دې په ښه نامه يادوي .

34.نر غويا لوشي .

34.خامخا يې غواړې، پيدا کوي يې او د ناشوني شي غوښتنه کوي .

35.نه يې خوند شته او نه يې رنګ شته .

35.يو صفت هم نه لري .

36.نن به شي سبا به شي در به کړو پيدا به شي .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



36.پوروړی د پیسو خاوند ته نن او سبا کوي او واي چې درکوم یې چې پیدا شي .

37.نرېدلی کمر دی .

37.یعنې خطر ناك دی ځان ترې ساته .

38.نرمه غاړه په چاړه نه غوځیږي .

38.اخلاقي سړی دښمن نه لري. مرسته وکړه سبا به تا هم راځي .

39.نېکي او پرسان .

39.څوك چې د یوه تن سره ښه کول غواړي اجازې او پوښتنې ته اړتیا نشته .

40.ناپوه د عمر ګټه په یوه ساعت کې بایلي .

40.چې په کار نه پوهیږي په لږه شېبه کې ځان ډیر تاواني کړې .

41.نر سړی د بې غیرته د لاسه مري .

41.زیاتره تکړه خلك د بګېکاره خلکو د لاسه په تکلیف کیږي .

42.نو شیروان مړ نه دی چې نوم یې نېك پاتې دی .

42.نو شیروان د خپل عدالت ځای ته یو مزی تېر کړي و. په میدان کې یې یوه ډاګه یا لرګی ودرولی و او د مزې پورې یې ګینګړی تړلی و. په رعیت کې به یې چې هر چا ته څه مشکل پیدا شو. نو دغه لرګی به یې وښوروه ګینګړی به وشرنګېده او پاچا به خبر شو. بیا به یې خپلو نوکرانو ته امر وکړ چې ورشئ او سړی راولئ چې څه غواړي؟ نو سړی به پاچا ته راورسېد او خپله خبره به یې وکړه. یوه روځ یوه پمن خر ځان د ډاګې پورې ژر، ژر او په ډېر قوت سره مښې. پاچا غږ کړ چې هلئ په منډه ورشئ چې په چا ډېر ظلم شوی دی. کله چې عسکر ورغلل ګوري چې د ډاګې تر څنګ سړی نشته، بېرته ولاړل او پاچا ته یې وویل چې هېڅوك نه و .

په دې وخت کې بې خره ځان د ډاګې پورې ومښه او ولاړ په خاورو کې څملاست عسکر چې بیا راغلل ګوري چې څوك نشته، بیا ولاړل او پاچا ته یې وویل چې هېڅوك نه و. په دې وخت کې خره بیا ځان د ډاګې پورې مښه، عسکر بیا راغلل ګوري چې خر ځان په لرګي پورې مښي بېرته پاچا ته ورغلل او وکړه یې صاحبه یو خر په لرګي پورې ځان ګروي. پاچا امر وکړ چې لاړ شئ او خر راولئ. عسکرو چې کله خر راوست پاچا ګوري. چې خر پمن دی او د مچانو پرې غوبل دی. پاچا امر وکړ چې ولاړ شئ او د ده خاوند راولئ، عسکر ولاړل او د خره خاوند یې حاضر کړ نو شیروان پاچا سړی ته وویل چې:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا خر دې ولې خوشې کړی؟ سړی وویل:

صاحبه پمن شوی او بار نه شي وړلای. نو پاچا ورته کړه:

چې ګېډه یې درته کوله ساتلو دې او اوس چې ناروغه دی درملنه یې نه کوې؟ چټک دا خر بوځه او پوره درملنه یې وکړه. چې زه یې بیا پوښتنه کوم .

او دویم نکل یې داسې دی :

پاچا یو دولتي تعمیر جوړوه تر څنګ یې د یوې بوډۍ کور و. پاچا بوډۍ ته وویل چې دا ځای دې په ما را خرڅ کړه چې دا قصر مو سم راشي او که یې را نه کړې نو زمونږ تعمیر کوږ راځي. خو بوډۍ ځای ورنه کړ او پاچا کوږ قصر جوړ کړ نور پاچایان به چې کله دلته مېلمستیا ته راغلل او دا قصر به یې چې ولید د ناسموالي نیوکه به یې پرې کوله او ویل به یې چې ډېر ښه قصر دی خو کوږ دی. نو بیا به نوشیروان ویل چې کوږ ډېر ښه دی نه دا چې د بوډۍ کور مې په ظلم اخیستی وای .

.43نه به تل دا ناصر خان وي او نه به تل دا سره اوښان وي .

.43ناصر خان یو غټ خان و او ډېر سره اوښان یې درلودل، چې د سرو اوښانو په هغه وخت کې ډېر قدر وو لکه اوس چې د ځینو صاحبانو سره ښې ښې موټرې دي یو چا وویل چې یاره ناصر خان ډېر ښه سره اوښان لري. نو یو بل چا ورته وویل چې دا به یا په ژوند ترې ولاړ شي او یا په مرګ.

.44نه غل یم نه د غلو مل یم .

.44نه خپله بد کار ه یم او نه مې د بدکارانو سره ناسته ده .

.45نه کور وران او نه دود وران .

.45مه چا ته ټول کور ورپه شا کوه او مه یې بېنوا شړه .

.46نه یې خوري نه یې خورندي ته ورکوي .

.46بخیل دی هر څه یې له ځانه سره ساتلي دي .

.47نه یو وخت نه بل وخت راغی د غوبل وخت .

.47کار کول غواړي خو په هغه مناسب وخت کې نه .

.48نیت صاف لره اول یې په دښمن لره .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



48.خپل دښمن ته هم نېت ښه لره .

49.نه گوړه خورم نه خوټه غوځوم .

49.په باجوړ کې داسې رواج و چې ماشوم به يې سنتاوه نو گوړه به يې پرې وېشله يو هوښيار ماشوم يې سنتولو ماشوم وتښتېد او په دروازه کې ودريد. کاکا يې خانك كېښوده او نايي يې راوغوښت او هلك نيول نه وركوي كاكا يې گوړه راواخيسته او هلك ته يې ورغږ کړ چې هله بچيه گوړه وخوره، هلك خپل كاكا ته له ورايه لاس وښوروه او ويې ويل چې نه گوړه خورم او نه دغه غوځوم .

50.نه ملا شوې نه جولا شوې خدای(ج) خبر چې څه بلا شوې .

50.هېڅ هم درنه جوړ نه شول. هسې كوځې گاموې .

51.نظر غرونه چوي .

51.بد نظر لگيږي .

52.نه يې مخ معلوم دی نه يې څټگ .

52.روغه او پاكه خبره نه كوي، دوه مخی دی .

53.نور علی نور شو .

53.د ښو نه ښه شوه. يعنې نور هم ښه شو .

54.نن پاچا سبا گدا .

54.كله سرې پاچا وي او كله ملنگ شي .

55.نه په خپله سپكه دی او نه د بل په سپكه اړدی .

55.حيا نه لري هر څه يې چې وكړل.

56.نر مې گڼې چې كال ته د دې نه هم بدتر يمه .

56. هېڅ پرمختگ نه شم كولای كال تر كاله مې حساب خرابيږي.

**(و)**

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



1.ويل يې خولۍ مې درته نه ده کړې او به دې نه دي ښکلي .

1.يو سړی واو په اختر کې يې زوی ته خولۍ اخيستې وه او جامې مې ورته نه وې کړې، د اختر ميلې ته يې بوتلو په لاره کې يې پرې ښې پرېمانه اوبه وښښلې نورو ماشوم به په مېله کې هر څه اخيستل او خوړل به يې او دی يې پلار له گوتو نيولی و او وچې شونډې يې گرځاوه هلك به هر شي ته کتل او ژړل به يې، پلار يې ورته ويل چې ويلې زاړې خيله (خولۍ) مې درته نه ده اخيستې اوبه دې نه دي ښکلې .

2.واده ته واده گوټی مه وايه .

2.واده چې هر څومره کوچنی شي بيا هم ډېر لگښت غواړي .

3.واده د ماماخېلو و او خوشالي بايزيد خېلو کوله .

3.يعنې واده په يو کلي کې و او د بل کلي خلکو ورته خوښي کوله .

4.وسله که بارده په يوه ساعت په کار ده .

4.وسله که ټول وخت په سړي بار وي مگر د اړتيا په وخت کې په کارېږي .

5.ورور يې مه وهه په توره خوريې ناسته ده حضوره .

5.ورور ته يې څه تکليف مه وررسوه چې خور يې پرې خوريږي.

6.ويلې شو چې د وغوز يو .

6.وغز په شينوارو کې د يوې سيمې نوم دی چې لږ ځينې خلك يې لاسوهونکي دي. دا حصار شاهي د خلکو نه په يې کله کله د لاندې پسه وړه، د خلکو نه خوښيدل او چا په شپه نه ورکوله بله ورځ يو څو کسان راغلي وو او په مزينه کې پرې شپه راغله، د کلي خلکو ترې پوښته وکړه چې د کوم ځای ياستۍ؟ مېلمنو يوڅه سکوت وکړ. خلکو ورته وويل چې وايي کنه چې د کوم ځای ياست نو بيا دوی دا وويل .

7.وروري په دوسۍ کيږي .

7.يعنې د ورور بده خبره او قهر به سړي په ځان اخلي .

8.ورغوی چې خارښت کوي پېسې لاس ته راځي .

8.په افغانانو کې داسې ويل کيږي چې د چالاس خارښت وکړي بل ورته وايي چې پېسې درته راځي .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



9.وروري په ورو کيږي .

9.وروري په رمز، زغم او حوصلې کيږي .

10.وهم يې کوم ځای او خوريږي کوم ځای .

10.يعنې دومره ناپوهه دی چې د درد ځای نه پېژني .

11.ورغستلي د منځه ايستلي.

11.ورغستلي هغو موادو ته ويل کيږي چې وږه چاڼ کړي او څه ترې په چاني کې پاتې شي، نو دغه بيا څوك د وږو سره نه ګډوي او څارويو ته يې اچوي .

12.ورو كه ورور دی وراره د سترګو تور دی .

12.وراره تر وروره هم ګران وي .

13.وچ او لامده يې سره وسيځل.

13.د ښو او بدو توپېر يې سره ونه کړ .

14.ونه چې زړه شي د هرې بلا پرې شپه شي .

14.ډول ډول بلاګانو ته په کې ځای پيدا شي همدارنګه چې انسان زوړ شي هر مرض پرې ژر او په اسانه راځي .

15.وړکتوب پاچاهي ده .

15.د دنيا د کړنو او انښنو نه بې غمه وي .

16.وړيا شراب قاضي هم څښکي .

16.په وړيا ګناهونو باندې زياتره خلك ډيل نه وي .

17.وږي ته بيګا لرې دی .

17.وږی انتظار نه شي کولای.

18.وږی نس ښامار دی .

18.ډېر خلك نفسي غوښتنو اور ته واچول .

19.وريښم که زاړه هم شي کته ترې څوك نه جوړوي .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



19.اصل شی که هر څومره زوړ شي. خو په سپکه ورته څوك نه ګوري.

20.ودانول ګران دي ورانول اسان دي .

20.د یو شي جوړول په ډېر وخت کې نه کیږي او ورانول یې په یوه شېبه کې کیږي .

21.ورغمی په خپله مور سپریږي.

21.کم اصله خپل او پردی نه پېژني .

22.وره په وره منت دې په څه.

22.چې د جنس عوض دې واخیست نو احسان یې نشته .

23.وډ د وړونه خالي نه وي .

23.له ځمکې چې غنم راټول شي یو څه وړي خامخا په پټي کې پاتې کیږي .

24.وطن په ښه خوی خوړل کیږي.

24.په ښه خوی کلی او کور کیږي.

25.وطن خراړو وران کړنوم د کارغانو بد دی .

25.ځینې کارونه له ښکته خلکو نه خراب شي نوم پرې د مشرانو بد شي .

26.وطن په توپونو وران ښه دی نه دونو نه خالي .

26.یعنې تعمیر به ببرته ژر جوړ شي خو ځینې ونې د شلو کالونه مخکې کمال ته نه رسیږي.

27.وګوره سړی ورلاندې واچوه پوزی.

27.د هر سړی قدر او درناوی به د هغې د علمیت او سړیتوب به اندازه کوې.

28.ولاړه کوډله یې پرینښوده .

28.ټول کلی یې وران کړ. یا دا چې له هر کوره یې سوال وکړ .

29.ونډه زمونږ خوري او شودې یې د بر کلي خلك خوري .

29.لګښت پرې مونږ وکړ او ګټه یې بل ته رسي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



30.واده واده نه و او د سلو روپو په کې ډول وشکېده .

30.کار کار نه و او لګښت پرې ډېر وشو.

31.واده اسانه دی خو سامان يې ګران دی.

31.د واده غوښتل اسانه دي خو سمبالول يې ګران دي .

32.ويښ چې ځان ويده کړي څوک په يې ويښ کړي .

32.که يو څوک ځان په تګۍ واچوي بيا يې نو پوهول ډېر ګران شي .

33.ويې ګټه د مريي په څېر او و يې خوره د پاچا په څېر .

33.په خپله مېړانه يې وګټه او د نر په شان يې وخوره.

34.وينه په وينه نه مينځل کيږي .

34.کرکه په کرکې نه ورکيږي .

35.ويې ګټه او ويې څټه.

35.په خپل همت يې پيدا کړه او بيا يې خوره .

36.ويشلی ورور تور بور دی.

36.ورور چې له وروره بېل شو د هغه سره بايد به ګټلو کې تربګني وکړي .

37.ويلی شو چې پيره در پټ يې کړه .

37.ځکه چې بيا خپه او خجالت کيږي .

38.ويشتلی په زړه بېداره وي .

38.په چا چې يو کار تېر شي راتلونکي وخت ته تجربه وي يا دا چې يو تن يوکار کړی وي اوپټول يې غواړي، چې څوک په کې بحث کوي نو دی ته انديښنه پيدا شي .

39.ويښتان مې ورته زيړه شول .

39.ډيره غصه مې ورته راغله .

40.وطن له لېونيو نه ډک دی .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



40.ډېره ناپوهي ده .

41.ورغوی مې تورې سپېـ څټلی دی .

41.بخت مې چپه شوی دی .

42.وسله هغه وسله ده، چې په لاس درغله .

42.بېربل ته شاجهان پاچا وويل چې وسله کومه ښه وسله ده هغه ورته وويل، چې په لاس درغله. سبا ته شاجهان پاچا د بېربل پسې يو فيل ور ايله کړ چې لړ يې په عذاب کړي .فيل د سپي نه ډير وېرېږي فيل چې د بېربل پسې وروځغاستل بېربل مخکې دی او فيل ورپسې دی په يوه ډيران ور برابر شول په ډيران کې يو کوچنی کوکری پروت و بېربل پسې راوخيست او د فيل په تندي يې وويشته کوکری په کړنجاري شو فيل لکۍ په سر راواړوله او بيرته وتښتيد. نو بيا ورته شاجهان وويل چې رښتيا دې ويلي دي .

43.ورور دې وي، خو په لاهور دې وي .

43.يعنې ورور، چې هرڅومره لرې وي خو سرې پرې ډاډه وي .

44.وړې ته چا وويل، چې دوه او دوه څو کيږي هغه ويل څلور ډوډۍ.

44.يعنې د هر چا سره خپل مطلب په زړه کې وي .

**(هـ)**

1.هر چا ته خپل مزی مرغلين دی .

1.هر چا ته خپل کار ښه او معقول ښکاري .

2.هر چا ته خپل وطن کشمير دی .

2.په هر چا خپل وطن ګران او ورته خوږ دی .

3.هر ډاګ د بهې ډاګ نه دی .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



3.بهۍ د مومندو په سيمه کې يو پراخه ډاګ دی پخوا چې کلونه آباد وو ډېرې ښې غلې او دانې يې کولې او نور ډاګونه د دې په څېر نه و. نو ځکه خلك دا وايي .

4.هر څه ځي او عادت نه ځي .

4.خوی نه بدليږي. حديث مبارك دی چې فرمايي: که چا درته وويل چې دوه غرونه سره يوځای شول دا ومنه او دا کيږي خو که چا درته وويل چې د انسان خوی بدل شو دا مه منه .

5.هر څه اور ته غورځوي .

5.يو شی هم نه پرېږدي او هرڅه هلاکوي.

6.هره ښځه شيروار نه شي کولای .

6.د هر کار لپاره بېل بېل خلك وي .

7.هر سړی پوزه توره کړي وايي چې آهنګريمه.

7.هر سړی د خپل ځان صفت کوي او ځان ماهر ګڼي .

8.هر سړی په خپلو خولو کې ډوب دی .

8.هر څوك يو څه ستونزې لري. يا هر سړی په خپل غم کې ډوب دی.

9.هغه چرګه مړه شوې چې زرينې هګۍ يې اچولې .

9.يعنې چې ښه کارونه يې کول هغه اوس نشته .

10.هر سړی ځانته من وايي .

10.هر سړی وايي چې زه پوره يم .

11.هر وخت ږلۍ نه وريږي .

11.هر وخت مشکلات نه وي .

12.هره تېږه من نه ده .

12.هر سړی پوره سړی نه دی .

13.هر ښځه درخانۍ نه ده .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



13.هره ښځه ښايسته او هوښياره نه وي .

14.هر سړی آدم خان نه دی .

14.هر سړی د آدم خان په څېر ميړنی نه وي .

15.هډه او ګني .

15.د هډې ځمکې پخوا للمې وې يوازې غنم، موټ او پونبه يې کوله ځکه چې اوبه يې لږ وې او د اوبو شيان يې نه کول.

16.هغه بوټی کره چې مېوې يې خورې .

16.هغه کار کوه چې ګټه يې در رسيږي .

17.هندو زوړ شو مسلمان نه شو .

17.عمر په سړي تېر شو خو په لاره برابر نه شو .

18.هندو سترې خدای(ج) ناراضه .

18.داسې کړنه کوي چې په دنيا او اخرت کې يې ورته ګټه نه ور رسيږي يا دا چې يو چاته يو کار سړی وکړي خو د هغې خوښ نه شي .

19.هندو يې په سر وواهه لاندې ځای يې خوږ شو .

19.يعنې کار يوځای کې وشو او تاواني بل ځای شو .

20.هنر ياد کړه په تاخچه کې يې کښېږده .

20.کمال يو وخت په کاريږي .

21.هم خورما او هم ثواب.

21.ښه کار کول د دواړو جهانونو ګټه ده .

22.هغه شپې لاړې چې ما کولې کرواړې .

22.زما د خوارۍ او د فقر شپې لاړې .

23.هم يې زړه کيږي او هم يې ساړه .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



23.دوه زړې دی چې دا کار وکړم اوکنه.

24.هر غر او هماغسې يې ځناور .

24.د هرې سيمې ژوې د خپلې سيمې نه اغېز اخلي .

25.هوسۍ له ځايه ګړندۍ وه چې ګنګړي يې په کې واچول نوره هم چالاکه شوه .

25.چې يو سړی پخپله هم ماهر وي او د نورو نه هم څه زده کړي .

26.هوښياره مرغۍ په دوه لمو کې نښلي .

26.ځکه چې ډېر احتياط کوي او د ځان د خلاصي له پاره ډېرې پرکتې وهي .

27.هر څوك د غوړ لستوڼي يار دی .

27.ډېر خلك د دولتمندو اشنايي او دوستي کوي .

28.هره ورځ اختر نه وي .

28.خوښې کله کله وي .

29.هاتي چې په تبيله کې مردار شو اولس يې نه شي ويستلای .

29.يعنې فيل چې مردار شي ډېر خلك يې له ځايه نه شي ښورولای. يا يو ظالم چې يوځای غصب کړي راګرځول يې بيا ډېر زور غواړي .

30.هر سړی پښې و غځوي چې مړ شوم .

30.کوم سړی مړ شوی و او اسقاط يې هم ډېر او خيرات يې هم ډېر لوی او پريمانه و. کوم مسکين ورغلی و اسقاط يې هم اخيستی و او خيرات يې هم خوړلی و نو بيا يې دا خبره کوله .

31.هره بلا چې يې په خپل مقام شه .

31.يو څوك چا د شپې ډاروه. سړي ورته وويل هره بلا چې يې خپل ځای ته دې ولاړشه ګنې زما له خوا به خوږ شي .

32.همدا زه نه وای همدا زه نه وای .

32.يو سړی و او له خپلې ښځې ډېر وېرده، کله به يې چې قهر راغی نو بيا به يې ويل چې همدا زه نه وای همدا زه نه واي ځکه چې ښځې ته يې څه نه شول ويلای .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



33.هاتي چې ژوندی وي يو خروار وي او چې مړ شي دوه خرواره شي .

33.يو كار چې په خپل وخت وشي په اسانه كيږي خو چې وخت تېرشو كول يې بيا ډير زور غواړي.

34.هندو به غلا كولای خو كه سپي نه واى .

34.هندو له سپي ډير ويريږي. ځينو خلكو به ډېر كارونه كولای خو چې په وسعه يې پوره واى .

35.هوښيار په اشارت پوهيږي .

35.پوهان په نيمه پوهيږي.

36.هندو مې گنجى نه دى ليدلى .

36.يعنې سكهانو تل پگړۍ وهلې وي كه سر يې گنجى وي هم څوك يې نه شي ليدلاى .

37.هغو ته يې اسونه وركړل چې په زين كولو يې نه پوهيږي .

37.دنيا زياتره خداى(ج) بې عقلو خلكو ته وركوي .

38.هېڅ‌ا په لاره كې دستراخوا نه دى غوړولى .

38.يعنې كه يو سړى ډير سخي شي هم لارې ته يې نه رااوباسي .

39.هم زيانيدلى هم شرمېدلى.

39.هم ناواني شو او هم لسپك شو.

40.هم ماري هم كوكارې هم لاس لگى هم ژاړې.

40.وهل هم كوې او چيغې هم ته وهې، ټونگه هم ته اچوې او سورې هم ته وهې.

41.هر شى چې خام وي پخيږي انسان چې خام شو بيا نه پخيږي.

41.انسان چې يو وار بې باوره شو بيا پرې څوك باور نه كوي.

42.هر چا سره پنج، پنج نو يار سره هم پنج.

42. دوه ټگان وو او ويل يې چې موږ كله څوك تيروسته نو پخپل منځ كې به سره پنج پنج وايو، دا په مو رموز وي. يو ملگري د بل سره غلطي وكړه او د ځان سره يې وويل چې پنج نو بيا دې بل ملگري ورته وويل چې د يار سره هم پنج.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## (ي)

.1یاد مې کړه ښاد مې کړ.

.1چې دې یاد کړم لکه هر څه چې دې راکړل .

.2یا د مور تی دی یا د چلم نی دی .

.2چرسیان په خپل منځ کې سره ډېر خواږه وي حتی د ورونو نه هم .

.3یا د چنې تیر که خوند یې واخله رنگ یې هېر کړه .

.3ډېر خلك په اشنا یۍ کې لومړی ډېر خواږه وي، خو چې کار یې پوره شي بیا یې هغه پخوانۍ خونده نه وي .

.4یا دې خدای(ج) ماته راکړي او یا مې دې دوست ته ورکړي .

.4که ما ته خدا(ج) راکړه خو ډېر ښه او که دوست ته مې یې ورکړه هم زما په درد خوري .

.5یادوي ټوپك راوړي کوتك .

.5لومړی ډېر توند وي بیا یې وروسته مزه نه وي یا پرړې د غټ شي کوي او ورکوي لږ شی .

.6یو د بل د غمه نه مري .

.6که غم هر څومره دروند وي خو سړی ترې نه مري .

.7یا مړ یا موړ .

.7یا به ډېر څه پیدا کړي یا به په کې سر وخوري .

.8یتیم په ژړا پوخ دی.

.8په دې ډیرې تودې سړې تېرې شوې دي. ښه تجربه شوی دی .

.9یتیم چې سر سبیل شي سل اویا گزه یې... شي .

.9بې پلاره هلك چې سر ایله اموخته شو بیا یې اداره کول ډېر سخت وي .

.10یتیم هلك تل د ټوکری لاندې نه پاتې کیږي .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



10.اخر به غټ شي .

11.يخني د خدا(ج) په روی نه ايساريږي .

11.د ظالم نه په زاريو نه شي خلاصېدلی .

12.يوه به دي ژاړي بله به دې خاندي .

12.يعنې دې کار ته دې اړباسم چې ويې کړې .

13.يو پسې رسېدلی نه شو بل ويل د مخې يې شه .

13.د يو چا د لاسه يو کار نه وي پوره او بل ورته وايي چې ډير کارونه وکړه .

14.يو خوري بل يې په بډه وهي .

14.يو شي هم نه پرېږدي .

15.يو خور بل ته سترګك وهي .

15.يو خوري بل ته په تمه دی .

16.يو للی دی يو للۍ ده .

16.په کور کې دوه کسه دي اولاد او بچي نه لري .

17.يو سر او سل سودا ګانې.

17.يو سړی دی او جنجالونه يې ډېر دي .

18.يو مې يوه سترګه ده او بل مې بله سترګه ده .

18.دواړه راباندې ګران دي .

19.يا تخت يا تابوت.

19.يا به پاچا شم يا به پرې مړ شم .

20.يوه سترګه يې د سپي ده او بله د سړي ده .

20.په بنه انسان دی خو خوی يې د سپي دی .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



.21يږه جومات ته نه ځي او ملا ځنګل ته نه ځي .

.21دواړه سره ليداى نه شي .

.22يا تير اوباسئ يا ما اوباسئ .

.22يو سړى چې علي خان نومېده د يو بل چا سره يې د زوى لپاره خپښي كړې وه او د زوى خسر يې ناروغه شوى و، ناورغه سړى ډېر پوخ غل و او د غلا تير يې په كوټه اچولى و. د سړى په دې كوټه كې د ځنكدن سلګۍ شروع شوې او سترګې يې په دې تيرلګېدې نو چيغې يې كړې چې يا ما اوباسئ يا تير اوباسئ. د ناروغه سړي ورور دلته ولاړ دى، خپل وراره نه يې پوښتنه وكړه چې دا پلار دې څه وايي دې هلك نور خلك له كوټې نه وويستل او زه خو يې خپښ وم زه يې نه ويستم، نو د ناروغه سړى زوى ويل چې پلار مې پرتې نه وايي رښتيا وايي دا تير يې را پټ كړى دى او اوس مرګ په سترګو ګوري نو ځكه داسې وايي. چې دا د غلا مال لرې كړئ.

.23يوه ده خو ډېوه ده .

.23ډېره پوهه او عالمه ده. يا سترګه مې يوه ده خو هر څه پرې وينم .

.24يو ګوري بل لمسيږي .

.24چې يو وګوري بل يې هم غواړي .

.25يو خداى(ج) ښه دى او يو ځاى ښه دى .

.25هر هر ځاى كې بايد سړى ناسته پاسته ونه لري او چې يو چاسره يې ژمنه وكړه هماغه سره بايد ودريږي .

.26يو پټى جوار يې وخواړه اوس هم ورته ميږه وايي .

.26ډېر تاوان يې ورساوه اوس يې هم بې وزله بولي .

.27يو زما په ځانله دا يو ستاسو په ټولو .

.27په لاره يو هندو او څوكسان نور سره ملګري شول، مخې ته يې غله راغلل او غلو پرې غږ كړ چې سامان كښېږدئ، خلكو وويل :

سمه ده او سامانونه يې پرځمكه كېښودل، غلو غوښتل چې د دوى لاسونه ور وتړي، هندو غلو ته وويل: اجازه ده چې مونږ لومړى تاسو ته لږ اتڼ وكړو بيا زمونږ لاسونه وتړئ. هندو غوښتل چې د اتڼ په سندره كې ملګري پوه كړي چې دا يو غل به زه ټينګ كړم او دا بل يې ستاسو په دې ټولو غلو د هندو سوال و مانه او د اتڼ اجازه يې وركړه. نو هندو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل غوږ ته لاس ور وړاو د یه قربان سره یې وویل های دا یو زما په ځانله او یو ستاسو په ټولو. دا یو زما په ځانله او دا یو ستاسو په ټولو. دې نورو ورغبرګه کړه چې دا کار زمونږ نه نشي او دا کار زمونږ نه نه شي .

.28یو ځان شرموي او بل قام شرموي .

.28یو څوك داسې بدکار وکړي چې خپله ټوله کورنۍ سپکه کړي .

.29یو سړي بل ته وویل چې په هر خیرات کې دې وینم هغه کړه چې ته به هم په کې یې .

.29یو څوك چې چا ته ووایي چې زه دې په بدو ځایونو کې ګورم چې ناست یې، دا دا مانا لري چې دی پخپله هم په دې بدو ځایونو کې وي .

.30یو کال به بربنډ وګرځم خو بل کمیس به وانه خلم .

.30یو بخیل سړي نه یې تور بور کمیس پټ کړ، او ویل یې چې دا به بل کمیس واخلي او پیسې به یې ولګیږي او زما نه به په سیالۍ کې کم شي، نو کله چې بخیل پوه شو نو بیا یې دا وینا وکړه .

.31یوه سپي ژرنده څټله او بل سپي د ده... څټله.

.31یوه پخپله په سوال څه پیدا کړي و بل د هغه نه سوال کاوه .

.32یو ګنجی په وره راغی بل په تناره .

.32دوه کسان د یو څه د غوښتنې لپاره په بېلو بېلو لارو په یوه وخت کې راغلل .

.33یو بام او دوه هوا وې .

.33د یوې کوټې په سربانديې په یو کټ کې د یوې ښځې زوی اوننګور پراته وو. او په بل کټ کې یې لور او زوم پراته وو. دې ښځې خپلې لور او زوم ته وویل چې سره رانږدې شئ یخني ده او زوی او ننګور ته یې وویل چې سره لرې شئ ګرمي ده نو په دې وخت کې یې ننګور دا وویل .

.34یو وخت د شیطان هم منه .

.24یو زده کوونکی و او خپل استاذ ته یې ویل شیطان راته وایي چې دا کاني راوخله او دا استاذ په دا سر وله، د دې خبرې سره سم استاذ زر زوه کوونکي ته وویل پام چې د شیطان ونه منې. بله ورځ همدې زده کوونکي استاذ ته بیا وویل: چې استاذه سیطان را ته وایي چې یوښه غټ چرګ حلال کړه او ښه پلو ور سره پوخ کړه او استاذ ته یې یوسه. استاذ کړه بده نه ده کله کله د شیطان هم منه .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



35.يو کال سړی د مور د مېږه سره هم تيروي .

35.انسان بايد په دېر مشقت کې هم خپله حوصله او زغم د لاسه ورنه کړي يا چې يو څوك په سفر ولاړ شي او زړه يې زر تنگ او بېرته راشي بيا خلك دا وايي او يا يو څوك د چار سره مزدور شي او مزدوري ژر پرېږدي نو بيا هم خلك دا وايي .

36.يو سړی چا نه پېژنده په جومات کې يې... وکړل.

36.ځينې وخت يو ناپوهه سړی د خپل شهرت له پاره داسې يوه کړنه وکړي چې هغه د کولو نه وي .

37.يو په ژرنده او جومات کې يې مه وايه نور يې هر ځای وايه .

37.چې يو سړی قصداً وغواړي چې يو خبره مشهور کړي نو بيا داوايي .

38.يوه ورځ د بلې ورځې مور ده .

38.ورځې له ورځو زيږي .

39.يو من سر ښوروې او دوه گوتې ژبه نه ښوروي.

39کله چې يو سړی خپل مخاطب ته د ژبې په ځای د سر په ښورولو هو او نه وکړي نو بيا خلك دا وايي .

40.يوه شپه يې چې تر منځ وي له هغې بلا نه مه وېرېږه .

40.ځکه چې وخت شته او تدبير نولی شي .

41.يا به پيسې گټې يا به کيسې گټې .

41.يا به خپل تاريخ جوړوې او يا به د دنيا گټه کوې.

42.يو بهلول يو يې کند يو يې کچکول.

42.خلك وايي چې د سلطان محمود غزنوي يو ورور و او هغه فقيري او ملنگي کوله او ډېر زاهد سړی و. غزنوي ورته بلنه ورکړه چې راشه او په حکومت کې کار وکړه، بهلول ورته په ځواب کې وويل چې

د اخرت حساب نه شم ورکولای. ؟ غزنوي وويل چې څه د اخرت حساب دی؟ بهلول وويل چې د هر شي بېله بېله پوښتنه کيږي او روځ د قيامت ډېره سخته ده، ځمکه به د تبې غوندې توده وي او سړي سره به حساب کيږي. بهلول يو تبې راواخيسته او اور يې ترې لاندې بل کړ تبې سره شوه، بهلول پرې ودرېد او غږ يې کړ يو بهلول يو يې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کند يو يې کچکول او د تبۍ نه کوز شو. او ويې ويل چې حساب مې خلاص شو. او سلطان محمود ته يې وويل چې اوس ته راځه او حساب د ټول ملك راکړه، سلطان وويل چې زه دا کار نه شم کولای .

43.يو يې گټي سل يې خټي .

43.د يوه سړي د همت له برکته ډېر خلك په راحت کې شي .

44.يار له ياره بلاربيړي.

44.دوست له خپل دوست نه تکليف گوري .

45.يا خپل کور يا گور .

45.انسان بايد خپل پت وساتي او بل چا ته د سوال لاس اوږد نه کړي .

46.يو لرگی اور نه کوي دوه ښځې کور نه کوي .

46.د يوه لرگي اور لمبه نه کوي او بليږي نه او د دوو بنو کور وران وي .

47.يوله ولږي مري او بل يې سرته پراټې لټوي .

47.يو سړی پخپله د يوه کار له امله ډېر په کړاوو کې و او بل ترې په همداسې کار کې مرسته غواړي .

48.يو خوا پاڼ او بل خوا پړانگ .

48.يو لوري ته يو مشکل او بل لوري ته بل مشکل د خلاصېدو لار نشته .

49.يوې بلا بلې ته ويل چې بوو .

49.يو بد کاره بل بد کار ته ويل چې ته بد کوې .

50.يو په ست ښه ښکاري او بل يې په نه خوړلو .

50.داسې نه چې يو تن ست وکړي او بل ترې پوزه غوڅه کړي.

51.يو خروار زعفران وخوره خو خوله پرې مه زيړوه.

51.غټ کار په پټه خوله وکړه چې څوك خبر نه شي.

52.يوه سترگه چې دې وو ته په بله لاس کښيده.

52. که يو مصيبت در ته پېښ شو په هغې صبر وکړه چې بل درته پېښ نه شي.

Download from: ketabton.com

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**